تفسیر ایوبی حنفی

تالیف

ملا معلم صحبت العلم ابو الفضل مولانا محمد عبد الحمید الایوبی

القندھاری العلیا نخیلی الحنفی النقشبندی عفی عنہ

الناشر

مکتبۃ القراءۃ والتجوید

کاسی روڈ شاہ الدین کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

Maktaba Tul Ishaat

تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
آڈیو دروس	مناظرے	تمام فنون

maktaba.tul.ishaatofficial@gmail.com

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتو ژبه کښې اولنی او په افغانی تاریخ کښې بې ساری په زرګونو جدیدو مسئلو باندې مشتمل

تفسیر ایوبي

وَقَالَ الَّذِيْنَ (١٩) اَمَّنْ خَلَقَ (٢٠)

دیارلسم ټوک ١٣

تالیف او تصنیف

د علامة العصر ابو الفضل شیخ التفسیر والحدیث فقیه دوران مفسر الزمان

محمد عبید الله

الکندهاري السلیمانخیلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالی

مکتبة القرائت و التجوید

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم......... تفسير ايوبي پښتو اتم ټوک
مولف........... الحاج مولنا محمد عبيد الله الايوبي الکندهاري
السليمانخيلي الحنفي حفظه الله تعالى بفضله الوهبي
کمپوزر........... حبيب الحق حقاني
ټايپ............ حقاني کمپيوټر اداره
نشر کوونکې اداره.......... مکتبة القراءت والتجويد کانسي روډ کوټه
د چاپ ځای.......... لاهور پاکستان

يو نظر دې خوا

هيڅ يو مسلمان هم په قرآن مجيد، احاديثو يا د فقهي په کتابو کې په قصد د سره غلطي نه کوي. زموږ اداره تر خپله وسه پورې د کتابو تر ليکلو وروسته تصحيح ته زياته پاملرنه کوي. چې د دې په وجه زموږ کتابونه معياري دي. خو بيا هم بنده بنده دی. يو نه يو ځای څه ناڅه غلطي په املاء کې يا په يوه جمله کې خنې صادره سي. نو زموږ د ټولو ناظرينو څخه دا خواست دی چې که ستاسي تر نظر دا سې غلطي تېره سي لطفاً زموږ سره تماس ونيسئ، تر څو د کتاب د دوهم وار په چاپ کې د هغې تېروتنې اصلاح وسي.

په درناوي ستاسي ورور شمس الحق شمس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

جميع الحقوق محفوظة

جميع حقوق الملكية الادبية والفنية محفوظة
لمكتبة القراءة والتجويد كوئته پاكستان

و يحظر طبع أو تصوير أو ترجمة أو إعادة تنضيد الكتاب كاملاً أو مجزأً أو تسجيله على أشرطة كاسيت أو إدخاله على الكمبيوتر أو برمجته على اسطوانات ضوئية إلا بموافقة الناشر خطياً

Copyright ©
All rights reserved
Tous droits reserves
Exclusive rights by Maktabatul-Qiraat i waltajweed Quetta - Pakistan. No part of this publication may be translated, reproduced distributed in any form or by any means, or stored in a data base or retrieval system, without the prior written permission of the publisher.

الطبعة الاولى

١٤٣١ هجري - ٢٠١٠ ميلادي

مكتبة القراءة و التجويد

شارع كانسي كوئته - پاكستان
رقم الهاتف ٠٣٠٠٣٨٨٥٥٣٥

MAKTABTUL-QIRRAT
WALTAJWEED
KANSI ROAD QUETTA
BALOCHISTAN

ISBN 2-7451-3140-0

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَيْرِ الْوَرٰى

وبعد: محترمو لوستونکو! تاسو په دې حقیقت ښه خبر یاست، چې د افضل الانبیاء ﷺ رالیږونه الله تبارک وتعالی د ټولې نړۍ او ټوله عالم لپاره کړې ده.

او نبي کریم ﷺ اخیري نبي او استازی دی، نو دا دین به و مختلفو قومونو، مختلفو ژبو ویونکو، او مختلفو سیمو ته د دنیا څوک رسوي؟ د دې ځواب خپله نبي کریم ﷺ په خپلو مبارکو ویناوو کښې فرمایلي دی. فرمایي: اَلْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ. له انبیاء کرامو څخه په میراث کې سره او سپین زر نه دي پاته سوي. بلکې له هغوی څخه علم په میراث پاته سوی دی.

نو معلومه سوه چې علماء کرام د انبیا کرامو علیهم السلام وارثین دي. او دوی به د آنحضرت ﷺ دا دین و خپلو قومونو ته رسوي، دا خبره هم تر لمر روښانه ده چې هر څوک په خپله مورنۍ ژبه باندې تر نورو ژبو ډېر ژر او په ډېره اسانه طریقه سره پوهېږي. او کوم مقصد او کومه

Scanned by CamScanner

موخه چي دی له خپلي ژبې څخه اخستلای سي،
کېدای سي چي دی دي د نورو ژبو له کتابونو
څخه هغه مقصد وانه خلي، نو ځکه مفسر وخت

حضرت العلامة شيخ التفسير والحديث استاذ كل الحاج **مولانا محمد عبيدالله** الايوبي القندهاري صاحب د خپلو هيواد والو مسلمانانو د فائدې لپاره د معتبرو تفاسيرو څخه دا يوه علمي ذخيره په نامه د تفسير ايوبي حنفي، په خپله خوندوره او مورنۍ ژبه پښتو کښې وليکی، چي دادی ديارلسم ټوک چي پکښې نولسمه او شلمه پاره ترتيب سوې ده ستاسي په لاسونو کښي دی.

مكتبه القرائت والتجويد په دې وياړ چي د قرآن مجيد ودې ستر خدمت ته يې ملا تړلې ده او د تجويد د کتابونو سره سره يې د علم تفسير. علم فقه او علم عقائد کتابونه هم چاپ ته سپارلي دي.

ستاسي د دعاؤ په هيله چي تر څو د حضرت ايوبي قلم نورهم ګړندی او صحت يې نور هم مخ په وړاندي سي.

والسلام

قاري فضل الحق حقاني

تلميذ حضرت ايوبي وباني مكتبة القرائت والتجويد

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا

سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي!

واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الْمُفَتِّحِ لِاَبْوَابِ الْخَيْرِ عَلٰى عِبَادِهٖ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ الْمُبَلِّغِ لِلْاِنْسِ وَالْجِنِّ مِنْ جَنَابِهٖ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَاَحْبَابِهٖ اَمَّا بَعْدُ فَيَقُوْلُ الْعَبْدُ الْفَقِيْرُ الْمَدْعُوْا بِمُحَمَّدٍ عُبَيْدِ اللّٰهِ اَبُو الْفَضْلِ الْقَنْدَهَارِيُّ الْاَيُّوْبِيُّ قَدْ شَرَعْتُ فِيْ تَفْسِيْرِ الْجُزْءِ التَّاسِعِ عَشَرَ مِنْ كِتَابِهِ الْعَزِيْزِ سَاعَةَ (٩) مِنْ يَوْمِ الْاِثْنَيْنِ (١٥) شَهْرِ الشَّوَّالِ سَنَة (١٤٣٠) هـ ق.

اَللّٰهُمَّ سَهِّلْ عَلَيَّ تَفْسِيْرَ الْجُزْءِ الْمَذْكُوْرِ وَتَمِّمْهُ بِالْخَيْرِ وَالْعَافِيَةِ وَالصِّحَّةِ وَالسَّلَامَةِ وَاجْعَلْهُ خَيْرًا بَاقِيًا لِيْ اِلٰى يَوْمِ نَفْخِ الصُّوْرِ اِنَّهٗ تَعَالٰى عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ وَبِالْاِجَابَةِ جَدِيْرٌ وَهُوَ تَعَالٰى اَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ.

وَقَالَ الَّذِيْنَ لَا يَرْجُوْنَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ اُنْزِلَ عَلَيْنَا الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ نَرٰى رَبَّنَا

(وقال) عطف على قال الذين كفروا) او وویل هغه کسانو چي ایمان نه لري او امید نه لري د ملاقات زموږ یعني په ورځ د قیامت نه په خیر او نه په شر سره، ولي چي دوی له بعث بعد الموت څخه منکر دي. فراء نحوي وایي چي رجاء خوف ته وایي پر لغت د تهامة، نو پر دې مذهب د فراء د مخه تفسیر چي موږ وکړی مبني پر عموم مجاز دی. روح البیان وایي چي رجا په اصل لغت کي امید دی د هغه شي چي په هغه کي دده مسرت او خوشالي وي، او ملاقات د خدای ﷻ عبارت دی له قیامت څخه. والمصیر الیه تعالی ای الرجوع الی حیث لا حاکم ولا مالک سواه. والمراد بالموصول کفار اهل مکه دي. وفي تاج المصادر الرجاء امید داشتن وترسیدن یعني نمی ترسند از دیدن عذاب ما.

بوه سه: چي دا آیت شروع د حکایت آخر د اقوالو باطله وو د قریشو د مکې د بطلان ددوی ده د دغو اقوالو باطله وو ددوی. وروسته تر بیان د نورو اقوالو ددوی وذکر مایتعلق بذالک.

بوه سه: چي لولا، چي پر مضارع داخل سي حرف تحضیض یې بولي (یعني باعثه کول د یو چا پر یو کار) او چي پر ماضي داخل سي حرف تندیم یې بولي یعني پښیمانه کول د یو چا پر تېر سوي کار چي هغه نه وي کړی. والمعنی ولي نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نازل کړل کېږي پر موږ باندي ملکي یا په دې معنی چي په صدق د محمد ﷺ به یې موږ ته شاهدي اداء کړې وای، یا په دې معنی چي رسولان دي د خدای ﷻ وای موږ ته. او یا موږ لیدلی وای خدای ﷻ چي موږ یې په متابعت د محمد (ﷺ) امر کړي وای. دوی به ویل چي دا یو کار چي خدای ونه کړی، نو موږ په دې پوه سو چي دی رسول د خدای نه دی. خدای پاک د دوی د قول په رد کي وایي:

لَقَدِ اسْتَكْبَرُوا فِي أَنفُسِهِمْ وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيرًا ﴿٢١﴾

کلمه د لام جواب د قسم محذوف ده ای والله چي دوی ډېر تکبر ښکاره کړی په شان کي د ځانو خپل (ولي چي داسي شی یې طلب کړی چي نزول د ملائکه وو دی چي د انبیاء علیهم السلام خاصه ده. یا لیدل د خدای ﷻ په دې دنیا کي چي د انبیاؤ یو کامل فرد ته په یو کامل وخت کي میسر کېږي کما لنبینا ﷺ في لیلة المعراج)

او دوی تجاوز تر حد وکړی په ظلم کي، یعني پای ته د سرکښي او تکبر یې ځانونه ورسول حتی چي رؤیت د خدای ﷻ یې وغوښتی. وقال البغوي رح العتو اشد الکفر و افحش الظلم.

يَوْمَ يَرَوْنَ الْمَلَائِكَةَ لَا بُشْرَىٰ يَوْمَئِذٍ لِّلْمُجْرِمِينَ وَيَقُولُونَ حِجْرًا مَّحْجُورًا ﴿٢٢﴾

پوه سه: چي یوم منصوب دی په اذ سره چي مقدر دی. یعني اذکر هغه ورځ چي دوی ویني ملکي یعني په وخت کي د موت یا په ورځ کي د قیامت (لابشری) زېری نسته. قال عطیة رح چي ملائکه په وخت کي د مرګ د مؤمن او په ورځ کي د قیامت مؤمنانو ته زېری کوي د جنت او کافرانو ته وایي لابشری لکم. او بعض مفسرین یې داسي ترجمه کوي یوم یرون الملائکة. دوی ته خوشالي نسته لکه چي مؤمنان خوشاله کېږي په جنت سره والمآل واحد (یومئذ) په دغه ورځ.

پوه سه: چي یومئذ تاکید دی د یوم یرون یا خبر دی د لا في لابشری (للمجرمین) ای الکاملین في الجرم وهم الکافرون.

فائده: حرف لام جاره یا متعلق دی په ظرف مستقر پوري اعني یومئذ (چي معنی یې دا وه کائنة یومئذ) یا خبر د لا دی، یا متعلق دی په لابشری پوري.

"ویقولون حجرا محجورا" او وایي یعني ملائکه (دا جمله عطف ده پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يقولون لا بشرىٰ باندي) بغوي رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه نقل کړی دی چي ملکي وايي حرامًا محرمًا ان يدخل الجنة الا من قال لا اله الا الله محمد رسول الله. او مقاتل رحمه الله وايي چي کفار چي له قبورو څخه راووځي ملکي ورته وايي حرامًا محرمًا عليكم ان تكون لكم الجنة.

پوه سه: چي حجرًا مصدر دی په معنی د منع دی و المحجور الممنوع وهو صفت حجرًا لپاره د تاکيد کيوم ايوم وليل اليل د عربو دا قانون و چي دا کلمه بي هغه وخت ويل چي په جنګ کي د دښمن سره مخامخ سوه، او د مکروه څخه مراد شکست دی او مکروه به پر دوی هجوم راوړی، والمعنی ههنا چي کفار د مکي نزول د ملکو غوښتی کما في هذه الآية او دغه کافران چي په يوم الحشر چي ملکي وويني د ډېر کراهت به يې ځندي کېږي ويقولون هذه الكلمة.

وَقَدِمْنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُوا۟ مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَـٰهُ هَبَآءً مَّنثُورًا ﴿٢٣﴾

او موږ قصد وکړو يعني په ورځ د قيامت، عطف دی پر ويقولون باندي وهغو عملو ته د کفارو چي يو عمل صالح دوی کړي وي لکه صلة الرحم او مهمان نوازي او د عاجزه کومک، او نور ورته ښه کارونه چي دوی به د کفر په وخت کوله (فجعلناه) موږ وګرځوو هغه صالح د دوی (هبا منثورًا) ای باطلاً لاثواب له لعدم شرط الثواب على العمل الصالح وهو الايمان واخلاص العمل لله تعالى بدون الاشراک لکه سړی چي ښه لمونځ وکړي مګر اودس يې نه وي مثلاً.

پوه سه: چي هباءً هغه ذراتو ته وايي چي لمر پر يو سوري د خوني برابر سي هغه ذرات پکښي ليدل کېږي او په لاس يې سړی نسي احساس کولای، او نه هم په سايه کي معلومېږي، والمعنى المنثور المفرق صفت لهباء وهذا قول الحسن وعكرمة ومجاهد رحمه الله، او ابن عباس رضي الله عنه، قتادة او سعيد بن جبير رحمه الله وايي چي هباء منثورًا هغه خاړو ته وايي چي تند باد يې پاشي، او مقاتل رحمه الله وايي چي هباء منثور هغه دوړو ته وايي چي په خاورينه مځکه کي د آس وغيره د ځغاستي پورته کېږي. په هر صورت خدای ﷻ اعمال صالحه د کفارو کما مر بيانه مشابه کړه د هباء منثور سره په تفرق او انتشار وعدم النفع کي.

فائده: په دې آيت کي اشاره ده ودې ته چي هغه کسان چي اعمال حسنه يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کہ په ریاء سره وي يعني النوافل فان الفرائض كالصلوة لاريا ، فيه الا في الهيئة يعني لمونځ د خلکو په مخ کې ګذاري په طمانيت او په خشوع او خضوع سره يې ګذاري ، او چې څوک يې نه ويني چابک چابک يې کوي چې نه يې د رکوع او نه د سجدې هغه حال وي چې د خلکو په مخ کې ؤ ، سعدي شيرازي رح درعمل ريا کار چند بيت زيبا ودلکش آورده کی بهم می شنويم:

شنیدم که نابالغ روزه داشت
بصد محنت آورده روزی بچاشت
پدر دیده بوسید ومادر سرش
فشاندند بادام وزر بر سرش
چو بر وی گذر کرد یک نیمه روز
فتا اندر وآتش معده سوز
بدل گفت اگر لقمه چند خورم
چه داند پدرغیب یا مادرم
چو روی پسر درپدر بود وقوم
نهان خورد وپیدا بسر برده صوم
که داند چو دربنده حق نیستی
اگر بیوضوء درنماز ایستی
پس این پیر ازان طفل نادان ترست
که از بهر مردم بطاعت دراست
کلید دردوزخست آن نماز
که درچشم مردم گذاری دراز
اگر جز بحق میرود جاده ات
درآتش نشانده سجاده است

أَصْحٰبُ الْجَنَّةِ يَوْمَئِذٍ خَيْرٌ مُّسْتَقَرًّا وَّأَحْسَنُ مَقِيْلًا ﴿٢٤﴾

خاوندان د جنت په دغه ورځ د قيامت ښه دي په ځای کې د قرار ، او ډېر ښه دي په هغه ځای کې چې دوی رجوع ورته کوي لپاره د استرواح بالازواج يعني التمتع بهن والجماع معهن ، او مظهري رح دا احتمال هم بيان کړی دی چې مقيل دي مشتق له قيلولة څخه وي يعني الاستراحة نصف النهار ، وليس بمقيد بالنوم كما في مقيلا اذ لانوم في الجنة كما قال الازهري رح القيلولة الاستراحة نصف النهار وان لم يكن معه نوم.

درويش وايي: چې تفضيل چې احسن دی اشاره ودې ته ده چې مقيل د اهل الجنة ډېر زيبا د ښه ښه پلنګونه او نالی رفيعه پراواري او ښه ښائسته حوري ورسره وي ، او بغوي له ابن مسعود رض څخه روايت کړی دی : لاينتصف النهار يوم القيامة حتى يقيل اهل الجنة في الجنة واهل النار في النار.

سوال: د مخه وويل سوه چې قيلولة استراحت دی په وخت کې د نصف النهار لا استراحة لاهل النار في النار فكيف قيل واهل النار في النار؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: دا اطلاق د قیلولة پر اهل النار مقابلةً لاهل الجنة دی کما في قوله تعالی جزاء سیئة سیئة بمثلها او یا یې تهکمًا و دوزخیانو ته قیلوله ثابته کړه، او یا تفصیل لپاره د زیادت مطلقه دی یعني اهل الجنة په جنت کې به ځایونه د خوشالی لري او دوزخیان په دوزخ کې اعلی ځایونه د عذاب لري، او بعض مفسرین رح وایي چې خیر مستقرًا و احسن مقیلا نسبت و متنعمینو او جبارانو ته د دنیا دی چې ښې ښې بنګلې یې مستقر وې او قیلوله به یې پر اعلی پلنګانو وه او سرخې او سپیدې ماڼۍ به یې ورسره پرتې وې.

پوښتنه: په احادیث مبارکه وو کې راغلي دي چې ورځ د قیامت پنځوس زره کاله ده، نو ددغې ورځې نصف النهار مراد دی او که څرنګه؟

ځواب: دا طول د قیامت د ورځې خو د مخه تر حساب شروع کېدو دی چې حساب شروع سي تر نیمې ورځې پورې د ایام د دنیا ختم کېږي لانه تعالی لایشغله شان عن شان، نو مراد له نصف النهار څخه نصف نهار د دنیا ده. له بعض اکابرو څخه چا پوښتنه کړې چې دده دومره ډېرو مسلمانانو او کافرانو سره څرنګه په نصف النهار کې د دنیا سوال کول امکان پزیر دی. هغه ورته وویل چې پوښتنه خو یوه ده د ټولو مسلمانانو او کافرانو څخه هغه دا چې: خدای جل جلاله به ټولو ته ووایي (من ترا بودم تو که را بودی. یعني من خالق و رازق و دهنده نعمت تو بودم تو عبادت که میکردی. یا ظاهرًا کما في المشرکین یا قلبًا کما في المرائین فافهم)

وَيَوْمَ تَشَقَّقُ السَّمَآءُ بِالْغَمَامِ

هغه ورځ چې څیري سي اسمان یعني جنس د اسمان چې (۷) اسمانو ته شامل دی.

نوره سه: چې یوم عطف دی پر د مخه یوم باندي في قوله یوم یرون آه. او یا منصوب دی په اذکر مقدر سره. او اصل تشقق تتشقق ؤ، نو یوه تاء یې ځنډي حذف کړه.

درویش وایي: چې په زړه پورې توجیه ددې آیت هغه ده چې امام نسفي رح کړې ده، دی وایي چې دا وریځ لوړه ده تر (۷) اسمانو او سپینه وریځ ده چې ددې پنډوالی لکه د (۷) اسمانو دی او خدای جل جلاله په خپل قدرت سره هورې ساتلې ده او ثقل ددې ورځې تر ثقل د (۷) اسمانو بالا دی، نو چې خدای پاک اراده وکړي چې اسمانونه دې ټوله ړنګ سي، نو ددې وریځې ثقل پر اسمانو واچوي، نو اسمانونه همه و همه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ونړېږي. وروسته وايي فذالک قوله تعالى ويوم تشقق السماء بالغمام اى بثقل الغمام فيظهر الغمام ويخرج منها الملائكة چې په وروسته کې به راسي آنفًا.

وَنُزِّلَ الْمَلٰٓئِكَةُ تَنْزِيلًا ﴿٢٥﴾

اى تنزيلاً غير معهود. او مظهري رح وايي چې دا سپينه نرمه وريځ ده لکه تموښ. او دا وريځ وه بني اسرائيلو ته په طور کې د سايوان رنګه په تيه کې چې په سورت بقره کې يې تفصيل تېر سوی دی ورکړه سوې وه. نو چونکه مظهري رح په دې پوه سو چې کلمه د با. په بالغمام کې خو سببيه ده. نو دا نرۍ وريځ څرنګه سبب د نړېدو د (٧) اسمانو ګرځي؟. نو مظهري رح ددې سوال په ځواب کې قول د بغوي رح رانقل کړی دی چې هغه وايي چې کلمه د با. د سببيت نه ده بلکې په معنی د عن يقال رميت بالسهم وعن السهم. حاصل د ځواب دا دی چې اسمانو نه چې په قدرت د خدای رنګ سي. نو سپينه نرۍ وريځ ښکاره سي چې د مخه د اسمانو په سبب پټه وه. والله اعلم بالصواب.

درويش وايي: چې د تنزيل عجب او غير معهود په تفسير الحاکم او ابن ابی الدنيا او ابن جرير او ابن ابی حاتم له ابن عباس رض څخه روايت کړی دی چې ده دا آيت ووايه "يوم تشقق السماء بالغمام" ابن عباس رض وويل چې خدای پاک په سره جمع کړي مخلوق خپل په يوه مځکه کې الانس والجن والبهائم والسباع والطير او نور مخلوق. نو سره څيري سي او تو ته تو ته سي اول اسمان. او د اول اسمان ملکي راشوه سي (کريمه: والملک على ارجائها اى اطرافها) او د غه د اول اسمان ملائکه تر جمع کړل سوي انس او جن او تول مخلوق ډېر وي. نو احاطه وکړي دا ملکي پر انس او جن او تول مخلوق اهل الارض (يعني ذوی العقول ددوی).

درويش وايي: چې دا حديث روح المعاني، روح البيان او مظهري تولو نقل کړی دی لکن د هل فيکم ربنا تاويل يوه نه دی کړی بيله روح البيانه، وهذا عبارته يعنون هل جاء امر ربنا بالحساب ملکي ورته ووايي لا. وروسته راکښته سي ملکي د دويم اسمان (يعني بعد انشقاقه) او دا ملکي ډېري وي د اول اسمان تر ملکو او تر اهل الارض من المخلوقات کما مر فيقولون هل فيکم ربنا (والتاويل قد مر آنفا) فيقولون لا. نو د دويم اسمان ملکي احاطه وکړي پر هغه ملکو چې د مخه يعني د اول اسمان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ملکي وي وبالانس والجن وجمیع الخلق. وروسته راکښته سي اهل د دریم اسمان یعني ملکي، نو هغه ډېري وي من اهل السما، الاولی والثانیة وجمیع اهل الارض. فیقولون هل فیکم ربنا (وقد مر تاویله قریبًا) فیقولون لا، بیا راکښته سي ملکي د څلورم اسمان چي د هغو عدد ډېروي تر اول، دویم، دریم اسمان او تر اهل الارض جمیعًا، فیقولون هل فیکم ربنا فیقولون لا الی اخیر الحدیث.

پوښتنه: تا ولي باقي حدیث نه کړی رانقل؟

ځواب: په اخیر کي ددې حدیث متشابهات عبارات سته چي تر فهم د متعلمینو ددې تفسیر ایوبي لوړ دی، عوام خو څه کوې د بعض خواصو ملایانو تر فهم هم لوړ دی، او مظهري او روح البیان هیڅ تاویل د متاخرینو نه دی رانقل کړی، البته علامه بغداد السید محمود الآلوسي رح یې تاویل بیان کړی دی په تفسیر کي د جزء (۱۹) ص (۱۰) فانظر هنالک.

سوال: تا به هم د آلوسي رح هغه تاویل رانقل کړی وای؟

ځواب: د هغه فهم هم مشکل دی پر متعلمینو د تفسیر ایوبي، او ډېرېږم چي متعلمین ددې تفسیر په سبب د عدم فهم د تاویل مذکوره په فتنه کي اخته نه سي.

سوال: دا دومره ملکي سره ددې چي اجسام ددوی ډېر غټ دي او دا ټوله مخلوق من الانس والجن الخ څرنګه پر دې کوچنی ځمکه ځایېږي؟

ځواب: ص (۱۰) من تفسیر روح المعاني الجزء (۱۹) ویلي دي چي ځمکه خدای ﷻ په قدرت عظیمه سره په طول او عرض کي سره فراخه کوي په دغه ورځ بحیث تسع اهلها واهل السموات اجمعین وسبحان من لایعجزه شئ انتهی.

فائده: دا ټولي ملکي د (۷) سبع سمٰوات پر اهل الارض اجمعین او وه صفه راوګرځېږي. فیقال یومئذ لاهل الارض من المکلفین این المفر، چېري دی ځای د تېښتي. او د حدیث مذکور په اخیر کي وایي چي بیا نو حساب او کتاب شروع سي.

درویش وایي: چي ما خپل طاقت ددې آیت په تفسیر کي نه دی سپمولی والعلم عند الله.

فائده: عاقل د علماؤ هغه عالم دی چي پر یو شي نه پوهېږي نسبت د جهل وځان ته وکړي نه و کتاب ته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حکایت: امام یوسف رح چي ځان د قاضي القضات په توګه و هارون الرشید ته معرفي کړي په عوض کي د امام الائمة ابو حنیفة رح چي هارون الرشید امام اعظم رح په دغه مهم کار د قاضي القضات مکلف کړی ؤ، او امام اعظم رح اباء وکړی هارون الرشید بندي کړی او په بندي خانه کي سو، نو امام ابو یوسف رح د قضا منصب قبول کړی، او امام اعظم رح یې له بنده رها کړی. وقد قیل في ذالک:

بو حنیفه قضاء نه کرد وبمرد .... تو بمیری اگر قضاء نه کنی

نو اوله ورځ د جمعې چي امام ابو یوسف رح پر منبر د وعظ په بغداد کي کښېنستی او هارون الرشید هم حاضر ؤ، چونکه په بغداد کي د امام اعظم رح د مذهب مخالفین ډېر وه، نو مخالفینو لس مشکلي مسئلې و یو طالب یا عالم ته ورښوولي وې چي د امام ابو یوسف رح څخه د جمعې په ورځ پوښتنه وکړي. خیر امام علیه الرحمة د وعظ په دریاب آب بازي کوله چي هغه طالب یا عالم د یو مسئلې پوښتنه ځندي وکړه، ابو یوسف رح په لا ادري ځواب ورکړی، بیا یې د دویمي مسئلې پوښتنه ځندي وکړه، بیا ده ځواب په لا ادري ورکړی الی اخیر العشرة، نو له هغه عالم څخه بې ادبي وسوه چي ته جاهل یې نو ولي درې ځینې لوړ ناست یې تر مونږ، قاضي ابو یوسف رح ورته وویل چي زه په اندازه د علم درې ځینې لوړ ناست یم که په اندازه د جهل خپل لوړ وایي زه به پر اسمان او تاسي به پر ځمکه وای، درویش وایي چي دغه دی انصاف د اهل الله علماؤ.

درویش وایي: واصل هذه القصة، ان هارون الرشید دعی الامام الاعظم رح الی مجلسه، او دا پوښتنه یې ځندي وکړه چي د قاضي القضات لپاره څرنګه سړی عالم لازم دی؟ امام اعظم رح شرائط ورته بیان کړه مثلاً عالم کامل او تقوی دار او بې مدارات وهکذا، نو هارون ورته وویل که داسي عالم پیدا سي زما په مملکت کي او د قضاء منصب نه قبلوي، بیا یې چاره څه ده، امام اعظم رح ورته وویل بندي دي کړي حتی چي دغه منصب قبلوي، هارون ورته وویل چي ستا پر شرطو برابر زما په مملکت کي ته یې، امام اعظم رح منع وکړه، هارون د ده په فتوی دی بندي کړی، هغه ؤ چي امام اعظم رح په بندي خانه کي ناجوړی سو، قاضي ابو یوسف رح د امام اعظم رح شاګرد ؤ هارون ته یې زاری وکړې چي دا وظیفه به زه اجراء کړم خو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

امام اعظم رح له بندي خاني څخه ازاد کړه، ولي مریض دی، هارون دا خبره ومنل امام اعظم رح یې ازاد کړی، کذا في کتب التواریخ الاسلامیة وبعض التفاسیر.

تبصره: د اوسنی زماني نیمچه ملایان چې پر خپل جهل هم علم نه لري بلکې خپل ځان یې په خیال عالم کامل ورڅي چې دې ته جهل مرکب وایي، نو هغه که په یو کتاب کې په یو ځای نه پوهېدی نسبت د غلطی و کتاب ته کوي لا ادري نه وایي ..... ع: بدین عقل و دانش باید گریست... بیت:

آن کس که نداند وبداند که بداند ...... درجهل مرکب ابد الدهر بماند

اَلْمُلْكُ يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ لِلرَّحْمٰنِ ؕ

سلطنت په دغه ورځ د تشقق د اسمانو "الملک" مبتدا، ده، یومئذ متعلق دی په ملک سره "الحق" صفت دی د ملک "للرحمن" خبر د مبتدا، دی، یعني الملک الثابت المتحقق الذي لا زوال له یومئذ للرحمن دون غیره.

سوال: سلطنت او خالقیت خو ابد الدهر د خدای جل جلاله دی، نو تخصیص ددې ورځې یې ولې وکړی؟

ځواب: په دنیا کې خود مما لکو بادشاهانو هم دعوه د سلطنت کول بخلاف هذا الیوم، لمن الملک الیوم، لله الواحد القهار.

وَكَانَ يَوْمًا عَلَى الْكٰفِرِيْنَ عَسِيْرًا ۝

او ده دا ورځ د قیامت پر کافرانو ډېره سخته.

په حدیث کې دا بو سعید الخدري رض راغلي دي چې یو سړي له علیه الصلوٰة والسلام څخه پوښتنه وکړه: "یوما کان مقداره خمسین الف سنة ما اطول هذا الیوم" څومره ډېره اوږده ده دغه ورځ؟ فقال علیه السلام والذي نفسي بیده انه یخفف علی المؤمن حتی یکون اهون علیه من الصلوٰة المکتوبة یصلیها في الدنیا، شان نزول د وروسته آیت په اتفاق د مفسرینو رح دا دی چې عقبة بن ابي معیط چې به له یو سفره راغلی، نو به یې مهماني جوړه کړه او اشراف د مکې به یې مېلمانه کړه، او دا عقبه به د علیه الصلوٰة والسلام سره ډېر نشست وبرخواست کاوه، نو یوه ورځ چې عقبه له سفره راغلی، نو مهماني یې جوړه کړه او علیه الصلوٰة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یې هم مبلمه کړی، دسترخوان چي هوار سو علیه الصلوة والسلام عقبه ته وویل: ما انا باکل طعامک حتی تشهد ان لا اله الا الله واني رسول الله (چي په پښتو یې شومي بولي) نو عقبه هم وویل اشهد ان لا اله الا الله وان محمداً رسول الله، نو علیه الصلوة والسلام یې ډوډۍ وخوړله، او دا عقبه د ابي بن خلف اشنای ؤ، نو دی چي خبر سو چي عقبه ایمان راوړی دی، نو ابی بن خلف ورته وویل صبائت (یعني مرتد سوې او د پلار او نیکه ګانو دین دي پرېښو) عقبه ورته وویل: لا والله ما صبات لکن دخل علي رجل (یعني محمداً[۴]) فابی ان یاکل طعامي الا ان اشهد له یعني بتوحید الله ورسالته، نو زه وشرمېدم چي زما له کوره دي ووځي او ډوډۍ ونه خوري، فشهدت له یعني کلمه مي وویل، نو ابی بن خلف ورته وویل چي زه ستا څخه نه راضي کېږم مګر هغه وخت چي ته به ورځې او د علیه الصلوة والسلام پر مخ به ورتو کې، نو عقبه هم هغسي وکړه یعني پر مخ مبارک زیبا د رسول الله ﷺ یې خپلي مرداري ناړي تو کړې، نو علیه الصلوة والسلام و عقبه ته وویل ما القاک خارجًا من مکة الا علوت راسک بالسیف (او په یو بل روایت کي داسي هم راغلي دي چي ابی بن خلف و عقبه ته وویل چي ناړي به هم پر تو کې او ښکنځل به هم ورته کوې او تکذیب به یې هم کوې) نو څکه علیه الصلوة والسلام ته ډېر درد ورغلی او هغه خبره یې وکړه ما القاک آه، نو عقبه مذکور په ورځ د بدر ژوندی ونیول سو، نو علیه الصلوة والسلام علي رضی الله عنه یا عاصم بن ثابت الانصاري رضی الله عنه امر کړی چي ورسي سر یې په توره څنډي غوڅ کړي.

او ابی بن خلف، په روایت کي د بغوي رحمه الله راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام یې په خپله سر په توره وواهه او مردار یې کړی، او په څیني روایاتو کي راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام دی په غزاء کي د احد په نېزه وواهه او سخت ټپي سو فرجع الی مکة فمات في الطریق بالسرف (چي د یو ځای نوم دی) او په حدیث شریف کي راغلي دي: شر الناس من قتل نبیًا (لکه زکریا او یحی[۴]) او قتله نبي (لکه ابی بن خلف) په دواړو روایتو کي یعني که په احد کي علیه الصلوة والسلام قتل کړی وي او که یې په نېزه وهلی وي چي هغه ضرب یې سبب د مرګ په سرف کي ګرځېدلی دی، نو په شان کي د عقبه بن ابی معیط او ابی بن خلف دا آیت نازل سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيَوْمَ يَعَضُّ الظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيْهِ

او هغه ورځ چي په غابنوي به ظالم خپل دواړه لاسونه، مراد ځندي عقبه دی يعني د ډېر حسرت او غم څخه چي له دې ورځي څخه د قيامت ورځ مراد ده. دا آيت عطف دی على قوله تعالى يوم تشقق السماء الغمام.

قاضي ناصر الدين البيضاوي رح وايي چي عض اليدين يا، كل البنان (د ګوتو سرونه په غابنول) وحرق الاسنان (غابنونه چيچل) ټول له كنايات دي له ډېر درد او پښېماني څخه (يعني كه څه هم لاسونه او ګوتي په غابنول يا د غابنو چيچل حقيقةً نه وي. ولي چي په كنايه كي امكان د حقيقت شرط دی نه وجود د حقيقت. لكه سړی چي يو بل متحير سړي ته وايي رئيتك تقدم رجلاً وتواخر الاخرى)

درويش وايي: چي په روايت كي د روح البيان او ضحاك رح دا سي راغلي دي چي عقبه چي ناړي پر مخ مبارك د عليه الصلوة والسلام ور تو كړې د عليه الصلوة والسلام مخ مبارك ته ور ورسېدلې بيرته لكه شعله د اور د عقبه دواړه بارخوګان يې په تور كړه تر مرګه پورې دا نښانونه پر پاته وه.

يَقُولُ يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلًا ۝

تقديره يا قوم ليتني (ولي چي ليت منادى نسي واقع كېداى) كشكي ما نيولي واى يعني في الدنيا. يعني كشكي ما متابعت د عليه الصلوة والسلام او دده سره پر لار د هدايت تللى واى.

يَا وَيْلَتَىٰ لَيْتَنِي لَمْ أَتَّخِذْ فُلَانًا خَلِيلًا ۝

تقديره يا قوم ويلتي افسوس دی ما لره كشكي ما نه واى ګرځولاى فلان يعني ابى بن خلف خپل دوست. فلان كنايه ده له اعلامو څخه.

يوه سه: چي اصل د ويلتي يا ويلتي بكسر التاء، نو كسره د تاء يې په فتح بدله كړه او يا د متكلم يې په الف سره فرارًا من اجتماع الكسرة مع الياء. په فارسي وايي افسوس بر من. والويل والويلة هلاك ته وايي. او دا كلمه عرب د جزع او تحسر په وخت كي وايي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: نداء خو هغه چاته کیږي چي له ذوی العقول څخه وي، نو هلاک ته څرنګه نداء روا ده؟

ځواب: نعم! الا ان العرب تنادي ما لايعقل اظهارًا للتحسر، نو دا نداء مجاز دی، ګویا دوی مرګ ته ناري وهي چي راځه دغه دی وخت دي.

لَقَدْ اَضَلَّنِیْ عَنِ الذِّكْرِ بَعْدَ اِذْ جَآءَنِیْ ؕ وَ كَانَ الشَّیْطٰنُ لِلْاِنْسَانِ خَذُوْلًا ﴿۲۹﴾

یعني والله په تحقیق زه فلان ګمراه کړم له ذکر څخه د خدای ﷻ او یا له قرآن څخه یا له کلمة الشهادة څخه، دا جواب د قسم محذوف دی، وروسته تر دې چي دا ذکر ماته راغلی ؤ، یعني کلمه شهادت مي ویلې وه کمامر تفصیلاً، او دی شیطان (او مراد له شیطان څخه هغه خلیل مضل دی چي ابی بن خلف ؤ فان كل متمرد (سرکښه) عات (نافرمانه د خدای ﷻ) من الانس والجن ومن صد عن سبیل الله، چي څوک منع کوي له لاري څخه د خدای ﷻ هغه شیطان دی)

پوه سه: چي خذول پر وزن د فعول دی مشتق دی له خذلان څخه وهو ترک الاعانة والنصر، یعني شیطان د چا سره دوستي نه کوي تر هغو چي هلاک معنوي یعني و کفر ته یې وه نه رسوي چي هغه مطلب د شیطان پوره سي بیا نو له هغه څخه بېزاره سي، او هیڅ نفع یې نه وررسېږي، او روح البیان خذول صیغه د مبالغې بولي حیث فسره بقوله کثیر الخذلان.

درویش وایي: چي دا دې شان نزول که څه هم خاص دی یعني عقبة بن ابي معیط ؤ لکن حکم یې عام دی هر هغه چاته شامل دی چي د خدای ﷻ د معصیت سره یې اشنایي وي لکه شراب نوشي، زنا کاري وغیرهما او حقیقي دوستي او اشنایي هغه لپاره د طمعي وي لکه د پېداالنو سره دوستي چي څه نقود به راکړي، او یا لخوف، او د بېرې له سببه لکه د یو ظالم سره چي څوک دوستي کوي له ظلمه یې بېرېږي، بلکې دوستي یې لله في الله وي، ولذا ورد في الحدیث کونوا في الله اخوانًا یعني في طریق الرحمن لا في طریق الشیطان، وایضًا ورد في الحدیث الصحیح المرء علی دین خلیله فلینظر احدکم من یخالل، او له ابی سعید الخدري رض څخه روایت دی چي ما واورېدل له رسول الله ﷺ څخه لا تصاحب الا مؤمنًا، ته ملګري مه کوه مګر د مؤمن سره، ولا یاکل طعامک الا تقی، او ستا دو دی دي نه خوري مګر تقوی داره سړی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رواه ابو داؤد والترمذي وابن حبان والحاكم.

بخاري او مسلم له ابن مسعود رض څخه روایت کړی دی چي نبي کریم ﷺ ویلي دي: المرء مع من احب یعني په اخرت کي، مالک بن دینار رح وایي چي ته د بېري پر شا وړې د ابرارو سره غوره دی تا لره چي حلوا خوري د فجارو سره. ابوبکر بن محمد بن عبدالله الحامدي رح وايي:

اصحب خيار الناس حين لقيتهم .... خير الصحابة انيكون عفيفًا

والناس مثل الدراهم ميزتها .... فوجدت فيهم فضة وزيوفًا

یعني خلک لکه دراهم دي یعني د زرو چي امتحان په کسوټي وکړي ته به په خلکو پیدا کړې خالص سپین زر او کوټه لکه د دراهمو د زرو.

حکایت: یوه ډله د غلو حکومت ونیول. له هغو غلو څخه یوه ورته وویل چي ما دوی ته سروز او غزل ویل د دوی له ډلي څخه نه یم. حاکم ورته وویل چي نو یو غزل ووایه، او دا بیت د عدي بن ثابت یې ووایه:

عن المرء لاتسل وابصر قرينه .... فكل قرين بالمقارن يقتدى

حاکم ورته وویل رشتیا دي وویل وامر بقتله منهم. له ابی موسی الاشعري رض څخه روایت دی عن النبي ﷺ قال چي مثال د جلیس صالح (ای همنشین متقي) والسوء یعني د بد سړي، کحامل المسک لکه د چا سره چي مشک ورسره وي (چي بهترین د عطریاتو دي) ونافخ الکیر یعني د پښ بټۍ او نافخ یې پښ دی. نو حامل المسک اما ان یحذیک (مفت به یو اندازه مشک درکړي) واما ان تبتاع منه، یا به یې ته څنډي رانسې، او که دا دواړه نسي میسر، او تجد ریحًا طیبة (یا به ته وموميې ښه بوی د مشکو) ونافخ الکیر اما ان یحرک ثیابک (یا به دي کالي در وسوځي، ولي پښ چي بټۍ وهي خامخا بڅرکي د اور شاوخوا غورځي. نو شاید ستا کالو ته به هم یو بڅری ورسېږي) واما ان تجد ریحًا خبیثةً او یا ته چي د پښ په دکان کي ناست یې، نو دده د کان بد بویه دی ته به حتمًا هغه بدبویي احساس کړې) رواه البخاري.

یوه سه: چي ریح مؤنث سماعي دی نو ځکه یې صفت مؤنث خبیثةً راغلی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَالَ الرَّسُولُ يٰرَبِّ إِنَّ قَوْمِي اتَّخَذُوا هٰذَا الْقُرْاٰنَ مَهْجُورًا ﴿۳۰﴾

وبه وايي رسول يعني محمد ﷺ يعني په دغه ورځ (عطف دی پر يعض الظالم) اې زما خدايه په تحقيق زما قوم، يعني كفار د مكې من قريش وغيرهم، دوی گرځولی ؤ دا قرآن يعني چې ستا منزل كتاب دی متروكا يعني اعراض يې ځنې كړی ؤ او ايمان يې نه پر راوړی، ولم يعلموا مافيه من الشرائع والاحكام التي چې اسباب دخول الجنة ويقولون انه شعر او سحر او كهانة. وهذا قول النخعي رحمه الله ومجاهد رحمه الله، او بعض مفسرين رحمهم الله وايي چې معنا ددې آيت داده چې رسول الله ﷺ په دنيا كې د قوم شكايت و خدای جل جلاله ته كاوه: ان قومي اتخذوا هذا القرآن مهجورا، نو پر دې تقدير قال الرسول عطف دی، على قال الذين لايرجون لقائنا، رسول الله ﷺ چې خدای جل جلاله ته دا شكايت له قوم ځخه وكړی. خدای عزوجل ده ته دلاسائي وركړه بقوله:

وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا مِّنَ الْمُجْرِمِينَ

او دغسې لكه تا ته چې مو گرځولي دي دښمنان من مشركي قريش، مونږ گرځولي دي هر نبي لره دښمنان له مشرينو ځخه د قوم، ددې آيت حاصل دادی چې ته صبر وكړه لكه چې هغو انبيا عليهم السلام صبر كړی ؤ، ولې چې زه ستا نصرت كوم.

يوه سه: چې كذالک عطف دی پر قال الرسول باندې.

وَكَفٰى بِرَبِّكَ هَادِيًا وَّنَصِيرًا ﴿۳۱﴾

كافي دی خدای ستا تا لره، هدايت كوونكی دی د لارود كاميابيو پر دوی، (وكلمة الباء زائدة لان كفی متعدي بنفسه) او كومک كوونكی دی پر دوی باندې.

يوه سه: چې هاديا ونصيرا حال دی له فاعل ځخه د كفٰى.

فائده: په دمخه آيت كې اشاره ودې ته ده چې مؤمن لره پكار دی چې د قرآن مبارک تحفظ او قرائت دې ځه ناځه هره ورځ او شپه كوي تا چې تر ظاهر د نظم لاندې رانسي يعني هذا القرآن مهجورا، روح البيان.

فائده: علماء وايي چې له لويو گنهو ځخه يوه گناه داده چې سړی يو آيت يا سورت د قرآن مجيد ياد كړي او بيا يې هېر كړي، مراد له نسيان ځخه دادی چې په مصحف كې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې هم نسي ويلای كما القنية، په صحيح حديث كي راغلي دي چي رسول الله ﷺ
وويل چي زړونه يعني د مؤمنانو زنګ لاندي كوي يعني غفلت د خدای ﷻ لکه
وسپنه چي زنګ لاندي كوي يعني چي تعاهد يې نه کېږي په نمناکه ځای کي پرته وي،
چا پوښتنه څنګه وکړه چي زنګ لېري كونكي د دغو زړونو څه شی دی؟ عليه الصلوٰة
والسلام ورته وويل تلاوة القرآن وذكر الله تعالى، يو محقق شاعر وايي:

دل پر درد را دوا قرآن .... جان مجروح را شفاء قرآن

هرچه جوئی زنص قرآن جوی .... كه بود گنج علمها قرآن

درویش وايي: چي دوه بيته گويا ترجمان دي د قول د خدای ﷻ وننزل من القرآن
ما هو شفاء ورحمة للمؤمنين، اهل تجربه د علماء كرامو وايي چي په قرآن مبارک کي
شپږ آيتونه د شفاء سته، هر څوک چي دا آيتونه نوشته كړي او اوبه يې وڅښي څو
ورځي، له ظاهري او باطني امراضو څخه به يې خدای ﷻ خلاص كړي.

درویش وايي: وقد جربتها مرارًا كثيرة فكان الامر كما قالوا هغه شپږ آيته
دادي (١) وننزل من القرآن ماهو شفاء ورحمة للمؤمنين (٢) شفاء للناس (٣) شفاء
لما في الصدور (٤) ويشف صدور قوم مؤمنين (٥) واذا مرضت فهو يشفين
(٦) قل هو للذين هدًى وشفاء.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْاٰنُ جُمْلَةً وَّاحِدَةً ۚ

او وايي هغه كسان چي كفر يې مختاره كړی دی (عطف على قال الذين
لا يرجون لقائنا، لولا حرف تنديم دی) ولي نه نازل كړل کېدی دا قرآن چي محمد
يې كتاب الله بولي ټول په يوه وار.

پوښتنه: نُزّل ماضي د باب تفعيل ده، او په كتابو کي د علم صرف وايي چي
باب د تفعيل لپاره د تدريج دی، نو قرآن مبارک خو هم تدريجًا نازلېدی، نو كفارو
دا سوال څرنګه وكړی او د نزّل او د جملة واحدة تر منځ منافات هم سته؟

ځواب: په خصائص الابواب کي د شافيه وايي چي ګاهي باب د تفعيل په
معنی د باب د افعال وي چي دفعةً وي په دي آيت کي تفعيل په معنی د افعال دی،
حاصل د سوال د دوی دادی چي عادت الهي په دي سره جاري ؤ چي نور كتب الهيه
جملةً واحدةً يې نازل كړي دي لکه تورات د موسى ؑ انجيل د عيسى ؑ زبور د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داؤد ؑ، نو که قرآن کتاب الهي وای، نو جملةً واحدةً به نازل سوی وای؟ قاضي بیضاوي وایي چي دا سوال ددوی بې ځایه دی له دې کبله چي د قرآن دلیل چي من عند الله دی اعجاز دی چي څوک یې مثل نسي جوړولای، کریمه: قل ان کنتم في ریب مما نزلنا علی عبدنا فاتوا بسورة من مثله آه، او اعجاز خو په دفعةً واحدةً او په نزول تدریجي کي فرق نه لري او سره ددې چي په تفریق او په تدریج کي فواید ستة منها ما اشار الیه بقوله تعالی:

كَذٰلِكَ ۚ لِنُثَبِّتَ بِهٖ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنٰهُ تَرْتِيْلًا ۝

(کذالک) متعلق دی په فعل محذوف پوري ای انزلناه کذالک یعني په تفریق او تدریج سره) داغه رنګه چي موږ قوي وګرځوو په تفریق سره د نزول ستا زړه چي هم یې ښه فهم د معنا وکړې او هم یې ښه حفظ وکړې، او بله فائده د تفریق داده چي نزول د قرآن پر اندازه د واقعاتو چي واقع کېدلې به لوی بصیرت په معنی کي د آیتو وه، او بله فائده یې داده د تفریق چي نجمًا نجمًا چي نازلېدی او کافران له اتیان څخه د هر نجم د قرآن عاجزه پاته کېدل زاد قوة قلبه ؑ وبداهة کونه من عند الله لاعجاز نجومه بلغا، عدنان وفصحا، قحطان، او بله فائده د تفریق داده چي ناسخ او منسوخ سره وپېژندل سي، او بله فائده د تفریق داده چي جبرئیل ؑ به وقتًا بعد وقتٍ او حالاً بعد حالٍ و علیه الصلوة والسلام ته راتلی، نو د علیه الصلوة والسلام مبارک زړه به نور علی المزید قوة پیدا کاوه، چېري د دوست ملاقات یوه ورځ چېري هره ورځ، او بله فائده د تفریق داده چي هیڅ چي له مسلمانانو څخه منع د یو حکم قرآني څخه نه ده کړې کما لایخفی، او تورات چي په یوه وار نازل سو بني اسرائیلو له قبول څخه د احکامو د تورات انکار وکړی حتی چي په امر د خدای ﷻ جبرئیل ؑ یو غر ددوی پر سر راپورته کړی، نو وروسته ددوی و احکامو ته د تورات تسلیم سوه. حاصل دا چي قرآن روښان لمر دی که څه هم د چوپرکانو د قریشو سترګي پر برېښېدلې، او معاني د قرآن خوږه عسل دي که څه هم د صفرایانو د قریشو خولې ترخې وې په خوږوالي یې نه پوهېدل.

بوه سه: چي دا جمله "ورتلناه ترتیلاً" عطف ده پر هغه فعل مقدر باندي چي انزلناه وُ چي په هغه پوري لنثبت تعلق درلودی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چې د ترتیل مختلفې ترجمې سوې دي، روح البیان وایي چې ترتیل تفریق ته وایي، یعني مجيئ الکلمة بعد الاخرٰی په لږ سکوت سره چې ماه ورسره نه وکاږي، دا خو اصل ترجمه ده د ترتیل سوه، والمراد ههنا کذالک نزلناه وقرئناه علیک شیئًا بعد شئ علی تمهل في (۲۰) سنه او في (۲۳) سنه، او ابن عباس ﷠ وایي بیناه بیانًا او السدي ﷫ وایي فصلناه تفصیلا، او مجاهد ﷫ وایي بعضه في اثر بعض، او نخعي ﷫ وایي فرقناه تفریقًا.

درویش وایي: چې د دې ټولو معنا او مآل یو دی، واصل الترتیل په غاښو کې دی چې په منځ کې د غاښو لږ پیوست وي چې په غاښو کې تر با هم متصل غاښو د پیوست والا غاښونه ښه خوند کوي.

وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا ﴿۳۳﴾

او کفار د مکې تاته راتګ نه کوي په یو سوال عجیب سره لکه ضرب مثل چې عجیب وي، یعني د دوی په سوال سره ستا په نبوت کې قدح او اعتراض پیدا کوي، مګر نه مونږ راتګ کوو تاته په جواب کې د سوال د دوی په حق سره، یعني په داسې جواب سره چې د دوی د دفع د سوال لپاره کافي او شافي وي (واحسن تفسیرًا) عطف دی پر حق باندې یعني پر مجرور د باء کذا في روح البیان، او مظهري وایي چې عطف دی پر جار او مجرور یعني پر بالحق باندې.

فائده: تفسیر له بابه د تفعیل دی مجرد یې فسر دی وهو کشف ما غطی یعني ښکاره کول دي د هغه شي چې پټ وي، والمعنی جئناک بما هو احسن بیانًا وتفصیلًا لما هو الحسن والصواب ومقتضی الحکمة چې په هغه سره اشکال د دوی په ښه وجه زائل سي، که دوی تعنت او تکبر ونه کړي.

پښتانه وایي: .... دا یې قباله په چا یې منې.

پوښتنه: احسن خو اسم تفضیل دی، نو د دې تفعیل دا معنی ده چې د دوی یعنې یکافرانو سوال ښه وُ مګر جواب یې تر هغه احسن دی او که څرنګه؟

ځواب: د دې احسن معنی داده چې دا جواب په غایت حسن کې دی بې حد ذاته لا بما نسبته الی ما قالوا لان ما قالوا في غایة القبح کما.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَلَّذِيْنَ يُحْشَرُوْنَ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ

پوهه سه: چې الذين آه يا خبر د مبتداء محذوفی دی ای هم الذين آه او يا موصول مبتداء خبر يې وروسته جمله ده، هغه کسان چې حشر کېږي په ورځ د قيامت پر مخانو خپل.

پوهه سه: چې که معنی د يحشرون يجرون وي يعني ملکي يې کشوي پر مخي و دوږخ ته فلاحاجة الى جواب سؤال كيف يحشرون على وجوههم، او که معنی د حشر نفس ژوندی کول وي پر مخانو د دوږخ پر خوا، نو دا خو د تعجب وړ خبره ده، ولهذا لما قال رسول الله ﷺ يحشر الناس يوم القيامة على ثلثة اصناف ركبانا ومشاة و على وجوههم، فقال رجل او يمشون على وجوههم قال[۴] الذي امشاهم في الدنيا على اقدامهم قادر على ان يمشيهم على وجوههم يوم القيامة، رواه ابو داؤد والبيهقي عن ابي هريرة ﷺ وما قلنا اولاً هو المروي عن ابي ذر ﷺ حيث قيل في الحديث المذكور بعد بيان الصنفين وقوم يسحبهم الملائكة، يو قوم دی چې کشوي يې ملکي پر مخانو، رواه النسائي والحاكم والبيهقي، والله اعلم بالصواب وعنده علم ما في الكتاب.

اِلٰى جَهَنَّمَ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضَلُّ سَبِيْلًا ۝

او هغه کسان يعني الذين يحشرون على وجوههم بد تر دي از روی مکان په اخرت کې چې مکان ددوی دوږخ دی چونکه شر اسم تفضيل دی نو مفضل عليه په منازل د مؤمنانو دی چې په دنيا کې يې درلوده او کافران به پر دوی عيب وايي چې خدای پاک ددوی د عيب ويلو په دې قرآني آيت راوړی دی (ای الفريقين خير مقامًا واحسن نديًا) از روی مجلس او خدای ﷻ په دې آيت قرآني رد ددوی کړی دی (فسيعلمون من هو شر مكانًا) يعني په ورځ د قيامت، دا پښتو ترجمه وه، او فارسي ترجمه يې داده، آن گروه که بر روی حشر ميشوند بد تر از روی مکان يعني مکان ايشان بد تر است که دوزخ است، از منازل مؤمنان که در دنيا داشتند وايشان يعني کفار طعنه بر مؤمنان می زدند، ای الفريقين خير مقامًا الخ، وخداوند پاک جواب به ايشان فسيعلمون الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي دا ؤ تفسیر د قوله تعالی شر مکانًا، واما تفسیر قوله تعالی واضل سبیلاً یعني اخطاء طریقًا من کل احد، وبالفارسیة: وکج تر وناصواب تر اند از جهت راه، چه راه ایشان بآتش دوزخ است، والاظهر ان التفضیل للزیادة المطلقة والمعنی اکثر ضلالاً عن الطریق المستقیم.

پوښتنه: په ترجمه کي خو تا نسبت د اکثر ضلالاً و کافرانو ته وکړی او په قرآن کریم کي نسبت د اضل و سبیل ته راغلی دی؟

ځواب: دا نسبت و سبیل ته لپاره د مبالغې دی په شرارت کي د دوی.

فائده: تمییز کونکی د خیر او شر د خلګو په قیامت کي خدای ﷻ دی، کریمه وامتازوا الیوم ایها المجرمون.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَجَعَلْنَا مَعَهٗٓ اَخَاهُ هٰرُوْنَ وَزِيْرًا ﴿۳۵﴾

لام موطئه د قسم محذوف دی او قد لپاره د تحقیق دی، والله په تحقیق موږ ورکړی و موسیٰ ته کتاب چي تورات دی، او موږ ګرځولی ؤ ده سره ورور دده هارون کومکي په دعوت کي د فرعون او دده د قوم و توحید او ایمان ته، هٰرون عطف بیان دی.

پوه سه: چي د وزارت معنی دا نه ده چي هارون؏ نبي نه ؤ بلکې صرف معاون د موسی؏ ؤ، لما جاء في موضع آخر من القرآن واجعل وزیرًا من اهلي هارون واشرکه في امري (ای النبوة)

فائده: عامة في جمیع القرآن وهکذا قصة نوح؏ او قصه د آدم؏ او حواء او د ابلیس څو ځایه مکرره راغلې ده، او داغه رنګه بیان د جنت او دوږخ او نور ورته مقصې مکرري راغلي دي، حکمت د تکرار یې څه دی؟

ځواب: دا تکرار چي په هر ځای کي په جلا جلا عباراتو بلیغه وو سره راغلی دی، واضح دلیل دی چي قرآن منزل من عند الله دی او خارج د طوف د بشر دی، ولي یو سړی چي څو واره یوه قصه کوي دومره توان نه لري چي هر وار به یې په بلاغت آمېزه عباراتو سره راوړي، خواه مخوا به بعض عبارات بلیغ وي، او بعض د بلاغت د قانون څخه خلاف وي والتجربة شاهد صدق علی هذا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَقُلْنَا اذْهَبَا إِلَى الْقَوْمِ الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَدَمَّرْنَاهُمْ تَدْمِيرًا ﴿۳۶﴾

نو موږ وويل ودوی ته چې تاسي ولاړ سئ (يعني لپاره د دعوت و توحيد او ايمان ته) و هغه قوم ته يعني فرعون و قومه چي دوی تکذيب د آياتو او دلائل د وجود زما او د وحدانيت زما في الانفس والافاق حتی چي فرعون يې دعوه د خدايي کړې او قوم يې دده د خدايي دعوه منلې هم ده، او فرعون قوم ته کوچني کوچني خدايان پر خپل صورت ورجوړ کړي وه چي تاسي د دغو بتانو عبادت کوئ، او په حقيقت کي فرعون د صانع العالم څخه منکرؤ او قوم يې بت پرستان وه.

تنبیه: له آياتو څخه مراد آيتونه د تورات نه دي، ولي چي تورات خو د فرعون او دده د قوم تر غرق وروسته نازل سوی دی.

پوه سه: چي په "فدمرنا" کي کلمه د فاء عطف ده پر مقدر، والتقدير فذهبا اليهم فدعواهم الى الايمان بالله فكذبوهما فدمرناهم تدميرًا، نو موږ دوی يعني فرعون و قومه يې ولره هلاک کړه بالغرق في بحر قلزوم.

سوال: د دی حذف او تقدير نکته څه ده؟

ځواب: نکته يې اقتصار على ما هو المقصور من القصة وهو بعثة الرسل وتدمير المكذبين لهم.

وَقَوْمَ نُوحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا الرُّسُلَ

منصوب دی په اذکر مقدر سره او يا منصوب دی په فعل مضمر سره چي تفسير يې اغرقناهم چي په علم نحو کي دې ته منصوب على شريطة التفسير وايي وهو كثير في العربية، او روح المعاني او روح البيان وايي چي منصوب په هغه فعل سره چي دمرناهم السابق دلالت پر کوي اى دمرنا قوم نوح ؑ، "لما كذبوا الرسل" ظرف دی د فعل مضمر چي ناصب ؤ د قوم نوح چي دوی يې تکذيب وکړی د رسولانو، يعني نوح ومن قبله من الرسل كشيث وادريس علیہم السلام، او يا مراد له رسل څخه يوازي نوح ؑ دی.

سوال: نو صيغه د جمع يې ولي راوړه؟

ځواب: تکذيب د يوه نبي د ټولو تکذيب دی، لان دعواهم واحدة وهو التوحيد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَغْرَقْنٰهُمْ وَجَعَلْنٰهُمْ لِلنَّاسِ اٰيَةً ۚ وَاَعْتَدْنَا لِلظّٰلِمِيْنَ عَذَابًا اَلِيْمًا ۝

مونږ دوی غرق کړل یعنې په طوفان "وجعلناهم" بحذف المضاف ای جعلنا اغراقهم، او قصتهم، للناس آیة، ای عبرة یعتبرون به او بها... بیت:

پند گیر از مصائب دیگران.............تا نگیرند دیگران ز تو پند

او اراسته کړې دی مونږ د ظالمانو لپاره حیث کانوا في ای زمان کانوا عذاب دردونکی وهو عذاب النار، یعنې ماسوی د مانزل بهم في الدنیا کالغرق في بحر قلزوم لفرعون وقومه والطوفان لقوم نوح ؑ.

وَّعَادًا وَّثَمُوْدَاۡ وَاَصْحٰبَ الرَّسِّ

"وعاداً" یا عطف دی پر قوم نوح یعنې هلاک کردیم قوم عاد را بتکذیب هود ؑ وگروه ثمود را بتکذیب صالح ؑ، وقد مر قصتهما في سورة الاعراف. "واصحاب الرس" منصوب دی باذکر مقدر یا په هغه فعل سره چې د ماقبل څخه وفهمېدی یعنې اهلکنا اصحاب الرس، په قاموس کې وایي الرس ابتداء الشئ کما یقولون رس الحمی یعنې ابتدائها، والبئر المطویة بالحجارة هغه څاه ته هم وایي چې په ډبرو او پخو خښتو پوخ سوی وي، او اصلاح او افساد ته وایي (فعلی هذا هو من الاضداد) او د یوې شېلې نوم هم دی په اذربائجان کې علیه الف مدینة. ولعل اطلاق اصحاب الرس علی قوم معهودین لکونهم بادین بالشر والکفر مفسدین في الارض (د مخه تېر سوه چې رس اصلاح او افساد دواړو ته وایي او یا له دې سببه ورته وایي چې پر یو څاه چې نوم یې رس مقیم وه کما مر من القاموس البئر المطویة بالحجارة، او په قاموس کې دا هم راغلي دي چې رس د فن ته د میت هم وایي او لانهم قتلوا نبیهم ودفنوه هنالک، نو خدای ﷻ شعیب ؑ په نبوت ورته را واستاوه یدعوهم الی الاسلام فتمادوا في عصیانهم وطغیانهم او په ازار کې د شعیب ؑ، نو یوه ورځ دوی په د څاه پر غاړه ناست وه څاه د بېخه ونړېدی فخسف بهم وبدیارهم ومواشیهم او باغونه د دوی، دا ؤ روایت د وهب بن منبه ؒ ورواه ابن جریر وابن عساکر عن قتادة ؒ، او بغوي په مختصره توگه ویلي دي چې قتادة او کلبي وایي چې رس د یو څاه نوم دی په یمامه کې قتلوا نبیهم فقتلهم الله ﷻ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي وفیه روایاة اخر، تاسي قول د قاموس چي معتبر کتاب دی په لغت عربي کي واورېدی چي رس و هغه څاه ته وایي چي په ډبرو جوړ سوی وي، لکن په کشاف کي وایي الرس البئر الغیر المطویة بالحجارة انتهی، په هر صورت قوم یعبدون الاصنام بعث الله الیهم شعیبًا ؑ کمامر فکذبوه، نو یوه ورځ چي دوی د څاه پر غاړه ناست وه او اوبه یې مواشیو ته راکښلې څاه و نړېدی فخسف الله بهم وبدیارهم ومواشیهم واموالهم فهلکوا جمیعًا.

درویش وایي: چي په قاموس کي دا هم راغلي دي الرس بئر لبقیة ثمود کذبوا نبیهم وهو حنظلة بن صفوان کان قبل موسی ؑ علی ماذکره ابن کثیر، نو دوی هغه نبي ور دې څاه ته واچاوه او په هغه څاه کي یې پټ کړی یعني دفن یې کړی، نو څاه وچ سو او به یې کښته ولاړې، نو دوی تږي سول وروسته تر دې چي ددې څاه په اوبو دوی او مواشي ددوی او باغونه ددوی اب خواره کېدل او درختي یې وچي سوې او مېوې یې قطع سوې، انس ددوی په وحشت بدل سو او اجتماع یې په فرقت بدله سوه لانهم کانوا یعبد الاصنام او دمخه تر دفن د حنظله خدای ﷻ دوی مبتلا کړي وه په لوی مرغه چي اوږده غاړه یې وه چي هر رنګ برنګي یې درلودې، نو هغه مرغه چي به ښکار نه کړی پیدا ددوی کوچنیان به یې په منګولو کي پورته کړل او د مغرب پر خوا به ولاړی، نو دوی و دې مرغه ته په سبب د اوږد والي د غاړي او د تلو و جانب ته د مغرب عنقا د مغرب وایه، یوه ورځ یې یوه مراهقه نجلی پورته کړه نو دوی شکایت و خپل نبي منظله بن صفوان ته وکړی چي که ته موږ د عنقاء مغرب له شره خلاص کړې موږ به ایمان راوړو فدعا علی تلک العنقاء فارسل الله علیها صاعقه (یعني تکه) چي عنقاء د مغرب پاکه وسوځي او اولاد یې نسو پاته، حسین کاشفي رح میگوید پیغمبر دعا فرمود که خدایا این مرغ رابگیر ونسل بریده گردان دعای پیغمبر بجایی اجابت رسید وآن مرغ غالب شد ودیگر ازو خبری واثری پیدا نه شد وجز نام ازو وشان ازو نماند واز چیزهای نایافت بدومثل زنند کما قیل:

منسوخ شد مروت ومعدوم شد وفاء...... وزهر دو نام ماند چو عنقا وکیمیا

حاصل دا چي عنقا معرب معروف الاسم لا الجسم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي وروسته تر دفع د شر د عنقا مغرب قوم ايمان نه راوړی او دی قتل کړی په هغه ځای کي واچاوه تاريخ وايي چي وروسته تر ډېري زمانې حنظله؏ په هغه ځاه کي پيدا سو، لاس يې پر خپل تېپ د بدن اېښی ؤ خلګو چي لاس پورته کړی هغه تېپ وينه راوبهېدل بيرته خلګو لاس دده پر خپل تېپ ور کښېښو.

وَقُرُونًا بَيْنَ ذَٰلِكَ كَثِيرًا ۝

"وقرونًا" عطف دی على اصحاب الرس والتقدير واهلكنا قرونًا وهو جمع كثرة لقرن، وهم قوم مقترنون في زمن واحد كما جاء في الحديث الصحيح خير القرون قرني، فقرن النبي ﷺ هم الصحابة الذين رؤا النبي ﷺ رؤية كثيرة او قليلة. حقيقية او حكمية ليشمل عبد الله بن ام مكتوم الاعمى ؓ، ثم الذين يلونهم، وهو من رئى واحدًا من الصحابة او اكثر چي قرن د تابعينو يې بولي، ثم الذين يلونهم، چي يو يا ډېر د تابعينو ليدل وي چي تبع تابعين يې بولي، د يوه قرن په زمانه كي اختلاف دی څوک وايي (۱۰) لس كاله او بعض وايي (۲۰) شل كاله ده. بعض وايي (۳۰) بعض وايي (۴۰) بعض وايي (۵۰) بعض وايي (۶۰) بعض وايي (۷۰) بعض وايي (۸۰) بعض وايي (۹۰) او بعض وايي چي (۱۰۰) كاله ده. والآخير هو الاصح، ولي چي عليه الصلوة والسلام يو هلک ته دعاء وکړه عش قرنًا فعاش (۱۰۰) سنة. والمعنى اهلكنا اهل اعصار كثيرة كافرة.

"بين ذالک" په تاويل د مذكور من الطوائف والامم وبالفارسية ميان قوم نوح وعاد وثمود وميان قوم وثمود تا اصحاب الرس "كثيرًا" صفت لقرونًا

وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ الْأَمْثَالَ ۖ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيرًا ۝

"وكلا" منصوب دی على شريطة التفسير اى بفعل دل عليه "ضربنا له الامثال" اى بينّا له القصص العجيبة من قصص الاولين ليعتبروا به "وكلا" اى كل واحد منهم "تبرنا تتبيرًا" اى اهلكنا هم لما لم يعتبروا بالامثال، او د منذرين رسولانو يې تكذيب وکړی.

درویش وايي: چي په دې آيتو كي تحذير دی د كفارو د قريشو يعني چي ستاسي به هم داغه صورت حال وي كه ايمان را نه وړي او په عين حال كي تسلي وه عليه الصلوة والسلام ته ده فتدبر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَقَدْ اَتَوْا عَلَى الْقَرْيَةِ الَّتِيْٓ اُمْطِرَتْ مَطَرَ السَّوْءِ

لقد جواب دی د قسم محذوف او عطف دی پر لقد آتینا موسی الکتاب وضمير الجمع راجع الى اهل مكة يعني اكثرهم والمعنى بالله چې اهل مكة چې دوی ډېر وارونه تېر سوي په اسفارو کي ددوی شام او مرو ته "على القرية" پر هغه قريه يعني سدوم چې لويه له قريو څخه د قوم لوط وه چي پر دوی باران غير معهود سوی وُ باران د بدو شيانو يعني د ډبرو باران ولي چي دوی د کفر سره سره خبيث كارونه كول يعني اتيان الرجال في ادبارهم چي لواطت يې بولي. بغوي رح وايي چي قرئ د قوم لوط پنځه وې چي څلور يې خدای ﷻ هلاک کړې او يوې کوچني قريې ته يې نجات ورکړی چي هغو لواطت نه کاوه. او دغه قرئ مهلكه واقع دي په لار د اهل مكه چي شام او مرو ته دوی سفر كوي.

اَفَلَمْ يَكُوْنُوْا يَرَوْنَهَا ۚ بَلْ كَانُوْا لَا يَرْجُوْنَ نُشُوْرًا ﴿٤٠﴾

آيا دوی يې نه ويني دا قرئ؟ بلكې دوی رجاء د بعث بعد الموت نه درلوده يعني نه دی عدم عبرت ددوی په سبب د عدم رؤية ددوی بلكې په سبب د عدم اعتقاد ددوی البعث بعد الموت، نو له عذابه نه ببرېږي او ثواب طمع هم نه لري بلكې مؤمنان چي له عذاب څخه د خدای ﷻ بيرېږي او د ثواب طمع هم لري.

پوه سه: چي همزه د استفهام داخل دی پر نفي، وانكار النفي اثبات يعني حتمًا يې ويني، نو ولي الی عبرت نه اخلي.

سوال: اهل عربيت وايي چي رجاء انتظار د خير دی او ظن د حصول د مافيه مسرة دی، وليس النشور اى احياء الميت خيرًا موديًا الى المسرة في حق الكافر؟

ځواب: رجاء په دې آيت كي مجاز له توقع څخه والتوقع يستعمل في الخير والشر، په حديث كي راغلي دي اذا رئيتم الربيع (چي تاسي ووينئ پسرلی چي سپره مځكه په نباتاتو نباتسته وي) فاذكروا النشور (نو تاسي په ياد كړئ ژوند بعد الموت يعني چي له هواري مځكي څخه انسانان راووځي).

فائده: په حديث شريف كي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام د معراج په سفر كي په دريم اسمان كي ډېري ډېري وليدلې چي پرتې وې، نو د جبرئيل ؑ څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یې پوښتنه وکړه چې دا څرنګه ډبرې پرتې دي؟ جبرئیل ؑ ورته وویل چې دا ډبرې بالا سوې دي له هغو ډبرو څخه چې قوم لوط ؑ په وویشتل سو، دا ډبرې ساتل سوي دي ستا د امت د ظالمانو لپاره.

وَإِذَا رَأَوْكَ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا الَّذِي بَعَثَ اللَّهُ رَسُولًا ﴿٤١﴾

او چې تا وويني (يعني كفار د قريشو، عطف دی پر لايرجون) تا نه ګرځوي دوی "الاهزوا" دا استثناء مفرغ ده، او مفعول ثاني دی د يتخذونك او هزوا مصدر دی په معنی د مفعول ای مهزوا به، بغوي ؒ وايي چې دا آيت په ابوجهل او دده په ملګرو کې نازل سوی دی، چې عليه الصلوٰة والسلام ناست وُ او دوی تېرېدل فقالوا استهزاءا.

"اهذا" يعنون محمدا ﷺ، هذا مبتداء ده "الذی آه" والعائد الی الموصول محذوف ای بعثه الله.

بوه سه: چې دا استفهام ددې لپاره د تعجب او انکار دی او کلمه د هذا چې اسم اشاره د قريب ده دوی لپاره د تحقير استعمال کړه لعنهم الله.

إِن كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنْ آلِهَتِنَا

بوه سه: چې ان مخفف د مثقل دی اسم ضمير شان محذوف دی ای انه او کلمه د لام وروسته قرينه ددې ده چې شرط نه دی، والمعنی شان دا دی چې قريب ده چې موږ له خپلو خدايانو څخه ګمراهان کړي وای، يعني منکره کړي وای په سبب د نهايت کوشش دده او په دعوت کې دده زموږ وه توحيد ته، او ډېر نادر شيان موږ ته ښکاره کوي چې سړی ګمان پر کوي چې دا معجزات دده پر صدق دي که څه په حقيقت کې ددوی په خوله سحر دی.

بوه سه: چې په دې آيت کې دلالت دی پر ډېر حرص د عليه الصلوٰة والسلام پر ايمان راوړلو ددوی او قسم قسم معجزات متکاثرات متوافرات متواليات يې وه دوی ته ښکاره کولې چې دوی ودې ته قريب سوه چې زموږ دين په کوږ او بې هوده زموږ څخه پاته سي او دده و دين قويم او مستقيم ته به راواوړو که موږ پر عبادت د خپلو خدايانو مستحکم نه سو، حاصل دا دی چې د معجزات الباهرة المتوافرة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه عبرت څخه یې عبرت نه واخستې، نو له لیدلو څخه د قریٰ لوط چې خرابه پاته دي څرنګه به عبرت واخلي کما یدل علیه قوله تعالی ولقد اتوا الخ.

لَوْلَآ اَنْ صَبَرْنَا عَلَيْهَا ؕ

که موږ صبر او ثبات او دوام ونه کړو پر خپلو خدایانو یعني پر عبادات د هغو او تمسک په عبادات سره د هغو ونه کړو.

پوه سه: چي جواب د لولا محذوف دی دل علیه ماقبله یعني لیضلنا، پوه سه! چي د دوی له خبرو څخه دا فهمېد له چي دوی نعوذ بالله نسبت د ضلال و رسول الله ﷺ ته کاوه، نو خدای پاک رد پر وکړی.

وَسَوْفَ يَعْلَمُوْنَ حِيْنَ يَرَوْنَ الْعَذَابَ مَنْ اَضَلُّ سَبِيْلًا ﴿۴۲﴾

ژر دی چي دوی به پوه سي (چونکه سوف لپاره د استقبال بعید دی، نو مراد څخه ي یوم القیامة ده) هغه ورځ چي دوی عذاب ويني چي څوک دي ګمراه تر از روی لار، ا محمد ﷺ ام انتم ایها الکفرة.

اَرَءَيْتَ مَنِ اتَّخَذَ اِلٰهَهٗ هَوٰىهُ ؕ اَفَاَنْتَ تَكُوْنُ عَلَيْهِ وَكِيْلًا ﴿۴۳﴾

آیا تا لیدلی دی یا محمد ﷺ (والرؤیة ههنا علمیة وقیل بصریة) هغه څوک چي معبود خپل یې ګرځولی وي خواهش باطل خپل چي نه دلیل عقلي پر وي او نه شرعي، آیا ته یا محمد (ﷺ) ساتونکی یې دده یعني ته به یې له معبودیت څخه د هوا منع کوې حتمًا، والاستفهام للانکار یعني ته حفیظ د دوی نه یې بلکې ستا وظیفه تبلیغ دی.

پوه سه: چي دا استفهام لپاره د تعجب دی، یعني په تعجب کي اچول د رسول الله ﷺ خپل حالت.

پوه سه: چي الٰهه مفعول ثاني دی د اتخذ او هواه مفعول اول دی، ثاني یې تر اول د مخه کړی للاهتمام به لانه منشاء للتعجب، قال البغوي رحمه الله قال ابن عباس رضي الله عنه ارئیت من ترک عبادة الله وهو خالقه وهوی حجرًا یعبده، او بعض مفسرین وایي چي دی اطاعت د خواهش نفسي کوي او امر د دین یې پر هوا مبني ګرځولی وي وهو عبادة الاصنام نه د چا حجت او دلیل اوري او نه معجزه ته د نبي په سترګو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبرت گوري، وكفار مكة كلهم كانوا كذالک، کلمه د من شرطيه ده جزاء يې "فانت عليه وكيلا" دی.

أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ

كلمه د ام منقطعه ده په معنی د بل آه ده، بل لپاره د انتقال دی والهمزة للانكار، والمعنى آيا ته گمان کوې چي اكثره ددوی اوري كلام الله منک . او يا دوی په كلام الله پوهيږي يعني دا گمان مه كوه لانهم ختم الله على قلوبهم وعلى سمعهم.

سوال: كفارو د مكي خو د عليه الصلوة والسلام خبري اوريدلې؟

خواب: پوهېدل بلا قبول لکه نه پوهېدل دي.

فائده: قید د اکثریې ددې لپاره وو ایه چي په اهل مکه کي خو مؤمنان هم وه اوبعض كفار هم په پوهېدل لکن تکبراً او عناداً يې انكار كاوه.

إِنْ هُمْ إِلَّا كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا

(کلمه د ان نافيه ده او ضمير هم راجع دی و اکثر ته) نه دي دوی مگر لکه چارپایان، ولي دوی لکه چارپايان په غوږو اوري او په زړو لکه چارپايان په مسموع من الآيات نفع نه سي اخستلای، او لکه چارپايان چي معجزات د رسول الله ﷺ ويني نفع د قبول نه پر اخلي دوی هم داسي دي بلکې دوی گمراه تر دي تر چارپايانو، ولي چارپای چي څوک کشوي ورسره روان وي او هغه څوک چي ددوی سره احسان کوې پیژني يې د هغه چا څخه چي د ده سره بد کوي. وهولاء الكفرة لاينقادون لربهم ولايعرفون احسان الله من اسائة الشيطان او دوی طلب د ثواب او د جنت نه کوي چي اعظم د منافعو دی او ځانو نه له اور څخه نه ساتي چي اشد د مضرو شيانو دی.

أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ الظِّلَّ

بيان دی د بعض دلائلو د توحید وروسته تر بیان د حال د معرضين ددې دلائلو څخه وه كما بين في الآيات السابقة والخطاب لرسول الله ﷺ والاستفهام للتقرير والرؤية البصرية، ولي د رؤية صله چي الى راسي هغه رؤية بصري وي، او په عبارت قرآني كي مضاف محذوف دی، اقيم المضاف اليه مقامه اى الم تر الى صنع ربک (لفظ د صنع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مضاف محذوف دی) والقرینة علیه ان المقصود لیس رؤیة ذات الرب عزوجل.

وترجمة الآیة: آیا ته نه ګوري خپل د رب و صنع ته څرنګه یې غوړولي ده سایه یعني له اول څخه د سپیدو تر راختلو پوري د لمر، لاظل ولاشمس معه لکه سایه د جنت، کریمه: وظل ممدود، او یا مراد له ظل څخه سایه ده د دېوالو د درختو بعد طلوع الشمس، نو پر دې تقدیر سایه هغه ده چې د مضئ بالذات څخه پیدا سي لکه لمر د ورځې یا د مضئ بالغیر څخه پیدا سي لکه سپوږمۍ د شپې، او بعض مفسرین وایي چې مراد له ضل څخه تاریکه د شپې ده چې د لمر په راختلو سره له مځکي څخه تېوله سي.

درویش وایي: چي اطلاق د سایې پر ظلمة اللیل بعید جدًا، او ابو عبیده وایي چي ظل هغه ده چي د لمر طلوع یې د مغرب و خواته شري، او فيئ هغه ته وایي چي د لمر رڼا له مځکي څخه تېولوي فقبل الزوال یسمی ظلاً وبعد الزوال فيئ بولي.

وَلَوْ شَآءَ لَجَعَلَهٗ سَاكِنًا ۚ ثُمَّ جَعَلْنَا الشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيْلًا ﴿۴۵﴾

که اراده د رب ستا وای، والمفعول محذوف ای سکون ذالک الظل ''ساکنًا'' ای ثابتًا علی حالة من الطول والامتداد آه، په فارسي وایي: ثابت وآرام بریک منوال.

پوه سه: چي جمله ولوشاء الخ جمله معترضه ده په منځ کي د معطوف علیه چي مد الظل دی، او د معطوف چي دا قول د خدای ﷻ دی ''ثم جعلنا الشمس علیه دلیلاً'' بیا به مو ګرځولی وای لمر پر دې ظل دلیل یعني چي د وقت طلوع څخه د شمس سایه کرار د مغرب له خوا څخه راتولېږي د مشرق وخواته الی نصف النهار (یعني ښېله دې چي په منځ کي د دوی سببیت او تاثیر وي قطعًا بلکي دا همه وهمه مربوط دي په مشیت پوري د خدای ﷻ کما دلت علیه الجملة المعترضة)

سوال: شمس خو مؤنث سماعي دی، نو دالة یې ولي نه و وایه؟

ځواب: له دې سببه یې دالة نه و وایه چي د شمس د لفظ اطلاق پر جرم کېږي او په دې سبب مؤنث سماعي دی او پر ضوء ده هم کېږي کما یقال جلست في الشمس ای في ضوئه وهو بهذا الاعتبار مذکر، والمراد ههنا المعنی الثاني.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ قَبَضْنٰهُ اِلَیْنَا قَبْضًا یَّسِیْرًا ﴿۴۶﴾

عطف علی مد الظل داخل في حکمه، خپل ځان ته لفظ د الینا لپاره د تصریح پر دې دی چي لکه امتداد الظل چي متعلق زموږ په اراده او مشیت سره قبض د ظل هم زموږ په اراده پوري اړه لري. نو د الینا معنی داده الی جانب مشیتنا یعني څرنګه چي لمر را پورته کېږي سایه د مغرب د خوا راکمېږي "قبضًا یسیرًا" یعني مهلة و قلیلاً قلیلاً.

حکمت: که سایه دفعتًا را ټوله سي وان کان مقدورًا هغه منافع د خلکو چي په سایه او ضوء الشمس پوري تعلق لري هغه به معطل سوي وای. کلمه د ثم لپاره د تراخي ده.

درویش وایي: چي دغه تفسیر چي تاسي واورېدی د روح المعاني، روح البیان او بیضاوي د تفسیر سره موافق دی. وما قال المظهري رحمه الله في تفسیر قوله تعالی ساکنًا بان جعل اللیل سرمدًا الی یوم القیامة، د دې مقام سره مناسب نه دی نه په دې معنی چي مقدور د خدای جل جلاله نه دی بلکې په دې چي د سیاق سره د کلام مناسب نه دی فتامل جدًا.

وَهُوَ الَّذِیْ جَعَلَ لَکُمُ الَّیْلَ لِبَاسًا وَّالنَّوْمَ سُبَاتًا

او خدای ستا هغه ذات دی چي ګرځولې یې ده شپه کالي یعني لکه کالي په ستر کي فحمل اللباس علی اللیل مبنی پر تشبیه، وورد في القرآن الکریم: هن لباس لکم وانتم لباس لهن (یعني ماینې ستاسي او تاسي د ماینو کالي یاست، له دې سببه چي هر یو د ماینو او د مړو هغه بل ساتلی دی له فعل قبیح څخه د زنی، او تقوی هم خدای جل جلاله لباس بللې ده حیث قال: ولباس التقوی خیر کل ذالک علی سبیل التمثیل والتشبیه.

سوال: چي لیل لباس ده فلا حاجت الی ستر العورة في اللیل والظلمة یعني چي څراغ هم نه وي؟

ځواب: ستر د عورت په کالو سره لپاره د حق د لمانځه دی وهو باق في الظلمة یعني والضوء "والنوم سباتًا" والسبت قطع العمل یعني وجعل النوم الذي یقع غالبًا في اللیل راحة للابدان چي مشاغل او کارونه د ورځي قطع کوي یعني هغه کارونه چي په حال وینښه سره خاص وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په حديث شريف کي راغلي دي چي : النوم اخ الموت، دا قدر يې فرق دی چي نوم انقطاع د روح له ظاهر بدن څخه دون باطنه، او موت چي دی انقطاع د ضوء د روح د ظاهر او باطن دواړو څخه.

پوښتنه: د شنبې ورځي ته ولي يوم السبت وايي؟

ځواب: چي خدای ﷻ د اسمانو او ځمکو په پيکښني شروع وکړه فخلقها في ستة ايام فقطع خلقه يوم السبت كما في المفردات.

وَّجَعَلَ النَّهَارَ نُشُوْرًا ﴿٤٧﴾

پوه سه: چي نشور مصدر دی حمل يې يا مبالغة يا په حذف د مضاف يعني ذا نشور ينتشر فيه الناس لاجل طلبهم الامور الدينية كالعلماء للتدريس والطلبة للتعلم والامور الدنيوية كالتجارة والكسب وغيرهما كالسؤال عن الناس.

حكايت: له کامل عارفانو څخه د خدای ﷻ يو سړی شاه شجاع رحمه الله د ډېرش کاله د شپې نه بيدېدی، يوه شپه خوب غلبه پر وکړه بيده سو خدای پاک يې په خوب وليدی، نو باره به يې بالښت د ځان سره ګرځاوه هر ځای چي به خوب ورغلی بيده به سو. يو چا پوښتنه ځني وکړه چي ته ولي بالښت په شا ګرځوې؟ ده دا بيت ورته ووايه:

رئيت سرور قلبي في منامي .... فاجبت النعس والمناما

يعني چي خدای پاک مي په خوب کي وليدی.

پوه سه: چي دا حال د اهل نهايت دی من الاولياء، ولهذا قيل في موت الاولياء.

مشو بمرگ زامداد اهل دل نوميد .... كه خواب مردم اگاه عين بيدار يست

وفيه رد على الفرقة المبتدعة المنكرين لكرامات الاولياء بعد الموت بل للكرامات مطلقًا، نو ددوی حال داسي دی كما قيل:

شپره گر نه بيند روز...... چشمه آفتاب را چه گناه.

وَهُوَ الَّذِيْٓ اَرْسَلَ الرِّيٰحَ بُشْرًا

او خدای ﷻ هغه قادر ذات دی چي را استولي يې دي بادونه زېري کوونکي پر خلګو (بشرًا جمع د بشير ده)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي دا قرائت دی د عاصم رحمه الله یعني په پېښ د باء او په سکون د شین چي اصل یې بشرٌ په دوو پېښو لکن پېښ د شین یې حذف کړی لپاره د تخفیف لاستثقال الضمتین مصاحف مطبوعة عمومًا پر دغه قرائت طبع سوي دي او جمهور قراء یې په پېښ د نون او د شین وایي مشتق دی د نشور څخه. صرف ابن عامر رحمه الله یې په ضم د نون او په سکون د شین وایي لپاره د تخفیف. لکن اصل یې نشر بضمتین، په هر صورت جمع د ناشر ده. والمنی نشر کونکي دي دغه بادونه د وریځي لپاره د اوربښت. او حمزه او کسائي رحمه الله یې په فتح د نون وایي چي مصدر دی او حمل یې پر ریاح مبالغة دی. او لفظ د ریاح ټوله قراء په صیغه د جمع وایي په لحاظ د افراد د ریح. او ابن کثیر ریح مفرد وایي بارادة الجنس والمآل واحد.

پوښتنه: په نقل کي د قرآتو متعدده وو ستا څه غرض دی؟

ځواب: زما مطلب دا دی چي ده قرآت ټوله متواتره یا مشهور دي شاذ قرائت پکښې نسته، نو په لمانځه کي پر هر قرائت که یې امام ووایي ځای د اعتراض نسته باندي.

بَيۡنَ يَدَيۡ رَحۡمَتِهِۦۚ

یعني دمخه تر رحمت د خدای جل جلاله چي باران دی. په کشف الاسرار کي وایي: ارسال اینجا به معنی کشودنست چنانچه ارسلت الطائر وارسلت الکلب المعلم (چي په پښتو یې معنی ایله کول او خوشي کول ده)

فائده: اکثر استعمال د ریاح په لفظ د جمع په خیر او رحمت کي ده او په عذاب کي لفظ مفرد راځي چي هغه د مغرب د خوا باد دی چي عقیم یې بولي. په حدیث شریف کي راغلي دي چي باد به پیدا سو علیه الصلوة والسلام به داسي دعاء کوله اللهم اجعلها لنا ریاحًا ولاتجعلها ریحًا. اشاره ده و هغه آیت ته: واهلکت عاد بالدبور.

فائده: یدي لاسو ته وایي دلته مو د ترجمه په دمخه سره وکړه ولي چي اول بادونه پیدا کېږي او بیا وریځ سره جمع کېږي بیا رحمت چي اوربښت دی شروع کېږي.

وَأَنزَلۡنَا مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءً طَهُورًا ﴿٤٨﴾

او موږ راتویوو له اسمان څخه او به پاکي. کلمه د من لپاره د ابتداء ده او له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسمان څخه مراد بعض مفسرین وایي چې متعارف معنی ده، او اکثره ددوی مراد څندي وريځ ده، ولي چي شروع بالذات خو له وريځي څخه ده لان کل ماعلاک سماء کما یقال لسقف البیت سماء البیت.

بوه سه: چي طهور صیغه د مبالغې ده یعني د اسمان اوبه في نفسه پاکي دي او مطهر لغیره دی من الحدث والنجاسة، په فارسي یې ترجمه داده: پاک وپاک کننده، او په پښتو یې ترجمه داده پاکي او پاک کونکي.

فائده: د انزلنا په لفظ کي التفات دی له غیبت څخه و تکلم ته او نون د متکلم مع الغیر لپاره د کمال عنایت دی په انزال لانها نتیجة ارسال الریاح.

درویش وایي: چي روح البیان ده پره مختصره اشاره و تخصیص ته د اختلاف الائمة اربعه رحمهم الله په باره کي د ماء طهور کړی ده. ولي چي مقام د تحقیق او اختلاف د امامانو او راوړل د دلائلو دوجانبه او یا جوابات ورکول علم فقه ده. او روح المعاني خو بیان د اختلاف د امامانو رح صرف نظر کړی دی، او مظهري رح کما هو عادته ټوله اختلافات او دلائل او جوابات تخمینًا په نهه صفحو کي درج کړي دي.

درویش وایي: ولکل امرء مانوی آه بخاري ص۱.

لِّنُحۡـِۧيَ بِهِۦ بَلۡدَةً مَّيۡتًا

چي موږ ژوندي کو په نازل د اسمان سره چي ماء طهور وي، دا علت د انزال دی.

بوه سه: چي بلدة که څه هم په اصطلاح عامه کي ښار ته وایي لکن مراد دلته څندي مطلق ځمکه او وطن دی.

فائده: معنی د موت د بلدة داده چي نه درختي شنې پکښې وې او نه میوې او نه چراګاه د حیواناتو، او ژوند د ځمکي دادی چي مذکورات شیان پکښې پیدا سي.

سوال: بلدة خو مؤنث ؤ نو میتًا په تذکیر سره یې څرنګه صفت واقع سو؟

خواب: یا دادی چي بلدة د بلد په تاویل دی یا په معنی د موضع ده او یا د مکان ده او یا بلدة مؤنث غیر حقیقي دی، نو مذکر او مؤنث دواړه یې صفت واقع کېدای سي، او بل جواب دادی چي میتًا جاري پر فعل نه دی چي یا پر صیغه د اسم فاعل وای یا د مفعول وای فاجری مجری الاسم الجامد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّنُسْقِيَهٗ مِمَّا خَلَقْنَآ اَنْعَامًا وَّ اَنَاسِيَّ كَثِيْرًا ﴿۴۹﴾

(ونسقیه) ای ذالک الماء الطهور النازل من السماء. یعني چي په ښېلو او رودو کي یا يې مځکه جذب کړي او په څاهانو او کاریزو کي راوځي او په حوض کي سره جمع سي.

پوه سه: چي نسقیه که څه هم له بابه د مزید دی لکن مجرد او مزید دلته په یوه معنی دي او سقیا یه يې مصدر دی.

پوه سه: چي من جاره په مما کي په نسقیه پوري متعلق دی، ای نسقي ذالک الماء بعض خلقنا من الانعام "واناسي کثیراً" او انسانان ډېر.

پوه سه: چي کثیراً منصوب دی بدل دی له محل څخه د جار او مجرور في قوله ومما خلقنا آه.

فائده: انعام جمع د نعم ده. په مغرب کي (چي په لغتو کي یو کتاب دی) وایي چي انعام هغه ازواج (۸) دي چي په هغه آیت کي ذکر سوي دي من الابل الاثنین (یعني نر او ښځه) ومن البقر اثنین ومن الضان اثنین ومن المعز اثنین آه. لکن اکثر مایقع هذا الاسم علی الابل.

فائده: اناسي جمع د انسان ده په نېز د سیبویه. نو اصل يې اناسین و. نو بیا يې نون په یاء بدل کړی او مدغم يې کړی په دې یاء کي هغه د مخه یاء چي ساکنه وه فصار اناسي.

فائده: پوه سه! چي کثیراً صفت دی د اناسي.

سوال: کثیراً مفرد دی او اناسي کما مر جمع دی فکیف التوصیف؟

ځواب: مراد له اناسي څخه بشر دی، والمراد بالاناسي ههنا اهل البوادي. ولي چي عیش د دوی او د مواشیو د باران په اوبو سره دی.

پوښتنه: چي مراد له اناسي څخه اهل البوادي وي، نو تخصیص د دې يې په ذکر سره ولي وکړی؟

ځواب: له دې کبله چي اهل د ښارو یا د قریو چونکه دوی ژوند کوي نژدې د ویالو، څاهانو او چینو ته، نو دوی غالبًا په هغو سره مستغني دي خپل د ځان د سقیا لپاره او د خپلو چارپایانو د سقیا لپاره له اوبو څخه د باران.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَقَدْ صَرَّفْنٰهُ بَيْنَهُمْ

يعني باران مو وېشلی دی په منځ کي د خلکو او د بلادو يعني بعض وخت باران پر يوه ځای اوري بعض وخت پر بل ځای.

پوه سه: چي بغوي رحمه الله له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت کړی دی ده ويل ما من عام بامطر من عام، نسته يو کال چي ډېر او ربښت دي پکښې کېږي تر بل کال لكن الله يحوله في الارض يعني خدای جل جلاله يې له يوه ځايه بل ځای ته صرفوي په مځکه کي، وقرء ابن عباس رضي الله عنه هذه الآية له ابن مسعود رضي الله عنه څخه مرفوعًا الى رسول الله صلى الله عليه وسلم قال ليس من سنة بامطر من اخرى لكن الله قسم هذه الارزاق (يعني بارانونه چي سبب د رزق دي) په اول اسمان کي په اطرافو کي د مځکي، ينزل منه كل سنة بكيل معلوم ووزن معلوم واذا عمل قوم بالمعاصي حول الله ذالک (ای مطر) الى غيرهم فاذا عصوا جميعًا صرف الله ذالک الى الضيافي (ودښتو ته) والبحار) او روح البيان دا آيت مذکوره يعني ولقد آه ترجمه داسي کړې ده، والله لقد كررنا هذا القول الذي هو ذكر انشاء السحاب وانزال المطر لپاره د هغو فوائدو جليله وو چي په قرآن کريم کي قبلاً ذکر سوي دي وغيره من الكتب السماوية، په منځ کي د خلکو من المتقدمين و المتاخرين.

لِيَذَّكَّرُوْا ۖ فَاَبٰٓى اَكْثَرُ النَّاسِ اِلَّا كُفُوْرًا ۝

چي خلک فکر پکښې ووهي او د خدای جل جلاله کمال قدرت وپېژني او حق د نعمت وپېژني او شکريه اداء کړي، نو منع وکړه ډېرو کسانو له اداء کولو څخه د شکر د نعمت مذکوره او د خدای جل جلاله له معرفت څخه په توحيد، قدرت او احسان سره.

وجه الاباء عدم الايمان بالله ورسله: له يزيد بن خالد الجهني رحمه الله څخه روايت دی قال صلى بنا رسول الله صلى الله عليه وسلم الصبح بالحديبية في اثرة سماء (حديبيه د يو ځای نوم دی مکي ته نژدې، اثرة يعني په وروسته کي، سماء يعني باران) كانت بالليل فلما انصرف اقبل على الناس (د كانت ضمير و سماء ته راجع دی چي مؤنث دی که څه هم مراد ځني باران دی، نو چي له لمانځه څخه فارغه سو خلکو ته يې مخ راواړاوه، او وه يې وويل چي آيا تاسي خبرياست چي خدای پاک څه وويل؟ خلکو ورته وويل الله و رسوله اعلم يعني موږ نه يو خبر چي څه يې وويل خدای جل جلاله، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم قال الله تبارک و تعالی اصبح من عبادي مؤمن و کافر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تفصيل یې داسې بيان کړی که چا وویل چې پر موږ باران وکړل سو په فضل د خدای ﷻ او په رحمت سره د خدای ﷻ فذالک مؤمن بي. پر ما یې ایمان سته چې تفویض د باران یې ماته وکړی، وکافر بالکوکب چې د تاثیر څخه د کواکب د باران په اوربښت کې منکر دی، واما من قال مطرنا بنوء کذا (د ستوري په سبب یا د پیروني او یا غیر ذالک) فذالک کافر بي ومؤمن بالکوکب. رواه البخاري ومسلم رح.

درویش وایي: چې په پښتنو کې هم ورته رواج د صحراء په خلکو کې سته چې پیروني مثلاً یا بل ستوری راوخېژي په سپېدو کې، نو دوی وایي باران کېږي الی غیر ذالک من اقوالهم لکه نجوم ګران چې وایي، نو ددې حدیث مبارک تشریح په کار ده تاچې زموږ وطن وال له کفره څخه خلاص سي، نو که څوک استقلالاً نسبت د بارانو فقط و ستور ته کوي فهو کافر بالله حقیقة، او که څوک نسبت د بارانو بلکې د ټولو حوادیثو خدای ﷻ ته کوي او ستوري صرف او صرف علامات د قدرت د خدای ﷻ بولي، نو کافر نه دی.

درویش وایي: چې ددې ورته نور مثالونه هم سته، مثلاً یو سړی ناجوړی وي او یو ډاکټر ته ورسي هغه دوا ورکړي او جوړ سي، نو که یې داسې وویل چې خدای پاک زه جوړ کړم له فلاني ډاکټر څخه مي نسخه واخستل، نو هغه مؤمن دی او که یې داسې وویل چې زه د فلاني ډاکټر دوا جوړ کړم، نو که یې عقیده هم داغسې وه لکه په خوله چې وایي، نو هغه کافر دی لانه لا مؤثر حقیقة في شئ من ذاته واحواله الا الله الواحد الخالق الجبار، لکن اولیاء الله الکرام رح دا جزوي شراکت هم بد بولي که څه هم په طور د علامت وي.

وقد جاء في الحدیث الصحیح: ثلاث من امر الجاهلیة (۱) الطعن في الانساب، یعني عیب ویل د چا پر نسب باندي، لکه پښتانه چې وایي: فلانی پارسیبان دی، یا فلاني د مسلیانو له ذات څخه دی، یا فلاني استاکار دی، او دا خبري د هغه د معرفت لپاره نه بلکې د عیب لپاره وي (۲) والنیاحة او پر مړي په زوره بغاري (ژړا) او ساندي ویل لکه د ښځو چې عادت دی، یا سرشکول، یا کالي پر ځان څیرل الی غیر ذالک (۳) والانواء یعني ستورو ته نسبت کول د حوادثو لکه تفصیل چې یې بیان سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شان نزول: چونکه آنحضرت ﷺ نبي او رسول ؤ وه ټولو خلکو ته که عرب وي او که عجم، که انس وي که جن، نو دا يو لوی کار ؤ چي پر عليه الصلوة والسلام خدای ﷻ وه ده ته سپارلی ؤ، نو په راتلونکي آيت کي خدای ﷻ حکمت ورته بيانوي. آيت دادی.

وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِي كُلِّ قَرْيَةٍ نَّذِيرًا ۝

که زموږ اراده وای موږ به استولی وای په هره قريه کي يو يېرونکی يعني رسول چي هغه به اهل قريه د خدای ﷻ له عذاب څخه پر کفر او شرک په ورځ د قيامت يېرولای، او په دې سبب به د ژوند بار سپک سوی وای، ولکن بعثناک للناس کافة اجلالاً لک وتعظيمًا لک ولشانک وتفضيلاً لک علی سائر الرسل، لکه په حديث صحيح کي چي راغلي دي چي متفق عليه دی، رسول الله ﷺ وايي: اعطيت خمسًا لم يؤت نبيٌ من قبلي (ماته راکړل سوي دي پينځه شيان چي هيڅ نبي ته تر ما دمخه نه دي ورکړل سوي، چي يو يې په هغو پنځو کي دا بيان کړی چي هر نبي وه يو خاص قوم ته به مبعوث ؤ) وارسلت الی الناس کافة.

پوهه: چي مفعول د "شئنا" محذوف دی چي جواب د لو دلالت پر کوي، والتقدير لو شئنا بعث الرسول في کل قرية.

فَلَا تُطِعِ الْكَافِرِينَ وَجَاهِدْهُم بِهِ جِهَادًا كَبِيرًا ۝

نو ته اطاعت مه کوه د کافرانو چي دوی تا ته دعوت درکوي د رجوع و دين ته د آباو او پر دې کار باندي تا ته د ترغيب لپاره قسم قسم حيلې جوړوي، مثلاً تا ته به رياست د ټوله اهل مکه درکړو، او ستا لپاره به موږ چنده وکړو چي ته لوی تاجر سې د اهل مکه، او تا ته به اختيار درکړو زموږ په لڼو او خوندو کي هر څو چي په نکاح غواړې دربه يې کړو الی غير ذالک، او يا يو کال ته زموږ د خدايانو عبادت کوه او يو کال به موږ ستا د خدای په يوا ځي توګه عبادت کوو چي دې ته مداهنت وايي يعني غوړه مالي، نو ته ثابت قدم اوسه پر دعوت د کافرانو وه توحيد ته او ايمان بالرسالة او بعث بعد الموت ته، او زما شکر وايه چي تا ته مو د رسالة عامه تاج درکړی "وجاهدهم به" او ددوی سره جهاد کوه په قرآن سره او يا په ترک د دعوت ددوی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: مرجع د ضمیر چي قرآن دی د مخه نه دی ذکر سوی نو اضمار قبل ذکر المرجع به نه وي؟

ځواب: لا ولي چي قرآن له سیاق څخه د کلام فهمیږي (او ترک د اطاعت د دوی د فلا تطمع څخه ظاهر دی) ''جهادًا کثیرًا'' یعني شدیدًا بالقلب واللسان چي فتور هیڅ ځای پکښي ونه لري، ولي چي جهاد د ناپوهانو سره په ایراد د دلائلو او بیناتو اشد دی تر قتال بالسیف والسنان (نېزه)

درویش وایي: چي مظهري رح د آیت په تفسیر کي استعمال د سیف او سنان هم راوړی دی، ورده صاحب روح البیان چي جهاد د توري او نېزې خو وروسته تر هجرت وه علیه الصلوة والسلام ته ورکړل سو، وهذه السورة مکیة بالاتفاق والله اعلم بمراده في کتابه، وکذا رد قول المظهري رح العلامة البغدادي رح في روح المعاني ص۳۲ جز۱۹ بقوله وجوز ابو حیان انیکون الضمیر راجعًا الی السیف وانت تعلم ای السورة مکیة ولم یشرع في مکة الجهاد بالسیف. ثم قال ومع هذا لایخفی مافیه انتهی.

درویش وایي: چي الله اعلم بمراد مافیه لکن زما په عقیده مافیه داده چي که ضمیر وه سیف ته راجع سي، سیف خو په ماقبل کي نه لفظًا ذکر سوی دی او نه سیاق د کلام دلالت پر کوي، نو اضمار قبل ذکر المرجع دی من کل الوجوه، نو احتمال یې لا نسته فضلاً من ارادته ومن الله التوفیق.

وَهُوَ الَّذِیْ مَرَجَ الْبَحْرَیْنِ

پوه سه: چي مرج ماخوذ له دې محاورې څخه د عربو مرجت الدابة وکذا امرجتها چي سړي به خوشي کړه دابه په څړ ځای کي هره خاته چي تلای. دا بل دلیل دی د قدرت د خدای ﷻ. والمعنی: خدای ﷻ هغه ذات دی چي خپل سر ته یې ایله کړي دي دوه دریابه، وهذه الجملة معطوفة علی قوله وهو الذي ارسل الریاح، او د مابین جملې تولې جملې معترضه دي.

فائده: بحر د پرو او بو ته وایي که شیریني وي او که تروې یا ترخې وي عند اکثر اهل اللغة، او په اصل معنی کي هغه پراخه ځای ته وایي: الجامع للماء الکثیر سواء کان جاریًا. لکه فراخه نهر الکوفة والنیل نهر مصر، وبحر الفارس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

والروم، چي پښتانه يې رود بولي، او ساكنًا كالبحر المحيط باكثر الارض.

درویش وايي: چې ددې دوو بحرو په تعين کي لوی اختلاف دی بعض علماء وايي چي مراد ځنې دجله نهر بغداد دی او به يې خوږې دي په بحر فارس ورګډېږي چي او به يې تروې دي، او دا دجله نهر بغداد څو فرسخ په بحر فارس کي جاري دی دده خوند ته تغير نه ورکوي، ددې مثال داسي دی لکه رود او نهر طبريه چي نيمي او به يې يخي دي او نيمي تودې او يو په بل کي تاثير نه کوي. او بعض علماء وايي چي مراد له دې دوو بحرينو څخه رود نيل المبارک دی چي او به يې ډېري خوږې دي چي په بحر فارس ورګډېږي چي او به يې ترخې دي.

او حسين کاشفي رحمه الله وايي: محققان بر آنند که بحرين خوف و رجاء است که دردل مؤمن کامل هيچ يک بر ديگرى غلبه نکند ولو وزن خوف المؤمن ورجائه لاعتدلا وبرزخ حمايت الهى وعنايت نا متناهى است انتهى.

درويش ميگويد: که حاصل کلام کاشفي رحمه الله اينست که ايت محمولست بر تمثيل نه بر ظاهر اگر کسي بگويد که بحرين بر معنى ظاهر آب بسيار را ميگويد چنانچه قبلاً گفته شد پس خوف ورجاء مؤمن رابه چه سبب تمثيل بحرين گردانيد ند؟ جواب اين است که اسباب خوف الهى من المعاصى الصغيرة والكبيرة والقلبية والقالبية بسيار اند وكذا موجبات رجاهم بسيار اند من رحمته تعالى العامة ودعاء الملائكة للمؤمنين والمؤمنات، وشهر رمضان صيامه وقيامه وصلوة الجمعة والعيدين وشفاعة الرسل الى غيرها، وفي كشف الاسرار، البحر الملح اعذوبة فيه والعذب لا ملوحة فيه وهما واحد. في الجوهرية المائية ولكنه سبحانه وتعالى بقدرته غاير بينهما في صفة الملوحة والعذوبة.

درویش وايي: چي روح المعاني داسي ويلي دي، وحاصل معنى الآية انه تعالى هو الذي جعل البحرين مختلفين في مرء العين يعني د سترګو په ليدلو کي، او په تحقيق کي يې سره جلا کړي دي بقدرته عزّوجلّ اكمل انفصال حتى چي عذب په ملح نه ګډېږي او نه ملح په عذب، ولايتغير طعم كل واحد منهما بالآخر اصلاً، په اخير کي يې ويلي دي وحكى هذا عن الاكثرين ثم رد عليه بقوله، وفيه انه خلاف المحسوس، پيا تر اخيره پوري مطلب چي د نورو مفسرينو خلاف بيان يې کړی دی، تفسير جزء ١٩ ص ٣٥.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَّهٰذَا مِلْحٌ اُجَاجٌ

دا یو دریاب دی یعني اوبه یې خوږې دي یعني تنده ماتوي د ډېر خوږوالي له سببه کما یشهد به التجربة، امام طیبي رح وایي فرط اصلاً کسر ته وایي. نو له دې سببه خوږې اوبه فرات بولي، او له هم دې سببه نهر کوفه فرات بولي چي لوی رود دی په کوفه کي عذب طیب، اوسر چشمه یې په ارمنیه کي ده ''وهذا ملح اجاج'' تروې اوبه یې دي په غایت ملوحت کي.

درویش وایي: چي په تجربه دا ثابته ده چي تروې اوبه تنده لا ډېروي.

یوه سه: چي دا دوې جملې حال دي له بحرینو څخه په تقدیر د قد، یعني مقولاً في حقهما کذا وکذا.

وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَّحِجْرًا مَّحْجُوْرًا ﴿۵۳﴾

او گرځولی دی خدای ﷻ په منځ کي ددې دوو بحرو حاجز یعني مانع د اختلاط د یوه د بل سره، نو ملح د عذاب څونډ نسي خرابولای.

درویش وایي: چي له هم دې سببه قبر برزخ بولي لانه حاجز بین حیوة الدنیا وحیوة الآخرة، محقق بیضاوي رح چي د عقلیاتو ډېر طرفداره دی داسي یې ویلي دي کدجلة التي مائه عذب په بحر محیط کي داخلیږي فتجری في خلاله لایتغیر طعمها، او مادروح المعاني یو لږ عبارت رانقل کړی دی چي ته وله یې څوک مطالعه کړي پر خلاف ددې دی چي دي ځان صوفي هم بولي.

''حجراً محجوراً'' ای ستراً ممنوعاً چي دا پرده محسوس نه ده بلکي صرف قدرت الهي برزخ دی.

یوه سه: چي محجوراً صفت د حجر دی لپاره د مبالغې په منع کي لکه لیل الیل وداهیة دهیاء ویوم ایوم، او دا کلمه لپاره د استعاذی ده کما مر تفصیله في تفسیر هذه السورة، او بعض مفسرین ددې آیت یعني وجعل بینهما برزخاً په تفسیر کي وایي چي مراد له بحر عذب څخه هر لوی رود دی چي اوبه یې خوږې وي لکه نیل چي د مصر رود دی او فرات چي د کوفې دریاب او رود دی وهکذا الدجلة، او مراد له بحر ملح څخه البحر المحیط العظیم دی، او له برزخ څخه مراد هغه مځکه ده چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د دې دوو تر منځ ده، نو قدرت الهيه په دې فصل کي د مځکي کاريګر دى فافهم.

وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَاءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُ نَسَبًا وَصِهْرًا

وهو الذي آه دا بيان دى د قدرت، او بل نعمت پر نوع د بشر.

پوه سه: چي بشرًا ظاهر ته د پوست وايي، نو وجه د تعبير له انسان څخه په بشر سره له دې کبله کېږي چي پوست دده تر وېښتانو لاندي معلومېږي که هر څو ببر سړی وي بخلاف الحيوانات چي د بعض پوست په صوف يعني وړيو سره پټ وي لکه پسونه، د بعض په شعر يعني اوجغونو سره پټ وي لکه بزه، او د بعضو دا بڼه وبر چي وړيو ته د اوبښ وايي، پوه سه! چي د بشر په لفظ کي واحد او جمع سره برابر دي.

''فجعله'' وروسته يې ګرځولى دى دا بشر يا اوبه د نطفي.

پوه سه: چي نسب او صهر دواړه مصدرونه دي، نو مضاف محذوف دی. والمعنى ذوی نسب ای ذکورًا ينسب اليه الولد، کما يقال فلان بن فلان او فلانية بنت فلان..... بيت:

فانما امهات الناس اوعية .... مستودعات وللآباء انساب

وذوات صهر چي ښځي دي چي د هغو سره د نکاح په سبب دوی ګډېږي کوي کريمه: فجعل منه الزوجين الذکر والانثى الآية، راغب اصفهاني وايي چي نسب دوه قسمه دی، يو نسب وي په طول کي يعني الاشتراک في الاب لکه په منځ کي د پلرو او زامنو وان علوا ای جهة الاب کالجد وغيره، او سفلوا کابن الابن وغيره، او يو نسب دی په عرض کي لکه نسبت د دوو وروڼو تر منځ يا د اکا د زامنو تر منځ او په قاموس کي وايي چي صهر د لور مېړه يا د خور مېړه چي ختن يې هم بولي او په پښتو يې اخښى بولي، او په تاج المصادر کي چي د لغتو يو کتاب دی وايي چي: المصاهرة باکسى بنکاح وصلت کردن.

درويش وايي: چي وهذا المعنى يرجع الى ما قال في القاموس کما لايخفى.

وَكَانَ رَبُّكَ قَدِيرًا

او دی ستا خدای ﷻ قادر يعني چي د يوې مادې څخه د نطفې بشر پيدا کړي چي اعضاء مختلفه او متباعده لري، او دوه قسمه متقابل يې وګرځاوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي کېدای سي چي يو سړی هم نسب د بل وي او صهر دي هم وي لکه رسول کریم ﷺ خپل لور فاطمة الزهرا رضي الله عنها وعلي ابن ابی طالب رضي الله عنه ته په نکاح ورکړه، نو علي رضي الله عنه د علیه الصلوة والسلام زوم وګرځېدی او هم نسب يې هم ؤ، او ورته واقعات په مسلمانانو کي په زرهاؤ واقع سوي دي.

درویش وایي: چي قصې ته د تزویج د فاطمة الزهراء او علي رضي الله عنهما روح البیان په ډېر طول سره ذکر کړی دی. او ډېري عجائب عجائب خبري يې پکښې راوړي دي، والله اعلم بحقیقة حال التزویج المذکور.

وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ

او عبادت کوي مشرکان. یعني هر ځای چي وي کمشرکی الهند، که څه هم اصل نزول په مشرکانو کي د مکې سوی دی "من دون الله" ای متجاوزین عن عبادة الله عزوجل، چي دوی ته د هغه معبوداتو فائده نه رسېږي که يې څه هم دوی عبادت وکړي، او نه دوی ته ضرر رسېږي که يې دوی عبادت نه وکړي. ولي چي معبودات د دوی جمادات دي. حاصل دا چي د عبادت هغه څوک مستحق دی چي مالک د نفع او د ضرر وي علی تقدیر العبادة وعدمها، وماهو الا الله القادر المتعال ولیس السبیل الیه الالا اله الا الله.

وَكَانَ الْكَافِرُ عَلَىٰ رَبِّهِ ظَهِيرًا ﴿٥٥﴾

او دی کافر پر خدای جل جلاله معاون د شیطان. او بعض مفسرین وایي چي ظهر له ظهر څخه ماخوذ دی چي لغوي معنی يې شا ده او استعمال يې په ذلت کي کېږي لکه يو سړی چي وایي چي فلاني زه تر شا وغورځولم یعني ذلیل يې استعمال کړم د عزت په سترګه يې نه راته وکتل. نو پر دې تقدیر معنی د آیت دا ده چي دا کافر پر خدای جل جلاله باندي ذلیل دی چي هیڅ قدر پر خدای جل جلاله نه لري.

وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا مُبَشِّرًا وَنَذِيرًا ﴿٥٦﴾

مو ږ ته نه يې استولی په رسالت یا محمد مګر زېری کونکی مؤمناتو ته په جنت سره. او ېرونکی د کافرانو یعني په دار البوار دوږخ سره، دا جمله معترضه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

قُلْ مَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِلَّا مَنْ شَاءَ أَنْ يَتَّخِذَ إِلَىٰ رَبِّهِ سَبِيلًا ﴿٥٧﴾

ته ورته ووایه کفارو ته د مکې چي زه ستاسي پر تبلیغ د رسالت چي د مبشرًا ونذیرًا څخه وفهمېدی، یو مزدوري او تنخواه (کلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده حتی چي پر تاسي زما متابعت دروند واقع کېږي په سبب د تاوان د اجر او تنخواه) مگر نه فعل د هغه چا چي غواړي و خدای ﷻ ته لار او تقرب و خدای ﷻ ته او رضٰی د خدای ﷻ.

پوښتنه: کلمه د الا خو استثناء ده له اجر څخه، نو مراد له فعل څخه د من شاء څه شی دی چي دا په اجر منفي سي او بیا څنګه استثناء سي؟

ځواب: مراد له فعل څخه د دغه سړي اطاعت د رسول الله ﷺ دی په امتثال کي د اوامر د ده چي اول یې ایمان دی، او انتهاء د منهیاتو چي اول یې کفر دی.

سوال: دا خو اجر د علیه الصلوة والسلام نه دی؟

ځواب: هو په دې سره خدای پاک قلع د اجر مالي ورکړه او اظهار د دې یې وکړی چي علیه الصلوة والسلام له نهایت شفقت څخه د دوی ایمان یې چي نفع یې هم دوی ته راجع ده اجر کافي وافي مرضی د خپل ځان یې بلل.

سوال: په ایمان کي د دوی اجر کافي وافي مقصود د علیه الصلوة والسلام څه شي ده؟

ځواب: په حدیث شریف کي چي روایت یې بزار له ابن مسعود رضی الله عنه څخه کړی دی قال رسول الله ﷺ الدال علی الخیر کفاعله یعني لکه دوی چي ایمان راوړی خدای ﷻ ود دوی ته ثواب ورکوي، داغه رنګه رسول الله ﷺ ته خدای ﷻ ثواب ورکوي لانه ؑ دال علی ذالک الخیر، او بل په صحیح حدیث کي په روایت د انس رضی الله عنه راغلي دي: قال رسول الله ﷺ من سن في الاسلام سنة حسنة فله اجرها واجر من عمل بها الی یوم القیامة من غیر ان ینقص من اجورهم شیئًا، رواه مسلم.

تفریع: رسول کریم ﷺ د ټول امت الی یوم القیامة د ایمان او طاعاتو په کولو کي په ثواب کي ورسره شریک دی لانه ﷺ واضع دی د دغي سمي لاري الواصل الی الله ﷻ والی الجنة یوا ځي هم دی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي روح البيان ويلي دي چي ظاهره داده چي استثناء منقطع ده او مظهري دا قول په قيل سره راوړی دی چي حاصل يې دادی چي زه نه طلبوم جعل او مزدوري مالي له چا څخه د خپل ځان لپاره لكن من شاء انفاقه لاجل الله يعني د خدای ﷻ د رضا لپاره زه يې مانع نه يم.

درویش وايي: چي مظهري په عنوان د مسئلې داسي ويلي دي ويستنبط من هذه الآية انه لايجوز الاستيجار (يعني اخذ الاجرة) للطاعة، كتعليم القرآن والاذان والامامة ونحو ذالک.

درویش وايي: چي دا مذهب د متقدمينو علماؤ رحمهم الله دی، لكن په شرح الوقاية كي وايي وافتى المتاخرون بجوازه (اى اخذ الاجرة على الامور المذكورة) لظهور التواني في امور الدين انتهى، او د جلالين په يوه حاشيه كي هم دا فتوى د متاخرينو ذكر كړې ده، او په فتوحات مكيه د شيخ اجل محي الدين ابن العربي قدس سره كي وايي للواعظ اخذ الاجرة على وعظ الناس وهو من اجل ما ياكل وان تركه افضل انتهى.

درویش وايي: چي پر اجرت پر وعظ الناس باندي اخذ الاجرة على الامامة او على الاذان او علم تعليم القرآن ونحوها قياسيږي.

مسئله: درويش وايي كه معلم القرآن فقط يو سړی وي په يوه قريه يا بلد كي يا امام يا مؤذن يا غسل وركوونكی د مړي يا معلم القرآن يا معلم الفقه وغيرها، نو اجرت اخستل يې حرام دی بالاجماع لانه اذا انحصر تلک الامور على واحد فوجب على ذالک الواحد اجرائها كذا في الكرماني وغيره.

وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ

او ته يا محمد اعتماد او تكيه وكړه په دفع كي د شر د كفارو او د استغناء د اجورو څخه پر ذات چي دائم الحيوة والبقا دی، ولي نور احيا، خو مري چي مړه سوه نو من توكل عليهم ضائع پاته سو بخلاف الحي الذي لايموت ولايضاع من توكل عليه.

حكايت: د سلطان العارفين بايزيد البسطامي قدس سره په عصر كي يو دوه ځوانان سره اشنايان وه او نهايته يو پر بل سره ګران وه، قضاء الهي راغله دا يو ځوان مړ سو او په فراق كي هغه بل ځوان ليونی سو حتى په ځان نه پوهېدی، جنګ به يې هم كاوه او بنكنځل به يې هم خپل او پردي ته كول، حتى چي پلاريې دا مجنون په كور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي به زولنو او په لاسو ترلو بندي کړي، بایزید رحمه الله چې له حاله خبر سو، نو شاګردانو او اصحابو ته یې وویل چې راځئ د فلاني زوی ناجوړی دی چې پوښتنې ته ورسو، شاګردانو ورته وویل چې هغه د پښتنې نه دی لیوني دی پوچ او فحش وایي، بایزید رحمه الله ورته وویل چې دی په پوچ او فحش ویلو کي معذور دی پر موږ خو یې پوښتنه حق ده، نو شاګردان چار وناچار ورسره ولاړه، هغه کورته چې ورغله وروسته تر اجازې د لیوني خوني ته بایزید رحمه الله ورغلی او داسي یې ورته وویل چې فلانی چې ستا زړه دومره نرم او بی واکه ؤ چې په اشنایي پسي یې لیوني کېدې. نو تا به اول اشنایي د حي لایموت مختاره کړې وای، یعني الله الحي الذي لایموت. لیوني پلار ته وویل چې زما لاسونه او پښې خلاصي کړه زه جوړ سوم، بایزید رحمه الله یې پلار ته وویل چې پلار یې په تردد کي ؤ چې لاسونه او پښې یې خلاص کړه له قید څخه ځوان جوړ سو او د خدای ﷻ سره یې محبت محفوظ کړی.

درویش وایي: چې دا کرامت د بایزید رحمه الله ؤ. که څه هم معتزله او د دوی ورته سلفیان وغیرهم د اولیاء الله د کراماتو څخه منکر دي. لکن اهل السنة والجماعة د اولیاء الله رحمهم الله د کراماتو قائل دي کما في شرح العقائد وشرح المقاصد للعلامة الثاني سعد الدین التفتازاني والسید الجرجاني في شرح المواقف وغیرهما فاحفظ.

د توکل علی الله په باره کي به د مثنوي معنوي خواږه ابیات به په ګډه سره واورو

نیست کسی را از توکل خوبتر .... چیست از تسلیم خود محبوبتر
طفل تا ګیر او تا پو یا نبو د .... مرکبش جز ګردن بابا نبود
چون فضولی ګشت ودست وپانمود .... درعنا افتاد ودرکور و کبود
آنکه او از اسمان باران دهد .... هم تو اندکو زرحمت نان دهد
لکن کسب کن پس تکیه بر جبار کن

وَسَبِّحْ بِحَمْدِهِ ۚ وَكَفَىٰ بِهِ بِذُنُوبِ عِبَادِهِ خَبِيرًا ﴿٥٨﴾

پاکي وایه د خدای ﷻ له عیبو او نقائصو څخه او ثناء وایه د خدای ﷻ په صفاتو سره د جمال او جلال لپاره د مزید انعام (فقل سبحان الله وبحمده سبحان الله العظیم، کریمه: لئن شکرتم لازیدنکم) الباء في به زائدة. او بس دی خدای ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په ګنهو د بندګانو دده خبر او علم لرونکی دی، نو مطابق د اعمالو ددوی من الکفر والاسلام والطاعة والعصیان به دوی ته جزاء ورکړي.

الَّذِي خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ

هغه خدای دی چې پیدا کړي یې دي اسمانونه او مځکه او په منځ کې د اسمانو او مځکې په شپږ ورځې کې چې ابتداء یې له ورځې څخه د یکشنبې وکړه او په اخیري ساعت کې د ورځې د جمعې دا خلق عظیم وپای ته ورسېدی.

پوه سه: چې محل د موصول جر دی چې صفت آخر دی.

ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ

وروسته یې استواء پر عرش وکړه.

پوه سه: چې استوٰی پر عرش یا له متشابهاتو څخه دی عند القدماء من العلماء او یا په معنی د غلبه او استیلاء دی چې معنی یې و خلق ته راجع کېږي عند المئولین من المتاخرین.

فائده: د الذي خلق السمٰوات څخه الخ ددې لپاره ذکر کړی چې خلګ او مؤمنان دې پر باعثه کړي پر توکل علی الله باندې، ولې چې دی خالق او متصرف في الکل فهو تعالی حقیق بان یتوکل علیه المؤمن، ولهذا امر الله سید نوع البشر ﷺ بالتوکل علی الله بقوله، وتوکل علی الحي الی اخیره.

فائده: په دې آیت کې دا اشاره هم سته چې یو څوک چې یو کار کوي باید له تلوار څخه کار وانه خلي بلکې په سره سینه او په فکر کولو د عاقبت د هغه کار بیا هغه کار وکړي، ولې خدای ﷻ چې قادر کامل دی او امر دده په کمال سرعت سره نافذ دی په خلق کې د اشیاؤ بیا هم په تدرج په شپږ ورځې کې دا کار انجام کړی.

فائده: له ستة ایام څخه مراد مقدار د شپږو ورځو دی چې په علم کې د خدای ﷻ ثابت ؤ فلایرد ان حین خلق السمٰوات آه نه لمر ؤ او نه سپوږمی، نو شپږ شبانه روزه له کومې خوا وه؟ فافهم هداک الله.

الرَّحْمٰنُ فَسْئَلْ بِهِ خَبِيرًا

پوه سه: چې الرحمٰن خبر د مبتداء محذوفي دی ای الذي خلق السمٰوات اه هو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الرحمن، او یا موصول یعني الذي مبتداء ده خبر یې الرحمن دی، او جمله صفت د الحي ده في قوله وتوکل علی الحي آه، د "به" ضمیر راجع دی و مصدر ته د خلق او د استولی، والمعنی ته سوال وکړه د خلق او استواء په تاویل د مذکور فلایرد ان الضمیر مفرد والمرجع اثنان ای الخلق والاستواء "خبیرًا" لـه یو عالم څخه چي تاته حقیقت د روښیي، او یا له خبیر څخه الله ﷻ مراد دی، او یا جبرئیل؈ او یا من قرء الکتب المتقدمة لیصدقک.

فائده: جار او مجرور یعني به متعلق دي په مابعد پوري یعني خبیرًا کما في قوله تعالی: انه بهم رؤف رحیم، فان بهم متعلق بما بعده ای رؤف رحیم.

وَاِذَا قِیْلَ لَهُمُ اسْجُدُوْا لِلرَّحْمٰنِ قَالُوْا وَمَا الرَّحْمٰنُ

چي وویل سي و دوی ته یعني کفار مکه ته (پوه سه! چي دا جمله عطف ده پر الذي خلق السمٰوات الخ باندي، یا پر جمله د هو الرحمٰن چي هغه جمله سي کمامر) چي سجده یعني انقیاد وکړي دوی وایي چي رحمٰن څوک دی، ولي چي کفار د مکې د رحمٰن په نامه خدای ﷻ نه پیژني، او دوی د رحمٰن په نامه یو مسیلمة کذاب پیژندی چي رحمان الیمامة یې بولی.

درویش وایي: چي هم دا سبب ؤ چي یو وخت علیه الصلوة والسلام وویل یا الله یا رحمن او ابوجهل فرعون هذه الامة واورېده، خلکو یعني نورو مشرکینو ته ورغلی چي محمد (ﷺ) موږ په توحید سره امر کوي او دی پخپله دوه خدایه بولي.

اَنَسْجُدُ لِمَا تَاْمُرُنَا وَزَادَهُمْ نُفُوْرًا ﴿۶۰﴾ (السجدة)

آیا موږ به سجده کوو و هغه چاته چي ته موږ امر کوي په سجده سره، والخطاب للنبي ﷺ والاستفهام للانکار، او زیات کړی و دوی ته امر د سجود و رحمن ته نفرت ستا د ایمان راوړلو څخه.

تَبٰرَكَ الَّذِیْ جَعَلَ فِی السَّمَآءِ بُرُوْجًا

زیات دی خیر او بلند دی د هغه ذات چي پیدا کړي یې دي په اسمان کي بروج.

پوه سه: چي الحسن او مجاهد او قتاده رحمهم الله وایي چي بروج هغه غټو ستورو ته وایي سمیت بروجًا لظهورها لکه برجان د یوې کلا، او عطیة العوفي رحمه الله وایي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بروج هغه قصور دي په اسمان کي چي نګهبانان د ملکو لپاره د منع د شیطانانو له اوريدلو څخه د خبرو د ملکو پکښې دي.

درويش وايي: چي مظهري رح په خپل تفسير کي فقط دا دوه احتماله راوړي دي، او روح المعاني وايي چي ظاهره داده چي مراد په آيت کي هي البروج الاثنا عشر المعروفة، وروسته روح المعاني ډیر طويل بحث په دي دوولسو بروجو کي کړی دی، او روح البيان هم وايي هي البروج ۱۲، وهي المنازل للكواكب السبع السيارة واسماء البروج، (۱) الحمل، دا ابتداء د شمسي کال دی (۲) والثور (۳) الجوزاء، وهذه الثلثة ربيعة (۴) والسرطان (۵) والاسد (۶) والسنبلة، او دا دري د دوبي میاشتي دي (۷) والميزان (۸) والعقرب (۹) والقوس دا دري د مني میاشتي دي (۱۰) والجدي (۱۱) والدلو (۱۲) والحوت دا د ژمي دري میاشتي دي.

فائده: هر برج د ډیرش درجې په رفتار د لمر د رياضي په اصطلاح، حمل او عقرب دوې خوني دي مريخ د ستوري، والثور والميزان دوه اطاقه دي د زهره د ستوري، او جوزا او سنبله دوې خوني دي د عطارد د ستوري، والسرطان بيت القمر، والاسد بيت الشمس، والقوس والحوت دوې خوني دي د مشتري د ستوري، والجدي والدلو دوې خوني دي د زحل د ستوري.

درويش وايي: چي دغه دوولس برجه په رفتار د شمس يو شمسي کال دی.

فائدة طويلة: في قوله تعالى واذا قيل لهم اسجدوا للرحمٰن آه.

مسئله: که څوک وجود د رحمٰن نه مني يا داسي فعل يا قول وکړي چي هغه نه صادريږي مګر له کافره فهو كافر بالاتفاق كما في فتح الرحمن يعني لکه سجده چي بت ته وکړي يا قرآن وغورځوي العياذ بالله قرآن يا كل يا بعض په قاذوراتو کي دا مثال د فعل دی، او يا کلمه د کفر ووايي يكفر بلا خلاف لكونه علامة التكذيب.

روايت: سفيان ثوري رح چي به دا آيت تلاوت کړی سر به يې د اسمان و خواته پورته کړی او داسي به يې ويل: الهی زدني رد خضوعًا كما زاد اعدائك نفورًا.
په حديث صحيح کي راغلي دي چي يو سړي و روسول الله ﷺ ته وويل چي خدای ﷻ ته خواست وکړه چي ما ته په جنت کي ستاسره يو ځای والی راکړي (درويش وايي چي د سائل دا مراد نه ؤ چي په جنت کي ستا رتبه راکړي لا نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لايكون مقبولاً اصلاً بلکې مقصود د سائل دا ؤ چې طفيلي دې زه ستا سره په جنت كې يم يعني چې هر ګړۍ تا وينم، دا سوال د ډېره محبته ؤ له عليه الصلوة والسلام سره) قال اعني بكثرة السجود، ته زما مرسته وكړه په ډېرو سجدو سره (يعني بكثرة النوافل ذكر جزء مراد ځندي كل دی).

درويش وايي: چې د مذكوره آيت پای محل د سجده تلاوت دی بالاتفاق كذا في فتح الرحمن، حسين كاشفي رحمه الله په خپل تفسير چې تفسير حسيني يې بولي په فارسي فصيح ژبه سره، او دده مزار په هرات كې ډېر مشهور دی، وايي: اين سجده هفتم بقول امام اعظم رحمه الله وبقول امام شافعي رحمه الله سجده هشتم است. واين سجده را سجده نفور وانكار ناميده اند، وصاحب فتوحات ميگويد كه چون مؤمن در وقت تلاوت اين سوره اين سجده بكند ممتاز گردد از اهل انكار پس اين سجده را سجده امتياز نيز توان گفت انتهى قول الكاشفي رحمه الله.

مسئله: در سجده دو تكبير است يک بعد از نيت كه بسجده ميرود ويک كه از سجده تلاوت سر را بر مى آرد، ودر نهايه گفته كه هر دو تكبير سنت هستند ودر كافى ميگويد كه هر دو مندوب، ودر فتاوى زاهدى ميفرمايد كه تكبير اول مندوب است وتكبير ثانى ركن وفرض است.

درويش وايي: چې د دواړو تكبيرو د ركنيت قول له چا ځخه نه دی منقول.

فائده: كه چا ته يو مشكل پېښ سي او دی د قرآن ځخه هر آيت د سجدې يوائې يوائې تلاوت كړي او د هر آيت سره سجده هم وكړي، بيا وروسته لاس ونه د انابت ودربارته د قاضي الحاجت رب العزة په حل كې د مشكل موجود پورته كړي، مشكل به يې خدای ﷻ ور حل كړي ببركة سجدات التلاوة وما ذالک على الله بعزيز.

مسئله: په نېز د امام ابو يوسف رحمه الله سجده تلاوت واجب على الفور ده، كه يې وځنډول هغه قضايي ده، او په نېز د امام اعظم او د امام محمد رحمه الله وهو المختار واجب على الفور نه ده بلكې تر وله عمر يې وخت د كولو دی، پرته له اوقات مكروه ځخه كما في كتب الاصول والفروع، والتاخير ليس بمكروه وذكر الطحاوي ان التاخير مكروه (اى تنزيهًا) وهو الاصح كما في التجنيس لصاحب الهداية، ذكره القهستاني رحمه الله في شرحه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: دا آیت اسجد وا للرحمٰن دلالت پر دې کوي چې سجده مصطلح وغير تـه د خدای ﷻ که بت وي که درخته وي که يو رئيس جمهور وي الى غير ذالک علامة السرخسي رحمه الله چې مشهور په شمس الائمة دی وايي که پر وجه د تعظيم وه کفر دی، او هغه کار چې بعض عوام يې د يو عالم يا د يو پير د ملاقات په وخت کي صرف مخکه مچ کړي او سجده نه وکړي فحرام، المرحوم الصدر الشهيد وايي چې په دې فعل سره نه کافر کېږي لانه يريد به التحية انتهى. لکن يلزم عليه ان لا يفعل هذا الفعل لانه شريعة منسوخة وهي شريعقوب ﷺ فان السجود بالنحو المذكور كان يجرى مجرى التحية، لکه يو سړى چې د يو چاته ولاړ سي لپاره د تکريم د هغه يا لاسونه ورمچ کړي ونحوها من عادات الناس مع الاساتذة والمرشدين وغيرهم.

مسئله: صرف سر کښته کول چې انحناء يې بولي للسطان او لغيره فمكروه لانه يشبه فعل اليهود.

پوښتنه: بعض خلک چې خدای ﷻ يو نعمت ورکړي مثلاً زېږی د زوی چا پر وکړی، او يا له يو عذاب څخه خدای ﷻ خلاص کړي دوی لپاره د شکر سجده کوي، حکم يې څه دی؟

ځواب: امام ابو حنيفه او امام مالک رحمه الله وايي مکروه ده، بلکې حمد او شکر دي په خوله وايي، او امام ابو يوسف او امام محمد رحمه الله وايي چې دا سجده شکر د ثواب کار دی، خدای ﷻ ثواب ورکوي لان هذه السجدة في الحقيقة لله تعالى الذي اعطاه النعمة اودفع عنه النقمة وعليه التفوى، او امام شافعي او امام احمد رحمه الله وايي چې سجده شکر سنت ده او حکم يې د سجده تلاوت دی، لکن په داخل کي د لمانځه که فرضي وي او که نفلي سجده شکر دي نه کوي، كذا في فتح الرحمٰن.

فائده: زاهدي په شرح کي د قدوري وايي چې سجدې پنځه قسمه دي (۱) السجدات الصلاتية وهي فرض (۲) وسجدة سهو (۳) وسجدة تلاوة فهما واجبتان (۴) وسجدة نذر وهي واجبة، بان قال لله علي سجدة تلاوة وان لم يقيدها بالتلاوة لاتجب عند ابى حنيفة رحمه الله خلافا لابى يوسف رحمه الله (۵) وسجدة الشكر كما مر بيانها.

مسئله: بعض جهال عوام چې لمونځ وکړي بيا وروسته سجده کوي فليس بشئ لان الجهال يعتقدونها سنة او واجبة، او هر مباح کار چې سړی پر ځان سنت يا واجب وبولي هغه کار مکروه دی، او س بيرته د تفسير پر لور.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَّجَعَلَ فِيْهَا سِرٰجًا وَّقَمَرًا مُّنِيْرًا

خدای ﷻ پيدا کړی دی په اسمان کي څراغ چي مراد څني لمر دی، او سپوږمۍ يې پيدا کړې ده په اسمان کي چي رڼا ورکوي د شپې.

پوښتنه: سپوږمۍ يې د څه حکمت لپاره جلا راوړه؟

ځواب: لان ضوئه ليس ذاتيا له بل نوره مستفاد من نور الشمس لاختلاف نور القمر في الزيادة والنقصان باختلاف مقابلة الشمس بالقرب والبعد، كما تقرر في كتب الهيئة بتمام التفصيل.

وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً

او خدای ﷻ هغه ذات دی چي ګرځولې يې ده شپه او ورځ خليفه (خلفة چونکه مصدر دی فلابد من حذف المضاف ای ذوی خلفة) والمعنی چي ورځ تېرېږي پر ځای يې شپه دربېږي او چي شپه تېره سي قائمقام يې ورځ ګرځي، نو د ورځي که يو چا يو کار کاوه يعني عبادت يا ورد يا تلاوت او هغه کار ته يې د ورځي فرصت نه کړی پيدا د شپې دې وکړي. او که د شپې يو کارو چي سړي به کاوه او د مخه يې هغه کار ونه کړی بعذر النوم مثلاً بيا يې د ورځي وکړي كما روی البغوي رح چي يو سړی عمر بن الخطاب رض ته راغلی او وه يې ويل: فاتتني صلوة الليل يعني صلوة التهجد، قال عمر رض ادرک مافاتک في ليلک في نهارک. بيا عمر رض دا آيت دليل ورته وو وايه، قال الله تعالی وجعل الليل والنهار خلفة. او مجاهد رح وايي جعل يعني كل واحد منهما مخالفًا للآخر هذا اسود وهذا ابيض انتهی.

لِّمَنْ اَرَادَ اَنْ يَّذَّكَّرَ اَوْ اَرَادَ شُكُوْرًا

حرف جر متعلق دی په جعل سره او اصل د يذكر يتذكر کړو، له بابه د تفعل دی تاء يې په دال کي مدغمه کړه، والمعنی هغه چا لره چي دی غواړي چي زه نعمتونه د خدای ﷻ په ياد کړم او په صنع کي د خدای ﷻ فکر ووهم ددې فکر نتيجه به داسي چي دغو مصنوعاتو لره يو صانع حكيم رحيم علی العباد واجب الوجود لذاته حتمًا سته..... بيت:

برگ درختان سبز درنظر هوشيار...... هر ورقی دفتريست معرفت کردگار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او یا معنی داده چي له سري څخه چي د شپې یا د ورځې ورد پاته سوی وي په هغه بل کي به یې را وګرځوم کمامر.

''او اراد شکورًا'' یعني یا اراده شکر د خدای ﷻ لري پرده باندي د نعمتو د خدای ﷻ چي لیل او نهار ده چي شپه تاریکه ده د ارام او استراحت لپاره ده او ورځ روښانه ده د کسب، تجارت او دکانداری لپاره ده الی غیر ذالک.

تفریع: که پر چا یو وخت تېر سي بېله ذکره او بېله شکره او بېله فکره په مصنوعاتو کي د خدای ﷻ فقد ضاع وقته.

وَعِبَادُ الرَّحْمٰنِ الَّذِيْنَ يَمْشُوْنَ عَلَى الْاَرْضِ هَوْنًا

بوه سه: چي اضافت د عباد و اسم جلیل ته د رحمن لپاره د تشریف د مضاف دی.

فائده: احتراز دی د عبادة الدنیا کولو خلکو یا د شیطان او د نفس او هوا عبادت کونکو خلکو. ولي په هغو کي صفات آتیه چي اثار د رحمت او مقبولیت دي په جناب کي د خدای ﷻ په دوی کي نو د تشریف د اضافت ورنه دي.

فائده: روح البیان وایي ای عباده المقبولون وهو مبتدا، او خبر یې الذین آه دی، او مظهري وایي چي خبر یې اولئک یجزون الغرفة الخ دی، او روح المعاني وایي چي عباد الرحمن په اتفاق مبتداء ده او په خبر کي دده قول دی اول دا چي خبر یې ما في اخیر السورة چي اولئک یجزون الغرفة آه لکه مظهري چي وویل، والثاني وهو الاقرب چي خبر یې الذین یمشون آه دی لکه روح البیان چي وویل.

فائده: عباد الرحمن آه جمله مستانفه ده لپاره د بیان د خاصو بندګانو د خدای ﷻ او د دوی احوال دنیویه او اخرویه بیانوي، وروسته تر بیان د نافرینو د عبادت د خدای ﷻ او له سجدې څخه د خدای ﷻ.

''الذین یمشون علی الارض هونًا'' اول خوی دادی چي دوی تګ کوي پر مځکه په داسي حال کي چي ارام او په سکینه او وقار او تواضع کي وي او د تکبر تګ نه کوي، پر دې تقدیر هونًا په معنی د هینین دی، نو حال دی له فاعل څخه د یمشون، او یا معنی داده مشیًا هینًا، نو مفعول مطلق دی د یمشون وصف به للمبالغة، هون په لغت کي علی ما في القاموس رفق او لین او وقار ته وایي، ولي سري چي د خدای ﷻ عظمت او کبریا لحاظ کړي او خپل اول چي له ما، مهین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نطفه څخه د مور او پلار پیدا سوی دی او اخیر الامر د خاورو و قبر ته ورځي. نو خاشع کېږي ارواح ددوی او عجز اختیار کوي نفوس ددوی فلهذا یمشون هونًا ولایتبخرون ولایتکبرون، وجاء في الحدیث الصحیح المؤمنون هینون لینون کالجمل الانف (چي په پزه کي یې تړه وي) ان قید انقاد (که یې څوک کشوي که لوی وي که کوچنی، دی فرمان داره وي یعني ورسره روان وي) وان استنیخ علی سخرة فاستناخ (که یې څوک چوکوي پر ډېره چوکېږي یعني سر غړونه نه کوي د کشولو په وخت کي او نه د چوکولو په دوران کي، ورنه اوښ ډېر قوي حیوان دی چي تکبر مختاره کړي په ډېرو کسانو یې څوک نسي تر تسخیر لاندي راوستلای وهذه الحالات للابل بتسخیر الله ﷻ لیس الا..... شیخ سعدي رح وایي:

فروتن بود هوشمند گزین .... نهد شاخ پرمېوه سر بر زمین
چو سیل اندر آمد بهول ونهیب .... فتاد از بلندی بسر درنشیب
چو شبنم بیفتاد مسکین وخرد .... سحر آسمانش بعیوق برد

سوال: ته ایوبي دا فارسي بیتونه چي اکثر عوام بلکي طالبان بلکي اماما ن نه په پوهېږي، ولي یې په خپل تفسیر کي راوړي؟

ځواب: دا خو ددوی نقصان دی ولي فارسي (دري) ژبه چي افصح د ژبو ده وروسته تر عربي ولي نه زده کوي، یعني پنج کتاب، بوستان او ګلستان سعدي دي زده کړي.

وَّاِذَا خَاطَبَهُمُ الْجٰهِلُوْنَ قَالُوْا سَلٰمًا ﴿۶۳﴾

عطف دی پر یمشون، دا دویم صفت دی د عباد الرحمن چي ددوی سره په خبرو اخته سي ناپوهان کسان یعني داسي خبري ورته کوي چي پر دوی بدي لګېږي لکه پسخند په وهل او یا پېغور ورکول الی غیر ذالک "قالوا سلامًا" ای نطلب منکم السلامة، نو سلامًا منصوب دی په فعل مضمر دی ای نطلب، مجاهد رح وایي چي دوی د جاهلانو سره ځانونه اخته او مقابله د سوء د جاهل په سوء سره نه ورکوي.

درویش وایي: چي بعض مفسرین دا آیت منسوخ په آیة القتال بولي لکن اکثر علماء پر دې دي چي دا آیت محکم دی یعني منسوخ نه دی، ولي چي حلم کول و جاهل ته مندوب الیه دی، ولي که حلم و جاهل ته و نه کړي د جنګ او ر به جاهل بل کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي کلبي او ابو العالیة رح دا آیت منسوخ بللی دی. لکه مظهري ددوی په مقابل کي وايي والحق ان الآیة محکمة غیر منسوخة لان القتال انما هو لاعلاء کلمة الله حقا لله سبحانه او دا حق الله په ویلو د لا اله الا الله یا اعطاء الجزیة پای ته رسیږي (یعني جاهل خو مسلمان دی جهاد نه دی ورسره روا) قال رسول الله ﷺ امرت ان اقاتل الناس حتی یقولوا لا اله الا الله وان محمد رسول الله فاذا قالوا ذالک عصموا مني دمائهم واموالهم متفق علیه.

درویش وايي: چي روح المعاني، روح البیان، قرطبي، مظهري، بیضاوي او امام رازي رحمهم الله ټوله دا آیت محکم بولي، د ابن عمر رض څخه روایت دی قال الله سبحانه قاتلوا الذین لایؤمنون بالله الی قوله حتی یعطوا الجزیة عن ید (یعني په خپل لاس یعني د بل سړي په لاس به یې نه را استوي چي ددوی تکبر له ایمان څخه په ذلت بدل سي وهم صاغرون الآیة. نو په دې آیت کي او له دمخه آیت څخه دا معلومه سوه چي مسلمانان حق د انتقام اخستلو وروسته تر کلیمې مبارکي او یا وروسته تر قبول د جزیې نه لري، وهذا حال المسلمین مع الکافرین. جلال الدین الرومي قدس سره د جاهلون جواب داسي بیان کړی دی:

اگر گویند زراقی وسالوس .... بگو هستم دو صد چندان ومیرو
وگر از خشم دشنامی دهندت .... دعاکن خوش دل وخندان ومیرو

حکایت: شیخ سعدي قدس سره وايي: چي یو شپه یو زاهد عالم له کوره را وتلی ؤ د یو کار لپاره په محل کي یو ربابي ؤ چي رباب یې وایه او بانډار پر ټول ؤ، زاهد چي یې ولیدی د ربابي دا خیال سو چي لکه چي په مو ږپسي را وتلی دی. نو په حال کي د مستی او خمار یې زاهد پر دا سر په رباب وواهه، نو د زاهد سر مات سو او رباب هم مات سو، خیر زاهد خپل کورته راغلی د سر وینې یې پاکي کړې سر یې پټی کړی، چي سهار سو زاهد د هغه ربابي کورته ورغلی او یو څو درهمه یې هم ورسره اخستي وه او ربابي ته یې داسي وویل:

که دو شینه معذور بودی ومست ...... ترا ومرا بربط وسر شکست
مرا به شد آن زخم وبیم ...... ترا به نخواهد شد الا بسیم

او هغه درهم یې هم ورکړه. راوي وايي چي هغه ربابي توبه وکښل او نشه چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې كوله د هغې څخه يې هم توبه وكښل.

بعض علماء وايي چې د عباد الرحمن دغه علامې دي (۱) العبادة حليتهم. عبادت ددوى زيور دى (۲) الفقر (۳) طاعة الله حلاوتهم (۴) حب الله لذتهم (۵) والى الله حاجتهم (يعني حاجت چې يې وي خداى ﷻ ته يې پېښوي لا الى غيره تعالى. (۶) والتقوىٰ زادهم (۷) والهدى مركبهم (۸) والقرآن حديثهم (۹) والذكر زينتهم (۱۰) والقناعة مآلهم (۱۱) والعبادة كسبهم (۱۲) والشيطان عدوهم (۱۳) والحق حارسهم (۱۴) والنهار عبرتهم (۱۵) والليل فكرتهم (۱۶) والحياء مرحلتهم (۱۷) والموت منزلتهم (۱۸) والقبر حفرتهم (۱۹) والفردوس مسكنهم (۲۰) الى رب العالمين منيتهم.

درويش وايي: چې په دا شل صفته به په ننى زمانه كې په زرو مؤمنانو كې په يو سړي په دغو شلو صفاتو موصوف وي زما په خيال، والله اعلم بحقيقة الحال.

وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا ﴿۶۴﴾

عطف دى پر ماقبل، او دا بل صفت دى د عباد الرحمن.

پوه سه: چې لربهم متعلق دى په سجدًا وقيامًا پوري، فائده د تقديم يې دا ده چې فعل ددوى خاصة لله وي رياء او سمعه ځاى نه پكښې لري، او سجدًا جمع د ساجد ده، او قيامًا جمع د قائم ده.

فائده: تعبير د لمانځه څخه يې په دې ركن اعظم سره چې سجده او قيام ده وكړى.

سوال: سجده خو تر قيام وروسته ده؟

ځواب: يا لپاره ددې چې فواصل يعني اواخر د آيتو سره برابر سي، او لقولهؑ اقرب مايكون العبد من ربه اذا كان وهو ساجد، او يا لپاره ددې چې قيام د نورو اغراضو لپاره هم راځي بخلاف السجدة حيث لاتجوز لغير الله تعالى.

ترجمه: او بل وصف د عباد الرحمن چې دوى شپه تېروي په لمانځه كې يعني تهجد خاص الخاص د خداى ﷻ لپاره.

تنبيه: تخصيص د شپې چې يې وكړى لان العبادة بالليل بعد النوم اشق على النفس وابعد من الرياء او خوله و زړه په صلوة الليل كې باهم متفق وي، او سبب دادى چې د ورځې نور عبادات سته چې عمومًا په ورځ كې كېږي لكه زيارت او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صحبت د ښوو خلکو، والتعليم والتعلم، والارشاد يعني د مريدانو ښوونه او طلب د رشد د مريدانو له خوا ځکه والجهاد في سبيل الله، او بل دادی چي ورځ لپاره د کسب او د نفقي د عيال ده، او بل دا چي د ورځي نفلونه د ريا، سره مخامخ کېږي او د زړه او د خولي اتفاق پکښي بعيد دی، له ابن عباس رض ځکه روايت دی قال قال رسول الله ﷺ اشراف امتي حملة القرآن (يعني حافظان) و اصحاب الليل رواه البيهقي في شعب الايمان، او له ابو هريره رض ځکه روايت دی چي راوي يې احمد رح دی، قال سمعت رسول الله ﷺ افضل الصلوة بعد المفروضة صلوة في جوف الليل، او ترمذي له ابي امامة رض ځکه روايت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ عليكم (لازم وګرځوئ) بقيام الليل فانه من داب الصالحين (اي عادتهم) قبلكم وهو قربة الى ربكم (سبب د نږدې والي دی ورب ته ستاسي) ومكفرة للسيئات (او رژونکی دی د ګنهو) ومنهات عن الاثم (او سړی منع کوي له ګناه ځکه) وعن ابي سعيد الخدري رض قال قال رسول الله ﷺ ثلاثة يضحک الله اليهم (درويش وايي چي دا کلمه د حديث له متشابهاتو ځکه ده په نېز د قدماؤ يعني الله ورسوله اعلم بذالک، او په نېز د متاخرينو مراد له ضحک ځکه لازم دی د ضحک يعني اظهار الرضى) الرجل اذا قام بالليل يصلي يعني صلوة التهجد، والقوم اذا صفوا في الصلوة يعني في الجماعة او صفوا في قتال العدو، رواه البغوي في شرح السنة.

زيرى: بغوي رح وايي: قال ابن عباس رض من صلى بعد العشاء ركعتين او اكثر فقد بات لله ساجداً وقائماً انتهى.

درويش وايي: لعل المراد والله اعلم ان من لم يشق بنفسه القيام للصلوة في جوف الليل. بشارة: له عثمان بن عفان رض ځکه روايت دی چي ده وويل قال رسول الله ﷺ من صلى العشاء بجماعة كان كقيام نصف الليل ومن صل الفجر بجماعة كان كقيام ليلة رواه احمد ومسلم في صحيحه.

درويش وايي: چي شک نشته چي يو سړی چي صلوة العشاء بالجماعة وکړي او صلوة التهجد في جوف الليل هم وکړي او صلوة الفجر هم په جماعت اداء کړي اعلى دی رتبة وثواباً من الشخص المذكور فافهم، وفي حديث صحيح قم من الليل ولو قدر حلبة شاة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا اصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ

عطف دی پر ماقبل او دا بل حال دی د عباد الرحمن، او هغه کسان چي وايي چي زموږ رب زموږ څخه لیري کړی دی عذاب جهنم یعني دوی سره حسن معاشره د خلکو سره او د کوشش په عبادت کي د خدای ﷻ کما یدل علیه الآیات السابقة له عذاب څخه د خدای ﷻ بیرېږي او خدای ﷻ ته په عجز او نیاز وايي چي عذاب د جهنم له موږ څخه صرف کړه، دا له دې سببه چي دوی پر عملو اعتماد نه لري او دا هم باور نه لري چي موږ به پر دغه حال د عبادت دائم او قائم یو، نو الی وقت الموت.

إِنَّ عَذَابَهَا كَانَ غَرَامًا

په تحقیق عذاب د جهنم دی غرامًا ای لازمًا، وقال البغوي رحمه الله الغراء اشد اللازم، وقیل غرامًا ای هلاكًا، وقیل الغرام مایصیب الانسان من شدة ومصیبة، او الحسن رحمه الله وايي کل غریم یفارق غریمة الا جهنم فو اشد الغرماء، ومآل الکل واحد فافهم.

إِنَّهَا سَاءَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا

بوه سه: چي دا جمله دلیل دی لقولهم ربنا اصرف آه وبیان لسوء حال جهنم في نفسها وروسته تر تعلیل بسوء حال عذابها بقوله ان عذابها آه.

بوه سه: چي سائت فعل ذم دی په معنی د بئست.

فائده: ضمیر د سائت په ماقبل کي مرجع نه لري ولي چي نحات وايي چي فاعل د افعال ذم به یا معرف باللام او یا به مضاف ومعرف باللام ته وي او یا به ضمیر مبهم وي ممیز په نکره منصوبه سره وي وفي هذا المقام لم یوجد الاولان فالفاعل ههنا ضمیر مبهم دی چي تمییز یه نکره منصوبه ده چي مستقرًا ومقامًا دی، فالمعنی بئست موضع قرار واقامت جهنم وبالفارسیة بتحقیق دوزخ بد ارام گاه است وبد جای بودنی، او په پښتو یې ترجمه داده چي بد ځای د قرار او د اوسېدو دی جهنم، سعید شیرازي رحمه الله وايي:

طریقت همین است که اهل یقین ...... نکو کار بودند وتقصیر بین
بنده همان به که ز تقصیر خویش ...... عذر بدرگاه خدای آورد
ورنه سزاوار خداوندیش ...... کس نتواند که بجا آورد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي:

چهار چیز آورده ام شاها که در گنج تو نیست
عاجزی و مسکینی فقر وگناه آورده ام

بو محقق شاعر عربي داسي وایي:

ما رمت الدخول علیه حتی ....حللت محلة العبد الذلیل
الهی عبدک العاصی اتاکا.........مقرًا بالذنوب وقد دعاکا
فان ترحم فانت لذالک اهل ....وان تطرد فمن یرحم سواکا

وفي الاردوية:

صبا مدینے میں مصطفی سے ہم غریبوں کا سلام کہنا
نہیں کوئی بجز تمہارا بس میرا اتنا پیام کہنا

ابن نجید رح وایي لایصف قدم في العبودیة حتی یکون افعاله عنده کلها ریاء، واحوالها کلها دعاوی محضة.

فائده: صاحب د روح البیان وایي چي په دې آیت کي دلیل دی پر دې چي دعا مطلقًا خصوصًا وروسته تر لمانځه مخ العبادة کما جاء في الحدیث، که مصلي یو اځي وي او که په جماعت سره لمونځ وکړي که امام وي او مقتدی وي انتهی.

درویش وایي:

الهی یا الهی یا الهی ......ندارم جز امیدت تکیه گاهی
ندارم طاعت مقبول درگاه......بجز اشک ندامت آه آهی
ندارم توشه راه قیامت......بجز شرمندگي وروه سیاهی
بحق مصطفی وچهار یاران........عبید را از گناه کن عذر خواهی

وَالَّذِينَ إِذَا أَنفَقُوا لَمْ يُسْرِفُوا وَلَمْ يَقْتُرُوا

دا بل صفت او حال دی د عباد الرحمن، عطف دی پر ماقبل موصولاتو باندي یا پر اول موصول یا پر اخیر باندي، ترجمه: هغه کسان چي دوی انفاق کوي د مال د الله ﷻ په لار کي، نه اسراف کوي یعني تر حد د اعتدال او نه کمول تر مالابد منه بعض مفسرین وایي چي اسراف صرف د مال دی په معصیت کي که څه هم لږ وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او اقتار منع د حق الله ده لکه زکوة او یا چي نفقه د چا پر ده فرض وي لکه والدین
هغه یې منع کړي وي، وهو قول ابن عباس ومجاهد وقتادة وابن جريج وبه قال
الحسن رحمه الله او بعض مفسرین وایي چي اسراف مجاوزة في الانفاق حتى يدخل في
حد التبذير والاقتار تقصير دی د ما لابد منه، مظهري رحمه الله وايي دا قول راجع او اول
ته دی، او مجاهد رحمه الله ددې آیت په تفسیر کي داسي هم ویلي دي که یو سړی په مثل
د جبل ابي قبيس (چي په مکه کي د یو غره نوم دی) سره زر لري او په طاعت کي
یې صرف کړي كالزكوة والصدقة على الفقراء والمساكين واليتامى والايامى
وفي الجهاد في سبيل الله وغير ذالک لم يكن مسرفا ولو انفق درهمًا في معصية
الله كان مسرفًا، يزيد بن حبيب رحمه الله ددې آیت په تفسیر کي وایي اولئک اصحاب
محمد صلى الله عليه وسلم چي دوی به دوه دی، صرف د تنعم لپاره نه خوړل او نه د لذت لپاره، ولا
يلبسون ثيابًا للجمال، بلکې دوی به دومره دوه دی که وچه وای که لنده چي لوږه به
یې په دفع سوه او دوی ته به قوت پر عبادت د خدای جل جلاله گرځېدی، او کالي یې
دومره اغوستل چي عورت یې په پټ وای او د حر او برد څخه په خوندي وای.

وَكَانَ بَيْنَ ذَٰلِكَ قَوَامًا ﴿٦٧﴾

"کان" ضمیر راجع دی وانفاق ته چي له انفقوا څخه وفهمېدی، نو هغه ضمیر
اسم د کان دی "وبين ذالک" په تاویل د ما ذکر من الاسراف والتقصير، او دا خبر
د کان دی "قوامًا" ای وسطًا عدلًا او قوامًا خبر بعد الخبر دی د کان، یعني لکه
مرکز د دائرې چي په دائرې کي وي یوې خوا ته مېلان نه لري.

وَالَّذِينَ لَا يَدْعُونَ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ

"والذين لا يدعون" عطف پر ماقبل، دا بل صفت دی د عباد الرحمن، چي
دوی عبادت نه کوي، سره د خدایه د بل معبود، یعني که بت وي لکه مشرکان د
مکې او که ملکې وي لکه د خزاعة قوم چي دوی ملکې د خدای پاک لوڼې بللې او
د هغو عبادت یې کاوه، یا لکه عیسیٰ علیه السلام چي نصارئ وُ ابن الله باله، یا لکه عزیر علیه السلام
چي یهودانو به ابن الله بولی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا يَقْتُلُونَ النَّفْسَ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَلَا يَزْنُونَ

او دوی نه وژني هغه نفس يعني هغه شخص چي خدای ﷻ حرام کړی دی هغه (يعني حرم قتله على القاتل)

بوه سه: چي بالحق متعلق دی په لايقتلون پوري، او کلمه د با د سببيه ده ای لايقتلونه بسبب الا بالحق لکه قصاص يا رجم يا کافر وي غير اهل الذمة چي په دوران کي د جهاد في سبيل الله مړ کړي "ولايزنون" او زنی نه کوي.

فائده: خدای ﷻ عباد الرحمن ته اولاً ښه ښه طاعات چي اصول د ټولو طاعاتو وه ثابت کړه او وروسته يې د امهات المعاصي نفي له دوی څخه وکړې اظهاراً لکمال ايمانهم، او تنبيه يې پر دې وکړه چي ثواب د آخرت من الجنة وغيرها موعود د هغه چا سره دی چي جامع د دغو صفاتو وي من الايجاب والسلب.

فائده: کفار فجار په اضدادو د دغو صفاتو موصوف دی في الايجاب بالسلب وفي النفي بالاثبات فافهم.

وَمَنْ يَفْعَلْ ذَٰلِكَ يَلْقَ أَثَامًا ﴿٦٨﴾

که څوک فعل وکړي د يو شي د دغو معاصيو څخه ملاقي به سي د جزاء سره د ګناه کذا قال ابن عباس رضی الله عنهما او ابو عبيده رحمه الله چي اثام عقوبت ته وايي، او مجاهد رحمه الله وايي چي اثام نوم د يوې شېلې دی په دوږخ کي، قال البغوي رحمه الله يروی ذالک عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه څخه او په حديث صحيح کي راغلي دي الغي والاثام دوه څاهان دي په جهنم کي چي هغو ته وربهيږي نوونه د اهل النار، او ابن عمر رضی الله عنهما وايي چي اثام يوه شيله ده په جهنم کي، او ابو عبيده رحمه الله وايي چي اثام عقوبت ته وايي او مجاهد رحمه الله وايي چي اثام يوه شيله ده په جهنم کي.

درويش وايي: چي د ټولو تفسيرو مآل وسخت عذاب ته دی کما وليقًا.

يُضَاعَفْ لَهُ الْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَخْلُدْ فِيهِ مُهَانًا ﴿٦٩﴾

دوه چنده به سي ده لره (ضمير راجع دی ومن ته د مضاعف سبب يې دا دی چي ورضم به سي وعذاب ته د کفر د دوی عذاب د معاصيو د دوی) او دی به هميشه وي په دغه عذاب کي ذليل، مهانًا حال دی، نو اوريې جسماني عذاب دی او ذلت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او سپکاوی یې روحي عذاب دی، بخاري او مسلم له ابن عباس ﷺ څخه روایت کړی دی چې څه مشرکان چې مړي یې کړي وه ډېر او زناوي یې کړي وې ډېرې او شرک خو هم ورسره وُ، علیه الصلوة والسلام ته یې داسي وویل: دا ته چې موږ ته دعوت راکوې یعني التوحید والاسلام دا خو ښه شی دی لکن که ته موږ خبر کړې چې کفر، قتل او زنا لره یو کفاره هم شته او که نشته؟ نو دا آیت نازل سو: والذین لایدعون مع الله الها آخر الی قوله.

إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلًا صَالِحًا

الی قوله تعالی غفورًا رحیمًا.

پوه سه: چې کلمه د الا استثناء ده من قوله ومن یفعل ذالک یلق اثامًا الی قوله تعالی مهانًا، والمعنی: مګر هغو کسانو لره دا مذکور عذاب نشته چې توبه وکا ږي له ګناه څخه او ایمان راوړي پر خدای ﷻ په توحید سره او پر علیه الصلوة والسلام په رسالت سره، او وروسته هغه عملونه چې دده او خدای ﷻ تر منځ دي هغه ښه کړي یعني د خدای ﷻ او د رسول د امر سره برابر کارونه کوي، ونزلت ایضًا قل یا عبادي الذین اسرفوا علی انفسهم لاتقنطوا من رحمة الله ان الله یغفر الذنوب جمیعًا (یعني بشرط التوبة عنها)

فَأُو۟لَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِهِمْ حَسَنَٰتٍ

نو دغه کسان (چې توبه یې وکښل او ایمان یې راوړی او عملونه یې ښه صالح وکړه) بدلوي الله تعالی ددوی سیئات یعني هغه سیئات چې وروسته تر اسلام یې په دنیا کي کړي وي، حسنات به لیکي په ورځ د قیامت، یعني په ځای د هري سیئې حسنه وربدلوي او د عذاب په ځای کي ثواب وربدلوي. له ابوذر ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وویل چې یو سړی به په ورځ د قیامت راوستل سي د خدای ﷻ له خوا به حساب کونکو ملکو ته وویل سي چې تاسي ده ته وړیښ کړئ صغائر ګنهونه دده او کبائر ځندي پټ کړئ. ملکي ورته وایي چې فلان وخت دي فلانی ګناه کړي وه یعني هغه صغائر ګنهونه ورته شمېري او دی انکار نه کوي، او دی په زړه کي ډېرېږي چې هغه کبائر ګنهونه پسي را وانه خلي، نو د خدای ﷻ له جانبه وویل سي هغو ملکو ته چې حساب یې دده سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کاوه چي په ځای کي د هري ګناه یعني صغائرو ده ته حسنه ورکړي، وروسته دا سړی ووايي چي ما خو نور ګنهونه هم درلودل یعني کبائر دلته نه سوه ښکاره؟ ابو ذر رض وايي چي علیه الصلوة والسلام پر دې قول د هغه سړي وخندل حتی چي نواجذ غاښونه یې ښکاره سوه، وروسته علیه الصلوة والسلام دا آیت ووایه: فاولئک یبدل الله آه او بعض مفسرین وايي چي ددې آیت معنی داده چي خدای پاک محوه کوي هغه د مخه ګنهونه تر بلي ګناه په توبه سره او په ځای د هغو چي محوه سوه وروسته تر توبې اعمال صالحه ده ده ثبت کوي، او یا هغه ملکه یعني استعداد ده ده چي په هغه ملکه بې په دنیا کي معاصي کوله وروسته تر توبې ملکه د طاعت په ده کي پیدا کړي او توفیق ورکړي پر ضد د هغو معاصیو چي قبل التوبه به ده کوله، وهذا معنی قول ابن عباس رض والحسن وسعید بن جبیر ومجاهد والسدي والضحاک رح حیث قالوا یبدل الله بقبائح ما عملوا في الشرک محاسن الاعمال في الاسلام یعني فیبدل الله لهم بالشرک التوحید وبقتل المؤمنین قتل المشرکین المحاربین وبالزنی العفة (صبر له زنی څخه)

درویش وايي: چي هغه چي ما ذکر کړی او په حدیث سره د ابی ذر رضي الله عنه مي تائید وکړی، هغه قول دی د عائشې رض او ابو هریره رض او سلمان او مکحول او سعید بن المسیب رح.

وَكَانَ اللّٰهُ غَفُوْرًا رَّحِيْمًا ﴿٧٠﴾

او دی خدای جل جلاله بخښونکی د ګنهو د بندګانو او مهربان دی پر دوی.

پوهه: چي خدای جل جلاله بخښي ګنهونه د بندګانو صغائرها وکبائرها اما بالتوبة او بلا توبة لمن یشاء لایسئل عما یفعل.

درویش وايي: چي روح البیان یو طویل معقول بیان ددې آیت یعني الا من تاب وعمل صالحًا الخ په تفسیر کي چي د فهم سره د متعلمینو د تفسیر ایوبي ډېر لوړ دی، نو له دې سببه ما صرف نظر کړی ومن شاء فلیطالع التفسیر المذکور.

وَمَنْ تَابَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَإِنَّهٗ يَتُوْبُ إِلَى اللّٰهِ مَتَابًا ﴿٧١﴾

او هر هغه څوک چي توبه وکاږي، او نېک عمل وکړي، نو بېشکه چي دی توبه وکاږي او رجوع کوي بیرته و خدای جل جلاله ته په ښه رجوع سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَالَّذِيْنَ لَا يَشْهَدُوْنَ الزُّوْرَ

درویش وايي: چي بغوي رح وايي چي ضحاک او اکثره مفسرين رح مراد له زور څخه شرک بولي، ولې چي خدای پاک ته شریک ویل شاهدي په دروغو ده. او مظهري رح که څه هم په ډېرو ځایو کي متابعت د بغوي رح مختاره کړی دی په خپل تفسير کي لکن په دې وينا کي د بغوي چي اکثره مفسرينو ته يې حواله کړې ده تر سخت تنقيد لاندي نيولی دی او داسي يې ويلي دي. قلت ويلزم على هذا التكرار لما مر من قوله تعالى والذين لا يدعون مع الله الهًا اخر. انتهى قول المظهري.

درویش وايي: چي د مفسرينو رايه داده چي مراد له شهادة الزور څخه شاهدي د دروغو ده پر خلګو او دا ګناه کبيره ده، ولې په قرآن مبارک کي يې شرک او شهادت زور يو ځای سره راوړی دی. کريمه: فاجتنبوا الرجس من الاوثان واجتنبوا قول الزور. بخاري په خپل صحيح کتاب کي وايي چي رسول کريم ﷺ خلګو ته وويل الا اخبركم باكبر الكبائر! خلګو ورته وويل بلی یا رسول الله يعني راته بيان يې کړه. قال الشرک بالله وعقوق الوالدين (وفي حكمهما عقوق الاساتذة كما هو المروج في طلباء زماننا) د مخه عليه الصلوة والسلام تکيه کړې وه بیا يې راکښېنستی او وه يې ويل الا وقول الزور وشهادة فما زال يكررها حتى قلنا ليته سكت (کښي عليه الصلوة والسلام ساکت سوی وای یعني شفقة عليه في تكرار هذا القول)

فائده: په شهادة الزور کي حد شرعي خو نسته غايته التعزير چي حاکم دي تعزير ورکړي. نو ابو حنيفه رح وايي چي اکتفاء دي په تعزير کي په تشهير سره وکړي يعني چي مجامع الناس او بازارو کي دي اعلان پسي کوي هذا شاهد الزور. او نه دي وهي او نه دي بندي کوي. ولې مقصود خو انزجار دده او د خلګو دی له شهادة الزور څخه. وذالک يحصل بالتشهير وغير ذالک من الضرب والحبس مبالغة في الزجر.

پوښتنه: بغوي رح وايي چي عمر رض شاهد الزور څلوېښت درې وواهه او مخ يې ورتور او او په بازارو يې ګرځاوه؟ درویش وايي چي دا زجر د عمر رض وشاهد الزور ته په صحيح ډېرو رواياتو سره ثابت دی. حتی چي په صحيح روايت کي راغلي دي چي عمر رض خپلو حاکمانو ته هم ورته حکم ور استولی ؤ. نو پوښتنه داده چي امام اعظم رح ولې د عمر رض د فعل مخالفت کوي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: امام اعظم رحمه الله فعل د عمر رضي الله عنه محمول پر سیاست بولي، نو اوس هم که حاکم سیاسةً دا کار وکړي روا دی.

درویش وایي: چي دغه فعل د عمر رضي الله عنه امام مالک، امام شافعي، امام ابو یوسف او امام محمد رحمهم الله مختاره کړی دی، چي شاهد الزور ته دي زجر په ځلو ښت درو وهلو سره او په خپل قوم کي دې ودروي او اعلان دي وکړي چي دغه دی شاهد الزور، او مالک رحمه الله دا هم زیاته کړې ده چي په بازارو او په مجمع کي د خلکو دي هم اعلان پسي وکړي.

بوه سه: چي محمد بن الحسن رحمه الله په کتاب الآثار کي په سند د ابی حنیفة رحمه الله له ابن الهیثم عن حارث عن شریح (چي قاضي القضات ؤ) چي دا ته به ثابت سوه چي دغه نفر شاهد الزور دی، نو که به د بازار له خلکو څخه ؤ، نو نفرو ته به یې په لاس ورکړی او ورته وه به یې ویل چي دا سړی چي بازار ته ورولئ، نو اهل السوق ته ووایاست چي شریح پر تاسي سلام وایه، او وروسته تر سلامه ورته وایي تاسي ته چي مو پیدا کړی دغه سړی د دروغو شاهد، نو له ده څخه باید تاسي وبېرېږئ، او که به د عربو څخه ؤ، نو خپل نفرو ته به یې وویل چي دی دده د قوم مسجد ته ورولئ په داسي وخت کي چي د وی اکثره سره جمع وي، نو قوم ته به یې هغه خبره وکړه چي د بازار خلکو ته به یې کوله.

درویش وایي: چي روح البیان ددغه آیت په تفسیر کي داسي ویلي دي، ویجوز ان یکون یشهدون (یعني في الآیة) من الشهود بمعنی الحضور او نصب د زور بنا پر دې دی چي مفعول به د یشهدون دی، والمعنی لایشهدون مجالس الزور (نه دي حاضرېږي و مجلسو ته د دروغو) فحذف المضاف (چي لفظ د مجالس ؤ) واقیم المضاف الیه (چي لفظ د زور دی) مقامه والمعنی لایحضرون مجالس الکذب ومحافل الفحش (یعني چي په هغو مجلسو کي فحش و فجور ویل کېږي) فان مشاهدة الباطل مشارکة فیه من حیث انها دلیل الرضا. (یعني په باطل کي حضور دلیل د رضا، د جالس په دغه باطل فهو شریک له في المعصیة) ثم بعد کلام قال وقال بعضهم المراد بالزور اعیاد المشرکین والیهود والنصاری. بازیگاه ایشان کما في تفسیر الکاشفي رحمه الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وفي ترجمة الفتوحات: نباید که اهل ذمه ترا بشرک خود فریب دهند که نزد حق هلاک تو درآنست، شیخ الاکبر قدس سر الاکبر میفرماید که درد مشق این معنی مشاهده کردم که زنان ومردان مؤمن بانصاری مسافحه (یعني صلح) واطفال خود را بکنائس نصاری میبرند واز آب معمودیه بر سبیل تبرک بر ایشان می افشاندن واینها قرین کفر است یا نفس کفر است، وآنرا هیچ مسلمان نمی پسندد. قال وفي قاضیخان یو سړی که په ورځ د نو روز (یعني اول الحمل) یوه میوه یا حلوا وغیره رانیول چي په نورو ورځو کي یې نه رانیول، نو که یې غرض تعظیم د دې ورځې ؤ لکه مجوسیان چي یې کوي یکون کفرًا، او که یې چېرې د شرب او تلذذ لپاره رانیول په دې ورځ لایکون کفرًا انتهى قول قاضیخان، وانتهى قول روح البیان. فقیر وایي چي مذکوره شیان او مجالس خو بېشکه حرام دي او بعض یې کفر دي لکن تفسیر د شهادة الزور چي په آیت کي ذکر سوی دی په حضور د دغو مجالسو کول مخالف دی له حدیث څخه د عمر رضي الله عنه چي شاهد الزور به یې څلوېښت درې واهه، او د هغه حدیث څخه چي عنقریب تېر سو الا وقول وشهادة الزور آه، او د شریح له بیان څخه چي د مخه تېر سو من کل الوجوه مخالف فلا ینبغي تفسیر القرآن باحتمال مخالف لنصوص الحدیث والاحکام الائمة رحمه الله کما سمعت ومن الله التوفیق.

او ابن جریج رحمه الله وایي چي مراد له شهادة الزور څخه مطلق دروا غ دي یعني که څه هم پر چا شاهدي نا حقه نه وي.

درویش وایي: چي دا تفسیر هم مخالف د حدیث مذکوره سره دی.

تنبیه: مظهري رحمه الله که څه هم ظاهرًا له تفسیر څخه د شهادة چي واقع في القرآن دی په حضور سره لکه روح البیان چي کړی ؤ کمامر دده کړې ده لکن هغه تفاسیر د روح البیان یې په قبیل سره راوړي دي.... بیت:

تو گوی آنچه دانی سخن سودمند .... وگر هیچ کس را نیاید پسند

بوه سه: چي له حضرت علي کرم الله وجهه او امام باقر رحمه الله څخه د دې آیت داسي ترجمه منقول ده ای لایقیمون الشهادة الکاذبة، وهذه الترجمة مطابقة للآیات والاحادیث المذکورة، نو پر دې لفظ د یشهدون له شهادت څخه ماخوذ دی او په معنی د حضور نه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: لفظ د زور چې منصوب دی یا مفعول مطلق دی بحذف المضاف ای شهادة الزور، یا په نزد خافض دی ای بالزور کذا في روح المعاني.

وَإِذَا مَرُّوا بِاللَّغْوِ مَرُّوا كِرَامًا ﴿٧٢﴾

والمعنی لایحضرون مجالس المعاصي (لکه شراب خوري سروز او ربابونه یا د پوچ و فحش مجلس) په خپل اختیار سره او که اتفاقاً پر ورته محافلو تیرېږي نو تیرېږي کراماً ای سراعًا (چابک) معرضین (مخ ګرځندي واړوي) غیر مقبلین علیه (د سیل لپاره نه ورته درېږي) او مقاتل رح وایي چې معنی د آیت داده چې دوی له کفارو څخه بنکنځل یا نور افعال د طبیعت خرابی. وويني اعراض دي ګرځندي کوي او مقابله دي نه ورسره کوي حتی یاتي الله بامره وهو الجهاد معهم بالسیف والسنان.

پوه سه: چې کرام جمع ده یعني خپل ځان ته په خپله عزت ورکړه او د جاهل سره مه په قول او مه په فعل کي په سر کېږه... بیت:

ولقد امر علی اللئیم یسبني .... نضیت ثمة وقلت لایعنني

ترجمه: قسم په خدای جل جلاله دی چې زه همېشه تېرېږم (نو مضارع لپاره د استمرار ده، او لام لقد لپاره د قسم دی) پر یو لئیم د لاڅمانو څخه یعني بې عقل فحش ویونکی داسي لئیم چې هغه ماته بنکنځل وکړي، نو زه هلته تېرسم او د ځان سره ووایم چې په بنکنځلو کي زه نه وم مراد.

درویش وایي: چې دا شاعر خپل حلم او د جاهل سره نه په سر کېده بیانوي.

وَالَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ لَمْ يَخِرُّوا عَلَيْهَا صُمًّا وَعُمْيَانًا ﴿٧٣﴾

معطوف پر ماقبل قریب یا پر اول موصول کما هو القانون النحوي، او هغه کسان عباد الرحمن چې دوی ته وعظ او قرائت وکړل سي د آیاتو د رب د دوی چې عبارت له آیاتو قرآنیه څخه دی او یا دوی ته دلائل عقلیه چې دال پر توحید د خدای جل جلاله دي.

درویش وایي: چې خرور په لغت کي سقوط ته وایي چې ګړبروی ور سره وي او صم جمع د اصم ده یعني کوڼ، د کاڼه هغه څوک مشابه کوي چې د حق نه غوږ نه نسي او قبول یې نه کوي لکه کافران، او عمیًا جمع د اعمیٰ ده یعني ړوند، د ړانده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مشابه کوي هغه کسان چي معجزات او کمالات د حضرت الرسول ﷺ نه ویني یعني په لیدلو د قبول چي ایمان راوړي. والمعنی ان عباد الرحمن لم یقیموا غیروا عین للآیات حال کونهم صمًا لم یسمعوها وعمیًا لم یبصرون ها بل اکبوا علیها سامعین باذان داعیة مبصرین بعیون راعیة یعني انتفعوا بها. حسین کاشفي رح میگوید. که بندگان رحمن آیات را بگوش هوش شنیدند. وبدیده بصیرت جلوات جمال آنرا دیدند. حاصل آنکه از آیات الهي تغافل نه ورزند انتهی.

وَالَّذِيْنَ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ اَزْوَاجِنَا وَذُرِّيّٰتِنَا قُرَّةَ اَعْيُنٍ

او بل صفت د عباد الرحمن دادی چي دوی وايي اې زموږ ربه. موږ ته راوبخښي یعني په خپل فضل و کرم موږ ته راکړې زموږ له ماینو څخه او زموږ له اولادو څخه (ذریات جمع د ذریة ده چي په لغت کي کوچني عیال ته وايي. او په عرف کي لوی او کوچني نر او ښځي دواړو ته شامل دي) داسي اولاد او زوجات چي زموږ سترګي په خونکي سي، عرب خو داغسي وايي. او پښتانه وايي: چي زموږ سترګي په روښانه سي. او مراد له قرة اعین څخه دادی چي په طاعت او تقوی کي وي. امام قرطبي رح وايي چي هيڅ شی اقر د سترګو د مؤمن نسته تر دي چي خپله زوجه او اولاد ووینې مطیعین د خدای ﷻ آه، ولي مؤمن چي خپله زوجه او اولاد ووینې ملګري دده په طاعت کي د خدای ﷻ هرومرو یې زړه خوشاله کېږي او سترګي یې خونکي کېږي. نو مراد له قرة اعین څخه فضائل دینیه دي دي د خپل اهل او عیال لا بالمال والجاه والجلال.

فائده: اعین چي یې نکره راوړه لپاره د تنکیر د قرة چي د هغه تنکیر لپاره د تعظیم ؤ او عیون چي یې جمع قلت راوړه له دي سببه چي مراد ځندي اعین د متقینو دي او هغه نسبت غیر متقینو ته لږ دی کما لایخفی.

پوه سه: چي قُر بضم القاف یخوالي ته وايي. او د عربو محکي چونکه ګرمي وې نو دوی له ګرمۍ څخه په عذاب کېدل او استراحت یې په برد کي ؤ. نو قرة العین کنایه ده له سرور او خوشالۍ څخه.

درویش وايي: چي وهذا هو المشهور. لکن پر دي دا سوال وارد یږي چي عین خو عضو ظاهر دی ژر یخیږي. نو دوی باید لاندي تر جامو د یو عضو خنکوالی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غوښتي واى تاچي په جامو سره پټ ځايونه خنک سي، نو دا به مبالغه واى کناية له غايت سرور څخه کما لايخفیٰ، او تحقيق دادى چي تر سترګو ګاهي له غايت غمه څخه اوښکي بهېږي او ګاهي له نهايت سرور څخه هم سترګي ژاړي کما هو معلوم بالتجربة الصادقة، مګر فرق يې دادى چي د غم اوښکي تودې وي او د خوشالي اوښکي يخي وي، نو د قرة اعين معنیٰ غايت سرور دى کنايةً، نو په دې سره هغه سوال دفع سو چي ولي يې د قرة اعين خواست وکړى، او د بل عضو مستور بالثياب د خنکتيا خواست يې ونه کړى؟ فتدبر غاية التدبر لان فهم المرام وعر هداک الله لفهمه ...... بيت:

نعم الاله على العباد كثيرة .... واجلهن نجابة الاولاد

شيخ سعدي قدس سره وايي:

زن خوب فرمان بر وپارسا .... کند مرد درويش را بادشاه

وَّاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِيْنَ اِمَامًا ﴿۷۴﴾

او موږ وګرځوې د پرهېزګارانو مقتدا.

پوه سه: چي دا جمله تاکيد د جمله سابقه ده په دې معنیٰ چي د سړي چي زوجات او اولاد متقين وي او دى خو سرپرست د هغو دى، نو صار اماما للمتقين.

سوال: مفعول اول د جعل کلمه د نا چي جمع دى ولي متکلم مع الغير دى او مفعول ثاني يې مفرد دى يعني اماما؟

ځواب: له امام څخه مراد معنیٰ جنسي او التباس نسته پکښې لکه په دې قول کي د خداى جلاله: ثم يخرجكم طفلاً، يا هغه آيت: انهم عدولي الا رب العالمين، او بعض مفسرين وايي چي اماما مصدر دى لکه قيام او صيام او دا قانون دي چي په مصدر کي مفرد او جمع برابر دي غاية الامر ان الحمل على المفعول الاول مبالغة کزيد عدل، او يا مراد دادى واجعل كل واحد منا اماما، او يا په هغه قول کي د موسیٰ ؑ چي دى او دده ورور هارون ؑ چي هغه هم نبي ؤ و فرعون ته ورغله داسي يې ورته وويل انا رسول رب العالمين اى كل واحد منا رسول رب العالمين.

پوه سه: چي د امام مقتدیٰ ده که انسان وي چي دده په قول او فعل سره اقتداء کړه کېږي او يا کتاب وي لکه قرآن کريم وغير ذالک که پر حق وي لکه رسول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الله ﷺ او قرآن مجید او که پر باطل وي لکه د هندوانو پنډت او یا د هندوانو ګرنګ چي ددوی کتاب دی کما في المفردات ای اجعلنا بحیث یقتدی بنا اهل التقوی في اقامة مراسم الدین والتوفیق للعمل والارشاد.

پوښتنه: عباد الرحمن خو ډېر دي، نو دوی ټولو په اتفاق سره دا دعاء وکړه یعني واجعلنا آه او که څرنګه؟

ځواب: اتفاق ددوی خو امکان نه لري لتباعد امکنتهم وتباین ازمنتهم، بلکې هر یو له دوی څخه انفرادًا دا دعا کوي، نو د هر یوه خواست داسي ؤ واجعلني للمتقین امامًا لکن په قرآن کریم کي ددوی د ټولو عبادات د دعا سره جمع کړه په متکلم مع الغیر سره یې راوړه قصدًا الی الایجاز، او امامًا یې پر خپل افراد پرېښو یعني داسي یې نه وویل ائمة، جواب یې عنقریب تېر سو، نو ددې آیت داسي مثال دی لکه په بل آیت کي چي راغلي دي: یا ایها الرسل کلوا من الطیبات ای کل واحد منکم من الطیبات.

سوال: په دې اووه ځایه کي یې موصولات سره د صلې راوړي دي، آیا داسي صحیح نه وه چي اول موصول یې راوړی وای او صلات یې یو پر بل عطف کړي وای ایجاز به هم وای؟

ځواب: ایراد د موصولاتو علحدة علحدة تنبیه ده پر دې چي هره یوه صله په وصف کي د عباد الرحمن مستقله ده، حقیق بان یفرد له موصوف مستقل، قفال رحمه الله او یو جماعت د مفسرینو وایي چي دا آیت دلالت پر دې کوي چي طلب د ریاست في الدین واجب دی، واما الریاسة في الدنیا سنت داده چي څوک د قضاء یا امارت یا فتوٰی ورغندی وغاړي ته وانه چوي بالرضاء والرغبة. مګر که چا یعني سلطان یا حاکم دی مجبور کړی یعني که دا کار نه کړي قبول سخت عذاب به درکړم وکان لایقبلها الاوائل مع غایة تقواهم واجتهادهم کالامام الاعظم ابو حنیفة رحمه الله فکیف حال الاواخر مع عدم تقواهم وقلة علومهم ..... بیت:

بو حنیفه قضاء نه کرد وبمرد .... تو بمیری اګر قضاء نکنی

وقصته مشهورة وفي کتب التواریخ مسطورة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أُولَٰٓئِكَ يُجۡزَوۡنَ ٱلۡغُرۡفَةَ بِمَا صَبَرُواْ

دغه کسان، چي د عباد الرحمن تر عنوان وروسته تاسي ددوی صفات عاليه په صلاتو کي د (۸) موصولاتو واورېده.

پوه سه: چي اولئک مبتداء ده او خبر يې "يجزون الغرفة" دی، جزاء ثواب کافي ته د مؤمن وايي او عذاب ته د کافر هم وايي، او غرفة په اصل لغت کي پورته شي ته وايي چي په پښتو يې بالا خانه بولي، مراد دلته درجات عاليات دي په جنتو کي.

پوښتنه: په بل ځای کي د قرآن عزيز راغلي دي: وهم في الغرفات آمنون يعني په صيغه د جمع او دلته غرفه مفرد راغلې ده؟

ځواب: غرفه دلته اسم جنس ده چي قليل او کثير دواړو ته شامل دی، بخاري، مسلم او احمد رح له ابی سعيد الخدري رض او ترمذي رح له ابو هريره رض څخه داسي روايت کړی دی چي رسول الله ﷺ وويل چي اهل الجنة (يعني د ګبنتو منازلو اوسېدونکي) واهل الغرف (چي تر دوی لوړ دي داسي ګوري لکه يو سړی چي يو ستوري ته ګوري په افق کي د مشرق يا مغرب لوېږي) لتفاضل مابينهم (په تفاضل د مابين د اهل الجنة واهل الغرف، اصحابو رض پوښتنه له عليه الصلوة والسلام څخه وکړه چي دا غرف به نو منازل د انبياء کرامو عليهم السلام وي بل څوک به نسي ور رسېدلای، عليه الصلوة والسلام ورته وويل بلی يعني بل څوک هم ورږسېدلای سي والذي نفسي رجال آمنوا بالله وصدقوا المرسلين (ددې ترجمه والله اعلم داده چي د آمنوا بالله آه څخه هم بعض کسان ور رسېدلای سي، يعني چي کمل اولياء الله دي.

درويش وايي: چي په صحيح حديث کي راغلي دي: ان في الجنة لغرفا مبنية في الهواء لاعلاقة لها من فوقها (نه تناؤ لري له لوړي خوا څخه) ولا عمادلها من تحتها (نه ميل او تنبه لري له لاندي خوا څخه) ولاياتيها اهلها الاشبه الطير (نه ورځي و دغو غرفو ته اهل ددوی مګر لکه مرغه) لاينالها الا اهل البلاء (نه سي پيدا کولای دغه غرف مګر اهل د بلا) ای الصابرون منهم.

پوه سه: چي صبر درې قسمه دی (۱) الصبر على الشئ يعني الصبر على الطاعات التي هي خلاف مقتضى النفس والهواء كالصلوة والصوم والزكات

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وغيرها من العبادات (۲) الصبر عن الشئ يعني صبر كول له يو شي څخه چي ستا نفس او هواء يې غواړي كالزنٰی واللواطة وغيرهما من المحرمات الشرعية (۳) الصبر في الشئ يعني يو شی چي پر تا بوج وي په هغه كي صبر كوه لكه فقر او ناجوړي، موت الاقارب وغيرها.

درويش وايي: چي ولايكون ذالک الامور الا للكاملين من الاولياء بل اكملهم فافهم، وفي الحديث الصحيح عن ابی مالک الاشعري رضي الله عنه عن رسول الله ﷺ قال ان في الجنة غرفًا يرٰی ظاهرها من باطنها وباطنها من ظاهرها، قالوا لمن يا رسول الله؟ قال لمن اطاب الكلام، چي ښې خبري كوي يعني چي څوک نه زهيروي واطعم الطعام يعني فقير او مسافر ته ډوډی وركوي، وبات قانتًا والناس ينام، او شپه تېروي په عبادت كي او خلک ويده وي، وزاد في رواية وافشٰی السلام، او سلام وخلكو ته اچوي كه يې پيژني او كه نه.

درويش وايي: چي دا دري په اجتماعي توګه كول هم د اولياؤ كار دی كما يدل عليه التجربة.

پوه سه: چي باء په (بما صبروا) كي سببيه ده او كلمه د ما مصدريه ده، ای بسبب صبرهم علی مشاق الطاعات وترک الشهوات النفسية وعلی تحمل المجاهدات وعلی اذی المشركين والكفار چي ژوندی مثال يې په اوسني وخت كي يعني سنه (۱۴۲۸) ه چي امريكايانو پر افغانستان حمله وكړه او د مختلفو فرقو د نورو كافرانو څخه يې كومک وغوښتی، او انګريزانو او كاناډايانو لبيک ورته ووايه او وژل د مسلمانانو جاري دي، او كورونه خرابول د طيارو په بمبارۍ سره، او ډېري غريبي طبقې چي په نامه د طالبانو يادېږي په مجاهدانو لاس پوري كړی دی او د هيڅ قسم قرباني، وركولو لپاره د اعلاء د كلمة الله او د اجراء د شريعت مصطفٰی ﷺ ډډه ونه كړه، او ان شاء الله العزيز دا ستر قدرت به په قدرت عظمٰی د خدای ﷻ پر ګوډو كي او شرمنده امريكايان سره د اتباعو ددوی د افغانستان څخه ووځي، لكه ستر قدرت د روسانو چي پر افغانستان يو څو كاله دمخه حمله وكړه او قبضه يې كړی په كامله قبضه، ولي چي د ملت اكثره وګړي لكه خلقيان پرچميان وغيرهم ددوی سره ملګري وه، بيا هم د خدای ﷻ په قدرت او په همت د غريبو مسلمانانو له افغانستانه مخ توري ووتل، وما ذالک علی الله بعزيز.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيُلَقَّوْنَ فِيهَا تَحِيَّةً وَسَلَٰمًا

او دوی به ملاقي کړل سي په دې غرفو کې د پیش کش سره او د سلام سره ای لیحیئهم الملائکة ویسلمون علیهم الملائکة ای یدعون الله لهم او زیری به ورته کوي په بقاء او سلامت سره من کل آفة. او کلبي رح وایي یسلم بعض اهل الغرف علی بعض ویرسل الرب تبارک وتعالی الیهم السلام. کریمه: سلام علیکم طبتم فادخلوها خالدین. او بل ملائکه عند الدخول علیهم کما حکی الله عنهم داسې ورته وایي، کریمه: فیدخلون (ای الملائکة) من کل باب سلام علیکم بما صبرتم فنعم عقبی الدار، کریمه: سلام قولاً من ربهم.

خَٰلِدِينَ فِيهَا ۚ حَسُنَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا

همېشه به وي دوی په خپلو جنتو او غرفو کې او ښه دي دا جنتونه او غرفې ځای د قرار او اقامت.

یوه سه: چې مسلم له ابو هریره رض او هغه له نبي کریم ﷺ څخه روایت کړی دی: ینادی مناد (نعره وکړي یو نعره کوونکی یعني یوه ملکه له جانبه څخه د خدای ﷻ) ان لکم ان تصحوا فلا تسقموا ابدًا (تاسې لره دي دا چې تاسې به په صورت جوړ یاست او نه به ناجوړي کېږئ تر ابده پورې) وان لکم ان تحیوا فلا تموتوا ابدًا (او تاسې لره هم دا چې تاسې به ځوانان یاست یعني د پرش کلني نه به زړېږئ او نه به ضعیفه کېږئ تر ابده پورې) وان لکم ان تنعموا فلا تیئسوا ابدًا (او تاسې لره داده چې تاسې به همېشه په نعمتو کې یاست. نا امېده به نه ګرځئ له نعمتو څخه ابدًا)

قُلْ مَا يَعْبَؤُا۟ بِكُمْ رَبِّى لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ

درویش وایي: چې ددې آیت قسم قسم ترجمې مفسرینو رح کړي دي. مظهري وایي چې دا جمله مستانفه لپاره د حال ده د کفارو. نو عباء ددې محاورې څخه ماخوذ ده عبائت الجیش عبوء ای رتبتهم وهیئاتهم کذا في النهایة ای یاهیئکم لدخول الجنة "لولا دعائکم" مصدر چې دعا ده مضاف دی وفاعل ته که نه وي ستاسې ایمان او عبادت خاص خدای ﷻ لره. وقیل لولا دعائکم الی الاسلام فاذا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

آمنتم هيئاتكم لدخول الجنة. او بعض مفسرين وايي چي عباء په معنى د ثقل او وزن دی یعني ما يرى ربكم لكم قدرًا و وزنًا ولايعتد بكم (او تاسي ته خدای ﷻ اعتبار نه درکوي) چي نوي عبادت او طاعت ستاسي خاص د (یعني بلاشرک) ولي چي شرف د انسان په معرفت د خدای ﷻ دی بالتوحيد و طاعته بالاخلاص. والا فالانسان كالانعام بل هو اضل سبيلاً ويدل عليه قوله تعالى ما خلقت الجن والانس الا ليعبدون، قال البغوي رح هذا قول ابن عباس رض ومجاهد رح وقيل غير ذالک، او روح البيان وايي: قل يا محمد للناس كافة ثم قال هذا بيان حال المؤمنين، او كلمه د ما یا مصدریه یا نافیه ده والمعنى څه باک به وکړي خدای على المصدرية، يا باک نه کوي خدای په تاسي سره على تقدير كون ما نافية ودعائكم مبتداء ده خبر يې محذوف دی ای موجود واقع که عبادت او ایمان ستاسي نه وای لان قدر الانسان عنده تعالى وشرفه بالايمان والطاعة والا فهو كسائر الحيوانات، وجواب لولا محذوف لدلالة ماقبله عليه اى لالو دعائكم لما اعتد بكم، او روح المعاني لکه روح البيان وايي: وهذا بيان حال المؤمنين من المخاطبين، يو مظهري رح دی متابعة للبغوي، وايي چي مخاطب په دې آیت کي کافران دي والله اعلم بمراده في كتابه.

فَقَدْ كَذَّبْتُمْ فَسَوْفَ يَكُونُ لِزَامًا ﴿٧٧﴾

روح البيان وايي دا بيان د كفره دی من المخاطبين، او روح البيان هم وايي چي دا بيان د کافرانو دی، او روح المعاني يوه زيبا معنى د آیت داسي کړې ده: مايبالي سبحانه بمغفرتكم لولا دعائكم اى عبارتكم آلهة او مايفعل بعد ابكم لو لاشرلكم انتهى.

پښتو ژباړه: څه باک کاوه ستاسي په بخښنه سره که نه وای ستاسي عبادت سره د خدایه د نورو خدایانو چي بتان دي، او یا خدای ﷻ څه کار درلودی په عذاب کي ستاسي که ستاسي شرک نه وای یعني مانع ستاسي د بخښني او باعث د عذاب ستاسي بت پرستي او شرک دی ستاسي، او مظهري رح وايي فقد كذبتم خطاب دی واهل مکې ته آه.

درويش وايي: چي عموم د مخاطبينو یعني مخاطب عام دی تولو کفارو ته شامل دی لکه روح المعاني او روح البيان چي وويل اولى دی تر تخصيص د مظهري رح په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اهل مکه پوري البته په عموم کي اهل مکه هم داخل دي دخولاً اولیًا فافهم.

"فسوف یکون لزامًا" نو ژر دی چي دا ستاسي تکذیب لازم د تاسي وي طول الحیاة او د توبې قدرت به نه کړئ پیدا حتی چي اخیر الامر به مو دوږخ ته داخل کړي.

پوه سه: چي د تکون ضمیر و تکذیب ته راجع دی. او ابن عباس رضي الله عنه د لزامًا ترجمه په هلاکتا سره کړې ده. او ابن زید په قتال سره کړې ده. او بغوي رحمه الله وایي چي بعض مفسرین وایي چي له لزام څخه یوم بدر مراد ده چي په کفارو کي د مکې په شمول د ابوجهل اوویا کسه ووژل سوه او اوویا کسه یې بندیان سوه وهو قول ابن مسعود وابی بن کعب و مجاهد رحمهم الله.

سوال: د یوم بدر عذاب خو یوه ورځ ؤ، نو لزامًا یې ولي بولي؟

ځواب: انهم قتلوا یوم بدر واتصل به عذاب الآخرة لازمًا، وقیل اللزام هو عذاب الآخرة لانه باق الی الابد.

درویش وایي: چي تفسیر د سورت الفرقان په توفیق د خدای ﷻ پر دوې بجې د ورځي د یکشنبې په ورځ پر اووه د ذوالقعدة الحرام سنه (۱۴۳۰) هـ ق وپای ته ورسېدی، والحمدلله والصلوة علی نبیه وآله وصحبه، د سورة الشعراء شروع به هم دغه وخت کي وسوه، اللهم سهل وتممه بالخیر والعافیة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوۡرَةُ الشُّعَرَآءِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ مِائَتَانِ وَسَبۡعٌ وَعِشۡرُونَ آيَةً وَاَحَدَ عَشَرَ رُكُوعًا　بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

طٰسٓمٓ ① تِلۡكَ اٰيٰتُ الۡكِتٰبِ الۡمُبِيۡنِ ②

درویش وایي: چي تحقیق د حروف مقطعه د قرآن په تفسیر کي د سورت البقرة تېر سوی دی، و اولی ما قال اهل التفسیر ما في حق هذه الحروف. الله اعلم بمراده، وهو مذهب ابی حنیفة رحمه الله لانها من الاسرار الغریبة کما قال الصدیق الاکبر رضي الله عنه ان لکل شئ سر وسر القرآن في المقطعات، او زموږ برخه په دې مقطعاتو کي داده: آمنا بما اراد الله بها.

پوه سه: چي تلک اشاره وده سورت او یا و قرآن ته ده.

سوال: قرآن خو مذکر دی، او تلک اِشاره و مؤنث ته وي في لسان العرب؟

ځواب: قرآن په تاویل د آیاتو دی. آیتونه د کتاب دي چي ښکاره دی اعجاز ددې. کریمه: لو کنتم في ریب مما نزلنا علی عبدنا فاتوا بسورة من مثله. او یا معنی داده چي مظهر د احکامو د رب العزت دی من الاوامر والنواهي وامور الدنیا والآخرة، او مظهر د لاري دی و خدای جل جلاله ته او جنت دار الکرامة ته دی.

درویش وایي: چي آنحضرت صلی الله علیه وسلم ډېر حریص ؤ پر ایمان د قریشو د مکې، نو هر څه کوشش او سعي به چي علیه الصلوة والسلام وکړه هغه به ناکام سوه. نو د آنحضرت صلی الله علیه وسلم زړه به همېشه پرېشانه ؤ، نو دا آیت نازل سو.

لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفۡسَكَ اَلَّا يَكُوۡنُوۡا مُؤۡمِنِيۡنَ ③

شاید ته له ډېري فرېشانی څخه خپل نفس قتل کوې.

پوه سه: الا یکونوا آه علت دی د بخ النفس، چي دوی یعني اهل مکه نه کرځي ایمان راوړونکي، بعض مفسرین وایي چي علیه الصلوة والسلام ددې هم ډېر وېرېدي چي خدای جل جلاله ما ته عقاب رانه کړی په سبب د انکار ددوی.

درویش وایي: چي که څه هم مظهري رحمه الله راوړي دي لکنه ضعیف، ولي د قوم د عدم ایمان په ګناه خو علیه الصلوة والسلام خدای جل جلاله نه نیوی لانه خلاف حکمته تعالی.

سوال: تا د مخه وویل چي دا تعلیل او علة د بخ النفس دی او سره ددې چي بخ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

النفس خو موجود في الحال ؤ او يکونوا خو مستقبل ده، نو معنی خو یې داده چي
چي په مستقبل کي د دوی ایمان نه راوړی او علماء په یوه خوله وایي چي د علت او
معلول زمانه به باید یوه وي کما لایخفی، ددې سوال ځواب بعض مفسران داسي
ورکوي چي لفظ د خیفة مقدر دی ای خیفة ان لایکونوا مؤمنین في المستقبل
ایضًا کما في زمان الحال، او بعض محققان د اهل تفسیر وایي چي تقدیر ته خیفة
ضرورت نسته، ولي چي مراد استمرار د دوی پر عدم قبول د ایمان بذالک الکتاب
دی وایي چي کلمة د کان لپاره د استمرار ده وصیغة الاستقبال لتاکیده، فالمراد
استمرار نفي الایمان في الحال والاستقبال.

درویش وایي: چي وهذا وجه وجیه خال عن تکلف التقدیر کما في الجواب
الاول فافهم.

إِن نَّشَأْ نُنَزِّلْ عَلَيْهِم مِّنَ السَّمَاءِ آيَةً فَظَلَّتْ أَعْنَاقُهُمْ لَهَا خَاضِعِينَ ④

که موږ اراده وکړو د ایمان د دوی فمفعول نشاء محذوف یعني ایمانهم، موږ
به نازل کړو له اسمان څخه یو دلیل چي صدق ستا یا محمد (ﷺ) به دلالت کوي
او دوی به مجبور کړي و ایمان راوړلو ته.

بوه سه: چي ظلت عطف دی پر ننزل لکن ظلت په معنی فتظل یعني ماضي په
معنی د مضارع ده والمعنی نو به وګرځي.

"اعناقهم" غاړي د دوی (کړوالی د غاړي کنایه ده له انقیاد څخه) وهغه آیت ته کړي.

سوال: خاضعین صفت د اعناق دی، ولي چي فاعل د ظلت خو اعناق دي او
اعناق د غیر ذوی العقول څخه دي، نو خاضعین جمع سالم چي د ذوی العقول
لپاره ده ولي یې راوړه، باید خاضعة ویل سوی وای؟

ځواب: (۱) د خاضعین راوړل لپاره د موافقت د رؤس الایات یعني اواخرها
یې راوړه (۲) اصل داسي ؤ فظلوا یعني ضمیر وه کافرانو ته راجع ؤ بیا لپاره د
بیان د محل د خضوع یې اعناق زیات کړی او خبر د ظلت یې پر اصل پرېښو یعني
د مخه تر زیادت د اعناق (۳) اصل داسي ؤ فظلت اصحاب الاعناق لها خضعین،
محذوف المضاف وهو لفظ الاصحاب واقام الاعناق ای المضاف الیه مقام
المضاف وهو لفظ الاصحاب، لان الاعناق اذا خضعت نو ارباب الاعناق خاضعون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

البته، نو اول یې فعل چې خضعت دی مسند و اعناقو ته کړی وروسته لپاره د دلالت پر اصحاب الاعناق خاضعين جمع مذکر سالمه یې راوړه (۴) اخفش وايي رد الخضوع يعني في لفظه خاضعين على الضمير الذي هو مضاف اليه للاعناق (۵) وقيل اذا وصفت الاعناق بالخضوع او سره ددې چې خضوع صفت د عقلاء ؤ ده، نو اعناق نازل منزلة العقلاء کړه نو یې خاضعين چې جمع د عقلاء وو ده راوړه (۶) بعض مفسرين چې صفت يعني خاضعين چې مذکر راوړی دی له دې سببه چې په جوار کې د مذکر راغلی وهو لفظ هم في اعناقهم، على عادت العرب في تذکير المؤنث الى اضافوه الى المذکر وتانيث المذکر اذا اضافوه الى المونث فافهم هذه القاعدة (۷) اراد بالعنق جميع البدن من ذکر الجزء واراده الکل وجميع البدن من ذوى العقول فلهذا قال خاضعين.

سوال: نو ظلت یې ولې مؤنث راوړی؟

ځواب: نظرًا الى ظاهر لفظه الاعناق وهو مؤنث فالتذکر والتانيث باعتبارين يعني التذکير بالنظر الى المراد والمعنى والتانيث باعتبار اللفظ.

پوه سه: چې اراده د کل د جزء په قرآن مجيد مبارک کې په بل ځای کې راغلې ده، کريمه: ذالک بما قدمت يداک، کريمه والزمناه طائره في عنقه. فالمعنى على هذا فظلوا خاضعين.

(۸) اراد بالاعناق الجماعات کما يقال جاء الناس عنقًا عنقًا اى جماعات جماعات، نو لفظ د جماعت چونکه مؤنث دی لهذا قال فظلت او چونکه مراد ځنې انسانان دي فلهذا قال خاضعين.

(۹) مجاهد رح وايي چې له اعناق ځنې کبراء او رؤساء د کافرانو مراد دي، نو چونکه کبراء جمع تکسير وه او جمع تکسير ته یې د مؤنث ضمير راجع کړه کېږي فلهذا قال فظلت بالتانيث او چونکه کبراء د کافرانو انسانانو وه فلهذا قال خضعين.

درويش وايي: وحاصل هذه الآية من قوله ان شاء الى قوله خضعين، دا دی چې ما آيت د اسمان نازل کړی وای، نو هيڅ کافر به د ايمان راوړلو غاړه نه وای لوره کړې بلکې خاضعين به وای لکن لم نفعل ذالک، موږ دا سې ونه کړه يعني چې نزول د آيت مو کړی وای او دوی مو خاضعين ګرځولي وای، ولې دا ايمان خو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ایمان قسري دی ولا اعتبار له بلکې مقبول عند الله ایمان اختیاري دی، ولي دا ایمان قسري خو لکه ایمان د کافرانو دی په قیامت کي عند رؤیة النار وتیقن دخولهم فیها، ولذا قیل لن یدخل الجنة الا مؤمن والمراد بذالک مؤمن ذالک الیوم ای یوم القیامة ولیس المراد مؤمن الدنیا بالاختیار.

وَمَا يَأْتِيهِم مِّن ذِكْرٍ مِّنَ الرَّحْمَٰنِ مُحْدَثٍ إِلَّا كَانُوا عَنْهُ مُعْرِضِينَ ﴿٥﴾

او نه راځي و کفارو ته د مکې ای من موعظة من المواعظ القرآنیة، او یا مراد له ذکر څخه طائفة نازلة من القرآن چي هغه طائفه قرآنیة و دوی ته کامل وعظ او بیان کوي.

سوال: لفظ د ذکر خو مصدر دی، نو پر دي تقدیر د عباراتو قرآنیه وویې اطلاق څرنګه وکړی ولي چي آیات قرآنیه خو الفاظ دي؟

ځواب: اطلاق یې مبالغةً دی نحو زید عدل.

بوه سه: چي کلمه د من زائده ده لپاره د استغراق د نفي نو ذکر محلاً مرفوع دی.

"من الرحمٰن" د خدای ﷻ له خوا څخه، والمعنی منزل، نو من الرحمٰن په تقدیر د منزل صفت د ذکر دی، ای منزل علی نبیه، وفي ایراد لفظ الرحمٰن اشاره ده علی ان انزال الذکر علی نبیه شعبة من شعب رحمته العامة.

سوال: په نېز د اهل سنت خو قرآن کریم قدیم دی ومن قال بحدوثه فقد کفر؟

ځواب: قدیم خو وجود د قرآن په ازل کي دی دلته مراد حدوث د انزال دی و علیه الصلوٰة والسلام ته.

"الا کانوا عنه معرضین" مګر نه دوی اعراض کوي له ایمان راوړلو څخه دی پر هغه ذکر قرآني.

بوه سه: چي دا استثناء مفرغ ده یعني مستثنٰی منه یې محذوف دی او حال دی له ضمیر منصوب څخه د في یاتیهم، والتقدیر ما یاتیهم في حال من الاحوال الا حال اعراضهم عن الایمان به.

فَقَدْ كَذَّبُوا فَسَيَأْتِيهِمْ أَنبَاءُ مَا كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٦﴾

یعني دروغ یې وبالله ذکر یعني قرآن (نو تر اعتراض علاوه تکذیب هم وکړی حتی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تر اندازې پورې چې ددوی تکذیب پر استهزاء باندې دلالت کوي کما یدل علیه قوله تعالی)ژر دی چې وبه رسیږي چې عذاب پر دوی نازل سي یعني یوم القیامة او یوم بدر.

بوه سه: چې انباء جمع د نبإ ده خبر او حال ته وایي یعني د هغه شي یعني الذکر والقرآن چې دوی وه چې په هغه سرې پسخند واهه یعني دا به معلوم سي چې الذکر حق وُ او که باطل د ایمان وړ وُ او که د استهزاء وړ وُ.

فائده: د ابناء اطلاق په عرف کي د عربو پر داسي خطرناک او عظیم الوقوع شي باندې کېږي، ففیه تهویل لشان العذاب علیهم، حسین کاشفي هروي رح وايي: وبعد ظهور نتائج تکذیب واستهزاء پشیمان وسود ندارد. سعدي رح وايي:

تو پیش از عقوبت دری عفوه کوب ...... که سودی ندارد فغان زیر چوب

اَوَلَمْ يَرَوْا اِلَى الْاَرْضِ كَمْ اَنْۢبَتْنَا فِيْهَا مِنْ كُلِّ زَوْجٍ كَرِيْمٍ ۝

الهمزة للانکار التوبیخ، یعني تاسي دا کارونه باید نه وای کړي یعني التکذیب والاستهزاء والواو للعطف علی مقدر یقتضیه المقام. والتقدیر افعل المکذبون من قریش مکة ما فعلوا من الاعراض والاستهزاء ولم ینظروا. نو د رؤیت څخه مراد رؤیت علمي دی "الی الارض" یعني د عجائبو ته د مځکي من النباتات العجیبة من الماکولات والمطعومات والازهار المتنوعة والجواهرات في الجبال الراسیة وغیرها چي دا ټولو ته سرې په نظر د عبرت وګوري خدای ﷻ به په وحدانیت وپېژني، او رسول کریم ﷺ به په رسالت او قرآن به په هدایت ومني.

برګ درختان سبز درنظر هوشیار ...... هر ورقی دفتریست معرفت کردګار

"کم انبتنا فیها" کلمه د کم خبریه د مفید د کثرت ده یعني ډېر نباتات موږ شنه کړي دي په مځکه کي وروسته تر دې چې مځکه په فصل کي د خریف او شتاء مړاوې وه او شین ډوکی پر نه وُ "من کل زوج آه" له هر صنف څخه د ګیاه نیکو سه وپسندیده چون ریاحین وګل نسرین وبنفشه ویاسمین وشګوفهای رنګارنګ وبرګهای ګوناګون، او ټول نباتات نافعه مما یاکل الناس والانعام وحیوانات البر والجبال الشامخة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ۝

په تحقیق په مذکوره آیاتو کي د مخکي (نو چي ما لفظ د مذکر وو ایه. نو هغه سوال نه وارد یږي چي په د مخه آیت کي خو د پر شیان ذکر سوه، نو باید په ځای د ذالک چي د مذکر اسم اشاره ده د تلک ویل سوی وای. وجه الدفع ظاهر) هر آئینه دلیل د قدرت تامه د واجب الوجود بلا مشارکة الغیر والحکمة الکاملة د خدای ﷻ چي داسي اصناف یې په مځکه کي پیدا کړه او نه دي اکثر د قریشو د مکي ایمان راوړونکي د ایمان بعد مشاهدة الآیات المذکورة.

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ۝

په تحقیق ستا خدای ﷻ یا محمد (ﷺ) غالب دی پر انتقام د دوی څخه بالعذاب في الدنیا، او په عین حال کي مهربان هم دی. ولي د دوی ته یې مهلت ورکړی دی عاجلاً عقوبت یې نه دی پر نازل کړی.

وَإِذْ نَادَىٰ رَبُّكَ مُوسَىٰ أَنِ ائْتِ الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ۝

بوه سه: چي اذ منصوب محلاً دی په اذکر مقدر سره ای اذکر یا محمد ﷺ لقومک چي نعره وکړه خدای ﷻ ستا وموسیٰ ﷺ ته.

فائده: منادات او نداء رفع الصوت ته وایي.

بوه سه: چي دا نداء هغه شپه وه چي د خسر له کوره د شعیب ؑ او کوروالایې هم ورسره وه او درخته یې ولیدل چي اور پکښي بل ؤ، والمقصود چي ته خپل قوم وبېروه په ذکر سره د قصې د موسیٰ ﷺ او فرعون، په دې معنا کي تاسي ایمان نه راوړی، نو داسي عذاب به دربانذي مسلط کړي لکه پر فرعون او قوم د هغه. او په ذکر کي د قصې د موسیٰ ﷺ او د فرعون تسلي و علیه الصلوة والسلام ته هم ده په دې معنا چي د ازار او ایمان نه راوړل د کافرانو په قول د نبي رواج قدیم دی کما شمع في هذه القصة. نو دا جمله یا عطف ده پر مضمون د لعلک باخع نفسک. فالتقدیر لاتحزن علی کفر قومک واذکر وقت نداء ربک موسیٰ ؑ، یعني چي د فرعون او ده د قوم سره مو څه چار چلند وکړی. ...ع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پند گیر از مصائب دیگران .... تا نگیرند دیگران زتو پند
او یا دا جمله مستانفه ده.

پوهه سه! چي ان په "ان ائت آه" تفسیر دی د نادٰی په معنٰی د ای دی، او یا مصدریه ای بان ایت "القوم الظالمین" یعني چي پر خپلو ځانو یې ظلم کړی بالکفر والمعاصي، او بني اسرائیل چي د موسٰی قوم ؤ خپل مریان یې ګرځولي دي، او ناوړه او سخت عذابونه ورکوي بقتل الابناء الی غیر ذالک مما مرت في تفسیر سورة البقرة.

قَوْمَ فِرْعَوْنَ ۚ أَلَا يَتَّقُونَ ﴿١١﴾

"قوم فرعون" بدل یا عطف بیان دی د قوم الظالمین.

پوهه سه: چي یواځي یې قوم ذکر کړی فرعون یې نه کړی ذکر لانه اولی بکونه ظالمًا لانه الداعي الی قومه الی الضلال والظلم علی بني اسرائیل والعبادة له، کریمه: انا ربکم الاعلی.

قَالَ رَبِّ إِنِّي أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴿١٢﴾

"قال" استیناف بیاني کانه سئال سائل فماذا قال موسٰی في جواب قوله ایت القوم الظالمین، نو موسٰی وویل "رب اني آه" ای زما ربه زه بیرېږم چي قوم فرعون به زما تکذیب وکړي.

وَيَضِيقُ صَدْرِي وَلَا يَنطَلِقُ لِسَانِي فَأَرْسِلْ إِلَىٰ هَارُونَ ﴿١٣﴾

او تنګیږي زما ځیګر یعني زړه په سبب د تکذیب د دوی، علماء وایي چي په موسٰی حدث ؤ یعني ژبه درد ورتلی "ولا ینطق لساني" ژبه مي مسلسله نه چلیږي یعني په خبرو کي بندېږم، چي فرعون چي موسٰی له ویالې ځخه دده د ګلباغ چي په صندوق کي دده مور په الهام الهي ایښی ؤ او رود نیل ته یې ورغورځولی ؤ له نیل ځخه په ویاله کي د حرم سرای دیوي درختي په بیخ کي صندوق پروت ؤ، خادمانو د فرعون هغه صندوق د فرعون ومخ ته کښېښو، نو یو ماه تابان رضیع پکښې پروت ؤ، آسیه چي د فرعون مایینه وه هغې عیال نه درلودی فرعون ته یې وویل چي خدای ﷻ ماته غیبي زوی راکړی فرعون ورته وویل دا یې ستا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي قصه اوږده ده، مختصه هم تېره سوې ده، حاصل دا چي فرعون ډیره په ملغلرو او عقیقو ښائسته کړې وه یوه ورځ فرعون موسیٰ ؑ په غېږ کي کېښنولی ؤ موسیٰ ؑ ور حمله کړه د ږیري غمیان يې وریاش پاش کړه، فرعون وویل چي دغه هغه دښمن دی چي ما په خوب لیدلی ؤ، چي پورته يې د مخکي ووهي او مړیې کړي آسیې په هوا. ځندي ونیوی چي کوچنی دی، ستا ږیره په غمیانو ښائسته ده ور حمله یې کړه کوچنی د غمیانو او د اور د سکروټو څه فرق کولای سي!؟ فرعون ورته وویل چي په یوه غاب کي غمیان کښېږدئ او په بل کي سکروټي چي دی کوم غاب ته لاس وراچوي، خو آسیې هم داغسي وکړه، د موسیٰ ؑ میل خو و غمیانو ته ؤ چي ور حمله کړي جبرئیل راغلی د ده لاس یې د اور خواته ورو ګرځاوه، موسیٰ ؑ یوه سکروټه راپورته کړه لاس یې وسو په خوله یې سکروټه چخ کړه ژبه یې وسوه، نو په ژبه کي یې لکنت او بندېده پیدا سوه چي د هغه له سببه موسیٰ ؑ سلیسې او رواني خبري نسوې کولای، خیر فرعون ملامت سو او آسیه کامیابه سوه، نو فرعون له وژلو څخه دست بردار سو.

بوه سه: چي په ''فارسل الی هارون'' کي فاء سببيه ده، یعني هغه درې شیه چي موسیٰ ؑ ذکر کړه چي خوف د تکذیب ؤ او ضیق الصدر ؤ او عدم انطلاق د ژبي ؤ سبب ددې سوال وګرځېده، فالمعنی جبرئیل یا وحي ور واستوه و هارون ته چي د موسیٰ ؑ مشر ورور ؤ او ډېر حلیم او فصیح اللسان شخصیت ؤ د موسیٰ ؑ مطلب دا ؤ چي هارون هم نبي وګرځوه چي معاون وګرځي په تبلیغ کي د فرعون او د هغه د قوم، لکه په بل ځای کي د قرآن چي راغلي دي اشرکه في امري.

وَلَهُمْ عَلَيَّ ذَنْبٌ فَأَخَافُ أَنْ يَقْتُلُونِ ﴿١٤﴾

او قوم فرعون د عوی د یوې ګناه لري چي ما یو قبطي وواژه چي قصه یې د مخه تېره سوې ده په بسط او تفصیل سره، زه بېرېږم چي قوم فرعون به ما د مخه د رسالت قتل کړي.

سوال: موسیٰ ؑ ولي وژل د قبطي ذنب وبلل او سره ددې چي قوم القبط خو کافران حربیان مباح الدم وه نه یې عصمت د اسلام درلودی او نه عصمت د اهل ذمه درلودی؟

ځواب: ده ذنب وبلل په زعم د دوی کذا قال المظهري رح. او روح المعاني هم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

توجیه د لفظ د ذنب داسي کړې ده. او روح البیان یې هم داغسي توجیه د ذنب کړې ده. او حسین کاشفي رح وايي: وایشان را برمن دعوی گناه هست مراد قتل قبطي است وبزعم ایشان گناه می گوید.

پوښتنه: خدای ﷻ موسیٰ ؑ ته امر وکړی چي ایت قوم فرعون. نو موسیٰ ؑ ولي بهانې کولې په امتثال کي د خدای ﷻ؟ (۱) اني اخاف ان یکذبون (۲) ویضیق صدري (۳) ولاینطق لساني (۴) ولهم علي ذنب آه؟

ځواب: دا بهانې نه دي په امتثال کي د امر الهي بلکې د خدای ﷻ ځخه غوښتنه چي موانع د تبلیغ ودې قوم خبیث له ماځخه دفع کړې فتدبر هداک الله تعالیٰ.

درویش وايي: چي په بل ځای کي د موسیٰ ؑ او د فرعون د قصې داسي راغلي دي چي خدای ﷻ چي موسیٰ ؑ په رسالت امر کړی وفرعون ته، ده داسي خواست خدای ﷻ ته وکړی، رب شرح لي صدري (یعني زما سینه فراخه کړه یعني ضیق الصدر مي کم کړې) ویسرلي امري (او دا د تبلیغ کار ماته اسانه کړې) واحلل عقدة من لساني یفقهوا قولي (او خلاصه کړې غوټه یعني بند بدل د ژبې زما چي قوم فرعون وپوهېږي زما په خبرو، نو خدای ﷻ هغه نهایت ضیق الصدر ورکم کړی او غایة عقدة اللسان یې هم ورلرې کړی، او د باقي ضیق الصدر او عقدة اللسان په رسالت د وړور دده ورد فع کړی، ولي چي هارون ؑ ډېر حلیم سړی ؤ او ډېر فصیح اللسان هم ؤ او د خوف القتل قبل تبلیغ الرسالة په دې آیت ورد فع کړی.

قَالَ كَلَّا ۖ فَاذْهَبَا بِآيَاتِنَا ۖ إِنَّا مَعَكُم مُّسْتَمِعُونَ ⑮

داغسي نه ده یعني وژلای دي نسي، ولاړ سئ ته او ستا وړور هارون.

سوال: د کوه طور په موضوع کي چي موسیٰ ؑ ته خدای ﷻ امر ورکړی ایت قوم فرعن آه، خو هارون ؑ په مصر کي ؤ حاضر نه ؤ، نو د خطاب اذهبا څه توجیه ده؟

ځواب: په دې خطاب کي اهل تفسیر ټوله وايي چي تغلیب دی د حاضر پر غائب باندي.

فائده: فاذهبا معطوف دی پر هغه فعل چي کلا دلالت پر کاوه. کانه قال ارتدع یا موسیٰ عن توهم قتلک فاذهب انت ومن طلبت ضمه الیک یعني هارون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: د اذهبا خطاب خو و موسیٰ او هارون ته وُ، نو د معکم توجیه څه ده؟

ځواب: له معکم څخه مراد موسیٰ او هارون او من تبعهما دي، ولاړ سئ سره معجزاتو زمونږ ستاسي سره ملګري یو په کومک سره د دفع د ازار د قوم فرعون "مستمعون" اوریدونکی ستاسي او د فرعون او قوم سوال او جواب، نو موږ تاسي ته غلبه درکوو پردوی.

فَأْتِيَا فِرْعَوْنَ فَقُولَا إِنَّا رَسُولُ رَبِّ الْعٰلَمِينَ ﴿١٦﴾

ورسئ فرعون ته او ورته ووایاست چي موږ رسول د خدای ﷻ چي رب دی د عالمیانو یعني د ټوله مخلوق.

سوال: دوی خو دوه کسه وه یعني موسیٰ ؑ او هارون ؑ، نو د رسول د مفرد راوړلو وجه څه ده؟

ځواب: (۱) رسول په اصل کي مصدر دی په معنی د رسالت او حمل یې مبالغةً دی لکه زید عدل. او په مصدر کي مفرد، تثنیه او جمع برابر دي (۲) او یا دوی دوه په اعتبار د اخوة یو نفر دی (۳) او یا په اعتبار د مرسل چي خدای ﷻ دی یو دی (۴) او یا په اعتبار د مرسل به چي دین د اسلام دی سره یو دي (۵) او یا په اصل کي مستقل رسول خو موسیٰ ؑ وُ او هارون ؑ د ده تبع او کومکي رسول وُ (۶) او یا په اعتبار ددې چي انا په تاویل د کل واحد منا رسول آ ده دی (۷) او یا لان الفعول یطلق علی الواحد والتثنیة والجمع (۸) او ابو عبیده رح وایي چي عرب وایي هذا رسولي و وکیلي وهذان رسولي و وکیلي، فیجوز ان یکون الافراد مبنیًا علی هذه المحاورة.

پوښتنه: په بل ځای کي د قرآن رسولا راغلی دی یعني په لفظ د تثنیه؟

ځواب: ان النکتة للفار لا للقار کما هو الشائع.

أَنْ أَرْسِلْ مَعَنَا بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ ﴿١٧﴾

په تقدیر د باء ای بان چي ته خوشي کړه زموږ سره بني اسرائیل چي موږ خپل وطن اصلي شام ته ولاړ سو، او د مړیي توب کړی له غاري خلاصه کړو، بغوي رح وایي چي فرعون څلور سوه (۴۰۰) کاله دوی مریان ساتلي وه، او بني اسرائیل په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دغه وخت کي یو لک و اتیا زره کسه وه.

تاریخ خبري کوي چي موسیٰ ؑ ته چي وحي ورتللې د وریو چپنه یې اغوستې وه او په لاس کي یې لکړه وه، او یوه تبوکړی چي په هغه کي د ده خوراکۍ د کړی په سر پوري یې ځړولې وه، نو خپل کور ته ورغلی هارون ؑ کور ؤ او ده ته یې خپل رسالت او د ده د نبوت کشف الحال وکړی چي راځه چي فرعون ته ورسو دعوت ورکړو، موریې ژوندی وه دا خبري چي یې واورېدلې له خوني را ووتل لو چغه یې وکړه چي فرعون خوستا په طلب کي دی چي قتل دي کړي، نو که دواړه ورغلاست دواړه به قتل کړي، او موسیٰ ؑ ته یې وویل چي ته بېرته وتښته او هارون ؑ پرېږده، نو موسیٰ او هارون ؑ د مور په خوله ونه کړه لانهم قالوا لاطاعة للمخلوق في معصية الخالق.

او دوی دوه مابښام د فرعون کور ته ورغله او دروازه یې په زوره ور وټکول، دروازه وانان یعني محافظین د دروازې حیران سوه چي دا څوک دي نو یې وویل چي څوک دروازه ټکوي، موسیٰ ؑ ورته وویل چي موږ رسولانو د رب العالمین یو، نو دربان فرعون ته ورغلی چي دوه لېونیان په دروازه کي ولاړ دي وایي چي موږ رسولان د خدای یو، فرعون ورته وویل چي ورته ووایه چي سهار راسئ، سهار چي دوی ورغله دربان فرعون ته وویل چي هغه د شپې لېونیان بیا راغلي دي، فرعون ورته وویل ورسه رایې وله چي یو کړی پر وخاندو، دوی چي ورغله او خپل رسالت یې و فرعون ته بیان کړی، نو فرعون موسیٰ ؑ وپېژندی، ولي چي موسیٰ ؑ د فرعون په کور کي ډېر کلونه تېر کړي وه حتی چي خلکو به ابن فرعون باله.

فائده في لفظ فرعون: پوه سه! چي فرعون د یو شخص نوم نه ؤ، بلکي هر څوک چي به د قوم قبط بادشاه وای هغه ته دوی فرعون وایي، د فرعون موسیٰ نوم ولید بن مصعب بن الریان ؤ او لقب یې ابو العباس ؤ، او ده څلور سوه کاله عمر په سلطنت کي تېر کړي، داغه رنګه قیصر د یو شخص نوم نه دی فقط بلکي د رومیانو چي هر څوک بادشاه وي هغه ته دوی قیصر وایي، او هم دا دول کسری د یو معین سړي نوم نه دی بلکي هر څوک چي د پارسیانو او مجوس بادشاه وي هغه ته دوی کسریٰ وایي، او هم دا دول نجاشي د یو معین سړي نوم نه بلکي هر څوک چي د حبشه بادشاه وي هغه ته دوی نجاشي وایي، او داغه رنګه خاقان د معین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سړي نوم نه دی بلکې د ترکانو چې هر څوک بادشاه وي هغه ته دوی خاقان وايي.
هم دا رنګه جارج د يو معين سړي نوم نه دی بلکې د انګرېزانو چې هر څوک بادشاه
وي هغه دوی جارج بولي، او هم دا رنګه خليفة المؤمنين د يو خاص شخص نوم نه
دی بلکې په اصطلاح قديم کې د مسلمانانو هر څوک چې بادشاه ؤ هغه ته يې
خليفة المؤمنين وايه، او وروسته دا اصطلاح بدله سوه په امير المؤمنين سره،
وروسته بيا بدله سوه په سلطان سره.

درويش وايي: چې دا قديم اصطلاحات وه لکن په دې زمانه کې د رئيس
جمهور نوم دی، د سلطان نوم، د امير المؤمنين نوم او د باچا نوم پاته دي، والله
اعلم، نو فرعون چې موسٰی ؑ وپېژندی.

قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ ﴿١٨﴾

فرعون ورته وویل چې موږ تا ته تربيه نه ده در کړې؟ (استفهام تقريري دی) په
موږ کې (يعني زموږ په کورو کې) چې ته طفل وې يعني قريب الولادة وې.
او تا درنګ نه دی کړی زموږ په منازلو کې ستا له عمر څخه څو کاله.

تاريخ وايي: چې موسٰی ؑ دېرش کاله د فرعون سره تېر کړه بيا مدين ته ولاړی لس
کاله بيا يې د فرعون په مقابله کې دېرش کاله تېر کړه، او وروسته تر غرق د فرعون
پنځوس کاله، نو مجموع عمر د موسٰی ؑ يو سل او شل (۱۲۰) کاله ته ورسېدی.

وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِي فَعَلْتَ وَأَنْتَ مِنَ الْكَافِرِينَ ﴿١٩﴾

او تا وکړی هغه کار چې تا وکړی، يعني چې زما د قوم يو قبطي دې قتل کړی
"وانت من الکافرين" يعني تا زموږ د نعمت او تربيې نا شکري وکړه حتی چې
زما خاصو خلکو څخه دې په قتل هم ورساوه، دا قول د ابن عباس رضی الله عنه دی، او اکثره
مفسرينو هم دا غه قول مختاره کړی دی، دوی وايي چې موږ د کفر ترجمه په
ناشکرۍ د نعمت وکړه له دې کبله چې فرعون په کفر بالله چې معنی متعارف وه نه
پوهېدی، ولې چې ده په محفل عام کې "انا ربکم الاعلی" اعلان کړه، او يا مراد
د فرعون دا ؤ چې ته د کافرانو څخه يې زما په خدای سره، او يا معنی داده چې ته
زموږ سره وې زموږ پر دين وې اوس چې دا خدای چې ته موږ ور بولې او ته يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبادت کوې او س کافر سوې. وهذا المعنى اختاره الحسن والسدي رح.

سوال: فرعون ولې تصريح په هغه فعل د موسی ﷺ چې قتل د قبطي ؤ ونه کړه چې زما اشپز چې نوم يې قانون ؤ قتل دې کړی؟

ځواب: ابن الشيخ رح وايي چې دا عدم التصريح لپاره د تعظيم د قتل مذکور ده لان تنکير د شي او ابهام د هغه قد يقصد به التعظيم. په پښتو کې د دې مثال دا دی چې يو سړي بل سړی پر لواطت يا زنا ليدلی وي، نو ورته وايي چې ته خو هغه سړی يې چې هغه کار دې وکړی. تصريح نه په وکړي لپاره د تعظيم د هغه کار.

فائده: جمله د انت من الكافرين حال ده له يو ې ځخه د دوو تاء دی.

قَالَ فَعَلْتُهَآ إِذًا وَأَنَا۠ مِنَ ٱلضَّآلِّينَ ﴿٢٠﴾

موسی ؑ ورته وويل ما چې هغه فعل وکړی يعني قتل القبطي. په هغه وخت کې د ضالين له جملې ځخه وم.

پوه سه: چې ضالين دلته په منی د جاهلين بحکم الله. ولې چې په هغه وخت کې زه نبي نه وم حکم الله ماته نه ؤ رسېدلی چې وژل د قبطي روا دي او که ځنګه. او يا معنی دا ده چې زه نه پوهېدم چې په يوه سوک په دی مري، زما غرض خو د قبطي تاديب ؤ نه قتل. او بعض مفسرين وايي چې د ضالين معنی مخطئين ده.

فَفَرَرْتُ مِنكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِى رَبِّى حُكْمًا وَجَعَلَنِى مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿٢١﴾

نو زه فرار سوم ستاسي ځخه لاجل خوف القصاص، نو چې ستا ځخه وېرېدم يعني مدين قريه شعيب ؑ ته ولاړم، نو خدای ﷻ ماته هغه صفت را کړی علم او حکمت او وه يې ګرځولم د رسولانو له جملې ځخه.

فائده: د وهب په لفظ کې اشاره ودې ته ده چې نبوت او رسالت موهبي شی دی کسبي شی نه دی. کريمه: الله يعلم حيث يجعل رسالته.

فائده: موسی ؑ داسي ونه ويل: وجعلني رسولاً من انه اخصر تنبيهًا لفرعون پر دې چې رسالت يو نوی کار نه دی بلکې جم غفير د رسولانو خدای ﷻ د هدايت د خلکو لپاره را استولی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ عَبَّدْتَّ بَنِيْٓ إِسْرَآءِيْلَ ﴿۲۲﴾

''تلک'' اشاره ده وتربیه ته چي مدلول ددې قول د فرعون وه. الم نربک او تلک مبتدا، ده ''نعمة'' خبر د تلک دی ''تمنها علي'' چي ته يې احسان پر ما بولي دا جمله صفت د نعمت ده ''ان عبدت آه'' خبر د مبتداء محذوفي دی ای هي هذا چي تا مریان ګرځولي دي بني اسرائیل.

درویش وایي: چي مفسرین ددې آیت په تاویل اختلاف لري چي دا د موسیٰ اقرار په نعمت د فرعون پر ده ګویا ده دا سي ورته وویل، بلی تلک نعمة تمنها علي یعني هغه وخت چي تا بني اسرائیل مریان ګرځول زه دي پر پښولم مریی دي نه کړم بلکې تربیه دي په خپل کور کي راکړه وهذا التاویل ضعیف، ولي چي فرعون خو دی نه پیژندی چي دی د بني اسرائیلو څخه دی ورنه په اوله ورځ بې وژلی وای فافهم. والظاهر عند الفقیر ماقاله صاحب روح البیان وصاحب روح المعاني وبعض اخر من المحققین. تفصیل د هغه تاویل په مختصره توګه دا دی چي د مخه تېره سوه چي ان عبدت خبر د مبتداء محذوفي دی ای هي نو ان عبدت په تاویل د مصدر معنا يې دا ده ای تعبیدک بني اسرائیل، وقصدک ایاهم بذبیح ابنائهم کما في موضع اخر من القرآن یذبحون ابنائکم ویستحیون نسائکم. په هغه خوب چي فرعون لیدلی وُ کمامر في تفسیر سورة البقرة، نو موسیٰ ګویا وایي چي دغه ستا فعل شنیع سبب ددې وګرځېدی چي ستا په کور کي واقع سوم او ستا تر تربیه لاندي راغلم یعني که فرعون دا کار نه کولای، یعني ذبح ابناء بني اسرائیل. د موسیٰ مور به په خپل کور تربیه ورکړې وای او په صندوق کي به يې و دریاب ته نه غورځولای حتی چي د فرعون کور ته به راتلای او دده تر تربیه لاندي واقع کېدای فکیف یمین فرعون علي موسیٰ بما کان بلاء فرعون وهو ذبح اولاد بني اسرائیل سببًا دده یعني د موسیٰ د تربیه په کور کي د فرعون. وحاصل جواب موسیٰ اقرار دی ظاهرًا وانکار معنًی فتدبر.

قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۲۳﴾

فرعون وویل یعني موسیٰ ته چي څه شی رب العالمین یعني ماهیت او حقیقت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څه دی، کلمه د استفهامیه ده او رب په معنی د مربي او متکفل د مصلحت د مخلوقاتو من الجواهر والاعراض العلویة والسفلیة یعني رب العالمین چي ته موږ وربولي او ځان یې رسول بولې، ومن ای جنس هو منکرًا انیکون للعالمین رب سواه. کاشفي رح وایي: چون فرعون شنیده بود که موسیٰ گفت انا رسول رب العالمین سخن بگردانید واز روی امتحان گفت چیست پروردگار عالمیان وچه چیزست سوال از ماهیت نمود انتهی. نو چونکه تعریف د خدای ﷻ بې لوازمو خارجیه وو ممکن نه و؛ لاستحالة الترکیب من جنس وفعل في ذاته تعالی کما ثبت في علم الکلام والمنطق. نو ځکه موسیٰ ؑ جواب ورکړی په ذکر سره د خواصو او افعالو.

قَالَ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ؕ اِنْ كُنْتُمْ مُّوْقِنِيْنَ ﴿۲۴﴾

وویل موسیٰ ؑ چي هغه (بحذف المبتداء ای هو) رب دی د اسمانو او ځمکي او په منځ کي د اسمانو او د ځمکي من کائنات الجو من السحاب والمطر وغیرهما، که تاسي یاست یقین درلونکي پر حقائقو د شیانو نو دغه اسمانو او ځمکه پر خدای ﷻ دلیل وګرځوي، ولي چي ټول له ممکنات دي صانع او خالق غواړي، مدبر غواړي یعني دادی چي ځواب ستاسي د سوال.

پوه سه: چي خطاب د "کنتم" وه فرعون او اشرافو ته د قوم دده دی. سعدي شیرازي رح وایي، ما احسن قوله:

ای بر تر از قیاس وگمان ووهم ... واز هرچه گفته اند شنیدیم وخوانده ایم
مجلس تمام گشت وبپایان رسید عمر ... ماهمچنان در اول وصف تو مانده ایم

له یو صحرائي عرب څخه چا پوښتنه وکړه چي د خدای ﷻ یعني د صانع العالم پر وجود څه دلیل لرې؟ هغه په عربي ورته وویل: البعرة تدل علی البعیر والاقدام علی المسیر، فکیف لایدل هذا العالم الکبیر علی الصانع الخبیر.

درویش وایي: چي دا ؤ بیان دده آیت موافق د حال سره د مطالعه کونکو د تفسیر ایوبي، لکن بیان د ده د لائلو عقلیه وو ددې مبحث په شرح العقائد وشرح المقاصد للعلامة الثاني سعد الملة والدین التفتازاني رح او په شرح کي د سلم العلوم للقاضي محمد مبارک مطالعه کړئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ لِمَنْ حَوْلَهُ أَلَا تَسْتَمِعُونَ ﴿٢٥﴾

فرعون وویل هغو کسانو ته چې دده پر شاوخوا ناست وه د تعجب په لهجه تاسي نه اورئ د موسیٰ جواب زما د پوښتنې چې زه پوښتنه د ماهیت د رب العالمین ځني کوم او دی د هغه افعال راته ذکر کوي، موسیٰ پوه سو چې فرعون د خپل ربوبیت په دریاب کې غرق دی، نو بل دلیل ته یې چې ښه واضح ؤ رجوع وکړه، نو دا یې وویل:

قَالَ رَبُّكُمْ وَرَبُّ آبَائِكُمُ الْأَوَّلِينَ ﴿٢٦﴾

موسیٰ وویل چې رب العالمین هغه ذات دی چې تربیه کوونکی او خالق ستاسي دی او ستاسي د پلرو او نیکه ګانو دی چې د مخه تر تاسي وه.

قَالَ إِنَّ رَسُولَكُمُ الَّذِي أُرْسِلَ إِلَيْكُمْ لَمَجْنُونٌ ﴿٢٧﴾

"قال" یعني فرعون چې په تحقیق دغه رسول چې تاسي ته را استول سوی دی (دا خبر یې په پسخند وکړه) "لمجنون" لیونی دی، ولې چې زه پوښتنه د حقیقت ځني کوم دی بیرته جواب په افعالو راکوي، موسیٰ وبل محسوس جواب ته رجوع وکړه.

قَالَ رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ وَمَا بَيْنَهُمَا إِنْ كُنْتُمْ تَعْقِلُونَ ﴿٢٨﴾

موسیٰ ورته وویل چې هغه رب چې زه یې رسول یم، رب د مشرق یعني لمر ختو او د مغرب د لمر لوېدلو دی، یعني هر سړی چې په ستر ګو وینې چې خدای ﷻ لمر د مشرق له لوري هره ورځ راخېژوي او حرکت ورکوي پر مدار چې غیر دی له مدار څخه د دمخې ورځې، او تر مغرب پورې ور سوي چې دد دې سیر څخه د لمر څلور فصل عالم وجود ته راځي یعني ربیع پسرلي، درې میاشتي او صیف یعني دوبی درې میاشتي او خریف یعني منی درې میاشتي او شتا یعني ژمی درې میاشتي چې مجموع دوولس میاشتي کېږي چې یو کال شمسي یې بولي چې په دې دور د عالم سفلي یعني د مځکي والو که انسانان وي او که حیوانات وي مواد ارتزاقیه پوره کېږي کما هو معلوم بالمشاهدة والتجربة في معظم المعمورة "ان کنتم تعقلون" یعني که تاسي عقل لرئ تر دې اوضح او په زړه پورې جواب نسته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چې قاعده داده چې په دلائلو کې یو سړی ملامت سي خصوصًا مثل فرعون الجبار، نو له زوره څخه کار اخلي یا جنګ کوي نو فرعون چې په دلائلو کې موسیٰ ؑ ملزم کړی، نو له زوره څخه یې کار واخستی، او غرور او تکبر ددې چې دی په مصر کې په خدای ﷻ منلی ؤ په دماغ کې یې راو ګرځېدل او داسې یې وویل:

قَالَ لَئِنِ اتَّخَذْتَ إِلَٰهًا غَيْرِي لَأَجْعَلَنَّكَ مِنَ الْمَسْجُونِينَ ﴿۲۹﴾

که ته وګرځوې یا موسیٰ ځان لره معبود غیر د ما څخه هر آئینه به زه تا وګرځوم د بندیانو د ډلې څخه.

پوهه: چې لاجعلنک آه، ځواب د قسم محذوف دی چې لام د لئن دلالت پر کاوه.

فائده: کلمه د لام په المسجونین کې لپاره د عهد ده. یعني هغه زما معهود بندي خانه. الکلبي ؒ وایي چې بندي خانه د فرعون سخته وه تر وژلو. چې حال یې دادی چې بندي به یې کړو په داسې اطاق کې وغور ځاوه یو اځي چې دومره به تاریک ؤ چې هیڅ شی به یې په سترګو باندې نه لیدی او نه یې یو اواز اورېدی. فرعون دا دلیل د خپل ربوبیت وګرځاوه چې د رب عذاب لازمًا سخت وي وانکاره للصانع الاکبر کمایدل علیه قوله الا تستمعون تعجبًا من نسبة الربوبیة الی غیري مع انه لیس له الا سلطنت قطر من اقطار الارض وهو مصر ومن حوله.

حکایت: په زمانه کې د خلافت د امیر المؤمنین عمر ؓ چې مصر فتح سو، نو عمر ؓ وویل چې زه به لپاره د اهانت د فرعون چې ده د مصر په سلطنت سره دعویٰ د خدایي کړې وه، یو خپل مریی چې هغه د عقل د خوا ډېر کمزوری د مصر والي ګرځوم. خیر مریی یې والي د مصر مقرر کړی، راوي وایي چې عام کښت د مصریانو کالکې وې چې پنبه څنې تر لاسه کېده، تقدیر الهي ؤ چې دغه کال بې وخته بارانو نه شروع سوه چې د کالکو کښتونه یې قبل الادارک برباد کړه، نو خلګو و والي ته د مصر یعني هغه مریي ته د عمر ؓ عریضه وکړه چې موږ ته دې له بیت المال څخه روپۍ راکړې چې عیال یې وساتو، ولې چې کالکې مو ټولې اوبو برباد کړې دي، والي صاحب ورته وویل چې ملامت تاسې یاست چې پنبه چې بو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ضعیف شی دی تاسي وکړلې، نو ولې مو وړی نه کړلې چې هغه محکمې دي، دا یې خفت العقل دی.

قَالَ أَوَلَوْ جِئْتُكَ بِشَيْءٍ مُّبِينٍ ۝

وویل موسیٰ ؑ په ځواب کې د پیش رو د فرعون په بندي کولو سره، آیا ته ما بندي کوې که څه هم زه راتګ وکړم تاته په یو شي یعني معجزه چې هغه واضح الدالة وي زما پر صدق په دعویٰ کې د رسالت.

پوه سه: چې همزه لپاره د استفهام انکاري دی او واو لپاره د حال دی بعد حذف الفعل، تقدیره اتجعلني من المسجونین ولو جئتک بشئ مبین.

قَالَ فَأْتِ بِهِ إِن كُنتَ مِنَ الصَّادِقِينَ ۝

فرعون ورته وویل راتګ وکړه په شي مبین سره که ته د رشتیا ګویانو څخه یې. فان مدعي النبوة لابد له من حجة واضحة لیثبت بها دعواه.

فَأَلْقَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ ۝

نو موسیٰ ؑ وروغورځول لکړه خپله، نو ناببره هغه لکړه اپې یعني لوی مار سو چې ماروالی یې ظاهر ؤ او یا معنی داده چې دلالت پر صدق د دعویٰ د نبوت دده یې ظاهر ؤ.

پوښتنه: په بل ځای کې د قرآن مبارک راغلي دي، کانها جان چې نري مار ته وایي چې په پښتو یې کوچه مار بولي، نو ددې دوو آیتو تر منځ به منافات نه وي؟

ځواب: بعض مفسرین وایي چې اول به لکړه پر خپل مقدار نری کوچه مار سول وروسته به کرار کرار لوېدله ثعبان به ځنې جوړ سو، او بعض مفسرین وایي چې بدن یې د ثعبان ؤ او حرکت یې په سرعت کې د جان ؤ فلامنافات، پر هر تقدیر لکړي ثعبان په فرعون پسې هغه ورو کړه فرعون وېرېدی، چنانچه کاشفي ؒ وایي: وفرعون از مشاهده او بترسید، ومردمان که حاضر بودند هزیمت کردند چنانچه در وقت فرار (۲۵۰۰۰) کس کشته شده.

فرعون وموسیٰ ﷺ ته وویل اسئلک بالذي ارسلک ان تاخذها فاخذها

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موسی ؑ فعادت عصیٰ، راوي وايي چې د فرعون چې د مار بيره له زړه څخه ووتل نو يې وويل چې بل څه حجت لرې؟

﴿وَّنَزَعَ يَدَهٗ فَاِذَا هِيَ بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ﴾

راوه ايستى موسیٰ ؑ لاس خپل له لستوني څخه، پس ناببره لاس دده تک سپين ؤ چې داسي رڼا يې وکړه لکه د لمر چې سترګي پر برېښېدلې يعني سپين والى يې د پيس نه ؤ (يد مؤنث سماعي دى) كريمه: من غير سوء. فتحير فرعون وعجز عن المقابلة، نو يې بل مخ پر كښېښو.

﴿قَالَ لِلْمَلَاِ حَوْلَهٗٓ اِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيْمٌ﴾

فرعون وويل وه اشرافو ته د قوم (حوله ظرف دى وضع موضع الحال اى مستقرين من حوله) په تحقيق دغه موسیٰ سحر كر فائق په علم سحر كي دى.

﴿يُّرِيْدُ اَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ اَرْضِكُمْ بِسِحْرِهٖ ۖ فَمَاذَا تَاْمُرُوْنَ﴾

اى اراده ددې لري چې تاسي وباسي د خپلي مځكي څخه په جادو سره او سلطنت دى خپل لاس ته ورولي او بيا به تاسي خپل د تابوبي څخه وشړي، نو تاسي څه مشوره راكوئ ماته.

په كشف الاسرار كي وايي چې كلمه د تامرون د مؤامرة څخه ماخوذ ده چې مشورې ته وايي لا من الامر لانه لايناسب ادعاء الربوبية چې ده يې دعوه كوله. لكن مظهري رح وايي: لما غلب عليه سلطان المعجزة حطه عن دعوى الربوبية (چې غلبه وكړه پر فرعون بادشاه معجزې د موسیٰ ؑ، او وه يې كړخول حيران پر خپل ځان)

درويش وايي: چې له دې عبارت څخه دا صريح معلومه سوه چې تامرون مشتق له امر څخه دى وتنفيرهم عن موسیٰ ؑ واظهار الخوف عن ظهوره واستيلائه على ملكه، او دوى يې وبېرول او نفرت يې وكړى له موسیٰ ؑ څخه چې دى ستاسي پر سلطنت غلبه غواړي.

﴿قَالُوْٓا اَرْجِهْ وَاَخَاهُ﴾

وويل وخلكو وه موسیٰ او ورور دده يعني فعلاً يې مه وژنه ولي چې خلك به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چي فرعون ددوی له مقابلې څخه وبېرېدی يعني دوی خو ساحران دي، يو واريې په ساحرانو ملامت او رسوا کړه وروسته يې مړه کړه، تاچي خلګ ستا په ربوبيت وپوهېږي.

فائده: چونکه د ارجه معنٰی تاخير دی، مرجئه چي يوه ډله ده د اهل اهواء په دغه نامه مشهوره سوه، ولي چي ددوی مذهب دادی چي عملونه لکه لمونځ، روژه حج وغيرها څهٔ وي يعني نه يې کوي، او د هيڅ ګناه څخه پرهېز نه کوي دوی وايي لايضر مع الايمان معصية کما لاينفع مع الکفر طاعة، لعنهم الله انى يؤفکون.

وَابْعَثْ فِي الْمَدَآئِنِ حٰشِرِيْنَ ﴿۳۶﴾

او واستوه په ښارو او په اقطارو کي چي ستا په تصرف کي دي جمع کونکی د ساحرانو.

يَاْتُوْكَ بِكُلِّ سَحَّارٍ عَلِيْمٍ ﴿۳۷﴾

چي تاته راولي، مجزوم جواب للامر يعني وابعث.

پوه سه: چي سحار صيغه د مبالغې ده يعني داسي کسان چي په سحر کي ډېر رسېدلي کسان او په دقائقو د سحر ښه خبر کسان وي، نو فرعون هم داغسي وکړه.

فَجُمِعَ السَّحَرَةُ لِمِيْقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۳۸﴾

پوه سه: چي دا جمله عطف ده پر محذوف باندي، تقديره فبعث حاشرين فذهبوا فحشروا السحرة د هغه وخت لپاره چي د موسٰی؈ سره فرعون ټاکلی ؤ چي وخت د څاښت د يوم الزينة وه چي د فرعونيانو د اختر ورځ وه، له ابن عباس؄ څخه روايت دی چي اتفاقًا داسي پيښه سوه چي دغه ټاکل سوې ورځ د شنبې ورځ وه او اوله ورځ د شمسي کال وه يعني نوروز چي په عربي يې اول الحمل بولي کذا قال البغوي.

پوه سه: چي دغه ساحران اوويا کسه وه او بعض مفسران وايي چي اوويا زره (۷۰۰۰۰) وه ولا يخلوا العدد الثاني من المبالغة جدًا.

وَّقِيْلَ لِلنَّاسِ هَلْ اَنْتُمْ مُّجْتَمِعُوْنَ ﴿۳۹﴾

او وويل سوه د فرعون له خوا څخه وه خلګو ته يعني و خپل اتباعو ته،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

استفهام په معنی د امر دی، يعني جمع سئ، لہ دې څخه دا معلومېږي چې خلګو يو څه ډېره کوله د اجتماع څخه.

درويش وايي: چې شايد خلګو په سبب د ازدحام او د موسیٰ ؑ د لکړي (مار) څخه به بېرېدل، نو فرعون دوی باعث کړه پر عدم استبطاء او امر يې کړه پر مبادرت و اجتماع ته.

لَعَلَّنَا نَتَّبِعُ السَّحَرَةَ إِن كَانُوا هُمُ الْغَالِبِينَ ﴿٤٠﴾

شايد موږ به متابعت وکړو د خپلو ساحرانو چې موږ راغونډ کړي دي که دوی د موسیٰ ؑ سحر باطل کړی او پر موسیٰ ؑ غالب سوه.

فَلَمَّا جَاءَ السَّحَرَةُ قَالُوا لِفِرْعَوْنَ أَئِنَّ لَنَا لَأَجْرًا إِن كُنَّا نَحْنُ الْغَالِبِينَ ﴿٤١﴾

ساحرانو په اول ملاقات کي و فرعون ته وويل. آيا په تحقيق به موږ ته مزدوري يعني انعام راکړل سي که وګرځېدلو موږ غالبه پر موسیٰ ؑ، دا ستفهام لپاره د تقرير دی يعني چې فرعون اقرار د انعام وکړي.

قَالَ نَعَمْ وَإِنَّكُمْ إِذًا لَّمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٢﴾

فرعون ووېل هو! (وانکم واذا، دا جمله عطف ده پر مضمون د نعم، يعني لکم اجرا وهو مضمون نعم) په دغه صورت کي چې تاسي غالبه وګرځئ زما د مقربو خلګو څخه به ياست يعني علاوه تر مزدوري، په بل ځای کي د قرآن مبارک داسي راغلي دي، چې ساحرانو و موسیٰ ؑ ته وويل اما ان تلقی (يعني عصاک) واما ان نکون نحن الملقين (يعني عصينا وحبالنا) کما في سورة الاعراف، نو دوی چې دا اختيار موسیٰ ؑ ته ورکړی.

قَالَ لَهُم مُّوسَىٰ أَلْقُوا مَا أَنتُم مُّلْقُونَ ﴿٤٣﴾

موسیٰ ؑ ووېل دوی ته چې واچوئ هغه شی چې اچوي تاسي په ميدان کي د مقابلې لپاره.

سوال: د موسیٰ ؑ خو دا يقين ؤ چې دوی سحر کوي او سحر خو کبيره ګناه ده، نو ده څرنګه امر د سحر وکړی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: موسیٰ خو په دې پوهېدی چې دوی خو سحر خامخا کوي، ولې چې خو دوی د سحر لپاره راغونډ کړې وه، نو دا خبره صرف اذن دی د موسیٰ ﷺ له خوا ځکه په تقدیم کې د خپل سحر توسلاً الی اظهار امره.

﴿فَأَلْقَوْا حِبَالَهُمْ وَعِصِيَّهُمْ وَقَالُوا بِعِزَّةِ فِرْعَوْنَ إِنَّا لَنَحْنُ الْغَالِبُونَ ﴿٤٤﴾﴾

نو وغورځولې ساحرانو خپلې رسۍ ("حبال" جمع الحبل) او خپلې لکړې (عصي جمع د عصیٰ ده، روح البیان وایي چې اوویا زره (۷۰۰۰۰) لکړې وې او اوویا زره (۷۰۰۰۰) رسۍ وې. والله اعلم)

"وقالوا بعزة فرعون آه" ساحرانو وویل بعض مفسرین وایي چې کلمه د با لپاره د قسم ده، قال صاحب روح المعاني والظاهر ان هذا قسم منهم په عزت د فرعون علیه اللعنة پر خپل غالبیت پر موسیٰ ﷺ، او بعض مفسرین وایي چې دا دوی تبرک وکړی په عزت او غلبه او معبودیت د فرعون، ولې چې دده مملکت دا عقیده وه چې فرعون آله دی، او په بل ځای کې د قرآن مبارک راغلي دي چې دا ټولې رسۍ او لکړې ماران سوه د خلګو په سترګو کې او روح البیان وای چې په لکړو کې یې سیماب یعني پاره اچولې وه او رسۍ یې په سیماب ککښې کړي وې چې د لمر ګرمۍ ووهلې په حرکت راغلې انتهی.

درویش وایي: چې دا خو سحر نه دی دا خو هر څوک چې داغسې وکړي یعني په سیماب شی ککښ کړي په تودوخي د لمر حرکت کوي بلکې صحیح دا ده چې سحر او چشم بندي د خلګو یې کړې وه په سحر سره لکه په اوسنې زمانه کې هم ساحران چشم بندي کوي، دوی په یو مردار ځای کې ولاړ وي او تو لکه (شپېلۍ) یې په خوله کې وي او په هغې کې الفاظ د کفر او شرک وایي چې حاضرین یې تمیز نسي کولای، وروسته د یو سړي ځخه د لاس ساعت یا د جیب ساعت راواخلي یوه ډبره لاندې کېښېږدي او ساعت پر کېښېږدي په بله ډبره یې وهي، ساعت د خلګو په سترګو کې میده میده سي، د ساعت مالک ورته وایي چې زما ساعت دي ولې راماتي کړی، ساحر بیا تو لکه وږغوي چشم بندي پوره سي ساعت روغ رمټ وي، وهکذا نور ورته کارونه کوي، نو د فرعون د ساحرانو هم ورته کارنامه وه، او په بل ځای کې د قرآن مبارک راغلي وجاؤا بسحر عظیم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَلْقَىٰ مُوسَىٰ عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ ﴿٤٥﴾

نو موسیٰ ؑ لکړه وروغورځوله میدان ته، نو رسۍ د ساحرانو ناببره هغې لکړې د موسیٰ ؑ تېرولې یعني خوړلې یې هغه لکړې او رسۍ چې دوی په سحر سره ماران کرځولي وې (کلمه د ما موصوله ده والعائد محذوف، والتقدیر ما یقلبونه من الصورة الواقعیة الی الصورة الاخری) او یا کلمه د ما مصدریه ده یعني د دوی دروغ، فسمي المافوک بلفظ المصدر مبالغة، کریمه: قل جاء الحق وزهق الباطل ان الباطل کان زهوقًا.

درویش وایي: چې ساحران خو د سحر په ماهیت پوهېدله چې صرف تمویه او تزویر دی او صرف چشم بندي ده، نو که د موسیٰ ؑ دا هم سحر وای، نو هغه زموږ رسۍ او لکړې څه سوې د موسیٰ ؑ لکړه پر پخواني هیئت ده، نو دوی ته دا وبرېښېدل چې دا قدرت الهي دی او موسیٰ ؑ د خدای رسول دی.

فَأُلْقِيَ السَّحَرَةُ سَاجِدِينَ ﴿٤٦﴾

نو ساحران بلا تراخي، کما یدل علیه فاء العطف پر مخکه پرېوتل سجده کونکي دا سجده د شکر وه چې خدای ﷻ په موږ حق ولیدی، او د سحر څخه یې توبه وکښل.

قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٤٧﴾ رَبِّ مُوسَىٰ وَهَارُونَ ﴿٤٨﴾

او وویل چې زموږ ایمان دی پر رب د ټولو مخلوقاتو یعني بالتوحید وعدم الشریک له "رب موسیٰ وهارون" دا بدل دی د رب العالمین څخه.

فائده: دا بدل یې دفع ده د توهم دې چې فرعون به د دوی مراد وي، ولې فرعون خبیث خو هم ځان رب العالمین باله، نو که ساحرانو دا بدل نه وای راوړی، نو فرعون به سمدستي ورته ویل چې رب العالمین زه یم، او بل تنبیه پر دې ده چې زموږ سبب د ایمان لیدل د معجزې دي پر لاس د موسیٰ ؑ او هارون.

درویش وایي: چې فرعون بدي واخستی چې د ساحرانو قصه خو ستا پر ضرر تمامه سوه، نو د قوم د دفع د توهم لپاره او د تعنت له کبله یې دا وروسته خبره وکړه چې دوی دا توهم ونه کړی چې ساحران چې ایمان راوړي حق ورته معلوم سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ اٰمَنْتُمْ لَهٗ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ ۚ اِنَّهٗ لَكَبِيْرُكُمُ الَّذِيْ عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ ۚ

فرعون و ساحرانو ته وویل چې تاسې ایمان راوړی د مخه تر دې چې ما اجازه درکړې وای تاسې ته، په تحقیق دغه موسٰی ستاسې د ساحرانو مشر دی چې ده تاسې ته تعلیم د سحر کړی دی، غرض دده دا ؤ چې تاسې او موسٰی اتفاق سره کړی ؤ چې زه به دعوٰی د رسالت وکړم تاسې به ځان راته ملزم کړې.

فَلَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ۬ؕ

ژر دی چې تاسې به پوه سئ چې د فریب کونکي حال خراب دی، دا خو اجمالي تهدید او پیش رو فرعون ورکړی، او تفصیل یې په دې قول ورته وکړی.

لَاُقَطِّعَنَّ اَيْدِيَكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ مِّنْ خِلَافٍ وَّلَاُوصَلِّبَنَّكُمْ اَجْمَعِيْنَ ۚ

هر آئینه زه به پرې کړم (یعني زما په امر به عسکر پرې کړي). لاسونه ستاسې او پښې ستاسې سره مخالف یعني راسته لاس چپه پښه.

فائده: باب د تفعیل دلته د کثرت لپاره دی ولې چې ایدي او پښې خوډېرې وي او وروسته تر پرې کولو دلاسو او پښتو به تاسې په دار کړم پر غاړه د رود نیل تا چې نور مخالفان د تاسې څخه عبرت واخلي. کاشفي وایي: وهر آئینه بردار کنم همهٔ شما را ای علی شاطئ البحر تا بمیرید وهمه مخالفان ربوبیت ما عبرت گزیده آه.

قَالُوْا لَا ضَيْرَ ۖ اِنَّآ اِلٰى رَبِّنَا مُنْقَلِبُوْنَ ۚ

ساحرانو مؤمنانو فرعون ته وویل ضرر نشته پر موږ (ضیر مصدر دی) ولې چې اول د شهادت لویه رتبه به پیدا کړو او بل اجر جزیل من الله تعالی چې د دغو دوو نعمتو په مقابل کې مصائب دنیویه هیڅ شی نه دي، موږ خدای ﷻ ته ورتلونکي یو په یو سبب د اسبابو د مرګ او ستا د خوا قتل زموږ ښه او بهتره طریقه ده د مرګ، دا جمله تعلیل او دلیل ده د دغه جملې لا ضیر.

اِنَّا نَطْمَعُ اَنْ يَّغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطٰيٰنَآ اَنْ كُنَّآ اَوَّلَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۚ

په تحقیق موږ طمع او امید لرو چې و به بخښي موږ ته رب زموږ ګناهونه زموږ چې په وخت کې د کفر زموږ څخه صادر سوي وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي ان علت دی د ماقبل ای لان له دې سببه چي موږ اول د مؤمنانو یو (یعني د اتباع د فرعون که څه هم نورو کسانو د بني اسرائیلو تر دوی د مخه ایمان راوړی و، یا معنی داده چي اول د مؤمانو به یو چي په داسي عذاب شدید قتل کړه سوو) سعدي شیرازي رح د ورته شهداؤ په باره کي وایي:

د مادم شراب الم در کشند ..... و گر تلخ بینند دم در کشند
نه تخلیست صبری که بریا اوست ..... که تلخی شکر باشد از دست دوست

حافظ شیرازي وایي:

عاشقان را اگر در آتش می پسند د لطف یار
تنگ چشم گر نظر در چشمه کوثر کنم

اگر بلطف بخوانی مزید الطاف است ..... و گر بقهر برانی درون ماصافست

درویش وایي: چي کلونه کلونه موسیٰ ع د فرعون سره په تبلیغ او انذار بوخت و او نهه معجزې یې په اوړدو کي د کلو یو پر بله پسې ښکاره کړې، لکن د فرعون ورځ په ورځ عتو او سرکښي او نعره د انا ربکم الاعلی نوره په زور کېدله او دریاب د حلم د خدای ﷻ لبریز سو او وخت ددې راورسېدی چي دغه باغي ته سره د قومه سخت عذاب ورکړي، نو خدای پاک و موسیٰ ع ته وویل، چي حکایت یې دا دی.

وَأَوْحَيْنَا إِلَىٰ مُوسَىٰ أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِي إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ﴿٥٢﴾

موږ وحي وکړې و موسیٰ ته چي د شپې وباسه یعني د مصر څخه زما بندګان یعني بني اسرائیل چي پر موسیٰ ع یې ایمان راوړی و، په تحقیق په تاسي پسي فرعون او قوم دده دروځي (ددې لپاره چي تاسي واپس مصر ته راولي) قال البغوي رح چي خدای ﷻ وحي وکړې و موسیٰ ع ته چي څلور څلور کوره د بني اسرائیلو په یوه یوه کور کي سره جمع کړه بیا پسونه ذبح کړئ او دروازې په وینو ور رنګ کړئ، ولي زه ملکي دراستوم او ملکي هغه کور ته نه ورځي چي دروازه یې په وینو سره وي، او زه به ملکي امر کړم چي هغه تو بنه د آل فرعون او ددوی د مواشیو قتل کړي، او بیا تاسي پتیري پخې کړئ، ولي چي پتیري ژر ژر پخېږي، بیا نو زما بندګان بني اسرائیل وه باسه تر بحر قلزوم پوري، هورې به زما امر د هلاک د فرعون

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او دده قوم وويني، موسیٰ ؑ هم داغسي وکړه، فرعونيانو چي سهار راکښېښستل وه يې ليدل چي ابکار د ښځو او مالو يې قتل سوي دي، فرعون يې په دې ماجرا خبر کړی چي بني اسرائيل په شپه کي داسي ناوړه کار کړی دی او دوی تښتېدلی دی.

فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِي الْمَدَائِنِ حَاشِرِينَ ﴿۵۳﴾

"فارسل فرعون" نو واستول فرعون.

پوهه: چي دا جمله عطف ده پر مقدر باندي، تقديره فاسرى موسیٰ ببني اسرائيل فبلغ الخبر الى فرعون، واراد ان يتبعهم "في المدائن حاشرين" په ښارو کي جمع کونکي د خلکو. والمراد المدائن القريبة دی ومصر ته چي ژر سره راغوند سي چي په بني اسرائيلو پسي ژر تر ژره ورسېږو او رواوه يې کړخوو.

إِنَّ هَؤُلَاءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ﴿۵۴﴾

بتقدير قائلاً لهم چي دغه بني اسرائيل يوه ډله ده لږ.

فائده: شرزمة په عربي لږو خلکو ته وايي، نو قليلون يې تاکيد دی يعني په غايت قلت کي دی.

درويش وايي: چي په روح المعاني کي وايي چي ابن ابی حاتم له سدي ؒ څخه روايت کړی دی چي موسیٰ ؑ چي بني اسرائيل له مصر څخه وه ايستل شمېر يې شپږ لکه شل زره (۶۲۰۰۰) وُ په دې شمېر کي د شلو کالو سړی په سبب د صغر سن نه وو حساب، او د شپېتو کالو سړی په سبب د کبر سن نه وو حساب، او فرعون پر مقدمة الجيش هامان چي دده وزير وُ په يو کرور او وه لکه کسانو کي واستاوه، او خيله فرعون په ډېره لويه ډله کي چي شمېر يې نه کېدی، لکن مقدمه د فرعون د خصوصي فوج او وه لکه خلګ وه او هر يو پر ښه ښه آس سپور وُ او پر سر بې يې خولی وه، وروسته روح المعاني ويلي دي چي په دې کي خو شک نسته چي عدد د بني اسرائيلو خو تر قوم د فرعون ډېر کم وُ لکن اخبار د قوم فرعون په عدد کي لاتكاد تصح وفيها مبالغات خارجة عن العادة دی، وايي چي مشهوره په يهودانو کي داده چي بني اسرائيل چي له مصره وتل شپږ لکه کسان وه ماسوی له اطفالو، او دا صريح په تورات کي چي د يهودانو په لاسو کي دی موجود دی وانتهی والعلم عند الله تعالی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي دا اعداد که د بني اسرائيلو دي او که د فرعونيانو دي سراسر غلطه ده، ولي د و مره عدد د انسانانو په غټو ممالکو کي د دنيا نسته خصوصًا مصر چي نسبت و نورو مملکتو ته ډېر کم دی، لکن ده دا منلې ده چي قلة د بني اسرائيلو نسبت و جنودو ته د فرعون مسلم دی، دا و تحقيق د دې مقام په تلاش د فقير من التفاسير.

وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَائِظُونَ ﴿٥٥﴾

او دوی يعني بني اسرائيلو موږ په غم او غصه او بغض کي اچولي يو، چي دوی زموږ د مريتوبه غاړه ولي غړول.

وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَاذِرُونَ ﴿٥٦﴾

او موږ ټوله خيل قوم او اتباع د بني اسرائيلو له کيده څخه بېرو و، يعني که چېري تعقيب د دوی ونه کړل سي او بيرته رد نسي لوی غم به راته جوړ کړي، او بعض مفسرين رح د حاذرون ترجمه کوي چي موږ سلاح د جنګ لرو او په قانون د جنګ ښه پوهېږو و بخلاف قوم موسٰی ؑ چي نه کامله سلاح لري او نه جنګ ازموده ګان دي.

فَأَخْرَجْنَاهُمْ مِنْ جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿٥٧﴾ وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ﴿٥٨﴾

نو وه ايستل موږ دوی يعني فرعون او قوم دده.

پوښتنه: دوی خو په اختيار ووتل، نو نسبت د اخراج خدای ﷻ و ځان ته ولي وکړی؟

ځواب: دا اسناد مجازي دی، يعني اسناد سبب ته د اخراج دی، ولي د دوی په زړو باعث د وتلو په بني اسرائيلو پسي خدای ﷻ پيدا کړی.

"من جنات" له باغو څخه او له جاري ابو څخه چي په مصر کي دوی درلوده او د خزانو د سرو او د سپينو زرو چي په څلور سوه کاله سلطنت کي دوی سره جمع کړي وه، او د ښو ښو بنګلو او د ښو ښو د مجلسو د ځايو څخه چي د امراؤ او د رئيسانو سره مناسب ځايونه وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كَذٰلِكَ ۖ وَأَوْرَثْنٰهَا بَنِىٓ إِسْرٰٓءِيلَ ﴿٥٩﴾

"كذالک" خبر د مبتداء محذوف دی ای الامر کذالک، داغه رنگه او موږ په میراث ورکړه دغه جنات او عیون او کنوز، مقام کریم ددوی و بني اسرائیلو ته چې خدای ﷻ په خپل قدرت سره فرعون او قوم دده غرق کړه، خدای ﷻ رد کړه بني اسرائیل بیرته مصر ته و اعطاهم جمیع ما کان لفرعون وقومه من الاموال والمساکن.

پوه سه: چي اطلاق د میراث مجاز دی ولې چې قبطیان او بني اسرائیل خو سره هم نسب نه وه.

فَأَتْبَعُوهُم مُّشْرِقِينَ ﴿٦٠﴾

نو پسي راووتل یعني فرعون او قوم دده په بني اسرائیلو پسې په داسې حال کې چې دوی داخل سوه په راختلو کې د لمر (مشرقین حال دی له ضمیر څخه د فاعل یا د مفعول به له دې سببه چې عامل د فاعل او د مفعول په اشراق الشمس یو وخت ؤ)

فَلَمَّا تَرٰٓءَا ٱلْجَمْعٰنِ قَالَ أَصْحٰبُ مُوسٰىٓ إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ﴿٦١﴾

پس هغه وخت چې سره ولیدل دا دوو جماعتو یعني بني اسرائیل او قبطیانو یو د بل سره یعني سره نژدې سوه چې سره وه یې لیدل، نو وویل اصحابو د موسیٰ ؑ چې بني اسرائیل دي چې په تحقیق موږ به ونسي یعني موږ خو طاقت ددوی د جنګ نه لرو.

قَالَ كَلَّآ ۖ إِنَّ مَعِىَ رَبِّى سَيَهْدِينِ ﴿٦٢﴾

وویل موسیٰ ؑ چې نسي را پسي رارسېدلای (نو کلا حرف ردع دی ولې چې دده اعتماد ؤ پر وعده د خدای ﷻ) په تحقیق زما سره خدای ج ملګری دی بالعون والنصر، نو ژر دی چې ما ته به وښیي لار د خلاصون له قبطیانو څخه.

فَأَوْحَيْنَآ إِلٰى مُوسٰىٓ أَنِ ٱضْرِب بِّعَصَاكَ ٱلْبَحْرَ ۖ

موږ وحي وکړې و موسیٰ ؑ ته (ان مفسره دی لاوحینا لما فیه من معنی القول) ووهه په لکړه ستا بحر یعني رود نیل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَانْفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيْمِ ﴿٦٣﴾

نو سره كوڅې كوڅې سو رود نيل (عطف دى پر محذوف يعني موسىٰ بعصاه البحر فانطلق) نو وګرځېد له هره حصه د اوبو لكه غر چي ډېر غټ وي چي ثابت پر خپل ځاى وي.

پوه سه: چي بني اسرائيل چونكه دوولس پښې يعني قومونه وه، نو په يوه لار كي د درياب په عجولانه حال كي نسواى داخلېداى، نو موسىٰ ؑ په ضرب عصا يو ځاى بل ځاى دوولس لاري ورته جوړي كړې هر سبط په يوه لاره كي راهي سو.

وَ أَزْلَفْنَا ثَمَّ الْآخَرِيْنَ ﴿٦٤﴾ وَ أَنْجَيْنَا مُوْسٰى وَ مَنْ مَّعَهٗۤ أَجْمَعِيْنَ ﴿٦٥﴾

او رانژدې كړه موږ دغه ځاى ته هغه نور خلك يعني فرعون وقومه، او نجات وركړى موږ و موسىٰ ته او چي د ده سره وه يعني بني اسرائيل ټولو ته چي د درياب اوبه له بهېدلو څخه منع ړې.

سوال: د درياب كوڅې چي پيدا سوې، نو خو به خالص ختې وې او تګ به ډېر سره په تكليف ؤ؟

ځواب: په بل ځاى كي د قرآن مبارك راغلي دي طريقا يبسا.

ثُمَّ أَغْرَقْنَا الْآخَرِيْنَ ﴿٦٦﴾

وروسته تر عبور د بني اسرائيلو غرق كړه موږ هغه نور يعني فرعون وقومه، ولي چي موسىٰ ؑ په امر د خداى ﷻ درياب ته امر د بهېدلو وركړى.

إِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً ؕ وَ مَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٦٧﴾

په تحقيق په دې نجات كي د بني اسرائيلو او اغراق د فرعونيانو كي دليل واضح دى پر قدرت عظيمه د خداى ﷻ او پر صدق د موسىٰ ؑ په دعوه كي د رسالت، نه وه ډېر خلك د قوم قبط څخه مؤمنان، داسي روايت راغلى دى چي پر موسىٰ ؑ ايمان له اتباعو څخه د فرعون يوې آسيې امرئة فرعون حزئيل مؤمن آل فرعون وهو الذي ذكره الله تعالى في موضع آخر بقوله يكتم ايمانه او د هغه زوجه ومريم بنت ناموسيا چي موسىٰ ته ځاى د قبر د يوسف وروښووى په رود نيل كي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِیْزُ الرَّحِیْمُ ﴿۶۸﴾

په تحقیق ستا خدای (ج) یا محمد (ﷺ) هر آئینه غالب دی پر انتقام له دښمنانو ځنځه لکه فرعونیان چي یې غرق کړه او مهربان دی پر دوستانو خپل لکه چي موسیٰ ؑ او بني اسرائیل یې له غرق ځنځه خلاص کړه.

وَاتْلُ عَلَیْهِمْ نَبَاَ اِبْرٰهِیْمَ ﴿۶۹﴾

او تلاوت کړه یا محمد ﷺ پر اهل مکه باندي.

پوه سه: چي نباء خبر عظیم الشان ته وایي، او تلاوت هو القرائة علی سبیل التتابع یعني پر له پسې ته وایي.

اِذْ قَالَ لِاَبِیْهِ وَقَوْمِهٖ مَا تَعْبُدُوْنَ ﴿۷۰﴾

"اذ قال" متعلق دی په محذوف پوري ای اذکر "لابیه وقومه" چي وویل خپل پلار ته چي آزر یې نوم وُ، مظهري ؒ وایي چي آزر د ابراهیم ؑ اکا وُ پلار یې نه وُ، پلار یې مجازاً بللی دی.

درویش وایي: چي دا قول د مظهري ؒ مخالف دی د تولو مفسرینو ځنځه بلکي د صریح حدیث ځنځه چي روایت یې بخاري کړی دی، حیث ورد في الحدیث المذکور یلقی ابراهیم ابیه آزر في النار، والحدیث طویل اوردته علی سبیل الاختصار، وما الباعث علی المظهري علی التاویل البعید في القرآن والحدیث المذکور في البخاري.

"ماتعبدون" تاسي د ځه شي عبادت کوئ؟ دا سوال یې له دې سببه دده وکړی چي دوی اقرار وکړی ابراهیم ؑ به رد پر کړي.

قَالُوْا نَعْبُدُ اَصْنَامًا فَنَظَلُّ لَهَا عٰكِفِیْنَ ﴿۷۱﴾

دوی ورته وویل چي موږ عبادت د بتانو کوو (د نظل معنی په دې ځای کي د تدوم ده) یعني موږ همېشه د دغو بتانو په عبادت مشغوله یو.

پوه سه: چي د ابراهیم ؑ قوم چي په بابل کي چي د یو ځای نوم دی په عراق کي چي نسبت د سحر تولـه و بابل ته کوي اوسېدل.

سوال: دا پوښتنه به مستدرک نه وي، ولي چي ابراهیم ؑ خو په خبر وُ چي دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د بتانو عبادت کوي، والجواب ماقدر مر آنفًا.

سوال: قوم ولې جواب تر سوال اوږد کړی، ولې چې د ابراهیم⁴ خو دا قدر کافي وه نعبد اصنامًا؟

ځواب: لپاره د افختار په عبادت د اصنامو.

فائده: عکوف لزوم ته وايي واشتق منه لفظ المعتکف شرعًا، ولې چې معتکف هم لزوم د مسجد لازم ګرځولی دی پر ځان حسب ما نوی من الایام واللیالي.

فائده: دا بتان دوی دوه اوویا (۷۲) بتان وه، بعض د سرو زرو وه بعض د سپینو زرو وه، بعض د اوسپنې وه، او بعض د مسو وه، او بعض د لرګي وه، کما في فتح الرحمن.

قَالَ هَلْ يَسْمَعُونَكُمْ إِذْ تَدْعُونَ ﴿۷۲﴾

ابراهیم⁴ ورته وویل چې دوی ستاسي خواست اوري؟ یعني نفع یې در رسېږي چې دیو مهم کار خواست ورته وکړئ. قال ابن عباس ﷺ معناه هل یسمعون لکم (یعني په عبارت د قرآن حذف د لام دی او ایصال د فعل دی وه مدخول ته د لام، نو له دې سببه یې معنا نفع ده چې لام لپاره د نفع دی او د وروستي عبارت قرآني څخه هم دغه فهمېږي.

سوال: اذ خو مخصوص دي په ماضي سره، دلته پر مضارع څرنګه داخل سو؟

ځواب: دا حکایت د حال ماضیه دی.

أَوْ يَنْفَعُونَكُمْ أَوْ يَضُرُّونَ ﴿۷۳﴾

او دا بتان تاسي ته نفع او یا ضرر رسولای سي وه یو چا ته نفعه وهغه چا ته چې ددوی عبادت کوي او ضرر وهغه چا ته چې ددوی له عبادت څخه روی ګرداني وکړي او یا ددوی سپکاوی وکړي.

قَالُوا بَلْ وَجَدْنَا آبَاءَنَا كَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ ﴿۷۴﴾

بل لپاره د اضراب دی له نفع او ضرر څخه د بتانو، بلکې موږ اقتداء کړې ده په خپلو پلرو او نیکه ګانو پسي چې هغو د دغو بتانو عبادت کاوه.

قَالَ أَفَرَأَيْتُمْ مَا كُنْتُمْ تَعْبُدُونَ ﴿۷۵﴾ أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمُ الْأَقْدَمُونَ ﴿۷۶﴾

ابراهیم⁴ ورته وویل لپاره د بېزاری له عبادة الاصنام څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چي همزه لپاره د تقرير دی، ای حمل المخاطب على الاقرار، والفاء للعطف على محذوف، تقديره انظرتم فابصرتم او يا تاملتم فعلمتم فرئيتم (پر اول تقدير رؤيت بصري دی پر دويم تقدير رؤيت علمي دی) ما كنتم، ما عبارة د بتانو څخه دی، والمعنى هغه شی چي تاسي يې عبادت کوئ چي بتان دي تاسي او ستاسي پلرونه او نکه ګان چي د مخه تېر سوي دي.

درويش وايي: چي پر دې تقدير کلمه د ما موصوله ده، او موصول سره د صلې مفعول اول دی د رئيتم، او دويم مفعول يې محذوف دی ای عبثًا، او دا هم روا ده چي کلمه د ما دي استفهاميه وي او جمله استفهاميه دي قائم مقام د مفعولي د رئيتم وي.

فائده: وصف د آباؤ چي په تقدم سره يې وکړی د دې لپاره چي په تقدم سره باطل حق نه ګرځي او نه تقدم دلالت پر صحت د شي دليل ګرځېدای سي.

فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّيٓ إِلَّا رَبَّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٧٧﴾

هغه بتان زما دښمنان دي، يعني که يې زه عبادت فرضًا وکړم زما دښمنان دي، مګر نه خدای جل جلاله.

بوه سه: چي ابراهيم ؑ د عداوت نسبت وه ځان ته وکړی پر تقدير د عبادت اشعار او تنبيه يې پر دې وکړه چي دغه بتان چي تاسي يې عبادت کوئ ستاسي دښمنان دي، ولي تاسي ته ضرر در رسېږي په سبب د عبادت د دوی فوق ما يتضرر رجل من عدوه الظاهر فان عبادتها سبب لدخول النار ابدًا.

بوه سه: چي دا نصيحت د ابراهيم ؑ و چي اول يې نسبت د عداوت و ځان ته وکړی، عادت د ناصح کريم دی.

پوښتنه: ابراهيم ؑ ولي نسبت د عداوت و دوی ته صراحةً ونه کړی چي تعريض يې صرف وکړی؟

ځواب: علماء وايي چي تعريض انفع دی تر تصريح په نصيحت کي، ولي په تصريح کي وينه د مخاطب په جوش راځي خصوصًا المخاطب مثل قوم ابراهيم الاشدا کفرًا وزورًا، د دې تعريض يو زيبا مثال دا قول د ناصح امين دی کما حکی الله تعالى ومالي لا اعبد الذي فطرني، چي نسبت د عدم عبارت د خالق خپل يې وځان ته وکړی، والمعنى التعريض مالكم لاتعبدون الذي فطركم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: ابراهيم عليه السلام بتان خپل دښمنان وبلل او سره ددې چې بتان خو جمادات دي لايتصور فيها العداوة؟

ځواب: دا بناء پر مجاز ده، ولې چې مشركانو ته خو ضرر د بتانو د عبادت د خوا ورسېدى، نو ضرر خو د دښمن له خوا څخه وچا ته رسېږي، نو دا بتان ګويا ددوى دښمنان دي. او يا په اعتبار د مايؤل اليه يعني مآل بى صراحة عداوت وي يعني په ورځ د قيامت قال الله تعالى: سيكفرون بعبادتهم ويكونون عليهم ضداً كما في قوله تعالى في سورة يوسف[۴]: انى اعصر خمراً، دې سړي خو انګور چو ختانول چې مآل يې شراب وه.

سوال: عدو خو مفرد دى، نو حمل يې پر ضمير د جمع څرنګه دى يعني فانهم؟

ځواب: عدو په اصل كې مصدر دى كالقبول او په مصدر كې مفرد او جمع برابر دي او يا په تقدير د كل معبود لكم فهو عدولي، ولفظ كل مفرد، او بعض علماء وايي چې اطلاق د عدو او صديق پر مفرد او جمع دواړو روا دى.

قانون: هر صفت چې پر وزن د فعول وي لكه عدو او يا د فعيل وي په مفرد او جمع دواړو كې مستعملېږي كما يقال زيد عدو وقوم عدو وزيد صديق و قوم صديق.

پوهېږه: چې "الا رب العالمين" استثناء من ضمير انهم عند جماعة ومنهم الفراء واختاره الزمخشري، والمعنى لكن رب العالمين ليس كذالك فانه جل سلطانه وعظمت رحمته، يعني ولې د هغه چا دى چې دده په وحدانيت سره عبادت كوي په دنيا او آخرت كې، كريمه: الله ولي الذين آمنوا الآية، او زجاج وايي چې دا استثناء متصل ده من ذالك الضمير چې راجع و "ماتعبدون" ته وُ، ولې چې مشركانو د خداى جل جلاله عبادت هم كاوه او د بتانو دا هم.

سوال: نو ددوى په عبادت يې تخصيص د بتانو ولې وكړى؟

ځواب: راوړل د بتانو لپاره د رد پر دوى دى لپاره د حصر د عبادت ددوى پر بتانو نه دى، او كه چېرې دا ومنل سي چې عبادت ددوى مقصور پر بتانو وُ؟ نو جواب دا دى چې دوام عكوف ددوى مقصود پر بتانو وُ وذالك لاينافي عبادة الله تعالى احياناً.

الَّذِيْ خَلَقَنِيْ فَهُوَ يَهْدِيْنِ ﴿۷۸﴾

هغه خداى چې زه يې پيدا كړى يم او دى وما ته هدايت كوي (مضارع لپاره د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

استمرار د یعني علی الدوام ماته لار راښيي) قانون او عادت رباني دادی چي هر مخلوق چي د کوم شي لپاره خدای ﷻ پیدا کړی وي له کاره څخه د معاش او معاد د هغه لار ورښيي، کریمه: والذي قدر فهدی.

پوه سه: چي د خدای پاک هدایت له ابتدا، څخه د ایجاد تر منتهی پوري د اجل جاري دی جلب د منافعو هم په هغه هدایت کوي او دفع د ضررو هم په هغه هدایت کوي او پای د هدایت د خدای ﷻ جنت او لذائذ د جنت دي.

فائده: دا اول موصول سره د صلې صفت د رب العالمین دی او یا خبر د مبتداء محذوفي دی ای هو الذي خلقني آه، او یا منصوب محلاً دی په اعني محذوف سره او موصولات دري وروسته پر هغه عطف دی.

وَالَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ ﴿٧٩﴾

او هغه خدای ﷻ دی چي ماته خوراکي مواد راکوي چي هر شی چي دده مشیت او اراده وي او ماته مشروبات راکوي چي دده اراده وي.

پوښتنه: دغه موصولات سره د صلاتو خو په رب العالمین کي چي معنی یې تربیه کونکی ده بما یحتاجون الیه درج دی، فما الفائدة في ایراد تلک الموصولات مع صلاتها؟

ځواب: اندراج مذکور خو مسلم دی لکن اجمالاً چي هر څوک په اندراج نه پوهیږي فذکرها تفصیلاً انفع خصوصاً للاذهان القاصرة.

سوال: موصولات یې مکرر ولي راوړه، بلکي یو موصول به یې راوړی وای، د هغه پر صله د نورو موصولاتو صلات به یې عطف کړي وای؟

ځواب: حکمت الهي په تکرار کي د موصولاتو سره د صلاتو دادی چي هر صله مستقل ده په بیان کي د ربوبیت د خدای ﷻ فافهم.

وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ ﴿٨٠﴾

او چي زه یو وخت ناجوړی سم، خدای ﷻ شفاء راکوي ماته (پوه سه! چي کسره د نون د لیل ده پر یاء محذوفه باندي) په دې کي غرض دا دی چي شفاء په حقیقت کي د خدای ﷻ له خوا څخه ده نه د طبیبانو له خوا څخه ردًا علی ما یقول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اهل الجاهلية في زمن ابراهيم چي مرض د زمانې د يخ يا د ګرمۍ يا د نا مناسبو غذاؤ څخه رونما كېږي، او شفاء د طبيبانو او د دواوو څخه پيدا كېږي، نو ابراهيم ﷺ دوی ته تنبيه وركړې چي هغه ذات چي مرض نازلونكی دی هغه ذات شفاء وركونكی هم دی يعني الله ﷻ لكن ابراهيم ﷺ يې نسبت و ځان ته وكړی يعني داسي يې نه وويل: واذا امرضني او نسبت د شفاء يې و خدای ﷻ ته وكړه سره ددې چي دواړه د خدای ﷻ له خوا څخه دي رعايةً لحسن الادب مع الله ﷻ.

فائده: دا عبارت يعني واذا مرضت آه تر هغه عبارت چي والذي هو يطعمون آه. وروسته راوړی دی له دې سببه چي مرض غالبًا د ماكولاتو او مشروباتو څخه پيښېږي.

وَالَّذِىْ يُمِيْتُنِىْ ثُمَّ يُحْيِيْنِ ۝۸۱

او هغه ذات دی چي ما وژني په دنيا كي او بيا مي وروسته ژوندی كوي په آخرت كي.

پوښتنه: نسبت د موت يې و خدای ح ته وكړی ولي چي د مرګ احساس خو مړی نه سي كولای احساس چي كېږي د مقدماتو د موت كېږي وهي الامراض، او بله خبره په دې نسبت كي داده چي موت د اهل كمال يعني اولياء الله لپاره د نعمت دی، ولي چي دنياوي تكليفونه ټوله ځني دفع سي او الهي نعمتونه ور رسېږي چي د هغو نعمتو زېری په قبر كي پر كړل كېږي، ولذا قيل الموت جسر يوصل الحبيب الی الحبيب، وفي المثنوي.

بس رجال از نقل عالم شادمان .... وز بقايش شادمان اين كودكان
چونكه آب خوش نديد آن مرغ كور .... پيش او كوثر نمايد آب شور

حكايت: د يو دوست د خدای ﷻ ناجوړی ؤ رنګ يې ژړ ؤ او بدن يې ضعيفه ؤ، چا ورته وويل چي يو طبيب به راوغواړو چي تا ته ددې مرض دوا دركړي، دده ورته وويل الطبيب امرضني، زه طبيب ناجوړی كړی يم، بيا يې دا شعر وواية:

كيف اشكو الی طبيبی مالی .... والذي بی اصابنی من طبيبی

وقيل ولنعم ماقيل: راوي وايي چي يو صحرائي ؤ په زمانه كي د آنحضرت ﷺ چي دا بيتونه يې ويل:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قد لسعت حية الهوى كبدی .... فلا طبیب لها ولا راقي
الا الطبیب الذي شغفت به .... فعنده رقیتي وتریاقي

علیه الصلوة والسلام هغه صحرائي امر کړی په تکرار د دغو بیتو، کذا في هوامش المکتوبات الشریف لمجدد الف الثاني قدس سره السامي.

وَالَّذِيٓ أَطۡمَعُ أَن يَغۡفِرَ لِي خَطِيٓـَٔتِي يَوۡمَ ٱلدِّينِ ﴿٨٢﴾

او هغه خدای ﷻ چي زه طمع او امید لرم چي ماته دي را وبخښي خطایا زما په ورځ کي د جزاء یعني یوم القیامة.

فائده: لفظ د طمع یې راوړی او عزمًا یې نه وویل لکه په ماقبل کي یعني فهو یهدین، ویطعموني ویسقین فهو یشفین الی غیر ذالک دپاره د ادب یعني هضمًا للنفس، او یا ددې لپاره چي بنده لره نه ښایي چي ځان به له ګناه څخه پاک بولي بلکي همېشه به په منځ کي د خوف او رجاء وي، او بل ځواب دادی چي ابراهیم ﷺ دا خبره وکړه لپاره د تعلیم د امت چي له معاصي وو څخه پر حذر اوسي، او طلب د بخښي دي کوي لما صدر عنهم، او بل ځواب دادی چي ده چي دا خبره وکړه ددې لپاره یې وکړه چي یو وخت به عمل په رخصت وکړم شفقةً على الامة عزیمت به مې پرې ایښی وي، یا یې ددې لپاره وویل چي یو وخت به زما څخه صغائر خطایا صادر سوي وي من قسم حسنات الابرار سیئات المقربین کما ان درجات النبیین ودرجات المقربین على حسب تفاوتهم فافهم.

درویش وایي: چي د تفسیر کبیر للامام الرازي رح توجیه ددې آیت واورېدل، چي پر هغه باندي مظهري رح په لویه منهیه کي رد کړی دی او داسي یې ویلي دي قول الرازي رح هذا ضعیف بیا یې اوږد عبارت سره د وجه د ضعف بیان کړی دی، او مظهري د تفسیر په طرز کي دا خبره کړې ده لانها معاریض لاخطایا الی اخیره، ورده صاحب روح المعاني ردًا قویًا فطالعه.

د فقیر مقصود دادی چي تفسیر ددې آیت معرکة الآراء دی لهؤلاء الفحول، نو ما د رد او د جواب څخه ددوی شفقةً على متعلمي التفسیر الایوبي ځان ګوښه وساتی وفیما ذکرناه کفایة للمتعلمین والله الموفق والمعین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: دا ټوله خبري او موصولات سره د صلاتو چي ابراهیم د رب العالمین په باره کي کړي دي رد دی پر مشرکانو د قوم، یعني چي دغه مذکوره صفات او افعال چي په یو شي کي نه وي د عبادت وړ نه دي، او ستاسي بتان چي جمادات دي یو له دغو صفاتو پکښي نسته بلکې ادنی الادنی هم نسته پکښي، کریمه: وان یسلبهم الذباب شیئًا لایستنقذوه الآیة.

رَبِّ هَبْ لِي حُكْمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ ﴿٨٣﴾

یا ربه زما ته ماته هبه کړې علم کامل د شریعت او د شیانو او اعمالو کولو چي ته په راضي کېږې په بشپړه توګه چي د خلافت او د ریاست د امت مسلمه وګرځم، او ته ما په ډله کي د صالحانو بندګانو حساب کړې یعني الانبیاء المعصومین ؑ.

وَاجْعَل لِّي لِسَانَ صِدْقٍ فِي الْآخِرِينَ ﴿٨٤﴾

درویش وایي: چي چونکه لسان آله د ذکر ده نو ځکه مفسرین په یوه خوله ددې آیت داسي ترجمه کوي، وګرځوې ما لره ذکر حسن په ټولو امتو کي چي تر ما وروسته راځي، او مراد دادی چي ژبه ددوی زما په باره کي صادق وګرځوې. دا دعاء د ابراهیم ؑ په دربار کي د رب العزت په اجابت رسېدلې ده. ولي چي وروسته تر ده هر څو انبیاء چي راغلي دي د ابراهیمیت نعره یې بلنده کړې ده حتی چي مشرکان د مکې هم دعوی د ملت ابراهیمي کوي.

وَاجْعَلْنِي مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ النَّعِيمِ ﴿٨٥﴾

او وګرځوه ما یا الله د میراث وړونکو څخه د جنت چي ځای دی د لویو نعمتو، وفي الحدیث الصحیح ان في الجنة ما لا عین رئت ولا اذن سمعت (یعني بالتفصیل) ولاخطر علی قلب البشر، یعني نه د چا پر زړه تصور د نعمتو د جنت راګرځېدلی دی آه.

وَاغْفِرْ لِأَبِي إِنَّهُ كَانَ مِنَ الضَّالِّينَ ﴿٨٦﴾

بخښنه وکړې زما و پلار ته، په دې معنی نه چي سره د شرک بخښنه ورته وکړې، بلکې مراد دادی چي ته توفیق د ایمان ورکړې چي اهل د بخښنې وګرځي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په تحقیق دی زما پلار د مشرکانو گمراهانو څخه.

فائده: دا دعاء دابراهیم ﷺ و خپل پلار ته تر هغه وخته جاري وه چي دی مړ کېدی، چون اخیر الامر دی پر کفر مړ سو ابراهیم یې دعاء قطع کړه. والشاهد علیه قوله تعالی: ماکان استغفار ابراهیم لابیه الا عن موعدة وعدها ایاه فلما تبین له انه عدو لله تبرء منه.

وَلَا تُخْزِنِي يَوْمَ يُبْعَثُونَ ﴿۸۷﴾

ته ما مه ذلیل کوې او مه مي رسوا کوې، وبالفارسیة: رسوا مگردان، یعني که ترک د اولی راڅخه سوي وي چنانچه عمل په عزیمت سره اولی دی تر عمل په رخصت سره مثلاً روژه نیول په سفر کي عزیمت دی، او خوړل یې رخصت دی، نو انبیاء علیهم السلام کاهي شفقة علی الامة عمل په رخصت سره کوي.

سوال: څه ضرورت ؤ ولي چي ابراهیم ؑ په دې ښه خبر ؤ چي ما په ورځ د آخرت پر ترک د نه رسوا کوي؟

ځواب: په دې ځای کي اظهار د عبودیت او د جلال د خدای ﷻ دی، او امت پر دغه دعاء باعثه کوي، کاشفي په تفسیر حسیني کي وایي: این دعا نیز برای تعلیم امت است والانبیاء را خزی ورسوائی نباشد روز قیامت "یوم یبعثون" هغه چي د قبرو څخه بعث کېږي انسانان.

سوال: انسان خو دمخه نه دی ذکر سوی، نو اضمار قبل ذکر المرجع په نوي؟

ځواب: یا! ولي چي بعث خو عام دی، نو انسان هم پکښي داخل دی یعني انسان له لفظ څخه د بعث دمخه تر اضمار دده وفهمېدی.

درویش وایي: چي سمرقندي رح په تفسیر بحر العلوم کي وایي چي تر دې ځایه کلام د ابراهیم ﷺ ختم سو ثم وصف الله ذالک الیوم بقوله.

يَوْمَ لَا يَنفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ ﴿۸۸﴾

یوم بدل دی د یوم یبعثون څخه، والمعنی چي فائده نه کوي یعني هیڅ چا ته مال د دنیا او زامن د دنیا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِلَّا مَنۡ أَتَى ٱللَّهَ بِقَلۡبٖ سَلِيمٖ ﴿٨٩﴾

مګر هغه څاته چي ورسي وخاى ته د حساب د خداى ﷻ په داسي زړه چي سالم وي د شرک او نفاق او شک څخه يعني هغه ته مال د دنيا چي د خير په لار کي يې صرف کړي وي فائده ورته کوي، ولي چي خداى ﷻ يې ثواب ورکوي او هغه زامن نفع ورته کوي که ده په ژوند کي زامن په لار کي د خير او د اسلام او د تعلم او تعليم الى غير ذالک روزلي وي. بلکې کېداى سي چي صالحان زامن دي د پلار شفاعت وکړي او شفاعت د دوى دي قبول سي او پلار له دوږخ څخه خلاص سي. بغوي رح وايي چي دا قول د اکثرو مفسرينو دى، او سعيد بن جبير رح وايي: القلب السليم قلب المؤمن. وقلب الکافر والمنافق مريض.

درويش وايي: چي وهذا راجع الى الاول، وحاصل معنى الآية چي کافرانو که څه هم په دنيا کي خپل مالونه په امور کي د خير صرف کړي لکه صلة الرحم او اطعام المساکين وغير ذالک دوى ته په ورځ د آخرت فائده نه کوي لعدم شرطه وهو الايمان، او داغه رنګه زامن که څه هم صالحان وي بلکې که څه هم انبياء وي نفع نسي رسولاى و پلار ته په شفاعت کولو سره يا په استغفار سره په دنيا کي، کريمه: ماکان للنبي والذين آمنوا ان يستغفروا للمشرکين ولو کانوا اولى قربى الآية.

درويش وايي: چي دمخه تېره سوه چي مظهري رح وويل چي آزر د ابراهيم ؑ پلار نه ؤ اکا يې ؤ هورې هم ما رد پر کړى ؤ چي څه مجبوري ده چي د ظاهر د آيت يعني قوله تعالى واذقال ابراهيم لابيه آزر اه. مخالفت کېږي، او د ټولو مفسرينو له تفسير څخه چي ټوله وايي چي آزر د ابراهيم ؑ پلار ؤ، او فقير هورې ويلي دي چي قول د مظهري رح مخالف د حديث د بخاري هم دى چي ټوله حديث مي نه ؤ ذکر کړى. الحمدلله چي مظهري رح په خپله په جلد (٧) پاره (١٩) هغه حديث چي درويش صرف اشاره ورته کړې وه پوره راوړى دى، او په ابوة يې اقرار کړى دى، حيث قال المظهري رح: روى البخاري عن ابى هريرة رض عن النبي ﷺ قال يلقى ابراهيم اباه آزر يوم القيامة وعلى وجه آزر قترة وغبرة (يعني تور والى او ګرځوي) فيقول ابراهيم له الم اقل لک لاتعصيني فيقول له ابوه فاليوم لا اعصيک فيقول ابراهيم يا رب وعدتني ان لاتخزني يوم يبعثون فاي خزي اخزى من ابى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الابعد (يعني چي دوزخ ته ولاړ سي دا زما رسوايي ده، خداى پاك ورته وو ايي) اني حرمت الجنة على الكافرين (يعني ستا پلار خو كافر ؤ او پر كافر ما جنت حرام كړ ځولی دی، بيا ابراهيم ؑ ته وو ايي چي ته وګوره ستا تر پښو لاندي څه شی دی، دی چي وګوري په پښو كي يې زيږ (يعني يږ) وي چي په مردار يو ككړ وي تر پښو يې ونسي دوزخ ته يې وغورځوي.

وَأُزْلِفَتِ الْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٩٠﴾

او نژدي كړل سي جنت و متقينو ته تر ده يعني دوى لا تر دې وخته پوري په موقف كي د حساب وي دو مره يې را نژدي كړي چي دوى يې ووينې تا چي دوى خوشاله سي چي د غه ځاى زموږ مرجع له موقف څخه د حساب خلاص سو.

وَبُرِّزَتِ الْجَحِيمُ لِلْغَاوِينَ ﴿٩١﴾

او ښكاره كړل سي دوزخ و ګمراهانو ته يعني كافرانو ته چي دوى په ستر ګو ورته ګوري تا چي له دې موقف څخه يې غم ډېر سي چي زموږ خو د غه ځاى دی. بيضاوي رح وايي چي د متقينو په باره كي ازلفت چي په معنى د قرب دی وو ايه، او د غاوينو په باره كي يې و برزت وو ايه چي معنى يې نفس ظهور دی ترجيح يې وجانب ته د وعد وركړه.

پوهسه: چي دا دوې جملې يو پر بل عطف دي، او جمله اولی عطف ده پر لاينفع آه.

سوال: ازلفت وكذا برزت خو ماضي صيغې دي او سره ددې چي دا قرب او بروز خو د قيامت په ورځ كي دی چي مستقبل دی؟

خواب: چونكه دوه امره حتماً راتلونكي دي نو لكه ماضي داسي دي او په معطوف عليه كي چي مضارع راوړه دپاره د استمرار د عدم انتفاع والنفع.

وَقِيلَ لَهُمْ أَيْنَمَا كُنْتُمْ تَعْبُدُونَ ﴿٩٢﴾

وه به ويل سي و غاوُن ته.

پوهسه: چي اين د استفهام د توبيخ لپاره دی، او كلمه د ما عبارت دی ل بتانو څخه والمعنى چيري دي هغه بتان چي تاسي يې عبادت كاوه په اميد د شفاعت يوم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القيامة، او دا به مو ویل هؤلاء شفعائنا، زموږ شفاعت کونکي دي په ورځ د قیامت.

سوال: مشرکانو خو بعث بعد الموت نه مانه، او دا به یې ویل من یحي العظام وهي رميم، او داسي به یې هم ویل: انی یحی هذه الله، نو ددوی نسبت د قیامت ځرنګه ورته کاوه؟

ځواب: دوی بیشکه منکر وه لکن دا خبره د هؤلاء شفعائنا پر تقدیر د قیامت لکه چي علیه الصلوة والسلام به دوی ته کول، یعني اول خو بعث بعد الموت نسته او نه جنت او دوزخ سته لکن بالفرض که چېري وي نو زموږ خدایان به زموږ شفاعت وکړي.

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۭ هَلْ يَنْصُرُوْنَكُمْ اَوْ يَنْتَصِرُوْنَ ۝

ماسوی له خدای ﷻ ځخه "هل ينصرونكم" استفهام لپاره د توبیخ او انکار دی یعني ستاسي ځخه به دفع د عذاب وکړي، ومعنی الانكار لا هرګز نسي کولای "او ينتصرون" عطف دی پر ينصرونكم او تر استفهام انکاري لاندي دی، والمعنی آیا دوی به دفع د عذاب د خپلو ځانو ځخه وکړي یعني هرګز لا بل هم وما یعبدون من دون الله حصب جهنم.

پوهه سه: چي دا سوال د تفریع او سرزنش دی جواب نه غواړي.

پوښتنه: دا بتان ددوی خو جمادات وه، جماداتو ته خو عذاب نسته نو ځرنګه خدای پاک دوی ته وايي او ينتصرون؟

ځواب: دا ددوی پر عقیده وايي چي دوی به خپل خدایان پر نفع او ضرر د عابدانو قادر بلل او ذوی العلم او دفع د ضرر دي نو دوی د خپلو ځانو پر دفع د ضرر په طریق الاولی قادر بلل وهذا من غاية جهلهم.

فَكُبْكِبُوْا فِيْهَا هُمْ وَالْغَاوٗنَ ۝

پوهه سه: چي ابن عباس رضي الله عنه وايي ای جمعوا، وقال مقاتل قذفوا یعني وبه غورځول سي، او زجاج رحمه الله وايي يو پر بل سرببره به وغورځول سي او کلبي رحمه الله وايي چي سرونه کښته پښي لوړي به ورغورځول سي، او قاموس وايي چي کب کبکب په یوه معنی دي، او بیضاوي وايي چي کبکب تکرار د کب دی لتکریر معناه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ګویا هغه کافران چي اور ته واچول سي سرنګون داسي کښته روان دي مرة بعد اخرئ تر څو چي قرار نسي په بېخ د دوږخ کي.

"هم" ای الالهة الباطلة "والغاون" یعني عبادت کوونکي ددوی.

وَجُنُودُ إِبْلِيسَ أَجْمَعُونَ ﴿٩٥﴾

او تابعان د ابلیس په کفر کي چي کافران د انس او جن دي، او بعض مفسرین وایي چي مراد ذریة ابلیس ده "اجمعون" تاکید دی د ضمیر مرفوع په کښېبوا کي سره د ما عطف علیه.

قَالُوا وَهُمْ فِيهَا يَخْتَصِمُونَ ﴿٩٦﴾

وایي غاون و شیطانانو ته (وهم فیها یختصمون) دا جمله حال ده له فاعل څخه د قالوا، او ضمیر د یختصمون چي مرفوع متصل دی و عابدین او معبودین ته راجع دی یعني خدای پاک و بتانو ته نطق ورکړی دی، نو دوی د عابدینو سره مخاطبه او دعوی شروع کړي.

درویش وایي: چي بتان یې اهل د خیر و کړځول د خدای ﷻ د عظیم قدرت سره کوم عجیب کار نه دی، په حدیث صحیح کي راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام زه هغه ډبره پېژنم چي زه به غار حرا ته تلم یعني قبل النبوة دې به ماته ویل السلام علیکم یا علیک، او نور امثال د خبرو د جماداتو په دې دنیا کي په احادیث صحیح کي ډېر دي، او دا ترجمه چي ما وکړه روح المعاني، روح البیان، مظهري، مدارک او بیضاوي هم کړې ده، نو د حاسد پر خوله مهر د سکوت ولګېږي.

تَاللَّهِ إِن كُنَّا لَفِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ ﴿٩٧﴾

قسم په خدای چي موږ په ښکاره ګمراهي کي یو.

بوه سه: چي دا قول د عابدینو دی، ان مخفف د مثقل دی او اسم ضمیر شان محذوف دی او لام في قوله لفي قرینه ددې ده چي ان شرطیه نه دی بلکي مخفف د مثقل دی والتقدیر تالله چي شان دادی چي کنا الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِذْ نُسَوِّيكُم بِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٩٨﴾

هغه وخت چې مونږ تاسې معبودین برابرولاست یعني په عبادت کې د رب العالمین سره.

پوهه: چې دا جمله تعلیل دی د کنا في ضلال مبین.

سوال: اذ نسویکم خو مضارع ده چې د حال یا استقبال لپاره راځي او سره د دې چې دا تسویه برب العالمین خو له دوی څخه په دنیا کې صادره سوې وه؟

ځواب: په علم نحو کې وایي چې مضارع ګاهي لپاره د احظار د صورت ماضیه راځي چې یو غریب او نادر صورت ماضیه وي فافهم.

وَمَا أَضَلَّنَا إِلَّا الْمُجْرِمُونَ ﴿٩٩﴾

او مونږ نه یو ګمراه کړي مګر مجرمون.

پوهه: چې مراد له مجرمون څخه مشران او رئیسان د دوی دي. لکه چې خدای پاک د دوی د قول حکایت په بل ځای کې کړی دی: ربنا انا اطعنا سادتنا وکبرائنا، او کلبي رح وایي چې مراد له مجرمون څخه هغه اولین د دوی دي چې د وی اقتداء پسې کوله، والمآل واحد.

درویش وایي: چې په روح المعاني کې وایي: وفي ارشاد العقل السلیم انه یعني دا قول د دوی وما اضللنا آه بیان د سبب د ضلال د دوی بعد الاعتراف بصدوره عنهم، والمراد بالمجرمین رؤسائهم وکبرائهم کما مر عنقریب.

فَمَا لَنَا مِن شَافِعِينَ ﴿١٠٠﴾

نو مونږ لره نسته شفاعت کونکی یعني لکه مؤمنانو لره چې سته من الانبیاء والملائکة واخوانهم الصالحین.

وَلَا صَدِيقٍ حَمِيمٍ ﴿١٠١﴾

او نه یو ملګری چې صادق په محبت کې وي.

فائده: شفعاء یې په صیغه د جمع راوړه او صدیق یې مفرد راوړی په سبب د کثرت د شفعاء في یوم القیامة کما مر وفي العادة ایضًا وقلة الصدیق عادةً، او یا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سبب د افراد د صديق دا دی چي اطلاق پر جمع هم کېدای سي لکه لفظ د عدو، ولي چي علماء وايي چي فعيل لکه صديق او فعول لکه عدو د پاره د جمع او مفرد دواړو رتلای سي.

"حميم" په قاموس کي وايي چي حميم پر وزن د امير دی القريب ته وايي جمع احماء، او کاهي حميم جمع او مؤنث ته هم وايي په قوت القلوب کي چي د يو کتاب نوم دی په فارسي داسي وايي که حميم دراصل هميم بود که هارا به حا بدل گردند جهت قرب مخرج وهميم ما خوذ است از اهتمام که در قريب معناي اهتمام است وکه اهتمام کند درامر کافران آه، قال الله تعالى الاخلاء يومئذ بعضهم لبعض عدو الا المتقين، بغوي رح له جابر بن عبد الله څخه روايت کړی دی چي ده وويل سمعت رسول الله ﷺ چي ده مبارک وويل چي يو سړی چي په جنت کي وي وو ايي چي زما يو دوست ؤ چي هغه څېړي دی؟ او دوست يې په دوږخ کي وي فيقول الله تعالى يعني ملائکو ته د دوږخ چي هغه دوست د دې جنتي را ولئ له دوږخ څخه او جنت ته يې وروليږ، نو له دې سببه کافران وايي ولاصديق حميم، قال الحسن رح استكثروا من الاصدقاء المؤمنين فان لهم شفاعة يوم القيامة، وقال الحسن ما اجتمع ملاء على ذكر الله وفيهم عبد من اهل الجنة يعني بنده صالح او د خدای ج دوست په دې اجتماع کي موجود وي الا شفعه فيهم، او خدای ﷻ د هغه يوه بنده د خدای شفاعت قبلوي د ټولو لپاره وان اهل الايمان شفعاء بعضهم لبعض وهم عند الله شافعون مشفوعون، او دوی يعني مؤمنان په نېز د خدای ﷻ هم شفاعت کونکي دي او هم قبول د شفاعت خدای ﷻ کوي انتهی قول الحسن رح.

فَلَوْ اَنَّ لَنَا كَرَّةً فَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٠٢﴾

کلمه د لو لپاره د تمنی ده يعني کاشکي موږ لره رجوع وايي وه دنيا ته، او يا کلمه د لو شرطيه ده جواب يې محذوف دی يعني کان خيراً لنا، نو موږ به گرځېدلي وای د مؤمنانو له ډلي څخه دا جواب د تمنی دی.

اِنَّ فِيْ ذٰلِكَ لَاٰيَةً

په تحقيق په خبرو کي د ابراهيم يو دليل واضح دی هغه چا ته چي د هدايت د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لاري طالب وي او داغه رنګه په دې آیت کې عبرت دی د هغه چا لپاره چې عبادت د غیر الله کوي خصوصًا اهل مکه ته چې دوی دا دعوٰی کوي چې موږ پر ملت د ابراهیم ؒ یو.

وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُمْ مُّؤْمِنِينَ ﴿۱۰۳﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿۱۰۴﴾

او نه وه اکثره د قوم د ابراهیم مؤمنان، او دی ستا خدای ﷻ یا محمد (ﷺ) هر آئینه عزیز یعني غالب دی پر انتقام د کفارو څوک یې دفع نسي کولای یفعل ما یرید لا معقب لحکمه او خدای ﷻ مهربان دی چې کفارو ته یې مهلت ورکړی دی چې ایمان به راوړي دوی، او داغه رنګه کافر که ایمان راوړي خدای ﷻ یې تر ټولو ګنهو ورتېرېږي.

فائده: په دې قصه کې د ابراهیم ؑ حجت ښته پر صدق د دعوٰی د رسالت ولې چې دا قصه په دغسې زیبا ترتیب چې مطابق د کتب الهیه وو سره د نبي امي ﷺ هیڅ امکان نه لري بېله وحي د خدای ﷻ له جانبه. وقد تم ههنا قصة ابراهیم ؑ.

كَذَّبَتْ قَوْمُ نُوحٍ الْمُرْسَلِينَ ﴿۱۰۵﴾

تکذیب وکړی قوم د نوح د رسولانو.

پوښتنه: د قوم لفظ به مذکر نه وي. نو په فعل مسند کې چې کذبت دی ولې تانیث راوړه؟

ځواب: مظهري ؒ ددې په ځواب کې داسې ویلي دي القوم مؤنث ولذالک تصغیر علی قویمة انتهی. یعني حکم قطعي یې په تانیث د لفظ د قوم کړی دی او دلیل یې دا پر ویلی دی چې تصغیر یې قویمة راغلی دی. مقصد یې دادی چې د علم صرف په کتابو کې وایي چې تصغیر شی و اصل ته ردوي، نو معلومه سوه چې اصل د قوم قومة ؤ بیا یې تاء تانیث ځنې حذف کړه، او روح البیان وایي چې قوم جماعت ته وایي نر او ښځې دواړه یا یواځې نرو ته او ښځې تبعًا پکښې داخلې دي، وروسته یې ویلي دي چې مؤنث دی بدلیل مجئ تصغیره علی قویمة آه. یعني ده هم حکم په تانیث د قوم وکړی لکه مظهري ؒ دلیل یې هم هغه دلیل وایه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي والحق ماقاله علامة بغداد السيد محمود الالوسي في روح المعاني، حيث قال القوم كما في المصباح يذكر ويؤنث يعني په دواړو کي مستعملیږي وكذالك كل اسم جمع لاواحد له من لفظه نحو رهط ونفر، يعني اسماء الجموع په مذكر او مؤنث دواړه مستعملیږي، او وروسته يې ويلي دي چي تصغير يې پر قويمة بناء دی پر تانيث دده، وقيل لفظ القوم مذكر دی يعني فقط مگر تاء التانيث چي په فعل کي راغلې ده بناءً على ارادة الجماعة والامة منه انتهى.

درویش وايي: چي د دغه قيل په نېز په لحوق د تاء التانيث په تصغير پوري هم په تاويل بالجماعة وي، والله اعلم.

فائده: له حسن بصري رح څخه چا پوښتنه وکړه چي په قرآن مجيد کي داسي آيت راغلی دی: كذبت قوم نوح المرسلين، كذبت عاد المرسلين، كذبت ثمود المرسلين، او سره ددې چي دې هر قوم ته خو يو يو رسول ور استول سوی ؤ، نو د جمعيت توجيه يې څه ده؟ هغه ورته وويل: ان الآخير جاء بما جاء به الاول فاذا كذبوا الاول كذبوا كلهم.

وتوضيح الجواب: يو څوک چي د يوه رسول تكذيب وكړي هغه د ټولو رسولانو تكذيب وكړی، ولي چي ټول رسولان پر توحيد او پر عقائدو سره متفق دي، البته په هغو عملي شيانو کي چي په اختلاف د زماني سره مختلف کیږي اختلاف بې موجود وي، او يا له مرسلين څخه يوازي نوح عليه السلام مراد دی په دې معنی چي الف ولام لپاره د جنس دی جمعيت يې لغوه دی لكه په دې محاوره کي فلان يركب الدواب ويلبس البرود وماله الادابة واحدة وبردة واحدة، او يا جمعيت يې په اعتبار ددې دی چي نوح ع چونكه نهه نيم سوه (۹۵۰) كاله دوی ته په تبليغ سراسيمه بخت ؤ، نو دی يوازي لكه د پر رسولان وبلل سو، فافهم.

يوه سه: چي دا اخيره وجه مخصوصه ده د نوح په جمعيت سره، په نورو کي نه جاري کیږي كما لايخفى.

إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ نُوحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿۱۰۶﴾

چي وويل دوی ته ورور ددوی نوح يعني في النسب لا في الدين، نوح عطف بيان د اخوهم دی "الا تتقون" مفعول محذوف اى الله يعني عبادت د غير د الله ج كوئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اِنِّیْ لَكُمْ رَسُوْلٌ اَمِیْنٌ ﴿۱۰۷﴾

"اني لكم" اللام للنفع يعني ستاسي د فائدې او د هدايت او خير لپاره "رسول امين" رااستول سوى يم د خداى ﷻ له خوا څخه چي امين يم يعني خائن نه يم لكه تاسي چي قبل هذا الدعوى په امين والي زه مشهور كړى وم.

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوْنِ ﴿۱۰۸﴾

نو د خداى ﷻ له عذابه وبېرېږئ بترك الشرك. او اطاعت وكړئ زما چي زه تاسي امر كوم يعني په عبادت سره د خداى واحد لاشريك.

وَمَاۤ اَسْـَٔلُكُمْ عَلَیْهِ مِنْ اَجْرٍ ۚ اِنْ اَجْرِیَ اِلَّا عَلٰی رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۰۹﴾

او زه نه غواړم له تاسي څخه پر تبليغ د دين الله او دعوت ستاسي اجرت. نه دى اجر يعني ثواب زما په تبليغ كي د امر الله تاسي ته مګر پر رب العالمين.

پوه سه: چي كلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده يعني هيڅ مزدوري او تنخوا حتى چي تاسي پر ما تهمت د طمع د اجر ولګوى په دعوى كي د رسالت.

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِیْعُوْنِ ﴿۱۱۰﴾

پوښتنه: دا آيت خو نژدې تېر سو نو په را اګرځولو كي يې څه فائده ده؟

ځواب: فائده يې تاكيد دى.

فائده: علماء د دين چي ځانونه ورثة الانبياء بولي، بايد پر اداب د انبياء عليهم السلام رفتار وكړي نه پر تعليم د علم الدين او پر تعليم د مسائلو د دين تنخواه او مزدوري ونه غواړي، البته كه چا الله في الله يو شى وركړى قبول دې كړي، او كه پر وعظ او تبليغ باندي څوك مزدوري وغواړي، نو نه به خلكو ته بركت په اورېدلو كي د وعظ د دوى وي او نه به واعظ ته بركت په ما ياخذون منهم كي وي، سعدي شيرازي واي:

زبان ميكند مرد تفسير دان .... كه علم و ادب ميفروشد بنان

كذا في روح البيان.

پوښتنه: د فقه شريفي په كتابو كي وايي چي متاخرينو پر دې فتوىٰ كړې ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي مزدوري او تنخواه اخستل پر امامت او آذان او تعليم الفقه والقرآن والوعظ وغير ذالک روا ده، او شارح الوقايه يې دليل دا راوړی دی لظهور التواني (يعني سستي به عوامو کي، چي بېله شرطه څه مال و دغو کسانو ته ور کوي) في امر الدين، نو روح البيان ولي دا سي سخته خبره په اخذ الاجرة کي وکړه؟

ځواب: د روح البيان خبره مبني پر تقوی ده او د متاخرينو مسئله مبني پر فتوی ده، والتقوی فوق امر الفتوی، واليه اشار خير البشر ﷺ استفت قلبک ولو افتاک المفتون، والی الله المشتکی من انعکاس احوال العوام والخواص.

قَالُوٓا أَنُؤۡمِنُ لَكَ وَٱتَّبَعَكَ ٱلۡأَرۡذَلُونَ ﴿١١١﴾

وويل قوم د نوح انکارًا عليه، آيا موږ به ايمان راوړو؟ يعني نه يې راوړو او ستا متابعت کوي ارزلون.

پوه سه: چي واتبعک حال دی په تقدير کما هو القانون في الماضي الذي وقع حالا "الارزلون" جمع د ارزل ده وهو الدون الخسيس وقال البيضاوي الاقلون مالاً وحالاً ابن عباس رضي الله عنه وايي چي صاغة يعني زرګران، او عکرمه رح حکه وه يعني کنبي باپان.

درويش وايي: چي دا ددوی غايت حماقت وُ چي د سافلو خلکو اتباع نوح ع لره مانع ددوی د اتباع وګرځېدله او د ايمان راوړلو پر نوح ع او دا دوی دليل د نه رسالت دده وګرځاوه، نو ددوی غرض دا وُ چي دا سفله خلک صرف د طمع مالي د پاره ستا اتباع ګرځېدلي دي د بصيرت او د پوهني له کبله تابعان نه دي ګرځېدلي.

قَالَ وَمَا عِلۡمِي بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١١٢﴾

نوح ع وويل زما علم نسته پر هغه چي دوی عمل کوي يعني ذالک الاتباع اخلاصًا لله يې کوي او يا رفعة د دنيا په نظر کېدی يا ما قال يې غرض دی وما علي الا البلاغ الظاهر.

إِنۡ حِسَابُهُمۡ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّيۖ لَوۡ تَشۡعُرُونَ ﴿١١٣﴾

"لو تشعرون" که تاسي شعور درلودای دا عيب به مو نه ويلای.

پوه سه: چي اشرافو د قوم نوح ع له ده څخه غوښتنه کړې وه چي دا ارزال ته له مجلسه وشړه، نو موږ به ستا خبرو ته غوږ ونسو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٤﴾ إِنْ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿١١٥﴾

نوح ؑ ورته وویل چي نه یم شړونکی د مؤمنانو له خپل مجلس څخه. نه یم زه مګر ببرونکی ښکاره بیان کونکی د اهل شرک له عذاب څخه د خدای ﷻ په ورځ کي د قیامت که دوی ایمان رانه وړي.

بوه سه: چي دا جمله بیان د علت د عدم طرد ده او مراد دده دا ؤ چي په لار کي د دعوت الی الله اعزاء واذلاء سره برابر دي، نو څرنګه به ماته روا وي چي زه فقراء وشړم د اغنیاؤ د متابعت په خاطر.

سوال: تا وویل چي د قوم نوح اشرافو له ده څخه غوښتنه آه، دا پوښتنه خو په عبارت القرآن کي نه ده راغلي؟

ځواب: صراحة که نه ده راغلي لکن ضمنًا د دوی له خبرو څخه فهمیږي حیث قالوا انؤمن لک واتبعک الارذلون فافهم.

قَالُوا۟ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَٰنُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمَرْجُومِينَ ﴿١١٦﴾

قوم ورته وویل که ته منع سې له دې دعوت څخه و توحید ته د خدای ﷻ وغیر ذلک، هرآئینه ته به وګرځې له ډلي څخه د مقتولینو بالحجارة یعني سنګسار به دي وګرځوو، کذا قال مقاتل والکلبي ؒ، او بعض مفسرین وایي چي مراد دادی چي سخت ښکنځل به درته وکړو.

دروېش وايي: وهذا التفسیر خلاف لفظ الرجم، ولي چي په مفردات کي وایي الرجام الحجارة والرجم الرمي بالرجام ای الحجارة فافهم.

قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوْمِى كَذَّبُونِ ﴿١١٧﴾

نوح ؑ وویل یا رب په تحقیق زما قوم پر تکذیب زما اصرار کوي بعد ما دعوتهم هذه الازمنة المتطاولة ولم یزدهم دعائي الا فرارًا.

بوه سه: چي اظهار د نوح تمهید دی وښرا او عذاب ته د قوم لکن دا ښېرا هغه وخت ده وکړه چي خدای ﷻ ده ته وویل لن یؤمن من قومک الا من آمن کما جاء في موضع آخر من القرآن.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَافْتَحْ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا وَنَجِّنِي وَمَنْ مَّعِيَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿۱۱۸﴾

ته حکم او فیصله وکړې زموږ او ددوی تر منځ یو حکم. او نجات راکړې ما ته او هغو کسانو ته چې زما سره ملګري دي له مؤمنانو څخه، قال الله تعالی اجابة.

فَأَنجَيْنَاهُ وَمَن مَّعَهُ فِي الْفُلْكِ الْمَشْحُونِ ﴿۱۱۹﴾

نو نجات ورکړی موږ و نوح ؑ ته او هغو کسانو ته چې دده سره ورسره وه یعني المؤمنین په کښتۍ کې چې ډکه وه یعني په دوی چې اتیا نر او ښځې وې او نور حیوانات نر او ښځه له هر صنف څخه.

ثُمَّ أَغْرَقْنَا بَعْدُ الْبَاقِينَ ﴿۱۲۰﴾

وروسته تر انجاء دده او د مؤمنانو غرق کړه موږ باقیمانده دده له قوم څخه یعني الکفار.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿۱۲۱﴾

په تحقیق دغه کار چې د قوم سره د نوح ؑ خدای پاک وکړی من انجاء المؤمنین واغراق الکافرین دلالت دی پر عظیم قدرت د خدای ﷻ (یا معنی عبرت د وروسته زمانو کافرانو لره ولې چې قصه نوح ؑ په تواتر سره شائع ده په هره زمانه کې) او نه وه اکثره د قوم د نوح ؑ مؤمنان بلکې اقل قلیل یې مؤمنان وه کمار.

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿۱۲۲﴾

او په تحقیق ستا خدای یا محمد هر آئینه غالب دی پر ما اراد وشاء او مهربان دی کمار تفصیله.

كَذَّبَتْ عَادٌ الْمُرْسَلِينَ ﴿۱۲۳﴾

او تکذیب وکړی قوم عاد.

بوه سه: چې تانیث د کذبت په اعتبار د تاویل د عاد دی په قبیله سره او په اصل عاد نوم د جد اعلی ددې قبیلې و لکن وروسته و قبیله ته راانقل سو.

درویش وایي: چې تحقیق ددې تانیث د فعل مسند ومذکر لفظًا د مخه تېر سو قریب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ هُودٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿۱۲۴﴾

اذ ظرف دی د كذبت هغه وخت چي ووېل ورور ددوی يعني في النسب لا في الدين، هود عطف بيان دی، دا خو هم ايا تاسي نه ېرېږئ يعني له عذاب څخه د خدای ﷻ چي شرک او معاصي کوي يعني پرې يې ږدئ.

إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿۱۲۵﴾

زه ستاسي لپاره رسول يم يعني پيغام رسونكی د خدای ﷻ تاسي امين يا معنا دا چي دعوی د رسالت مي صدق د خيانت نه ده، او يا معنا داده چي زه په تاسي کي دا امين په نامه ياديدم د مخه تر دعوی د رسالت او تاسي پر ما د هيڅ شي تهمت نه درلودی، نو نن مي بايد خائن نه وبولئ او زما د رسالت تصديق وکړئ.

فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿۱۲۶﴾

نو له خدايه وبېرېږئ شرک پرېږدئ او زما اطاعت وکړئ يعني په امر او نهي کي، كما مر مثله في قصة نوح ؑ.

وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿۱۲۷﴾

درويش وايي: چي تېر و له تفصيل ددې آيت په ورته آيت کي د قصة د نوح ؑ تېر سو فلا نعيده لانه قد مر آنفا.

تاريخ خبري کوي: مقاتل ؒ گفت عاد و ثمود ابن عم يكديگر بودند، عاد قوم هود ؑ بودند وثمود قوم صالح ؑ بودند وميان هلاک عاد وهلاک ثمود پنج سد سال بود، وقومی از اهل تاريخ قديم گفتند كه عاد و ثمود دو برادر بودند از فرزندان ارم بن سام بن نوح ؑ وسام بن نوح را پنج پسر بودند ارم وارفحشد و عالم واليفر والاسود الى اخيره.

أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ آيَةً تَعْبَثُونَ ﴿۱۲۸﴾

آيا تاسي بناوي جوړوئ؟ الهمزة للاستفهام الانكاري، پر هر لوړ ځای.

بوه سه: چي ريع بكسر الراء وفتحها جمع ريعة وهو المكان المرتفع "آية" يعني په لوړه بنا ممتازه د ټولو ابنيه وو څخه "تعبثون" او دا کار عبث کوئ فان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بناء مالا ضرورة فيه وما كان فوق الحاجة لمجرد التكبر والخيلاء عبث.

يوه سه: چي لفظ د كل لپاره د استغراق حقيقي نه دى بلكې مراد ځندي كثرة في نفسها او يا كثرة اضافي دى يعني نظر د نور خلكو بناء ته.

درويش وايي: چي په حديث كي راغلي دي چي روايت يې بخاري كړى دى او نورو صحيح كتابو د حديثو يې هم روايت كړى دى: چي رسول الله ﷺ يوه ورځ راووتى يوه لوړه بالا خانه يې وليدل، فقال (ماهذه) دا څه شى دى؟ مقصود يې دا ؤ چي د چا بالا خانه ده؛ اصحابو يعني چي دده سره ملګري وه ورته وويل چي د يوه انصاري ده، نو عليه الصلوة والسلام دا خبره په زړه كي وساتل يعني هيڅ يې نه وويل حتى چي هغه صاحب او مالک د بالا خانې راغلى چي خلكو يې نوم وراخستى ؤ او عليه الصلوة والسلام د خلكو سره ناست ؤ هغه سړي سلام وواېه عليه الصلوة والسلام مخ ځندي واړاوه، او څو واره عليه الصلوة والسلام مكرر داغسي وكړه، هغه سړي شكايت و نورو اصحابو ته وكړى او داسي يې وويل والله اني نظر رسول الله ﷺ چي نه د سلام ځواب راكوي او په غضب هم راته ګوري، ما حدث في وما صنعت (په ما كي څه شى نوى پيدا سوى دى او ما څه كړي دي؟) صحابه وو ورته وويل چي هغه بله ورځ موږ د عليه الصلوة والسلام سره ملګري وو ستا قبه يې وليدل او وه يې ويل چي دا قبه د چا ده موږ ستا نوم ورواخستى، مالک د قبې ولاړى قبه يې د ځمكي سره برابره كړه يعني تر بېخه پوري يې وكښل، بله ورځ چي عليه الصلوة والسلام راووتى قبه نه وه نو يې پوښتنه وكړه (مافعلت القبة التي كانت ههنا؟) يعني هغه قبه څه سول چي دلته وه؟ خلكو ورته وويل چي د قبې مالک ستا د اعراض شكايت موږ ته وكړى موږ يې سبب ورته بيان كړى، نو هغه ووغلئ د بېخه څخه يې قبه ونړول، نو عليه الصلوة والسلام داسي وفرمايل: ان كل بناء يبنى وبال على صاحبه يوم القيامة الا ما لابد منه، هذا ما عليه الامام الراغب وصاحب كشف الاسرار وغيرهما، او په جلالين او په بعضو نورو كتابو كي وايي چي مراد د آية ابنية الحمام وبروجها يعني كوتر خانې، يعني هود؏ پر دوى انكار د دغو كوتر خانو وكړى يعني چي په كوترو بازي كول عبث كار دى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله: کوتري که چا د خمار (قمار) لپاره ساتلي وي، خو ساتل یې حرام کار دی، او که د لهو لعب لپاره وي لکه په اوسنی زمانه کي پر بام کوتر بازیو شي کوترو ته ښوروي کوتري په هواء کي سره څرخي، نو داسي ساتنه د کوترو مکروه ده جدًا، او که نه هغه او نه د غسي وي، نو مطلق د کوترو ساتنه پروا نه لري کما في الحرم المکي.

درویش وایي: چي د دې آیت چي په قرآن مجید کي یې ذکر سوی دی نوري ترجمې کړل سوي دي، لکه مظهري، روح البیان او روح المعاني هم بعض هغه را نقل کړي دي په قیل سره اشارةً الی ضعفها لکن ظاهره او مناسبه د آیت قرآني سره دا دی چي دوی کوټې، بنګلې او قلاوي پر محکمه جوړولې، چي پر مخ د ځمکي به د دوی یادګار وای ډېره زمانه چي دا د برج دی دا موسی کلا قلا ده دا ساروان قلا ده، لکه د تنی زماني په الان او سرمایه داران چي په هر ښار کي بنګلې جوړوي لپاره د افتخار، ویدل علی ان المراد هذا قوله جل ذکره (أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِعَادٍ ۝ إِرَمَ ذَاتِ الْعِمَادِ ۝ الَّتِي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا فِي الْبِلَادِ ۝ وَثَمُودَ الَّذِينَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ ۝) وکل ذالک مکروه عبث فانکر هود ذالک علیهم.

وَتَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ ۝

دا جمله عطف ده پر تبنون، مصانع جمع ده د مصنعة، په مفردات کي وایي چي امکنة شریفة آه، او په صحاح الجوهري کي وایي ځایونه د اوبو دي لاندي تر ځمکي، او په قاموس کي وایي مصنعة هغه لوی حوض ته وایي چي د باران اوبه پکښي جمع کېږي، نو د مصانع معنی حیاض عظیمه ده، او داسي حوضونه به حتمًا په سمښتو محکم کړه کېږي.

درویش وایي: چي یو دا حوضونه او تالابونه دي چي جاري اوبه نه وي لکه په کوټته کي، نو خلکو په کورو کي تالابونه جوړ کړي دي تا چي د نلکی یا د ټانکی رانیولي اوبه پکښي خوندي کړي د دوو درو ورځو لپاره مثلاً هغه جائز بلا ریب دي لاجل الضرورة.

"لعلکم تخلدون" په داسي حال کي تاسي چي دا بناوي بلندي او کوټې محکمي او مصانع په سمښتو جوړه ستاسي د خلود في الدنیا امید سته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي لعل دلته لپاره د تشبيه دی يعني كانكم چي فارسي ترجمه يې داده گويا جاويد خواهد بود درآن، هم دا سبب دی چي مظهري ترجمه په كانكم كړې ده، صائب چي يو محقق شاعر دی وايي:

درسر اين غافلان طول امل داني كه چيست
اشيان كرده است ماري در كبوتر خانه

فائده: طول امل (يعني د ډېر ژوند اميد كول) مكروه دی او مستحب دی قصر امل ولو كان شابًا، بغوي رح په شرح السنة كي او ابن الجوزي رح په كتاب الوفاء كي د ابن عباس رض څخه روايت كړی دی: رسول الله ﷺ كان يهريق الماء (دا لفظ كنايه ده د چاځ جواب څخه بولو ته وايي) نو به يې تيمم وواهه په خاورو سره (دا تيمم د لمانځه لپاره نه ؤ بلكې دا د دوام الطهارة او د سلام يا رد سلام لپاره ؤ) ابن عباس رض وايي ما به ورته وويل يا رسول الله ﷺ ان الماء عنك قريب يعني اوبه نژدې دي، نو تا تيمم څله وواهه؟ عليه الصلوة والسلام به راته وويل وما يدريني لعلي لا ابلغه (زه څه شي خبر كړی يم شايد زه به اوبو ته نه ورسېږم يعني اجل الموت به حمله را باندي وكړي) رواه مسلم.
بعض فقهاء وايي چي يو عالم چي كار طويل د خير شروع كړی وي طول امل جائز دی، دليل دغه فقهاء چي د مجلداتو فتاوى د فقه ته يې اراده وي كما نرى من فتوى الفقه في المجلدات كثيرة ضخيمة يا هغه مفسرين القرآن چي ملجدات ضخيمه د تفسير القرآن يې تصنيف كړي دي يعني (۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴) وهكذا نو دې مصنفين د فقه شريفي د فتاواو ويا د تفسير القرآن مجلدات چي تصنيف كړي دي كه قصر الامل دوی پر كار اچولی وي شروع په دغو تصانيفو به يې هم نه وای كړې، البته په امور دنياوي كي قصر الامل مستحب دی او طول الامل مكروه دی، لكه بنگلې، كوټې او قصرونه چي د كلو كار غواړي له طول امل څخه دي كار نه اخلي.

وَإِذَا بَطَشۡتُم بَطَشۡتُمۡ جَبَّارِينَ ﴿١٣٠﴾
چي تاسي يو څوک ټينګوي لپاره د تعذيب.

پوه سه: چي اذ ظرف دی د وروسته بطشتم او يا عطف دی پر تبنون باندي، والتقدير وبطشتم اذا بطشتم د جبارين معنی قتالين من غير حق وبلاء رحمة په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قاموس كي وايي الجبار المتكبر وقلب، وقلب لايدخله رحمة (زړه سوی پر مظلوم) والقتال من حق القتل.

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوْنِ ﴿۱۳۱﴾

له خدایه وېرېږئ په پرېښولو كي د مذكوره شيانو چي په دمخه آيتو كي ذكر سوه، او زما فرمانبرداري وكړئ په هغه شي كي چي زه تاسي ورته وغوارم من التوحيد ومايتضرع عليه.

وَاتَّقُوا الَّذِيْٓ اَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳۲﴾

او وېرېږئ د هغه ذات مقتدر څخه چي ستاسي كومک په هغه شيانو چي تاسي علم پر لرئ چي تفصيل به يې راسي ان شاء الله تعالى.

فائده: امر د تقوى يې په دې آيت كي مقرر راوړی او مربوط يې كړی په انواع د نعمتو د خدای ﷻ چي دوی علم پر لري لپاره د تاكيد او تعليل د فاتقوا الله السابق لكن چونكه ما تعلمون مجمل ؤ خدای ﷻ يې تفصيل داسي ورته وكړی.

اَمَدَّكُمْ بِاَنْعَامٍ وَّبَنِيْنَ ﴿۱۳۳﴾ وَجَنّٰتٍ وَّعُيُوْنٍ ﴿۱۳۴﴾

ستاسي سره كومک كړی دی په انعامو سره من الابل والبقر والضان والمعز. او زامن يې دركړي دي چي د هر سري خوښ دي. او باغونه يې د قسم قسم مېوو دركړي دي، او جاري اوبه يې دركړي دي يعني رودونه، ويالې او كارېزونه.

فائده: دا يې له بدل دي د امدكم السابق في الاجمال.

اِنِّيْٓ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿۱۳۵﴾

په تحقيق زه بېرېږم پر تاسي كه ايمان رانه وړئ او زما اطاعت ونه كړئ له عذاب څخه د لوی ورځي يعني في الدنيا والآخرة لان القادر على الانعام قادر على الانتقام.

قَالُوْا سَوَآءٌ عَلَيْنَآ اَوَعَظْتَ اَمْ لَمْ تَكُنْ مِّنَ الْوٰعِظِيْنَ ﴿۱۳۶﴾

قوم هود وويل په ځواب كي د وعظ و تبليغ دده برابر ده پر موږ كه وعظ ته وكړې موږ ته او كه ته نسې له واعظينو څخه، يعني په دې وعظ چي ته ګاهي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وعدي راكوي او نعمتونه راياندي شمېري او ګاهې په عذاب وعيد راكوي زموږ زړونه نه نرم كيږي او نه ايمان راوړو او نه ستا اطاعت كوو.

درویش وایي: چي ددې آيت اعراب كه څه هم د سورة البقرة په اول كي يعني إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا سَوَاءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿۶﴾ تېر سوى دى لكن چونكه تفصيل يې ډېر ليري دى، نو متعلمينو ته د ورقو اړولو تكليف نه وركوم. د آيت د اعراب تفصيل دادى: سواء مصدر دى په معنى د مفعول دى اى مستو خبر مقدم دى او اوعظت لنا آه په تاويل د مصدر مبتداء ده يعني وعظك وعدم وعظك مستو عندنا. لانترك مانحن عليه من الدين اى الشرك بوعظك.

إِنْ هَٰذَا إِلَّا خُلُقُ الْأَوَّلِينَ ﴿۱۳۷﴾ وَمَا نَحْنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿۱۳۸﴾

يعني نه دى دا ستا وعظ چي موږ ته دې راتګ په كړى دى مګر نه درواغ د پخوانيو خلګو دي، او تا يې له ځانه اختراع كړې ده، او يا معنا داده چي موږ چي پر يو او عقيده ورته لرو يعني نموت بعضا ونحي بعضا وان لابعث ولا حساب زموږ د اولينو خلګو دغه دين ؤ او موږ په هغو پسي اقتداء كوو.

موږ نه يو چي په عذاب دي كړل سو. ولي بعث بعد الموت نسته.

فَكَذَّبُوهُ فَأَهْلَكْنَاهُمْ ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿۱۳۹﴾

نو دوى تكذيب وكړى د هود [۴]، دا جمله تاكيد ده د هغه قول ددوى ان هذا الا خلق الاولين على التاويل الاول. نو موږ هلاک كړه قوم د هود [۴] يعني بريح صرصر لكه په بل ځاى كي د قرآن مجيد چي راغلي دي. په تحقيق په اهلاک د قوم هود [۴] دليل دى پر عظيم قدرت د خداى ﷻ. او نه وه اكثره د قوم هود مسلمانان.

فائده: په لفظ كي د اكثر اشاره ده ودې ته چي كه اكثره ددوى يا نصف ددوى ايمان راوړى واى دوى ته به عذاب د استيصال نه واى كړل سواى.

پوښتنه: قريش د مكې خو هم اكثره كافران وه، نو ولي عذاب نه وركړل سو؟

ځواب: دا عدم عذاب د قريشو په سبب د وجود د مؤمنانو ؤ په دوى كي كما قال الله تعالى ولو لا رجال مؤمنون ونساء مؤمنات الى قوله تعالى لعذبنا الذين منهم عذابا اليما صدق الله تعالى العظيم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٤٠﴾

درويش وايي: چي د دې آيت تفسير عنقريب تېر سو.

كَذَّبَتْ ثَمُودُ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٤١﴾

درويش وايي: چي د تانيث د كذبت په اعتبار د تاويل د ثمود دی په قبيله سره وقد مر مثله او توجيه د جمع د المرسلين هم بعينه د مخه تېره سوه آنفًا فتذكر.

إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ صَالِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٤٢﴾

چي وويل دوی ته ددوی ورور صالح عليه السلام آيا د خدای جل جلاله له عذاب څخه پر شرک نه بېرېږئ؟ استفهام لپاره د انكار دی، او نفي د نفي اثبات دی يعني وبېرېږئ او ايمان راوړئ "اخوهم" ای في النسب لا في الدين كمامر. د صالح[ع] د پلار نوم عبيد بن اسف بن كاشح بن حاذر بن ثمود ؤ.

إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٤٣﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٤٤﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٤٥﴾

درويش وايي: چي وقد مر تفسير هذه الآية في ماقيل هذا لفظا بلفظ.

أَتُتْرَكُونَ فِي مَا هَاهُنَا آمِنِينَ ﴿١٤٦﴾

استفهام لپاره د انكار دی آيا پاته به سئ تاسي په دغو نعمتو كي چي تاسي ته دركړل سوي دي په دې دنيا كي بې يعني نه سئ پاتېدلای "آمنين" بېغمه يعني په عذاب د خدای جل جلاله به و نه بېرول سئ، په دې آيت خدای جل جلاله ودوی ته خپل نعمتونه وربيادوي.

پوه سه: چي تفسير د ما هٰهنا يې په دې قول سره وكړی.

فِي جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٤٧﴾ وَزُرُوعٍ وَنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيمٌ ﴿١٤٨﴾

په باغو كي، او ويالو او زرع او د خورما درختي (اسم جنس دی يعني نخل) چي طلع ددې يعني مېوه، ابن عباس رضي الله عنه د هضيم معنی په لطيف سره كړې ده، او عطيه هم د ابن عباس رضي الله عنه دا ترجمه نقل كړې ده، نافع، عكرمه رضي الله عنه هو الين او اهل لغت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي هو المنضم بعضه الى بعض في وعائه (په خپل پوښ کي دمخه تر ظهور د وابنکیو) روح البیان وایي چي څوک چي ترجمه د طلع په مېوه کوي هغه مجاز دی ولي چي طلع هغه پوښ ته وايي چي دا خورما يو دبله پکښي نغښتې وي.

فائده: جنت سره د معطوفاتو بدل دی من قوله تعالی فیما ههنا.

بوه سه: چي د خورما په درختو کي نر او ښځي سته چي عرب هر کال د نر مندکه د ښځي په تنه سکنه پیوند کوي، که دا پیوند نه وکړي کرسره خورما نه کوي او يا اقل قليل كوي، مراد په آيت کي د ښځي خورما درخته ده، ويؤيده تانيث الضمير في قوله تعالى طلعها، او د ښځي خورما د درختي پوښ لطيف دی او د نر دایې غلیظ سخت وي.

فائده: اهل لغت وايي چي اهل مدينه وايي چي اجود د خورما وو العجوه ده او وروسته تر عجوه التمور البرني ده، او دوی ماسوی له دغو خورماوو څخه الوان بولي او دقل يې هم بولي يعني کډه وده خورما او خورما چي په خپل پوښ کي وي چي عرب يې کفرئ بولي بضم الكفا والفاء وتشديد الراء هو هضيم يې دوی تر هغه وخته بولي چي دوی په خپل پوښ کي وي، نو نهايته نرمه وي چي يو وخت يو د بل سره ضم وي او چي وابنکی چي دوی يې شمراغ بولي ښکاره سوه بيا يې هضيم نه بولي بلکې متدلی يعني کبنته ځړېږي يا يې متکسر بولي من کثرة الحمل يعني خورما داني.

وَتَنْحِتُونَ مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا فٰرِهِينَ ﴿١٤٩﴾

او تاسي تراشی یعني جوړوئ له غرو څخه خوني د اوسېدلو لپاره (درحالکه ماهر باشيد درتراشیدن سنگها) اهل تاريخ قديم گفته اند که درواذی حجر دوهزار بار هزار وهفت صد سرای تراشیدند برای مساکن خود.

فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٥٠﴾ وَلَا تُطِيعُوٓا أَمْرَ الْمُسْرِفِينَ ﴿١٥١﴾

د خدای ﷻ له عذابه وبېرېږئ او زما اطاعت وکړئ ''ولاتطيعوا امر المسرفين'' قال ابن عباس ﷺ ای المشرکین.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الَّذِيْنَ يُفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ ﴿۱۵۲﴾

"الذين يفسدون في الارض" دا صفت موضحه د مسرفينو دی يعني چې فساد، شرک او معاصي کوي په مځکه کي او د اصلاح کارونه نه کوي، يعني اطاعت د خدای ﷻ فيما امرهم به.

قَالُوْٓا اِنَّمَآ اَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِيْنَ ﴿۱۵۳﴾

"قالوا" يعني ثمودیانو وویل و صالح ؑ ته نه یې ته مګر چې په تا سحر او جادو کړل سوی دی او دماغ یې درخراب کړی دی، کذا قال مجاهد وقتاده رح.

مَآ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا ۚ فَاْتِ بِاٰيَةٍ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۵۴﴾

ته نه یې مګر بشر په مثل زموږ چې خورک کوې، او نه ښیښتې ملکه نه یې، نو ته څرنګه نبي سوې او موږ نسوو نبیان او که ته پر دعوه د نبوت ټینګ یې نو ته موږ ته یو حجت راوړه پر صحت د دعوی ستا، که ته د رشتیاو ویونکو له ډلې یې په دعوه کي د نبوت. لان الدعوی بلا دلیل لایسمعه احد.

درویش وایي: چې صالح ؑ ودوی ته وویل چې تاسي څه معجزه او حجت زما پر صدق غواړئ؟ دوی ورته وویل چې له دې غره څخه دي اوښه راووځي او هغه دي هم په جسم لکه دا غرګی وي او د لسو میاشتو برالبه دي وي او د هغې څخه دي ولد پیدا کېږي چې هغه ولد هم په جسد کي لکه مور وي، دا سوال د دوی په خیال محال معلومېدی او دوی قدرت د قادر متعال نه پېژندی، صالح ؑ دوه رکعته لمونځ وکړی او لاسونه یې د انابت په دربار کي د رب العزت د اجابت پورته کړه چې في الحال د غوښتني سره د دوی موافق اوښه له غرګي څخه راووتل او وروسته لنګه سوه او په قدو قامت کي د دې سره برابر یې جونګی وزېږاوه چې په نتیجه د دې معجزې لیدلو څلور زره (۴۰۰۰) کسو ایمان راوړی، وروسته صالح ؑ دوی ته وویل:

قَالَ هٰذِهٖ نَاقَةٌ لَّهَا شِرْبٌ وَّلَكُمْ شِرْبُ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ﴿۱۵۵﴾

"هذه ناقة" يعني دلیل وحجة علی صدق في دعوی النبوة دې لره برخه خپل د اوبو ده "لها شراب" صفت دی د ناقة، او تاسي لره حصه او برخه ده د اوبو د ورځي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معلومي، د صالح علیه السلام مطلب دا وُ چي تاسي به پر خپلي معلومي ورځي صبر کوئ د اوښي سره ددې په نوبت کي به مزاحمت نه کوئ، راوي وايي چي اوښي به په خپل نوبت ټولي اوبه د ښاه (کوهي) څښلې ولاتشرب في يوم وبتهم اصلاً.

مسئله: دا آيت دليل دی چي د لښتي په اوبو کي شريکان د لښتي وار سره کښېږدي چي مهليات يې بولي په عربي ژبه.

وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٍ فَيَأۡخُذَكُمۡ عَذَابُ يَوۡمٍ عَظِيمٖ

او تاسي مه رسوئ دا اوښي ته بد يا په وهلو يا په توره وهلو، دا جمله عطف ده پر هذه ناقة، نو به تاسي ونسي عذاب د ورځي لويي چي ورځ د قيامت ده.

فائده: هذا ابلغ من تعظيم العذاب يعني عذاب عظيم، لان الوقت كان عظيماً اذا كان العذاب اشد وابلغ فافهم.

فَعَقَرُوهَا فَأَصۡبَحُواْ نَٰدِمِينَ

نو دوی هلاکه کړه اوښه، نو دوی وګرځېدل پښېمانه پر دغه قتل د ناقه يا خوفًا من نزول العذاب بلا توبة، او يا په وخت کي د نزول د عذاب چي هغه توبه فائده نه کوي، سعدي شيرازي قدس سره وايي:

تو پيش از عقوبت دری عفوه کوب...... که سودی ندارد فغان زير چوب

سوال: عقر خو بعضي کسانو کړی ؤ، نو نسبت يې و ټولو ته ولي وکړی؟

خواب: نسبت د فعل د بعض وکل ته روا دی په عربيت کي مثل بنو فلان قتلوا مع ان فعل القتل صادر من واحد منهم، او بل ځواب دادی چي قوم ثمود ټوله په دغه عقر د ناقة الله راضي وه.

فَأَخَذَهُمُ ٱلۡعَذَابُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗۖ

نو دوی ونيول هغه عذاب موعود وهو ههنا صيحة جبرئيل.

وَمَا كَانَ أَكۡثَرُهُم مُّؤۡمِنِينَ ۝ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ

درويش وايي: چي ددې تفسير عنقريب دوه واره دمخه تېر سو فلا حاجة الى الاعادة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٦٠﴾

پوه سه: چي دا تانيث د فعل مسند و قوم ته او توجيه د جمعيت د المرسلين آنفًا تېره سوې ده، فلا ضرورة الى الاعادة كما لايخفى.

إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٦١﴾

حسين كاشفي رحمه الله په تفسير حسيني كي وايي: كه مراد اينجا اخوت شفقت است نه اخوت نسبي و نه اخوت ديني، انتهى، روح البيان ددې وجه داسي بيان كړې ده وذالك لان لوطا ليس من نسب اهل سدوم وما حولها من القرى بل كان اجنبيا منهم، ولي چي تاريخ قديم وايي چي لوط؏ هجرت وكړى سره د خپل اكا ابراهيم؏ من اراضي بابل عراق د شام پر خوا، نو ابراهيم؏ لوط؏ په اردن كي پرېښو او دى شام ته ولاړى، نو خداى ﷻ لوط؏ ته نبوت وركړى او اهل سدوم ته يې واستاوه چي لوى ښارۇ او شاوخوا يې ډېرې قريې درلودې.

پوه سه: چي لوط؏ زوى د هاران ؤ.

إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٦٢﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٦٣﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦٤﴾

درویش وایي: چي وقد مر تفسير هذه الآية من قبل، حاصل ددې آيت دادى:
خلاف طريقت بود كه اولياء......... تمنا كنند از خدا جز خدا

أَتَأْتُونَ الذُّكْرَانَ مِنَ الْعَالَمِينَ ﴿١٦٥﴾

درویش وایي: چي ددې آيت په معنى كي څو وجهي راوړل سوي دي او مختاره په نېز د فقير داده چي استفهام د پاره د انكار او توبيخ دى (يعني دا كار بايد بلكي لازمًا تاسي نه كولاى) او اتيان كنايه ده له فاحشه څخه د لواطت لكه حلال فعل د جماع څخه چي، خداى پاک داسي تعبير كړى دى (فاتوا حرثكم والذكران والذكور جمع د ذكر يعني ضد الانثى. قال العلامة البغدادي في روح المعاني والظاهر ان العالمين متصل بالذكران اى اتاتون الذكران من بني آدم على فرط كثرتهم وتفاوت اجناسهم وغلبة اناثهم على ذكرانهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فالمراد من العالمين الناس لان المتاتي (یعني چي قوم لوط به لواطت ورسره کاوه) الذكور منهم خاصة لا الذكور من سائر انواع الحیوان والقرینة ایقاع الفعل علیهم یعني اتاتون علیهم والجمع بالواو والنون بیله حاجته و تغلیب ته صحیح ده.

پوښتنه: په عالمینو کي خو ملکي او جن هم د ذوی العقول څخه داخل دي؟

ځواب: هم خارجون بالضرورة العقلية، او مظهري وايي چي جمله د اتاتون بدل ده د لاتتقون څخه، او روح المعاني دغه مطلب په بل عبارت بیان کړی دی حیث یقول ویجوز انیکون متصل بتاتون، او ترجمه دوارو یوه کړي ده ای اتأتون من بین من عداکم من العالمين الذكران لايشارككم فيه غيركم او روح البیان هم دواړه احتماله ذکر کړي دي.

درویش وايي: چي پر اخیر تقدیر مراد له عالمینو څخه کل من یتاتی منه الاتیان ای الوطی وهم الذكور، او عالم پر دې تقدیر عام دی ای مایعلم به الصانع سبحانه والجمع بالواو والنون مبني على تغليب العقلاء.

سوال: په عالمینو کي خو پر دې تقدیر سرکوزی او خر هم داخل دی او سره ددې سرکوزی او خر نر پر نر خېژي یعني جماع ورسره کوي، نو هغه حصر به څرنګه صحیح سي چي لایشارككم فیه غیرکم؟

ځواب: دا اتیان د نر ونر ته نادر دی والنادر کالعدم. كذا في روح المعاني.

وَتَذَرُوْنَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُمْ مِّنْ اَزْوَاجِكُمْ

او تاسي پرېږدئ هغه څوک چي پیدا کړي ستاسي د نفع اخستلو لپاره یعني الوطي، خدای ﷻ ستاسي له ماینو څخه.

یوه سه: چي کلمه د من لپاره د بیان ده، که د کلمه د ما جنس ښځي مراد وي، او یا کلمه د من لپاره د تبعیض ده که چېري د ما څخه عضو مباح د ښځي یعني القبل.

یوه سه: چي په دې تعریض دی پر دې چي ګاهي به دوی د ماینې سره لواطت کاوه لکه روافض چي یې کوي، نو په دې آیت کي دلیل دی پر حرمت د لواطت د ماینې سره یا د ښځي سره کما یدل علیه قوله تعالى في موضع آخر: نساءكم حرث (ای ځای د کښت دی چي تخم د نطفې پکښي وپاشي، خدای ﷻ به حاصل د عیال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درکړی) فاتوا حرثکم (یعني ځای د کښت چي قبل دی) انی شئتم (څرنګه چي مو خوښه وي په ولاړي وي او که په ناستي وي او که پر بل ممکن کیفیت وي) په صحیح حدیث کي راغلي دي، من اتی امرئة في دبرها فهو بريئ مما نزل على محمد ولاینظر الله اليه ای بنظر الرحمة.

بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ ﴿١٦٦﴾

بلکي تاسي يو داسي قوم یاست چي تجاوز کوي د له حلاله ځخه چي زوجات دي و حرام ته چي ادبار الرجال یعني په پوره کول د شهوت تر ټولو خلکو په دې باب مخ مخ یاست بلکي تر حیواناتو الا نادرًا کمامر، او یا د عادون معنی مفرطون في المعاصي.

پوښتنه: د لواطت کاره فاعل او مفعول چي عاقلان بالغان وي بالطوع حکم شرعًا څه دی؟

ځواب: امام شافعي او احمد رحمهما الله وايي حکم یې حکم د زنی دی یعني یا جلد یا رجم، وقال مالک رحمه الله حکمه الرجم على الفاعل والمفعول به احصنا او لم یحصنا، او امام الائمة سراج الامة ابو حنيفة رحمه الله وايي تعزیر دي ورکړل سي حد شرعي نسته باندي، خلافًا لصاحبيه.

قَالُوا لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَا لُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمُخْرَجِينَ ﴿١٦٧﴾

پوه سه: چي لام د لئن خو موطئه دی یعني جواب د قسم محذوف دی یعني که نه منع نه سي ای لوط له دغه دعوت ځخه وتوحید ته معبود او د نهي ځخه زموږ لواطت ځخه ته به ګرځې یعني موږ به دي وباسو د خپل ښاره وبي ځخه.

قَالَ إِنِّي لِعَمَلِكُم مِّنَ الْقَالِينَ ﴿١٦٨﴾

لوط ع وویل زه ستاسي د عمل د لواطت او د شرک ځخه د بعض کونکو له ډلي ځخه یم، غاية البغض، نو زما باک نه کیږي په اخراج سره، قال مشتق دی د قلی ځخه چي بغض شدید ته وايي.

الاعراب: پوه سه! چي من القالين متعلق دی په محذوف پوري، والتقدير لقال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من القالين یعني مبغض من المبغضین، او هغه محذوف قال خبر د ان دی یعني في اني ومن القالين صفت لقال وقوله لعملکم متعلق دی په خبرپوري.

بوه سه: چي لوط ؑ ته معلومه سوه چي زما دعوت په دوی کي تاثیر نه کوي، نو خدای ﷻ ته یې خواست وکړی چي ما ته نجات راکړې د دوی له مصاحبت څخه، او موږ وساتې له هغه عذاب څخه چي پر دوی راتلونکی دی، حيث قال.

رَبِّ نَجِّنِي وَأَهْلِي مِمَّا يَعْمَلُونَ ﴿١٦٩﴾

یا ربه ما او زما اهل یعني عیال د هغه شي څخه وساتې چي زما قوم یې عمل کوي.

سوال: د ده قوم خو شرک او لواطت کاوه، او لوط ؑ خو نبي معصوم ؤ او لپاره د منع د شرک او لواطت ده ډېره جان فشاني وکړه، نو دی دي څرنګه وایي نجني آه؟

ځواب: مضاف محذوف دی ای نجني من عذاب ما يعملون.

فَنَجَّيْنَاهُ وَأَهْلَهُ أَجْمَعِينَ ﴿١٧٠﴾

نو نجات ورکړی موږ ده ته او د ده اهل ته ټولو ته.

بوه سه: چي دا جمله عطف ده پر هغه قال چي مقدر ؤ د مخه تر رب آه، والتقدير قال رب نجني آه.

إِلَّا عَجُوزًا فِي الْغَابِرِينَ ﴿١٧١﴾

"الا عجوزا" چي د لوط ؑ ماینه وه واهله یې نوم ؤ او دا استثناء له اهل څخه ده، ولي په سبب د زوجيت دا په اهل کي داخله وه وان کانت کافرة.

درويش وايي: چي ډېر ملایان د عجوز معنی په سپین سري کوي، لکن دا غلطه خبره ده. بلکي هره ښځه که سپین سرې وي او که ځوانه عجوز یې بولي؛ راغب اصفهاني رح وایي چي ښځه ته چي عجوز وایي له دې سببه چي د ډېرو کارو څخه دا عاجزه ده، لکه بامونه نسي ګلولای، پلنډي په شاورل، باغباني او بزګري کول او د نورو ورته کارو څخه عاجزه ده.

Maktaba Tul Ishaat.com   Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي ښځتانه هم هره ښځه عاجزه بولي که څه هم ځواندوي.

''في الغابرین'' په باقیینو سره په عذاب کي یعني د خدای ﷻ په تقدیر سره ددې سبب د بقاء په هلاک او عذاب کي داؤ چي ددې میلان د قوم پر خواؤ او په قبیح د قوم راضي وه، بعض مفسران وايي چي دا په خپل اختیار په قریه کي پاته سوه، او بعض وايي چي په لاره کي یې ډبره پر سر ولګېده هلاکه یې کړه.

ثُمَّ دَمَّرْنَا الْآخَرِينَ ﴿١٧٢﴾

یعني وروسته تر وتلو د لوط؈ او دده د اهل له قریې څخه هلاک کړه موږ هغه نور کافران او لواطت کاران.

وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَسَاءَ مَطَرُ الْمُنذَرِينَ ﴿١٧٣﴾

او موږ وه اوراوه نابلده باران، چي د اسمان له خوا ډبري پر وه اوربدلې، نو بد دی باران د منذرینو یعني بېرول سوو کسانو.

درویش وايي: چي وهب بن منبه رح وايي چي د اور باران پر وسو، دا ترجمه د صریح قرآن د هغه آیت څخه خلاف ده (ولما جاء امرنا جعلنا علیها سافلها وامطرنا علیها حجارة من سجیل)

پوه سه: چي لام په المنذرین کي لپاره د جنس دی، ددې سببه چي مضاف والمنذرین ته چي مطر دی فاعل د ساء چي په معنی د بئس دی واقع سي فافهم. والمخصوص بالذم محذوف ای مطرهم.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٧٤﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٧٥﴾

درویش وايي: چي ددې آیت تفسیر په کامل ډول دمخه تېر سوی دی فتذکر هداک الله تعالی.

كَذَّبَ أَصْحَابُ لْئَيْكَةِ الْمُرْسَلِينَ ﴿١٧٦﴾

تکذیب وکړی خلکو د ځنګله د رسولانو چي شعیب ؈ و.

پوه سه: چي په دې آیت کي یې کذب مذکر راوړی کذبت یې نه و وایه. له دې سببه چي فاعل یې اصحاب دی هغه مذکر دی، او ایکه د یو ځنګله نوم ؤ چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ډېرې درختې یو د بله جاروتلې پکښې وې نژدې و مدین ته، چې په دې ځنګله کې
ډېر انسانان اوسېدل، نو شعیب ﷺ ودې ایکه ته د ځنګله و خلکو ته په نبوت
خدای ﷻ راواستاوه او د مدین نبي هم ؤ، لکن شعیب ؑ د اهل مدین او د ایکه د
وګړو څخه نه ؤ، نو په دې سبب خدای ﷻ دلته داسې وویل:

إِذْ قَالَ لَهُمْ شُعَيْبٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٧٧﴾

چې وویل شعیب ؑ و اهل ایکه ته، یعني اخوهم یې نه وو ایه، ولې چې د
شعیب ؑ د اهل ایکه سره یې نسب نه ؤ شریک، او چې د مدین استول یې په بل
ځای کې ذکر کړی دي داسې یې ویلي دي والی مدین اخاهم شعیبًا یې ویلي دي،
ولې چې اهل مدین سره د شعیب ؑ په نسب کې شریک ؤ؛

فائده: شعیب بن نوب بن مدین بن ابراهیم ؑ د مور نوم یې میکیک بنت لوط ؤ.

"الا تتقون" استفهام لپاره د انکار دی، او نفي د نفي اثبات دی یعني له
عذاب څخه د خدای ﷻ وبېرېږئ.

إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٧٨﴾ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٧٩﴾ وَمَا أَسْأَلُكُمْ عَلَيْهِ
مِنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٨٠﴾

درویش وایي: چې د دې آیت ترجمه د مخه تېره سوې ده مکررًا.

فائده: دعوت د دغو مذکورینو انبیاء کرامو علیهم السلام لکه خدای ﷻ چې
حکایت کړی دی پر یوه صیغه او عبارت وه. سبب یې دادی چې د دغو انبیاؤ ؑ
دعو پر یوه ډوله ؤ چې امر بالتقوی والطاعة والاخلاص في العبادة والامتناع من
طلب الاجر علی الدعوة وتبلیغ الرسالة، نوم هم داسبب دی چې خدای ﷻ په بل
ځای کې د قرآن مجید داسې فرمایلي دي خطابًا لنبینا ﷺ: انا او حینا الیک کما
اوحینا الی نوح والنبیین من بعده، وقال الله تعالی واقیموا الدین ولا تتفرقوا.

أَوْفُوا الْكَيْلَ وَلَا تَكُونُوا مِنَ الْمُخْسِرِينَ ﴿١٨١﴾ وَزِنُوا بِالْقِسْطَاسِ الْمُسْتَقِيمِ ﴿١٨٢﴾

پیمانه پوره ورکوئ، که هغه شي په پیمانه خرڅېدی لکه غنم، وریجې،
ورښې، جوارې وغیرها په عصر قدیم کې د عربو الی الیوم، او مه ګرځئ له هغې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دلي څخه چي حقوق الناس په کمه پیمانه ورکوي چي په عربي تطفيف ورته وايي.

فائده: جمله ''اوفوا الكيل'' سره د معطوفاتو بیان د تقوىٰ دی.

او تول کوئ په ترازو برابر سره يعني كه هغه مبيع وزني ؤ، لکه سره زر، سپین زر، وسپنه وغيرها.

فائده: مېزان ترازو ته وايي، او د مستقیم معنی عدل ده چي تطفيف نه وي پکښې، په قاموس کي وايي چي قسطاس بضم القاف وكسرها، مطلق الميزان او اقوم الموازين وهو الميزان العدل. او رومي معرب انتهى، يعني لفظ اصلاً رومي دی عربو په عربي کي درج کړی دی.

وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿۱۸۳﴾

او تاسي کم مه ورکوئ خلکو ته شیان د هغو که مکیل وي او که موزون وي، او تاسي فساد مه کوئ په مځکه کي بالقتل والغارة وقطع الطريق وغير ذالک ''مفسدين'' يعني په قصده فساد کوئ. يعني که د سړي قصد د اصلاح ؤ هغه فساد ته مفضي سو، نو پر هغه جرم او ګناه نسته. لکه موسىٰ عليه السلام چي قبطي ظالم چي پر اسرائيلي يې ظلم کاوه لپاره د تاديب يې په سوک وواهه هغه مړ سو. يا د چا څخه فساد خطاء واقع سي، لکه يو سړی چي هوسی مثلاً په غشي ولي هغه پر يو انسان واقع سي او مړ سي هغه ته افساد نه وايي.

وَاتَّقُوا الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالْجِبِلَّةَ الْأَوَّلِينَ ﴿۱۸۴﴾

او وېرېږئ د هغه ذات څخه (مراد څښتن خدای جل جلاله دی) چي پيدا کړي يې یاست تاسي.

پوه سه: چي جبلة بالكسرتين خلقت ته وايي فلابد من حذف المضاف ای ذوی الخلقة چي د مخه وه يعني په زمان کي.

قَالُوا إِنَّمَا أَنْتَ مِنَ الْمُسَحَّرِينَ ﴿۱۸۵﴾

پوه سه: چي مسحرين له بابه د تفعيل دی چي لپاره د تکثير دی د دوی يعني قوم د شعيب[۴] وويل چي ته هرګز نه يې مګر پر تا سحر کړل سوی دی، مرةً بعد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اخري حتی چې ستا عقل یې سلب کړی دی، نو ځکه دا خبري کوې لکه لېوني.

وَمَآ اَنْتَ اِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُنَا وَاِنْ نَّظُنُّكَ لَمِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿١٨٦﴾

او ته نه یې مګر په مثل زموږ په خورک بلکې په ټولو افعالو او صفاتو کې د بشریت، نو ته څه تفضیل پر موږ لرې چې د رسالت دعوی کوې.

فائده: ددې دوو جملو تر منځ د واو راوړل دلالت پر دې دی چې دا دواړه صفت د تسحیر او د کونه بشرًا منافي د رسالت سره دی مبالغة في تکذیبه.

پوه سه: چې ان مخفف د مثقل دی، اسم یې ضمیر شان محذوف دی وکلمة اللام في لمن فارقة بین ان النافیة وان المخففة، او شان دادی چې موږ ګمان کوو پر تا چې ته د دروا غو ویونکو د ډلې یې په دعوه کې د رسالت.

فَاَسْقِطْ عَلَيْنَا كِسَفًا مِّنَ السَّمَآءِ اِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿١٨٧﴾

نو پر موږ راغوځاره کړه یوه ټوټه له اسمان څخه که ته یې له رښتیا ویونکو څخه په دعوه کې د نبوت او رسالت لان المدعي لابد له من شاهد الصدق.

قَالَ رَبِّيْٓ اَعْلَمُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٨٨﴾

شعیب ؑ ورته وویل چې زما خدای خبر دی په عمل ستاسې په چم ستاسې په کیل او وزن کې وغیر ذالک من الشرک والمعاصي، نو خدای ﷻ به جزاء درکړي او عذاب به درباندي نازل کړي ان شاء ولیس نزول کسف السماء عليّ، بل علي الدعوة لیس الا.

پوه سه: چې فقیر تفسیر د ما تعملون په عمل سره وکړی دا پر تقدیر ددې چې ما مصدریه سي، او که ما موصوله سي، نو عائد یې په صله کې محذوف دی ای الذي تعملونه.

فَكَذَّبُوْهُ فَاَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ الظُّلَّةِ ۭ اِنَّهٗ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿١٨٩﴾

نو دوی تکذیب وکړی د شعیب ؑ، نو دوی ونیول عذاب د ورځې د سایوان چې مراد ځنډي وریځ ده.

موضوع داسي پېښه سوه چې خدای ﷻ نهایت سخته ګرمي پر دوی مسلطه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړه حتی چي دوی به دباندي ګزاره نسوای کولای، نو به په زېر خاتو کي چي په عربي يې سروب بولي ننوتل زېر خانې به تر دباندي ډېري ګرمي وې، په دې دوران کي خدای ﷻ یوه وريځ پیدا کړه چي ددوی پر مخه یې ښه سايه وکړه، نو دوی ګرده سره جمع سوه او خوشالي يې کول، نو هغې وريځي د اور باران شروع کړی تولې يې وسوځل، په تحقيق د يوم الظلة عذاب د لوی ورځي و، دا قصه په تفصيل سره د سورة طه په تفسير کي مطالعه کړئ.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٩٠﴾

وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ الْعَزِيزُ الرَّحِيمُ ﴿١٩١﴾

درويش وايي: چي ددې آيت تفسير په اوله قصه کي تېر سوی دي، نو دا اووه قصې چي په دې ځای کي په اختصار سره خدای ﷻ راوړې لپاره د تسلي د آنحضرت ﷺ او لپاره د تهديد د مشرکينو د مکې، وروسته خدای ﷻ بيان کوي حقيت د قرآن او د رسالت د عليه الصلوة والسلام.

وَإِنَّهُ لَتَنزِيلُ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٩٢﴾

"وانه" ای القرآن، روح البيان وايي چي ضمير د انه راجع و قرآن ته دی که څه هم ذکر د مخه نه دی تېر سوی للعلم به انتهٰی، او مظهري رح وايي چي دا آيت عطف دی على قوله تعالى في اول السورة تلک آيات الكتاب المبين آه، او د كتاب مبين څخه قرآن مبارک مرادی دی، نو مرجع د ضمير د مخه تېر سوی دی، فلا حاجة الى توجيه روح البيان يعني للعلم به فافهم، او روح المعاني وايي عود الى لما في مطلع السورة الكريمة من التنويه بشان القرآن انتهى، نو ددې عبارت معنی هم داده چي مرجع د ضمير د انه د مخه ذکر سوی دی فتدبر.

بوه سه: چي تنزيل مصدر دی په معنی د مفعول ای منزل من رب العالمين.

فائده: له تنزيل څخه چي باب د تفعيل دی او لپاره د تدريج دی، دا فهمېږي چي قرآن مبارک په يوه وار نه دی نازل سوی، بلکي تدريجًا په درويشت (۲۳) کاله کي چي توله زمانه د نبوت د عليه الصلوة والسلام وه بشپړه سوی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تنبیه: په وصف کي د رب العالمين اشاره ودې ته ده چي نزول د قرآن له آثارو څخه د تربيه د خدای ﷻ او د رحمت د خدای ﷻ دی پر ټولو عالميانو من الانس والجن فافهم هداک الله تعالی.

نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الْأَمِينُ ﴿١٩٣﴾

ای نزل الروح الامين متلبسًا بالقرآن فالباء للملابسة، او يا کلمه د باء لپاره د تعديه ده ای انزله، او دا جمله يا حال ده په تقدير د قد کماهو القانون النحوي في الماضي الواقع حالاً او يا لپاره د تاکيد د ماسبق ده.

پوه سه: چي مراد له روح الامين څخه جبرئيل عليه السلام دی چي هغه رسول د خدای ﷻ دی في الوحي الی جميع الانبياء عليهم السلام.

پوښتنه: جبرئيل عليه السلام ته روح ولي وايي؟

ځواب: لکونه سببًا لحيوة قلوب المکلفين بنور معرفة الله وطاعته لان الوحي الذي فيه حيوة من موت الجهالة يجری علی يد جبرئيل.

عَلَىٰ قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنذِرِينَ ﴿١٩٤﴾

ستا پر زړه يا محمد (ﷺ) چي ته وګرځې له بېرونکو څخه د خلګو من الشرک والمعاصي، وترک الطاعات، ولتکون متعلق بقوله نزل به آه، او بيان د حکمت الهي دی په نزول کي د قرآن عظيم الشان.

سوال: تخصيص د زړه ولي وکړل سو مع ان عليک اخصر منه؟

ځواب: له دې سببه چي ځای د حفظ د وحي په ټوله جسد کي د انبياء عليهم السلام زړه دی، فالمعنی تلاه عليک يا محمد ﷺ حتی وعيته بقلبک.

پوښتنه: عليه الصلوة والسلام خو مُبشر هم ؤ نو هغه يې ولي نه کړی ذکر؟

ځواب: هر نبي په ابتداء کي د کفر او شرک له منځه وړلو لپاره راځي، اهل البشارة وروسته پيدا کېږي، او يا لپاره د دفع د معاصيو په آيت کي لکه انبياء د بني اسرائيلو، او بعض مفسرين وايي چي انذار خو د قسم د تخلية بالخاء المعجمة او تخليه مقدم ده پر تحليه بالحاء المهملة، نو ځکه يې کفايت په انذار سره وکړی فتذکر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ﴿۱۹۵﴾

په ژبه یعني په لغت د عربو چې معنی یې هر عربي ژبان ته واضح ده، ابن عباس رضي الله عنه وایي چې پر لغت د قریشو دی تاچې دوی عذر ونه کړي چې مورددې قرآن په معنی نه پوهېدلو.

فائده: حرف جر متعلق دی په نزل پورې او یا په المنذرین پورې. او بعض مفسرین وایي چې ددې آیت معنی داده نزل علی قلبک بلسان عربي، یعني زړه دې په پوهېږي. او که چېرې په عجمي ژبه مثلاً پښتو فارسي یا هندي نازل سوی وای لکان نازلاً علی سمعک نه پر زړه، ولې په غوږو خو به دې اورېدلای او زړه به دې په معنی نه پوهېدای.

پوښتنه: تا وویل چې قریش عذر ونه کړي آه، نو عجمو لره دا عذر نه دی پاته چې قرآن عربي ؤ موږ نه په پوهېدلو او که څرنګه؟

ځواب: مخاطب اول د هر نبي خپل قوم دی، نو قریش چونکه عرب وه په عجمي لغت نه پوهېدل، نو عذر یې پر ځای دی او پاته عجم سوه هغو ته خو قرآن په ترجمه د واقف اللسان العربي والعجمي به ور رسېږي، نو سوال د دوی بې ځایه دی.

فائده: په دې آیت کې تشریف دی د لغت عربي پر نورو ژبو باندې، ولې قرآن عظیم الشان عربي دی، او خدای ﷻ په مبینًا سره ستایلې ده. ولهذا اختار الله ﷻ هذه اللغة لاهل الجنة واختار لغة العجم لاهل النار.

سوال: څرنګه قرآن عربي وبلل سو، او سره ددې چې په قرآن کې د نورو ژبو لغات هم سته. مثلاً فارسي لغت پکښې سته لکه: سجیل: چې په معنی د سنګ ګل دی، او رومیه لغت هم پکښې سته نحو فصرهن چې معنی یې ده قطع هن، او سریاني لغت هم پکښې ته، لکه: ولات حین مناص: چې معنی یې په عربي لیس حین فرار ده، او حبشیه لغات هم پکښې دي لکه: کفلین: چې عربي معنا یې ضعفین ده؟

ځواب: چونکه عربو دغه لغات مستعملول په عربي کې او په معنا یې هم پوهېدل په خپل منځ کې نو دا لغات پر منزله د عربي ژبې دي، روی في الحدیث الصحیح احب العرب لثلاث. لاني عربي، والقرآن عربي ولسان اهل الجنة في

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الجنة عربي، او تر عربي وروسته افصح ژبه د ژبو فارسي ده، وقد ورد في الحديث الصحيح لسان اهل الجنة العربية والفارسية الدرية بتشديد الراء كما في الكرماني وغيره، ذكره صاحب الكافي والقهستاني وابن كمال وغيرهم وصححه.

سوال: دا حديث د مخه د حديث صحيح چي احب العرب لثلاث چي په هغه کي دا عبارت هم راغلى دى ولسان اهل الجنة عربي منافي به نه وي؟

خواب: لا! ولي چي په حديث سابق کي د حصر عبارت نشته يعني فقط يا ليس لسان اهل الجنة الا العربي روح البيان.

وَإِنَّهُۥ لَفِى زُبُرِ ٱلْأَوَّلِينَ ﴿١٩٦﴾

درويش وايي: چي اکثره مفسرين پر دې دي چي ضمير انه راجع دى قرآن ته او مضاف محذوف دى (اى ذكر القرآن) يعني خداى ﷻ په زبر قديمه ؤ خبر ورکړی ؤ له قرآن څخه چي نازل به سي پر نبي مبعوث في اخير الزمان، او بعض مفسرين وايي چي ان معنى القرآن في الكتب المتقدمة لكن دا په اعتبار د اغلب دى فان التوحيد وسائر مايتعلق بذاته تعالى وصفاته، وكثير من المواعظ والقصص مذكورة في الكتب المتقدمة، دا معنى نه ده چي تول مضامين د قرآن په كتب متقدمه وو کي مسطور وه حتى يرد چي غالب گمان خو دادى چي قصه د افک د عائشي ﷺ يا نکاح د امرئة زيد يا اوائل د سورة التحريم وغير ذالک خو په کتب متقدمه وو کي نه وه. مظهري ؒ وايي چي بعض حنيفيان وايي چي قرآن نوم دى د معنى فقط لانه لمن يكن القرآن بهذه العبارت العربية في الكتب المتقدمة قطعًا. مظهري ؒ وايي وكذا روح المعاني چي دا قول مردود دى بلکي قرآن اسم د نظم او معنى جميعًا دى، ولي چي خداى ﷻ داسي وويل قرآنًا عربيًا فان العربي صفة للنظم ليس الا، او لويه خبره هم داده چي قرآن معجزًا بالنص والاجماع والاعجاز من خواص النظم يعني چي په نظم کي د قرآن دومره لوى فصاحت او بلاغت نغښتي دى چي له طوقه د بشر خارج دى، ومعنى القرآن ليس كك. مثلاً قصة يوسف ؑ بدون مراعات النظم العربي ليس خارج عن طوق البشر، ددې سببه وجنب ته ترجمه د قرآن په فارسي روا ده مثلاً حمديست مر خدايرا که افرزينده عالميان است چي ترجمه د الحمد لله رب العالمين ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده مهمه: له امام اعظم ابو حنيفه رحمه الله نه منقول ده چي قرائت د قرآن په لمانځه كي په فارسي ژبه روا دی، ولي نظم يعني عربي عبارت ركن غير لازم دی په قرآن په حق كي د لمانځه رعايةً للخضوع يعني تاچي ذهن د قرآني الفاظو فصاحت او بلاغت ولاړ نسي، او حضور د لمانځه ولاړ نسي، خلافًا لصاحبيه ابى يوسف او محمد رح.

درویش وايي: چي ددې عبارت د تصحيح لپاره ډېرو حنيفي علماؤ كوشش كړى دى لكن دا په صحيح سند رسېدلې ده چي امام اعظم رح له دې خبري نه رجوع كړې ده، يو خو توجيه ته يې ضرورت نسته، فتاوى حنيفيه وايي وبه يفتى. والله اعلم بالصواب.

أَوَلَمْ يَكُن لَّهُمْ ءَايَةً أَن يَعْلَمَهُۥ عُلَمَٰٓؤُا۟ بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ ﴿١٩٧﴾

آيا دوی لره چي مراد نه دي كفار د قريشو دي دا حجت او دليل نه دی چي پېژني يعني محمد صلى الله عليه وسلم دده په نعت سره چي په تورات كي موجود دی (كما يعرفون ابنائهم او يا ضمير راجع دی و قرآن ته يعني قرآن منزل من عند الله دی) ملايان د بني اسرائيلو، عطيه رح وايي چي دغه علماء پنځه كسه وه عبدالله بن سلام و ابن يامين و ثعلبة و اسد و اسيد رض، او ابن عباس رض وايي چي كفار د قريشو د مكې نه يهودو ته د مدينې خط واستاوه او په باره كي د محمد صلى الله عليه وسلم يې له دوی نه پوښتنه كړې وه، او هغوی يې په ځواب كي داسي ورته نوشته كړې وه، ان هذا لزمانه وانا لنجد في التورات نعته وصفته.

درویش وايي: چي اوس پېرته د آيت مذكوره د تركيب پر لور، پوه سه! چي همزه لپاره د انكار د نفي دی چي مرجع يې اثبات دی، او كلمه د واو عطف ده پر مقدر باندي يعني وروسته تر همزه او دمخه تر واو، اولهم حال دی له آيت نه او ضمير د لهم راجع دی و مشركانو ته د قريشو، او آية خبر دی د يكن او ان يعلمه اسم د يكن دی قدم الخبر على الاسم للاعتناء بالمقدم يعني آيةً، والتقدير الم يعرفوا رسولهم ولم يكن لهم آية دالةٌ على انه تنزيل رب العالمين وانه في زبر الاولين ان يعرفوه علماء بني اسرائيل اى قد كان علمهم اى علماء بني اسرائيل آيةً على صحة القرآن وحقية الرسول صلى الله عليه وسلم فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

﴿وَلَوْ نَزَّلْنَٰهُ عَلَىٰ بَعْضِ ٱلْأَعْجَمِينَ﴾

بوه سه: چې اعجمين جمع د اعجم ده اعجم هغه چاته وايي چې ښه او فصيح عربي نسي ويلای که څه هم په نسب عرب وي، والعجمي هو المنسوب الى العجم يعني په نسب کي که څه هم په عربي ژبه کي ډېر فصيح وي، نو معنی د آيت داده که موږ نازل کړی قرآن پر يو سړي چې غير فصيح اللسان ای په عربيت کي هذا ماقاله المظهري، او بيضاوي او روح البيان وايي چې اعجمين جمع اعجمي ده په تخفيف د يا، نو ځکه په جمع يې جمع السلامة راغله، او که جمع د اعجم وای لکه مظهري چې وايي، نو بيا يې جمع السلامة نه وه روا، ولي د صرف په کتابو کي وايي افعل فعلاء لايجمع جمع السلامة.

﴿فَقَرَأَهُۥ عَلَيْهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ مُؤْمِنِينَ﴾

نو که دا عجمي قرآن تلاوت کړی وای پر دوی يعني اهل مکه نه به وای گرځېدلي دوی يعني اهل مکه په قرآن سره مؤمنان لفرط عنادهم واستکبارهم من اتباع الاعجمي او لعدم فهمهم يعني يقولون ما نفقه ما تقول.

﴿كَذَٰلِكَ سَلَكْنَٰهُ فِى قُلُوبِ ٱلْمُجْرِمِينَ﴾

بوه سه: چې كذالک په محل کي د نصب دی په فعل محذوف سره چې تفسير يې وروسته فعل کوي چې دې ته په علم نحو کي منصوب على شريطة التفسير وايي.
بوه سه: چې ضمير د مفعول راجع دی و شرک او تکذيب ته چې دلالت هغه دمخ عبارت پر وکړی ما کانوا به مؤمنين والمعنی ادخلنا الشرک والتکذيب "في قلوب المجرمين" په زړو کي د مجرمانو يعني المشرکين او بعض مفسرين وايي چې د سلکناه ضمير راجع دی و قرآن ته، والمعنی ادخلنا القرآن في قلوب اهل مکة يعني فعرفوا معانيه واعجازه يعني کونه خارجًا من طوف البشر.

﴿لَا يُؤْمِنُونَ بِهِۦ حَتَّىٰ يَرَوُا۟ ٱلْعَذَابَ ٱلْأَلِيمَ﴾

ومع ذالک لايؤمنون به عنادًا وتکبرًا، تر هغو چې دوی ووينې عذاب دردناک يعني عذاب النار په ورځ د قيامت يا په قبر کي، نو هغه وخت به دوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مجبور سي و ایمان ته لکن د هغه وخت ایمان فائده نه لري.

پوه سه: چي په دې آیت کي اخبار دی په حال سره د هغه چا چي خدای پاک علم پر لري چي دوی به پر شرک مري، دا خبره ما ددې لپاره وکړه چي ډېر اهل مکه چي په وخت کي د نزول ددې آیت مشرکان وه لکن وروسته یې ایمان راوړی، یعني ایمان یې تر وخته د لیدلو د عذاب الیم نه وځنډاوه... سعدي رح وایي:

تو پیش از عقوبت دری عفوه کوب .... که سودی ندارد فغان زیر چوب

فَيَأْتِيَهُم بَغْتَةً وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٠٢﴾ فَيَقُولُوا هَلْ نَحْنُ مُنظَرُونَ ﴿٢٠٣﴾

نو به راسي دا عذاب و دوی ته نابېره یعني بېله کومي علامې د لیدلو او دوی به علم بلکې ظن نه لري په وخت کي د راتلو د هغه عذاب، نو دوی به په وخت کي د راتلو د عذاب ووایي د تحسر د پښېماني پر خپل کفر او عصیان، آیا موږ ته به مهلت نه راکړي یعني چي بیرته دنیا ته ولاړ سو او ایمان راوړو او اطاعت د خدای ﷻ وکړو.

پوه سه: چي استفهام لپاره د تمنی د مهلت دی، مقاتل رح وایي چي خدای پاک چي پر ژبه د رسول الله ﷺ د عذاب بیان وکړی، نو دوی وویل یعني و علیه الصلوة والسلام ته الی ما توعد به (تر څو پوري چي ته موږ بېروې په عذاب سره) مطلب یې دا ؤ چي رادې سي عذاب فقال الله تعالی ﷻ:

أَفَبِعَذَابِنَا يَسْتَعْجِلُونَ ﴿٢٠٤﴾

آیا په عذاب زموږ دوی په تلوار غوښتنه کوي او په وخت د نزول د عذاب یعني في یوم القیامة دوی طلب د مهلت به کوي.

فائده: همزه لپاره د انکار او تعجب دی او فاء عطف ده پر مقدر باندي، والتقدیر: ا بوعیدنا لایستقینون فبغد ابنا یستعجلون، ګاهي به یې ویل انزل علینا حجارة من السماء او ایتنا بعذاب الیم، او ګاهي به یې ویل فاتنا بما تعدنا ان کنت من الصادقین، دا ټولي خبري بناء پر اعتقاد ددوی وې چي دوی بعث بعد الموت او عذاب یې نه مانه، بلکې ددوی دا خیال ؤ چي موږ به ډېر عمرونه په صحت او سلامتیا سره تېروو، نو خدای پاک رد کړی استعجال ددوی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَفَرَءَيْتَ إِن مَّتَّعْنَٰهُمْ سِنِينَ ﴿٢٠٥﴾

استفهام لپاره د تقرير دی او فاء معطوف ده پر مقدر باندي والتقدير اتفكرت فرئيت يعني فعلمت والمخاطب كل من ياتي منه الرؤية، كه موږ تمتع ورکړو دوی ته يعني فائده اخستل په ژوند سره د ډېرو کلونو حتى لکه د دنيا ټول عمر.

پوه سه: چي دا جمله مربوط ده په هغه قول سره ددوی: هل نحن منظرون وما بينها اعتراض يعني جمله معترضه ده لپاره د توبيخ.

پوښتنه: ارئيت هر ځای چي راسي علماء يې په اخبرني ترجمه کوي حتى چي ددې آيت ترجمه يې داسي کړې ده، اخبرني يا من يصلح للخطاب دا ترجمه ددې لفظ څرنګه کېدای سي؟

ځواب: توجيه يې داسي ده چي رؤيت يعني ليدل په سترګو د اقوى د اسبابو څخه د اخبارو او اشهر د اسبابو د اخبارو، نو له دې سببه د عربو په استعمال کي ارئيت په معنى د اخبرني دی.

ثُمَّ جَآءَهُم مَّا كَانُواْ يُوعَدُونَ ﴿٢٠٦﴾

او وروسته تر دا ډېر عمر تېرېدو دوی ته راسي هغه عذاب النار چي ددوی سره وعده کړل سوې وه په قرآن کريم کي يا پر ژبه د رسول الله ﷺ.

مَآ أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُواْ يُمَتَّعُونَ ﴿٢٠٧﴾

کلمه د ما نافيه ده يعني هيڅ فائده به ونه رسوي دوی ته يعني په دفع د عذاب هغه شی يعني ډېر عمر چي دوی تمتع په کړې وه. نو کلمه د ما د وهم موصوله ده والعائد محذوف يعني يتمتعون به. او يا مصدريه ده ای تمتعهم الطويل.

تاريخ خبري کوي چي عمر بن عبد العزيز رحمه الله ذالک الملک العامل العادل، يوه ورځ چي د خلافت پر کرسی کښېنستی د دغه آيت تلاوت به يې کاوه لپاره د پند اخستلو او و ځان ته د نصيحت کولو.

روايت دی چي هارون الرشيد خليفه يو سړی بندي کړی و په محبس کي نو دې سړي پهره دار سپاهي ته وويل چي ته امير المؤمنين ته زما له خوا ووايه كل يوم مضى من نعمتک ينقص من محنتي، والمعنى هره ورځ چي تېرېږي په نعمتو کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ستا زما محنت هغو مره کمېږي ، والامر قريب (يعني مرګ نژدې دی) والموعد الصراط (يعني زما او ستا دواړو د وعدې ځای پل صراط دی) والحاکم الله (او حاکم خدای ﷻ دی)، نو هارون الرشيد ته چي سپاهي د بندي خاني شفاهي عرضه ورسول، هارون غځار سو او بې هوشه سو، چي په هوش کي راغلی سپاهي ته يې امر وکړی هغه بندي ازاد کړه.

راوي وايي چي ميمون بن مهران رح د حسن بصري رح د ليدلو هوا داره ؤ. اتفاقًا په طواف کي سره يو ځای سوه، نو مهران رح ورته وويل چي ماته وعظ وکړه. حسن بصري رح فقط دغه آيت ورته ووايه "افرئيت" ترپايه پوري، مهران رح ورته وويل لقد وعظت فابلغت و اوجزت، قسم په خدای دی چي نصيحت دي راته وکړی او ډېر بلاغت آميزه او کوتاه.

ابيات

جهان بی فائيست ومردم فريب.... که از دل ربايد قد او شکيب
نگر تا بجاهش نه گردی اسير.... نگردی پی مالش اندر زخير
که آندم که مرگ اندر آيد زراه.... نه مالت کند دستگيری نه جاه
(شکيب معنی صبر)

وَمَآ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ إِلَّا لَهَا مُنذِرُونَ ﴿٢٠٨﴾

او موږ نه ده هلاکه کړې يوه قريه (يعني اهل د يوې قريې، کلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده) مګر نه په داسي حال کي چي دې قريې لره يعني اهل د قرية به بېرونکي وه، يعني رسولان به وه نو دوی د خپل کفر او عصيان څخه لاس نه اخستی.

سوال: قريه خو مفرد ده، نو منذر خو بې يو ؤ، نو منذورن يې جمع ولي راوړه؟

ځواب: منذرون يې له دې سببه جمع راوړه چي منذر رسول او دده تابعان وه، او بل ځواب دادی چي قرية په سبب د دخول من استغراقي حکم د جمع لري او منذرون خو لفظي جمع ده او علماء د اصول الفقه وايي چي مقابله د جمع په جمع سره توزيع د احاد کوي پر احاد، نحو رکبوا دوابهم ولبسوا ثيابهم، کريمه: اذا قمتم الی الصلوة فاغسلوا وجوهکم الآية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذِكْرٰى ۛ وَمَا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۲۰۹﴾

''ذکرٰی'' ای تذکرة، نو محلاً منصوب دی مفعول له دی د الالها منذرون، او یا مفعول مطلق دی لان التذکرة بمعنی الانزار نحو قعدت جلوساً. او یا مرفوع محلاً دی صفت د منذورن دی، او موږ نه یو په اهلاک د قرٰی مذکوره ظالمان چي غیر ظالمان دي هلاک کړو او یا د مخه تر انذار بیعث الرسول دی څوک هلاک کړو.

سوال: ذکرٰی خو مصدر دی نو صفت څرنګه کېدای سي؟

خواب: مضاف ورسره محذوف دی ای ذوو الذکرٰی او یا حمل مبالغةً دی لکه زید عدل فافهم.

وَمَا تَنَزَّلَتْ بِهِ الشَّيٰطِيْنُ ﴿۲۱۰﴾

نه دی نازل کړی قرآن شیطانانو.

پوه سه: چي اهل مکه به ویل چي محمد (ﷺ) کاهن دی، او دده سره شیطانان ملګري دي، هغه شیطانان چي اسمان ته نژدې سي او د ملکو خبري واوري غه محمد ته راوړي چي دی وایي چي دا قرآن کلام الله پر ما نازل سوی دی، او رسول د خدای یم.

فائده: دا خبره دوی له دې د رکه څخه کول چي په وخت کي د بعثت د رسول الله ﷺ په عربو کي کاهنان او غیب ګویان چي د هریو سره شیطان یا په اصطلاح جن ملګري ؤ چي اسماني او د ملکو څخه اورېدلي خبري به یې دوی ته راوړلې.

وَمَا يَنْۢبَغِيْ لَهُمْ وَمَا يَسْتَطِيْعُوْنَ ﴿۲۱۱﴾

او نه بنایي شیطانانو لره چي قرآن دي راوړي، ولي چي قرآن مبارک سر تر پایه هدایت دی، او شیطانان خو خلګ و ضلال ته رابولي. نو څرنګه به دوی د هدایت خالص خبري و آنحضرت ﷺ ته راوړي ''ولایستطیعون'' او نه هم دوی طاقت لري چي د غیب د خبرو چي په قرآن کي سته لکه جنت او دوږخ یا قصې د انبیاء کرامو علیهم السلام یا قصې د هلاک د امم ماضیه وو په سبب د دوام ددوی پر شرک باندي راوړي او پر علیه الصلوة والسلام دي القاء وکړي، ولي دا خبري خو د شیطانانو د مرام سره منافي دي، کما لایخفٰی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّهُمْ عَنِ السَّمْعِ لَمَعْزُولُونَ ﴿٢١٢﴾

دا جمله دليل ده د لايستطيعون، يعني شيطانان له اوريدلو څخه د خبرو د ملکو د اسمان څخه ممنوع سوي دي، ولي چي په هغه لمبه چي د بوه ستوري څخه چي شهاب يې بولي دوى ويشتل کيږي. تفاسير وايي چي د عيسىٰ عليه السلام تر بعثت دمخه استراق السمع د شيطانانو ډيرو مخي ډير وه او کاهنان تر شمېر ډير وه. او چي عيسى ع مبعوث سو پر استراق السمع باندي في الجملة بنديز ولګېدى لکن يک لخته دا لار نه وه بنده او عليه الصلوة والسلام په بعثت سره دا لار بېخي بنده سوه.

فَلَا تَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَٰهًا آخَرَ فَتَكُونَ مِنَ الْمُعَذَّبِينَ ﴿٢١٣﴾

او ته يا محمد (صلى الله عليه وسلم) په عبادت نه کوې سره د خدايه د بل خداى (يعني مشرکان د مکې چي خداى جل جلاله خويې منی لکن خپل بتان يې د خداى شريکان بلل په عبادت کي او فرضاً که ته دا غسي وکړې ته به د معذبينو په ډله کي وګرځې.

پوه سه: چي کلمه د فاء جزاء د شرط محذوف ده اى اذا عرفت يا محمد حال المشركين فلا تعبد معه الهًا آخر.

پوښتنه: پر عليه الصلوة والسلام خو منهي عنه چي شرک دی محاله ځ لانه معصوم، نو څرنګه دی په دې خطاب سره مخاطب سو؟

ځواب: روح المعاني، روح البيان، مظهري، قرطبي الغرض ټوله مفسران وايي چي په دې خطاب حکمت نور تينګول دي د عزيمت دده پر توحيد او باعثه کول دي دده پر زيادت د اخلاص د رب عزوجل سره. سيد المفسرين عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي يحذر به غيره (يعني په دې خطاب سره خداى پاک نور خلک بېروي) يقول انت اکرم الخلق علي ولو اتخذت الهًا آخر لعذبتک (يعني ته يا محمد صلى الله عليه وسلم سره ددې چي عزتمند د ټوله مخلوق يې پر ما باندي لکن معهذا که ته د اله آخر عبادت وکړې زه به عذاب درکړم) او په عين حال کي دا خطاب لطف او نرمي د خداى پاک د نورو مکلفينو سره په دې معنى چي اشراک دومره قبيح او بد شى دی بحيث ينهى عنه من لايمکن صدوره منه يعني سيد البشر صلى الله عليه وسلم فکيف من عداه ع چي شرک ځندي صادر سي. ودا سي بيان ته اهل علم المعاني تعريض وايي دا تعريضات په هره ژبه او عرف کي سته مثلاً يو سړى نافرمانه مريى لري خپل زويته وايي که چېري دي زما په خوله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ونه کړه ترڅو لاخو به دي لاندي کړم او ضرب شديد به درکړم، تعريض دی پر نافرمانه مريي باندي فافهم وقس عليه سائر انواع التعريض.

وَاَنۡذِرۡ عَشِيۡرَتَكَ الۡاَقۡرَبِيۡنَۙ ﴿۲۱۴﴾

او وه بېروه يا محمد (ﷺ) قبيله او قوم خپل الاقرب فالاقرب لان الاقربين اولى بالاهتمام، او د اقربينو په ويلو کي نفي د تهمت دی پر عليه الصلوة والسلام يعني د نورو خلګو له خوا څخه چي دوی به وايي چي خپل قريبان له شرک څخه نه منع کوي او موږ ته وايي چي شرک مه کوئ.

درويش وايي: چي بخاري او مسلم له سعيد بن جبير رضي الله عنه څخه او هغه له ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چي څه وخت چي دا آيت نازل سو (وانذر عشيرتک الاقربين) نو رسول الله ﷺ وه غره ته پورته سو، نو شروع يې وکړه يا بني فهر يا بني عدي يعني کوچني قبائلو ټولو ته يې نعرې شروع کړې يعني قبائل قريش حتى خلګ يعني قريش راغونډ سوه چي څه قصه ده او يو چا چي په خپله فرصت نه درلودی بل نفر به يې خپل پر ځای ورواستاوه چي وګوري چي څه موضوع ده. په اجتماع کي ابو لهب هم راغلی، نو عليه الصلوة والسلام داسي وويل ارئيتکم (يعني تاسي خبر راکړئ که زه تاسي ته خبر درکړم چي ما يوه ډله د اسانو سپاره په وادي کي د مکې وليدل چي پر تاسي د غارت په قصد را روان وه) اکنتم مصدقي (آيا تاسي زما تصديق کوئ؟ خلګو يعني قريشو ورته وويل) نعم! هو ماجربنا عليک الا صدقًا (موږ په تا کي نه دي تجربه کړي مګر رشتيا ويل)، نو عليه الصلوة والسلام ورته وويل فاني نذير لکم من بين يدي عذاب شديد (زه بېرونکی يم تاسي لره د حضور د عذاب شديد يعني که تاسي ايمان نه راوړئ) نو ابو لهب ورته وويل تبًا لک سائر اليوم لهذا جمعتنا.

بوه سه: چي د تبًا معنى هلاکا ده، تا ددې لپاره موږ را جمع کړي يو؟ فنزلت تبت يدا ابي لهب وتب الى اخير السورة، او داغه رنګه په بخاري او مسلم کي په روايت د ابو هريره رضي الله عنه داسي حديث راغلی دی قال قام رسول الله ﷺ حين انزل الله هذه الآية وانذر عشيرتک الاقربين، قال يا معشر القريش يا ورته کلمه (د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روای شک دی) اشتروا انفسکم (رانسئ خپل ځانونه یعني خلاص یې کړې په ایمان راوړلو سره) لا اغني عنکم من الله شیئًا (زه فائده نسم رسولای یعني په حیث د قرابت قومي له عذاب څخه د خدای ﷻ یعني په ورځ د قیامت که تاسي پر کفر تر مړیني دوام وکړئ) یا بني عبد مناف لا اغني عنکم من الله شیئًا (ترجمه یې د ماقبل پر ډول ده) یا عباس بن عبد المطلب لا اغني من الله شیئًا، یا صفیة عمة رسول الله لا اغني عنک من الله شیئًا، یا فاطمة بنت محمد (ﷺ) سلیني من مالي ماشئت لا اغني من الله شیئًا (یعني ان کفرت)

درویش وایي: چې مظهري رحمه الله څه نور روایتونه راوړي دي په روایت د بغوي رحمه الله په اخیر کي یې والله اعلم ویلی دی، درویش هم وایي: والله اعلم کیف هذه الروایات.

روح المعاني وایي چې په بعض روایاتو کي راغلي دي چې دا آیت نازل سو (وانذر عشیرتک الاقربین) رسول الله ﷺ امر کړی علي رضي الله عنه ان یصنع طعامًا ویجمع له بني عبد المطلب، نو علي رضي الله عنه هم دغسي وکړه فجمعهم او دوی څلوېښت کسه وه، نو وروسته تر ډوډۍ خوړلو علیه الصلوة والسلام اراده د انذار ددوی وکړه، نو ابو لهب سبقت و خبرو ته وکړی او داسي یې وویل لقد سحرکم صاحبکم (یعني محمدًا) نو خلک تېولو ولاړ سوه، دا بله ورځ بیا علي رضي الله عنه امر ورکړی چې بیا ددغو خلکو مهماني وکړه علي رضي الله عنه هم هغسي وکړه، ډوډۍ چې وخوړل سول علیه الصلوة والسلام و خبرو کولو ته مبادرت وکړی او وه یې ویل یا بني عبد المطلب اني انا النذیر الیکم الله وبشیر قد جئتکم بما لم یجئ به احد یعني توحید الله بالعبادة، جئتکم بالدنیا والآخرة (یعني په آخرت کي به مو ځای جنت وي او په دنیا کي به جهاد د کفره سره او پر هغو به غالبه سئ د هغو په غنائمو به غنیان وګرځئ) فاسلموا تسلموا (نو تاسي اسلام قبول کړئ تاسي به د دنیا او د آخرت له عذابه څخه سالم کړل سئ) واطیعوا تهتدوا، په اخیره کي روح المعاني ویلي دي الی غیر ذالک من الروایت والاخبار واذا صح الکل فطریق الجمع ان یقال بتعدد الانذار، دی وایي چې بعض له روایاتو څخه داسي هم ستنه چې په هغو سره دلیل وایي شیعه ګان په امر الخلافة، دوی وایي چې خلیفه بالحق او وصي مطلق د علیه الصلوة والسلام علي رضي الله عنه ؤ لکن خلفاء ثلاثة یعني ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم د علي رضي الله عنه سره ظلم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړی او خلافت یې ځندي غصب کړی، روح المعاني وایي چې هغه حدیثونه یا تاویل لري او یا ضعیف دي یا موضوعي انتهی کلامه.

درویش وایي: چې په دې اخیره خبره کي چې په دې سره شیعه ځان دلیل وایي په امر کي د خلافت آه، اشاره و هغه روایت ته ده چې مظهري رح راوړی دی په روایت د محمد اسحاق له ابن عباس عن علي رضي الله عنه چې روایت هغه ؤ چې روح المعاني راوړی ؤ او فقیرهم رانقل کړی آنفًا یعني چې علیه الصلوة والسلام امر کړی علي رضي الله عنه چې ته مهماني د عبد المطلب و تهر ته جوړه کړه آه، همدغه روایت مظهري رح ډېر اوږد رانقل کړی دی چې تخمینًا یوه صفحه یې په نیولې ده، خو فقیر نور نه رانقل کوي د مقصد ځای به یې رانقل کړي، نو دوه دی چې وخوړل سول نو علیه الصلوة والسلام وویل چې څوک زما وزارت قبلوي چې هغه زما ورور او وصي هم وي، حاضرینو ټولو انکار وکړی، حضرت علي رض وایي چې زه تر ټولو په عمر کي کم وم، ما وویل انا یا رسول الله زه ستا وزارت قبلوم انا وزیرک، علي رض وایي فاخذ علیه الصلوة والسلام برقبتي (زه یې تر مغزي ونیولم او وه یې ویل ان هذا خي ووصي وخلیفتکم فاسمعوا له واطیعوه. فقام القوم یضحکون امرنا ان نسمع لعلي ونطیعه انتهی) نو دا روایت که صحیح سي خو د شیعه لوی سند دی چې خلیفه د علیه الصلوة والسلام علي رض دی.

تنبیه: په روایت کي وزرات راغلی دی په معنا د کومک دی او د خلافت دی وروسته تر علیه الصلوة والسلام، نو روح المعاني ودغه روایت ته اشاره وکړه چې یا ضعیف دی یا موضوعي دی.

درویش وایي: چې د داسي روایتو نقل و مظهري رح ته مناسب نه وه. ولي چې ددې آیت وانذر عشیرتک الاقربین په باب صحیح حدیثونه په روایت د بخاري او مسلم موجود دي، چې مظهري رح بعض د هغو رانقل کړي هم دي، والله المستعان وعلیه التکلان، روح المعاني او روح البیان فقط اعتماد پر صحیح طریقه د حدیث کړی دی، د دښمن یعني شیعه لاریې بنده کې ده.

تمهید لترجمة الآیة چې رابسي: پوه سه! چې خفض کښته کښدلو ته وایي او آیت مجازًا په معنی د تواضع او شفقت دی، او او جناح د مرغه وزرته وایي چې هر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

طرف ته يو وزر لري، او په انسان کي دوه جانبه د اوږو جناحان بولي او يوه ته جناح وايي تشبيهًا بجناحي الطائر، او په غزواتو کي د عليه الصلوٰة والسلام چي پرپنځه قسمه وېشل کېدې.

(۱) مقدمة الجيش: چي تر لښکر دمخه به روان وه لپاره د کار سازۍ د لښکر چي يو ځای به يې اړول.

(۲) ساقة الجيش: چي تر لښکر ډېر وروسته به را روان وه، چي که چېرې د لاري په اوږدو کي يو شی د لښکر څخه لوېدلی وای هغه به يې را ټولاوه، او يا له عسکرو څخه که کوم د عذر پر بناء له لښکر څخه پاته سوی وای هغه به يې د ځان سره را رهي کاوه.

(۳) ميمنة الجيش: دوې ډلي د لښکر چي يوه به پر راسته طرف د لښکر را روانه وه د حفاظ لپاره د غازيانو چي دښمن په دغه طرف کي د حملې لپاره پټ نه وي.

(۴) ميسرة الجيش: يوه ډلګۍ به چپه طرف ته د لښکر روانه وه مثل غرض ميمنة الجيش، او دې دواړو ته يې جناحا الجيش تشبيهًا بجناحي الطائر.

(۵) قلب الجيش: او لوی فوج چي په هغه کي به امير الجيش هم ؤ قلب الجيش يې ورته وايه.

يوه سه: چي مرغه چي د مځکي و خواته را کښته کېږي وزرونه کښته کړي چي دا مشبه به دی د تواضع او شفقت.

فائده: مرغه چي الوځي وزرونه لوړ کړي چي دا شاعران په تکبر سره مشابه کوي.

فائده: په آيت شريف کي يا اشاره تمثيليه ده، حاصل دا چي يو هيئت چي منتزع د ډېرو شيانو څخه دی مشابه يې کړی د بل هيئت سره چي هغه هم له ډېرو څخه منتزع وي چي مثال مشهور يې په علم البيان کي دی چي سړی چي بل سړی ويني چي ډېر فکر جن وي ګاهي سر پر زنګانه کښېږدي او ګاهي ځنګ وهي، وهکذا نور اوضاع، نو هغه سړی چي دا بل سړي پر مذکوره حالاتو وليدی داسي ورته ووايي: رئيتک تقدم رجلاً وتؤخر اخرىٰ فتتفكر في الهيئتين للمشبّه والمشبه لتكون الاستعارة التمثيلية لک واضحًا، او په آيت شريف کي مجموع هيئت د مرغه چي وزرونه يې کرار کرار کښته کړه اخيرًا مځکي ته يې ځان ورساوه،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دا هیئت مشبه به دی، او مجموع هیئت د تواضع او پر هغه رحم کول او ځان ته نژدې کول دا مشبه دی فتدبر في الهیئتین لیکون الاستعارة التمثیلة في الآیة واضحًا غایة الوضوح.

او یا په آیت کي یو اخي استعاره تبعیه ده، په علم بیان کي وایي چي مجاز په مصدر کي د یو فعل کول استعاره اصلیه بولي، او په فعل کي د هغه مجاز کول استعاره تبعیه بولي، لکه یو سری چي ووایي قتلت زیدًا لکن ده ضرب شدید ورکړی وژلي یې نه دی فافهم، او په آیت شریف کي په لفظ کي د اخفض چي صیغه د امر او فعل ده تواضع ځندي مرادسي او مراد ده.

درویش وایي: اذا عرفت هذا التمهید، نو اوس ترجمه د آیت کریمه واوره.

وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ ﴿٢١٥﴾

ای لین جانبک وتواضع وترحم یا رسول الله، د هغه چا لپاره چي ستا متابعت کوي، چونکه من اتبع عام ؤ چي متابعت په دین کي او په دنیاي امورو کي، لکن تواضع د علیه الصلوة والسلام صرف د دین د تابع لپاره وه، نو ځکه خدای پاک بیان وکړی "من المؤمنین"

فَإِنْ عَصَوْكَ فَقُلْ إِنِّي بَرِيءٌ مِّمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٢١٦﴾

که یې ستا څخه عصیان کاوه یعني په دین کي یې ستا متابعت نه کاوه، نو ورته ووایه چي زه بېزاره یم د هغه شي څخه چي تاسي عمل کوي من الشرک والمعاصي، نو پر دي تقدیر کلمه د ما موصوله ده والعائد محذوف ای تعملونه. او یا زه بېزاره یم ستاسي له عمل څخه، نو پر دي تقدیر کلمه د ما مصدریه ده کما لایخفی.

وَتَوَكَّلْ عَلَى الْعَزِيزِ الرَّحِيمِ ﴿٢١٧﴾

پوهسه: چي توکل تفویذ دی د خپل کار وبل ته.

تنبیه: توکل په معنی مذکوره سره عقلاً او شرعًا نه دی روا مګر و هغه چا ته چي هغه به قادر پر نفع او ضرر د سړي وي او خبر په خیر و شر د سړي به وي او په عاقبت د کار د سړي به هم خبروي الی غیر ذالک من القدرة التامة والعلم الکامل ولهذا قال "علی العزیز" پر هغه ذات توکل وکړه یا محمد (ﷺ) چي غالب دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او دفع د اعداء ستا ستا څخه کولای سي او هم تاته کومک پر دښمنانو درکولای سي "الرحيم" هغه ذات چي مهربان دی پر تا او ستا پر اتباعو من المؤمنين.

الَّذِي يَرَاكَ حِينَ تَقُومُ ﴿٢١٨﴾ وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ ﴿٢١٩﴾

هغه ذات چي تا وويني چي کله ته ولاړ سې و لمانځه ته (وتقلبک آه) عطف دی پر ضمير منصوب په "يراک" کي، والمعنى ويرى تقلبک في صلوتک (نو مراد د ساجدينو څخه مصلين دي) يعني په حال کي د قيام او رکوع او سجدې او قعود اوله ناسته يا اخيره ناسته.

فائده: ابن عباس رض د ساجدينو ترجمه په مصلين سره کړې ده، او مقاتل رح وايي چي کلمه د فاء په معنی د مع ده حيث قال اى ومع المصلين في الجماعة، او د يراک معنی يې دا کړې ده يعني يراک حين تصلى وحدک، روح البيان د حين تقوم ترجمه په تهجد کړې ده يعني حين تقوم من الفراش للتهجد في جوف الليل، وفي الحديث الصحيح افضل الصلوة بعد الفريضة صلاة الليل.

درويش وايي: چي د تهجد د لمانځه شان د نورو نوافلو رنګه نه دی، بلکي که سړی د تهجد سره عادت درلودی او يوه شپه د مريضۍ يا د استغراق څخه د نوم څخه ي پاته سوه هر څو رکعته چي يې ده شپې کوله هغه مقدار رکعتونه به د ورځي راګرځوي او نور نوافل قضاء نه لري، ويدل على ذالک حديث عائشة رض ان النبي ﷺ کان لايدع صلوة الليل وکان اذا مرض او کسل صلى قاعداً، وروى عنها ايضًا اذا فاتته الصلوة من الليل من وجع او غيره صلى من النهار (۱۲) رکعت، رواه مسلم.

بيضاوي رح وايي چي څه وخت چي منسوخ سو فرضيت د قيام الليل يعني التهجد، نو رسول الله ﷺ په هغه شپه پر کورو د اصحاب کرامو ګرځېدی او غوږ يې نيوی چي څوک تهجد کوي او که نه لکن من حيث لايشعرون، مطلب دا چي عليه الصلوة والسلام حريص ؤ پر کثرت د طاعاتو د اصحاب کرامو رض نو له کورو څخه ددوی به داسي اوازراوتی د قرائت د لمانځه د تهجد يا د ذکر الله لکه د غالبوزو د شرګني څخه چي بو بنهار راوځي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: تقلب يې په دې معنا ولي په احوالو کې د عليه الصلوة والسلام ذکر کړی؟

ځواب: دا ګرځېدل دده مبارک له سببه د رحمت دده وه پر اصحابو خپل، والی هذا المعنى ذهب الحسن رح.

درویش وایي: چې ددې آیت په معنی کې مظهري او روح البیان نور تفسیرونه هم راوړي دي لکن علامه آلوسي رح په روح المعاني کې رد کړی دی والله اعلم بمراده في کتابه.

إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٢٢٠﴾

باقواله وافعاله ﷺ، نو باید چې اصل توکل پر خدای ﷻ وکړل سي.

هَلْ أُنَبِّئُكُمْ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ ٱلشَّيَٰطِينُ ﴿٢٢١﴾

ته ورته ووایه مشرکینو ته د مکې ردًا لقولهم چې دا کتاب چې محمد (ﷺ) قرآن منزل من عند الله بولي دا په اصل کې شیطانان راوړي چې زه تاسي خبر نه کړم چې شیطانان و چاته خبرونه راوړي.

تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ﴿٢٢٢﴾

دا بیان دی د خدای ﷻ له خوا چې شیطانان داسي چاته خبرونه راوړي چې ډېر دروغ جن وي، نو افاک صیغه د مباغلې ده او کثیر الاثم والعصیان وي او د خدای ﷻ اطاعت هیڅ نه وي پکښې لکه کهنه د قریشو یعني شق بن رهم وسطیح بن ربیعه، یا مسیلمة الکذاب یا اسود العنسي وغیرهم لعنهم الله تعالى.

حاصل دادی چې په منځ د معلم او متعلم په بل عبارت په منځ کې د مفیض او مستفیض تناسب شرط دی کما یشهد به العقل السلیم، نو شیطان چې شر الاشرار دی و هغه چاته خبرونه راوړي چې په شروالي کې د شیطان سره مناسبت لري لکه کاهنان د عربو، او ذات پاک د علیه الصلوة والسلام د مطلق افک او اثم څخه پاک دی چې قریش د مکې هم په دې قانع وه، ولي د مخه تر دعوی د نبوت د رسول الله ﷺ دوی په خپله محمد نه باله بلکې امین مکه یې باله نو اذا کان الامر کذالک نو محاله ده چې دته دي شیطانان خبرونه راوړي، او بیا داسي فصیح او بلیغ خبرونه لکه قرآن کریم چې مقابله د یوه سورت انس او جن تهوله نسي کولای.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ع:... این خیال است ومحال است وجنون

فائده: تنزل چې په آیت کې دوه ځایه راغلی دی د مضارع د بابه د تفعل اصل يې تتنزل ؤ يوه تا۔يې ځندي حذف کړه د کماهو القانون الصرفي کما لايخفی على العارف بالفن المذكور.

﴿يُلْقُونَ السَّمْعَ وَأَكْثَرُهُمْ كَٰذِبُونَ﴾

دا جمله محلاً مجرور د صفت ده د کل افاک اثیم. او اکثره د افکانو چې کاهنان دي دروا غ وايي.

فائده: يلقون چې جمع راوړي له دې سببه چې افاک اثیم په دخول سره د کل په معنی کې جمع دی، دوی یعني ټوله افاک اثیم چې کاهنان دي غوږ نسي یعني د شيطانانو خبروته. يعني د شیطانانو څخه زده کوي وهمي او خیالي خبري چې خرافات وي او د واقع سره هيڅ سمون نه لري، او کاهنان نور د خپل ځانه سره ورسره ضم کړي او خلګو ته بيان وي.

فائده: روح البيان وايي چې اکثر دلته په معنی د کل دی، او روح المعاني وايي چې اکثریت د افکانو په خبرو کې د دوی دي چې خبري ددوی اکثر دروا غ دي يعني چې د مغيباتو بيان کوي لکن بعض خبري ددوی رشتیا وي، یعني د آیت معنی دانه ده چې رشتیا پر آفاک ممتنع ده، او محمد ﷺ خو دغسي نه دی، ولي چې ده مبارک چې هر څومره د مغیباتو بيان کړی دی. هغه ټوله د واقع سره برابري وي لکه قصص د انبياء عليهم السلام او هلاک د امتو د هغو چې ایمان به يې نه راوړی همه و همه د تواريخو قديمه وو سره د هغو انبياؤ او د امم د هغو برابري دي کقصة موسی وفرعون او غرق د قبطيانو په درياب کې، وقصة لوط ؑ وقومه او نوري قصې چې په قرآن کريم کې راغلي دي، نو کفار مکه ولي عليه الصلوة والسلام کاهن بولي چې ده ته شيطانان دا خبري ورته بيانوي یعني القرآن العظيم الشان. چې يو سړي پوښتنه وکړه د کاهنانو په باره کې، عليه الصلوة والسلام ورته وویل ليسوا بشئ هيڅ شی نه دي يعني هيڅ څوک په غيبو شيانو خبر نه دی. نو هغه سائل ورته وویل يا رسول الله ګاهي دوی يوه غيبي خبره وکړي هغه حق وي، عليه الصلوة والسلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته وويل هغه خبره جني يعني شيطان حمله كړي د ملكو له خبرو څخه، نو بيا هغه جني هغه خبره د خپل دوست چي كاهن وي په غوږو كي ورواچوي، كاهنان تر سل بالا نور دروغ ورسره ګډ كړي يعني و خلكو ته يې بيانوي خلګ په پوره رښتيا خبره سره چي شيطانان د ملكو څخه په حمله راخستي وي د ټولو دروغو د كاهن تصديق كوي، تر دې ځايه پوري متفق عليه حديث ؤ د بخاري او مسلم.

او داغه رنګه سيدتنا عائشةؓ وايي سمعت رسول اللهﷺ يقول ان الملائكة تنزل في العنان وهو السحاب فتذكر الامر الذي قضى في السماء فتسترق الشياطين السمع فيسمعه فيوحيه الى الكهان فيكذبون معها مائة من عند انفسهم، رواه البخاري.

ترجمة الحديث الآخير: عائشهؓ وايي چي ما واوريدل له عليه الصلوة والسلام څخه چي ده وويل چي ملكي و عنان ته چي هغه ته وريځ وايي راكښته سي، نو دوی هغه خبري چي په اسمان كي يې اوريدلي وي چي قضاء د خدای ﷻ پر هغو تللې وي، نو شيطان په غلا غوږ ورته ونسي او هغه خبري واوري. نو كهانو ته يې وحي كړي يعني بيان يې كړي، نو كاهنان سل دروغه نور ورسره ګډ كړي د خپل ځانه څخه رواه البخاري.

درويش وايي: چي خلګ د كاهن سل دروغه په هغه يوه خبره رښتيا چي شيطان د ملكو څخه د وريځي اوريدلې وي تصديق كوي والله اعلم. او د شاعرانو متابعت كوي ګمراهان كسان.

وَالشُّعَرَآءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوٗنَ ﴿٢٢٤﴾

دا رد دی د هغه قول د قريشو چي عليه الصلوة والسلام به يې شاعر باله. حاصل د رد يې دادی چي د شاعرانو يعني شاعران د مكې چي هجوه د رسول اللهﷺ به يې كوله، لا مطلق الشاعر متابعت ګمراهان كوي چي كفار د مكې دي، او د عليه الصلوة والسلام چي كفار د مكې دي، او د عليه الصلوة والسلام د منزل قرآن متابعت خو پر راه راست برابر كسان كوي، نو دوی تاسي په بې ځايه شاعر بولي... ع... اين خيال است و محال است و جنون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: د هغو کسانو چې د علیه الصلوة والسلام هجوه او غیبت به یې په غزلو کې وایه، د هغو شاعرانو نومان مقاتل رح داسې ذکر کړي دي (۱) عبد الله بن الزبیر السهمي (۲) هبیرة بن ابی وهب المخزومي (۳) شافع بن عبد مناف (۴) وابو عزة عبد الله بن عمر الجمي (۵) امیة بن ابی الصلت الثقفي، نو دوی به غلطي دروغ او باطلي خبري جوړي کړې، او دوی به وویل نحن نقول مثل ما یقول محمد (ﷺ) بیا به یې په هجوه کې د علیه الصلوة والسلام جوړي کړي غزلي شروع کړې. او ګمراهان د مکې به ددوی پر قول راټول وه هغه شعرونه به یې اورېدل چې په علیه الصلوة والسلام او دده په اصحابو ﷺ پورې به یې دوی جوړي کړي وې. فذالک المراد بقوله تعالی. والشعرآء یتبعهم الغاوٗن. والی هذا ذهب اکثر المفسرین.

حکایت: یو څو کسه شاعران چې هر یوه یوه قصیده جوړه کړې وه د هارون الرشید په دربار کې یې اجازه وغوښتل. یو بل سړی طفیلي ورسره ورغلی. نو هر شاعر چې په حضور کې د خلیفة المسلمین خپل قصیده وویل خلیفه به جائزه یعني انعام به یې ورکړی. په تفاوت ددوی د قصیدو شاعرانو چې جائزې واخستلې ووتل طفیلي پاته سو. خلیفه ورته وویل چې ته هم خپله قصیده ووایه. طفیلي ورته وویل چې زه خو شاعر نه یم بلکې انا رجل ضال کما قال الله تعالی: والشعراء یتبعهم الغاوٗن، خلیفه ډېر پر وخندل او لویه جائزه یې ورکړه.

درویش وایي: چې صاحب د روح المعاني په تفسیر کې ددې آیت یلقون السمع الی هذه والشعرآء یتبعهم الغاون ډېر اوږد بیان او نقض و ابرام پر کار اچولی دی. تخمینًا په شپږو صفحو کې چې حاصل یې بې اضطرابه د متعلم هیڅ شي نه دی ولهذا اعرضنا عن ایراده. والله المستعان.

اَلَمْ تَرَ اَنَّهُمْ فِیْ كُلِّ وَادٍ یَّهِیْمُوْنَ

پوه سه: چې استفهام لپاره د انکار دی او نفي د نفي اثبات دی او رؤیت علمي دی. والمعنی ته علم نه لرې ایها المخاطب الغیر المعین بلکې لري یې چې دوی یعني شاعران په هره شېله کې چې مراد د شېلې څخه نوع د خبرو ده یعني د خبرو په انواعو کې چې ګاهې مدح د چا کوي او ګاهې ذم او ګاهې حب بیانوي او ګاهې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعض کاهي فخر خپل بیانوي کاهي د بل تذلیل کوي وغیر ذالک من اودیة الکلام یعني الانواع الاشعار "یهمون" سرگردان گرځي.

بوه سه: چي هائم هغه چا ته وایي چي پر خپل سر روان وي نه د شي خیال ساتي او نه حد معین لري، یعني شاعران کاهي تر امکان وتلې مدح د یو چا کوي په دروغو باک نه کوي، او کثره خبري ددوی خیالات محضه دي، او مدح بالباطل کوي او هجوه بالباطل کوي او کاهي د خلکو د خندولو لپاره یو مسخره آمیزه بیت وایي، خلک پرو خاندي چي اضاحیک یې بولي.

وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ

او دوی وایي په خپلو اشعارو کي داسي شیان چي دوی نه وي کړي یعني دعوه د داسي شیانو کوي. به فارسی یعنی بتصدیق ناکرده برخود گواهی میدهند وپیغامهای ناداده بکسی درسلک نظم میکند، او بل ته رغبت ورکوي وجود او سخا ته او خپله یې نه کوي او خلکو ته نفرت ورکوي د بخل ځنځه او په خپله ابخل الناس وي او په خلکو پسي چي لږ طبعیت یې ځندي په ادنی شي خراب سي د فحش ډکي خبري پسي کوي وذالک تمام الغوایة والنبي ﷺ منزه عن کل ذالک ومتصف بمحاسن الاوصاف ومکارم الاخلاق مستمر علی الصراط المستقیم فکیف یقولون هؤلاء الضالون انه شاعر.

فائده: چونکه اعجاز د قرآن کریم په نظم او معنی په دواړو کي ؤ. نو کفارو د مکي اعتراض په معنی کي قرآن داوه چي مما تنزلت به الشیاطین او نظم د قرآن یې دا قدح کوله چي دا د جنس ځنځه د شعر دی، نو خدای ﷻ رد وکړی د دواړو د عود ددوی وکړی چي د حال د علیه الصلوة والسلام او د حال د کهنه او د شعراو لګه مخکه او اسمان دومره ډېر فرق دی.

بوه سه: چي ابن جریر و الحاکم له ابی الحسن البراء ﷺ ځنځه روایت کړی دی چي دا آیت چي نازل سو والشعراء یتبعهم الغاون الآیة، نو عبدالله بن رواحة او کعب بن مالک او حسان بن ثابت ﷺ راغله و علیه الصلوة والسلام ته یې داسي وویل قد انزل الله هذه الآیة او خدای ﷻ خو خبر دی چي موږ شاعران یو نو موږ خو هلاک سوو، نو خدای پاک دا آیت نازل کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا

مګر نه هغه کسان چي ایمان یې راوړی وي او اعمال صالحه هم کوي کالفرائض والواجبات وغیر ذالک، او ذکر د خدای ﷻ کوي ډېر، یعني چي دوی شعر نه وي ایستلی شعر ددې څخه چي د خدای ﷻ ذکر دی ډېر وکړي بلکې ډېر اشعار ددوی په ذکر او توحید کي او په ثناء علی الله کي وي باعثه کول د خلګو پر طاعت د خدای ﷻ او احکام الهیه په اشعارو بیانول الی غیر ذالک، قال سلطان العارفین ابو یزید البسطامي قدس سره الذکر الکثیر لیس باعتبار العدد لکنه بالحضور القلبي.

وَانتَصَرُوا مِن بَعْدِ مَا ظُلِمُوا

او دوی خپل کسات اخستی وي له بله څخه، بالفارسیة: انتقام کشیدند از مشرکان، چي هغو په دوی بد شعرونه ویلي وي وروسته تر دې چي پر دوی ظلم کړل سوی وي د کفارو له خوا څخه یعني بالهجو لان الکفار یدؤهم بالهجا، د بغوي رحمه الله په شرح السنة کي روایت کړی دی چي کعب بن مالک رضي الله عنه چي شاعر وُ و نبي ﷺ ته یې وویل چي ان الله قد انزل في الشعر ما انزل قال علیه الصلوة والسلام ان المؤمن یجاهد بسیفه (یعني مع المشرکین والکفار) ولسانه (یعني المدافعة عن عرض رسول الله ﷺ و دین الاسلام و القرآن په ژبه سره یعني بالشعر) والذي نفسي بیده فکانما ترمونهم به نضح النبل (زما دي قسم وي په هغه ذات چي روح دده په قدرت کي دی چي هر آئینه چي مشرکین تاسي ولي د خولې په شي چي شعر دی ددوی په هجوه لکه تاسي چي ولي په غشو سره) وروی البغوي عن انس رضي الله عنه ان النبي ﷺ دخل مکة في عمرة القضاء وابن رواحة رضي الله عنه (چي د یو شاعر نوم دی) یمشي بین یدي رسول الله ﷺ وفي حرم الله یقول الشعر (یعني عمر رضي الله عنه منع کړی چي ته په حضور کي د علیه الصلوة والسلام او په حرم کي شعر وایي) نو علیه الصلوة والسلام وعمر رضي الله عنه ته وویل خل عنه یا عمر (پرېږده ابن رواحة یا عمر دی یعني چي خپل شعر و وایي) فلهو اسرع فیهم من نفح النبل.

بخاري او مسلم د براء بن عازب رضي الله عنه څخه روایت کړی دی قال قال رسول الله ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یوم غزوة قریضة (قوم من یهود المدینة) لحسان بن ثابت رض اهج المشرکین فان جبرئیل معک وکان رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول لحسان رض اجب عني اللهم ایده بروح القدس وروی مسلم عن عائشة رض ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال (یعني حسان بن ثابت وغیرهم من الشعراء ته) اهجوا المشرکین فانه اشد علیهم من رشق النبل (تر ویشتلو د غشو) وایضًا عنها رض ان رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول لحسان رض ان روح القدس لایزال ایدک مانا فحت عن الله ورسوله (چي ته مدافعت کوه د خدای او د رسول ښځه د خدای یعني په ښېلو اشعارو سره) وایضًا عنها رض سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول هجاهم حسان فشفی و اشفی (هجو وکړه حسان د مشرکانو، نو خپل زړه یې هم سوړ کړی او د نورو زړونه یې هم) وایضًا عنها رض قالت کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یضع لحسان منبرًا في المسجد یقوم علیه قائمًا یفاخر عن رسول الله صلی الله علیه وسلم وینافح ویقول رسول الله ان الله یؤید الحسان بروح القدس (یعني جبرئیل ع) الی غیر ذالک من الاحادیث الصحیحة في روح المعاني والمظهري وروح البیان یطول بذکرها بالاستیعاب ساحة التفسیر ابیات لحسان بن ثابت رض:

هجوت (المخاطب المشرک) فاجبت عنه ... وعند الله في ذاک الجزاء

هجوت محمدًا برًا حنیفًا ..... رسول الله شیمته الوفاء

فان ابی و والده وعرضی ..... لعرض محمد منکم وفاء

امن یهجو رسول الله منکم ..... ویمدحه وینصره سواء

وجبرئیل رسول الله فینا ..... وروح القدس لیس له کفاء

فائده: له دي احادیث صحیحه وو ښځه دا ثابته سوه چي په شعر کي هیڅ تاوان نسته چي دروا غ یا نور محرمات نه وي پکښې، روی الدار قطني عن عائشة رض وویل چي ذکر سو په نېز د رسول الله صلی الله علیه وسلم یعني چا پوښتنه ځندي وکړه، فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم هو کلام فحسنه حسن وقبیحه قبیح، وفي روایة البغوي رح فخذ الحسن ودع القبیح، وعن ابی هریرة رض قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اصدق کلمة قالها الشاعر کلمة لبید الا کل شئ ما خلا الله باطل متفق علیه، وعن عمرو بن الشرید عن ابیه قال ردفت رسول الله صلی الله علیه وسلم (زه یې تر شا سپور وم د علیه الصلوة والسلام پر اوښ یا پر آس) فقال معک من شعر امیة بن الصلت شئ قال نعم، قال ع هیه (ته یې ووایه)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فانشد بيتًا فقاله هيه يعني بل بيت هم ووايه حتى انشدته (۱۰۰) بيت رواه مسلم.

درويش وايي: چي په هامش کي د مکتوبات د امام رباني قدس سره، دوه بيته يو صحرائي عرب ويله چي عليه الصلوة والسلام خندي واورېدل او صحرائي يې امر کړی په تکرار د هغو دوو بيتو:

قد لسعت حية الهوى كبدى .... فلا طبيب لها ولا راقى

الا الحبيب الذى شغفت به .... ان عنده رقيتى وترياقى

پوه سه: چي روح المعاني د ابوبکر صديق ﷺ يوه عربي قصيده رانقل کړې ده چي پنځلس بيته ده، ومن شعر عمر ﷺ د بيت يې را نقل کړی دی، سره ددې چي عمر ﷺ پر شعر ډېر تنقيد کاوه ومن شعر عثمان ﷺ يو بيت، ومن شعر علي ﷺ چي په دې په خپل عصر کي اشعر د خلفاء راشدينو شمېرل کېږي دی، يوه قصيده چي اووه بيته ده رانقل کړې ده چي ده صفين په جنګ کي ويلې ده. ومن شعر ابنه الحسن ﷺ يو بيت يې رانقل کړی دی، ومن شعر ابنه الحسين ﷺ دوه بيته يې رانقل کړي، ومن فاطمة ﷺ حين ابوها ﷺ دوه بيته يې رانقل کړي دي. ومن شعر عباس ﷺ چي په ورځ د حنين د غزاء په خپل ثبات سره د عليه الصلوة والسلام وروسته تر دې چي غازيان د حنين سره شو په شو سوه افتخار بيان کړی دی، څلور بيته يې رانقل کړي دي، او د شعر د عباس ﷺ د زوی عبدالله بن عباس ﷺ چي سيد المفسرين علماؤ بللی دی ﷺ، څلور بيته يې را نقل کړي دي ومن شعر الشافعي ﷺ درې بيته يې رانقل کړي دي.

سوال: احمد او ابن شعبة ﷺ د ابی سعيد الخدري ﷺ څخه نقل کړی دی چي موږ د عليه الصلوة والسلام سره روان ؤ چي يو شاعر په مخه راغلی يو څو بيته يې ورته وويل، نو نبي ﷺ وويل لان يمتلي جوف احدكم قيحًا خير من ان يمتلي شعرا، نو له دې حديث څخه قبح د شعر صراحةً معلومه سوه؟

ځواب: حضرت امام الشافعي ﷺ دا حديث پر هغه شعر حمل کړی دی چي فحش پکښې وي.

پوښتنه: ايوبي تا چي دا بيان د اشعارو د صحابه کرامو ﷺ وکړی، نو څو هغه اشعار به دې رانقل کړي وای چي موږ هم اورېدلي وای؟

ځواب: که ما صرف هغه اشعار عربيه رانقل کړي وای په سلو مطالعه کونکو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د تفسیر ایوبي صرف لس کسانو که فائده پر اخستي وای زما په گمان نیوي (۹۰) بې محرومه وای او که درویش د ټولو ترجمه په پښتو کولای شاید دېري اوراقي په ډکي سوي وای.

سوال: نو په اجمالي بیان کي ستا څه غرض ؤ؟

ځواب: زما مطلب دادی چي مطلقًا شعر قبیح نه دی، ولي چي د دغو سادا تو کرامو ﷺ څخه اشعار منقول دي.

مسئله: شعر طاعت دی که په عربي وي او که په فارسي وي او که په پښتو وي او که په اردو وي الی غیر ذالک من الالسنة لاهل الاسلام چي په هغه شعر کي ذکر د خدای ﷻ د توحید او د صفاتو د جمال و جلال د خدای ﷻ وي یا مدح د ذات انور د سید البشر ﷺ پکښې وي او یا مدح د خلفاء راشدینو یا د نورو صحابه کرامو ﷺ پکښې وي یا پر علوم دینیه مشتمل وي او یا د مسلمانانو لره وعظ او نصیحت وي، مثلاً پنج کتاب سوی ای داغ څخه ټوله احکام د دین دي، او داغه رنگه مثنوی معنوي د جلال الدین الرومي قدس سره سراپا بیان د تصوف مذهب دی وهکذا دیوان بیدل رح وهکذا کتاب بوستان سعدي الشیرازي رح که څه په ظاهره یوه قصه وي لکن په حقیقت کي وعظ او ارشاد دی. او داغسي نور کتابونه د هري ژبي.

له ابی بن کعب رضی الله عنه څخه روایت دی قال قال رسول الله ﷺ ان من الشعر حکمة، رواه البخاري، او د صخر بن عبد الله بن بریدة عن ابیه عن جده رض څخه روایت دی چي ما واورېدل د علیه الصلوة والسلام څخه چي ویل یې ان من البیان سحرًا (یعني في جلب القلوب الیه) وان من العلم جهلاً (لکه علوم د حکمتو چي قدم د عالم وایي) وان من الشعر حکمًا واف من القول رواه ابو داؤد.

معذرت په تحقیق کي د شعر بیان را څخه اورد سو ددې لپاره چي د شعر مسئله پیچیده وه او اختلافات پکښې بیحده او اندازې وه، اوس بیرته د تفسیر د قرآن عزیز پر لور.

وَسَيَعۡلَمُ ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ أَيَّ مُنقَلَبٖ يَنقَلِبُونَ ﴿٢٢٧﴾

ژر دی چي پوه به سي هغه کسان چي ظلم یې کاوه یعني د علیه الصلوة والسلام هجو او عیب یې بیاناوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي لفظ د اى چي مضاف دى و منقلب ته مفعول مطلق دى چي مصدر ميمي د ينقلبون دى او تر عامل يې مقدم كړى لتضمن اى معنى الاستفهام الذي يقتضي صدر الكلام، او څوک چي توهم کوي چي اى منصوب دى په سيعلم سره هغه غلط دى. ولي چي قانون نحوي دى چي ټوله حروف د استفهام عمل نسي كولاى په دوى كي ماقبل فعل لفوات الصدارة، او ينقلبون سره د مفعول مطلق متعلق دى په سيعلم پوري او پر ځاى د دواړو مفعولينو يعلم ولاړ دى. وحاصل المعنى اى الانقلاب ينقلبون ويرجعون اليه يعني بعد الموت اى ينقلبون انقلابًا سوءً و يرجعون زجوعًا شرًا لان مصيرهم الى النار المؤبدة.

درويش وايي: چي د خداى ﷻ نېه بندګان د خداى ﷻ دومره بېرېږي چي بد بندګان دومره نه بېرېږي، چناچه په صحيح خبر كي راغلي دي چي ابوبكر ﷺ چي مريض سو او له ژوندە نا اميده سو. نو عثمان ﷺ يې راوغوښتي چي كتاب العهد په نوشته كړي داسي، هذا ماعهد ابن ابي قحافة الى المؤمنين باره بېهوشه سو، چي په هوش كي راغلى وه يې ويل اني استخلفت عليكم عمر بن الخطاب ﷺ فانه عدل فذالک ظني فيه وان لم يعدل (يعني ظلم الرعية) سيعلم الذين ظلموا اى منقلب فيقلبون.

درويش وايي: چي الحمدلله والمنة والصلوة على خير البرية وآله وصحبه اعلام الهداية چي تفسير د سورة الشعراء پر يوولس بجې د ورځي د دوشنبې پر شپېږ د ذى الحجة الحرام سنه (١٤٣٠) هجري پاى ته ورسېدى، اوس تفسير د سورة النمل شروع كېږي. اللهم وفقني لاتمامه بالخير والعافية والصحة والسلامة برحمتک يا ارحم الراحمين.

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه ولمن سعى فيه

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سكين او pdf سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُوْرَةُ النَّمْلِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثَلٰثٌ وَّتِسْعُوْنَ اٰيَةً وَّسَبْعُ رُكُوْعَاتٍ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

او دا سورت سورة سليمان هم بولى كما في الدر المنثور.

طٰسٓ تِلْكَ اٰيٰتُ الْقُرْاٰنِ وَكِتَابٍ مُّبِيْنٍ ﴿۱﴾

"تِلْكَ" اشاره ده و آیاتو ته ددې سورت.

سوال: آیات ددې سورت خو قریب وه، نو اشاره د بعید یې ولې ورته وکړه؟

ځواب: لپاره د بعد رتبې.

"آیات القرآن" ای بعض من مجموع القرآن.

پوه سه: چې مراد له کتاب څخه لوح محفوظ دی په قول د مظهري رح، وکونه مبین انه خط فیه ماهو کائن، او روح البیان له کتاب څخه قرآن عظیم مراد بولي، نو عطف د کتاب مبین پر قرآن باندې عطف دی د یوه صفت پر بل باندې مثل غافر الذنوب وقابل التوب، ای آیات الکلام الجامع بین القرآنیت والکتابیت، وکونه قرآنا من جهت انه یقرء، وکتابا من حیث انه یکتب وقدم الوصف الاول لتقدم القرائة علی الکتابة کما لایخفی، او په کشف الاسرار کې وایي چې قرآن او کتاب دواړه نومان دي د منزل علی محمد ﷺ او وصفان هم دي لانه یقرء ویکتب، نو هر ځای چې معرفه راسي یعني القرآن الکتاب، نو هغه اسمان علمیان دي او چې نکرة راسي فهو الوصف انتهی وفیه ان في هذه الآیة جاء القرآن بلفظ التعریف والکتاب بلفظ التنکیر، والجواب ان علمیة احدهما لایستلزم لعلمیة الآخر ولا وصفیت احدهما لوصفیة الآخر، د درویش مختاره رایه او ترجمه د روح البیان ده او روح المعاني هم داغه ترجمه او عطف د صفت پر صفت مختاره کړی دی، او مثال یې دا ویلی دی هذا فعل السخی والجواد الکریم.

فائده: مبین مشتق د ابان متعدي څخه دی والمعنی مظهر ما في تضاعیفه من الحکم والاحکام واحوال القرون الاولی واحوال الآخرة چې له جملې څخه د احوال الآخرة ثواب او عقاب دی او سبیل الهدایة والضلال وامثالها، او یا مبین مشتق دی له ابان لازمي څخه، نو مبین په معنی د بانٍ دی ای ظاهر الاعجاز او ظاهر

Scanned by CamScanner

الصحة په سبب د اعجاز، نو پر دواړو تقديرو مبين صفت ماد حه ده كتاب دي، ومؤكدة لما افاده التنوين من العظمة والفخامة.

پوښتنه: په دې سورة النمل كي خداى ﷻ قرآن دمخه كړى پر كتاب مبين، او په سورة الحجر كي يې كتاب مبين دمخه كړى دى او قرآن يې وروسته كړى دى، حكمت يې څه دى؟

ځواب: بعض اجلة د مفسرينو وايي چي په دې سورت كي چي قرآن دمخه كړى پر كتاب مبين له دې سببه چي صفت د قرآنية دمخه دى پر صفت د كتابيت، او په سورة الحجر كي چي يې عكس كړى دى لپاره د بيان د تفخيم د قرآن عزيز من حيث اشتماله على كمال جنس الكتب الالهية حتى كأن القرآن الكريم كل الكتب الالهية. او تنبيه يې پر دې وكړه چي كمالات د ټولو كتب الهية ؤ په قرآن كريم كي درج دي وفيه غاية المدح للقرآن فافهم.

درويش وايي: چي دا توجيه د تقديم او تاخير د قرآن كريم او د كتاب مبين په سورة النمل او په سورة الحجر كي روح المعاني په ډېر تفصيل سره راوړى دى. او روح البيان په دقيقه توګه راوړې ده، او بيضاوي هم اشاره ورته كړې ده، او مظهري هم يو څه بيان پكښې كړى دى، لكن مآل الكل واحد والفرق في الالفاظ والعبارات من حيث الاجمال والتفصيل.

هُدًى وَّبُشْرٰى لِلْمُؤْمِنِيْنَ ۝

هدايت دى قرآن او زيرى دى د مؤمنانو لپاره.

پوه سه: چي هدًى وبشرٰى يا منصوب دى دواړه حال له قرآن څخه دي عامل معنى د اشير ده، چي د تلك اسم اشاره څخه وفهمېدل نحو كريمة: وَهٰذَا بَعْلِيْ شَيْخًا، او يا مجروران دي بدلان دي له قرآن څخه، او يا مرفوعان دي خبران آخران دي د تلك.

فائده: مراد له نصب، جر او رفع څخه د هدًى وبشرٰى نصب، جر او رفع تقديري دي.

پوه سه: چي قرآن مبارك كه څه هدًى للناس دى لكن چونكه كافرانو چي د خپل سوء اختيار له كبله يې ګټه نه ځندي واخستل او ايمان يې نه پر راوړى، نو له دې سببه اهل د بشارت نه دي، نو ځكه يې تخصيص د مؤمنانو وكړى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: حمل د هدیٰ و بشریٰ پر هر تقدیر مبالغة دي نحو زید عدل.

سوال: معنی د بشارت و مؤمنانو ته خو ظاهره ده لکن د هدایت د مؤمنانو معنی څه ده، ولي چي دوی خو هدایت مندلی دی؟

خواب: هدایت د قرآن کریم پای نه لري هدایت دی د عوامو هدایت دی د خواصو او هدایت دی د اخص الخواص ولکل واحد من هذه الثلثة مراتب شتی کما لایخفی، ولهذا قال الله ﷻ فَاَمَّا الَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا فَزَادَتۡهُمۡ اِیۡمَانًا ای الایات القرآنیة.

الَّذِیۡنَ یُقِیۡمُوۡنَ الصَّلٰوةَ وَیُؤۡتُوۡنَ الزَّکٰوةَ وَهُمۡ بِالۡاٰخِرَةِ هُمۡ یُوۡقِنُوۡنَ ۝

هغه کسان چي دوی اداء کوي لمونځونه او حفاظت یې کوي (او پر خپلو وختو او مراعات د فرائضو او واجباتو او سننو او مندوباتو یې کوي، ظاهرًا بتعدیل الارکان وباطنًا بالتوجه التام الی حضرت الباري ﷻ) او ورکوي زکاتونه د خپلو مالونو (که نقود وي او که مواشي وي) او دوی پر ورځ د آخرت یقین کامل لري.

پوهه: چي عشر د حاصلاتو د مځکو هم تر زکوة لاندي دی که هم په فقه کي د زکوة او د عشر فرق ستة فافهم.

پوهه: چي دا جمله (وهم بالآخرة آه) د تمته څخه د مخه صله ده. والواو فیه للحال او العطف.

فائده: دلته یې نظم قرآني ته تغیر ورکړی چي مسند الیه یې پر مسند د مخه کړی چي یوقنون دی، او د مسند الیه تاکید یې په هم سره وکړی دلالة علی قوة ایمانهم وثبات وجدانهم، وللدلالة علی الحصر، یعني ما یؤمنون بالآخرة حق الایقان الا هؤلاء الجامعین بین اقامة الصلوة وایتاء الزکوة. قال الکاشفي رح وحال آنکه ایشان بسرای دیگر بی گمان میشوند، وتکریر ضمیر اشاره باختصاص ایشانست درتصدیق آخرت.

اِنَّ الَّذِیۡنَ لَا یُؤۡمِنُوۡنَ بِالۡاٰخِرَةِ زَیَّنَّا لَهُمۡ اَعۡمَالَهُمۡ فَهُمۡ یَعۡمَهُوۡنَ ۝

په تحقیق هغه کسان چي ایمان نه لري پر ورځ د آخرت لکه مشرکي مکة مونږ ښائسته کړي دي ودوی ته اعمال د دوی یعني اعمال قبیحه د دوی من الکفر وسائر المعاصي، چي د تزیین معنا داده چي نفس او شیطان مونږ پر دوی مسلط

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي دي او دا قبائح اعمالو مو د دوی خوښ کړځولي دي. نو دوی متردد دي چي په عواقبو د دغو اعمالو قبیحه وو نه پوهیږي.

پوه سه: چي جمله د "زینا" خبر ده د ان، او فهم یعمهون پر عطف ده وکلمة الفاء لترتیب المسبب علی السبب، او صیغه د مضارع یعني یعمهون لپاره د استمرار تجدد دي ده في الاشتغال بها والانهماک فیها.

درویش وایي: چي په دې آیت کي چي نسبت د زینا خدای ﷻ و ځان ته وکړی رد دی پر معتزله وو باندي چي دوی وایي چي خالق د افعالو د بندګانو من الکفر والمعاصي والایمان والطاعات بندګان په خپله دي، او چي د یعمهون نسبت یې و دوی ته وکړی رد دی پر جبریه چي قدریه یې هم بولي چي دوی وایي چي بنده لکه جماد دی ټوله کارونه یې و خدای ج ته منسوب دي.

پوښتنه: چي خدای ﷻ نسبت د تزیین و ځان ته وکړی، نو کافر یا عاصي دا نسي ویلای، یعني په ورځ قیامت لپاره د دفع د عذاب له ځان څخه چي خدایه تزیین د کفر او معاصیو خو تا راته کړی ؤ، نو زه خو یې په کولو کي معذور وم؟

ځواب: معنی د تزیین خو داده چي خدای پاک په ده کي قوتی شهویه و محارمو ته پیدا کړې ده دې لپاره چي دی دا قوتی شهویه په خپل خدا داده اختیار سره مهار کړي او ایمان او طاعت ته یې راوګرځوي، نو چي ده مهار د اختیار سست کړی او د کفر او عصیان پر خوا یې راهي کړی، نو څکه دی مستحق د عذاب النار دی، او که خدای ﷻ نه وای پیدا کړی نو دی خو به لکه ملائکه معصوم وای، نو تکلیف او ارسال الرسل او انزال الکتب ته به ضرورت نه وای.

درویش وایي: چي د اهل السنة والجماعة مذهب دادی چي خالق د افعالو د عبادو لکه د ذواتو د دوی خدای ﷻ دی، یعني معطي د وجود او بنده کاسب دی ومعنی الکسب صرف الاختیار الذي اعطاه الله الی الایمان والطاعات فیثاب علیها بالجنة دار الابرار، وان رده الی الکفر والمعاصي فیستحق عذاب الاشرار بالنار فتدبر جدا.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ لَهُمْ سُوءُ الْعَذَابِ وَهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْأَخْسَرُونَ ۝٥

دغو کسانو لره بد عذاب دی (اضافت د صفت و موصوف ته دی ای العذاب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

السوء وفيه من المبالغة ما لايخفى، يعني په دې دنيا کې کما لمشرکي مکة يوم بدر من قتل (۷۰) حتى فرعونهم ابو جهل فرعون هذه الامة واسر (۷۰) وذل الهاربين وهذا اخبار من الله تعالى.

﴿وَهُمْ فِي الْآخِرَةِ هُمُ الْأَخْسَرُونَ﴾ او دوی اشد الناس خسرانا من غيرهم چې ددوی صفات نه وه پکښې، ولې چې دوی رانيوی ضلالت په هدیٰ سره او دوزخ په جنت سره. حافظ وايي:

اوقات خوش آن بود که با دوست بسر رفت .... باقی همه بی حاصل وبیخبری بود

﴿وَإِنَّكَ لَتُلَقَّى الْقُرْآنَ مِنْ لَدُنْ حَكِيمٍ عَلِيمٍ ⑥﴾

او ته يا محمد (ﷺ) اخسته کوې د قرآن (يعني بواسطة جبرئيل) له طرف څخه د حکيم عليم خدای. داسي نه دی لکه کفار مکه چې وايي ته يې له ځانه جوړوې، يا يې بېله خدايه بل څوک ورته القاء کوي.

بوه سه: چې لدن په معنی د عند دی، لکن تر عند ډېره مبالغه پکښې ده.

بوه سه: چې دا جمله عطف ده پر آيات القرآن او حکيم او عليم چې نکره يې راوړه لپاره د تعظيم. والمعنى داسي حکيم او عليم چې ادارک د علم او حکمت دده هيڅ څوک بالتفصيل نسي کولای. سعدي شيرازي قدس سره وايي:

ای بر تر از قياس و گمان و وهم ... واز هر چه گفته اند شنيديم وخوانده ايم
عمرم تمام گشته وبپايان رسيد عمر .. ماهم چنان دراول وصف تو مانده ايم

او روح المعاني وايي چې دا جمله کلام مستانف دی. يعني کلمه د واو عاطفه نه ده بلکې ابتدائيه ده.

درويش وايي: ومثل هذا الواو کثير في الهداية يعني خدای ﷻ چې بعض شؤن د قرآن کريم بيان کړه نو لپاره د تمهيد وه قصصو ته يې دا جمله راوړه.

﴿إِذْ قَالَ مُوسَىٰ لِأَهْلِهِ إِنِّي آنَسْتُ نَارًا سَآتِيكُمْ مِنْهَا بِخَبَرٍ أَوْ آتِيكُمْ بِشِهَابٍ قَبَسٍ لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ⑦﴾

کلمه د اذ محلاً منصوبه ده په اذکر مقدر سره چې ووېل موسی و خپل اهل يعني زوجته بنت شعيب[ع] په وخت ددې چې دی له مدين څخه د مصر و خوا ته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راهي ؤ او شپه وه یخ هم ؤ او لار هم ځندي ورکه وه، په تحقیق ما ولیدی اور (یعني دده په خیال) ژر دی چي زه به راوړم (یعني تاسي کښېنئ) له هغه اور څخه خبر د لاري چي له دوی څخه ورکه وه، د موسیٰ علیه السلام ګمان داؤ چي اور چي بلېږي نو خامخا به څوک هوري وي چي د لاري پښتنه ځندي وکړم.

پوښتنه: د موسیٰ علیه السلام سره خو یواځي دده کور والا ورسره وه، نو ضمیر د جمع یې څرنګه راوړی؟

ځواب: روح البیان وایي ای لزوجته ومن معها انتهی.

درویش وایي: چي د موسیٰ ؑ چي له شعیب ؑ څخه د رخصتېدلو وخت رانژدې سو خپلي ماینې ته یې وویل چي موږ ته دي یو څو مېږي او پسونه را کړي، نو شعیب ؑ یو څو داني مېږي چي عدد یې تاریخ نه دی بیان کړی او یو مریی چي دا پسونه به مروي او یوه مینځه چي دده د لور خدمت به کوي، لکونها حامل، نو جمعیت د ضمیر بلا ریب صحیح دی، فقیر دا قصه په استیعاب سره څېړلې ده په یوولسم جلد کي یعني په تفسیر کي د (سورة طه) او روح المعاني وایي وجمع الضمیر ان صح انه لم یکن معه علیه السلام غیر زوجته لپاره د تعظیم دی انتهی، نو روح المعاني چي د چي لپاره د شک راغي اشاره یې وده ته وکړه چي بل څوک هم ورسره ؤ کما قررنا.

پوښتنه: موسیٰ علیه السلام ولي داسي نه ورته وویل "آتیکم" بدون السین؟

ځواب: موسیٰ علیه السلام ته مسافت د اور لېري معلوم سو، نو سین یې ددې لپاره راوړی چي د ماینې او ملګرو د حشت دفع کړي یعني که زه وه ځنډېدم، او یا کلمه د سین لپاره د تاکید د وعدې دی کما ذکره الزمخشري حیث قال في الکشاف تدخل السین لتاکید الوعد وبیان انه لکائن لا محالة وان تاخر انتهی.

سوال: دا مباحث چي ذکر سوه دا خو د عربي عبارت قرآني خواص وه او د موسیٰ ؑ ژبه خو عربي نه وه؟

ځواب: هو! د موسیٰ ؑ ژبه خو عربي نه وه لکن څه مانع دی چي په خپله ژبه یې داسي عبارت ویلی وي چي د عربي الفاظو سره سمون ولري، بلکي نسبت د قال چي موسیٰ ته وکړی دلیل ددې چي موسیٰ ؑ په خپله ژبه داسي الفاظ او عبارات ووایي چي په معنی د عبارات مذکوره عربیه وو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: په سورت طٰه کي داسي عبارت راغلی دی (لَعَلِّیْ آتِیْکُمْ) چي د ترجي یعني صرف امید یې ظاهر کړی او دلته یې سٰاتیکم ووایه چي اخبار دی او دلالت پر یقین کوي؟

ځواب: هیڅ تدافع نشته لان الراجي اذا قوی رجائه یقول سافعل.

پوهه: چي شهاب په تنوین سره دی په نېږد قراء د کوفې، نو قبس یې بدل یا صفت دی فان الشهاب شعلة من نار ساطعة والقبس شعلة یؤخذ من معظم النار، کذا في القاموس.

فائده: غیر د قراوُ د کوفې یې په اضافت سره د شهاب و قبس ته وایي والاضافة حینئذ بیانیة لجواز اطلاق القبس في الشهاب ولهذا قال البغوي الشهاب والقبس متقاربان في المعنی فافهم "لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُوْنَ" شاید تاسي به ځانونه په تاوده کړئ، من شدة برد الشتاء.

فَلَمَّا جَآءَهَا نُوْدِیَ اَنْ بُوْرِكَ

چي موسیٰ نژدې سو وهغه اورته چي ده لېري لیدلی ؤ، نعره وکړل سوه د عالم غیب څخه بیله لیدلو د یو چا.

سوال: عبارت د قرآن خو داسي دی چي اورته ورغلی، او تا یې ترجمه په قرب سره وکړه؟

ځواب: عرب داسي وایي چي بلغ فلان المنزل یعني کورته اذا قرب منه.

پوهه: چي ان مفسر د نداء دی.

سوال: ان مفسره خو وروسته تر قول راځي، دلته خو قول نشته؟

ځواب: په نداء کي معنی د قول سته، یا یې تقدیر داسي دی بان بورک، نو ان مصدر دی کلمه د باء یې حذف کړه جریًا علی القاعدة المستمرة.

فائده: بورک ماضي مجهول د بارک ده وهو خبر لادعاء ای جعل مبارگا والمبارک ما فیه خیر کثیر.

مَنْ فِی النَّارِ وَمَنْ حَوْلَهَا

"من في النار" ای في مکان النار وهو البقعة المبارکة المذکورة في قوله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تعالى: نودیٰ من شاطئ الوادي الايمن في البقعة المباركة ''ومن حولها'' چي پر شاوخوا د اوردي.

درويش وايي: چي په ''من في النار ومن حولها'' کي اختلاف دی.

(۱) ان المراد بمن في النار نور الله تعالى او له من حولها څخه ملکي مراد دي.

(۲) بان بمن في النار الشجرة د هغه درخته چي خدای ﷻ محل د خپلو خبرو وګرځول، او د من حولها څخه بيا هم ملکي مراد دي. وهذا ما نقل عن الجبائي.

سوال: اطلاق د من چي د ذوی العقول لپاره دی، پر درخته څرنګه روا دی؟

ځواب: مجازًا لکن بيا هم قول د جبائي معتزلي ضعيف دی کما يلزمه ان ذالک المجاز النادر جدًا.

(۳) ما اخرجه ابن جرير وابن ابى حاتم وابن مردوية عن ابن عباس رضی الله عنهما قال في قوله تعالى ان بورک من في النار هو ذاته تعالى وتقدس، ومن حولها ملائكة، وهذه الرواية عن الحسن وابن جبير وغيرهما رحمهم الله کما في البحر، وروسته صاحب البحر ويلي دي بانا نقطع بان هذه الرواية عن ابن عباس رضی الله عنه موضوعة مختلقة وضعه المجسمة. او ابو حيان وايي که دغه روايت د ابن عباس رضی الله عنه صحيح وي. نو تاويل ته يې ضرورت سته ای بورک من قدرته وسلطانه في النار. او ابراهيم الكوراني رحمه الله په يوه رساله کي ددې آيت په معنی کي طويل بحث کړی دی لا يفيد للمتعلمين لهذا التفسير.

وَسُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ⑧

او پاکي ده خدای ﷻ لره د هر سوء او عيب څخه او د مکان او جسميت څخه او د تشبيه څخه چي رب او خالق د عالميانو دی که علوي وي لکه اسمانونه او مافيها او که سفلي وي لکه ځمکه وما فيها وما عليها. حتى ذرات العالم، وروی مجاهد عن ابن عباس رضی الله عنه انه برکت النار، نو کلمه د من زائده ده، وروی سعيد بن جبير عن ابن عباس قال سمعت ابيًا يقول ان بورکت النار ومن حولها وبورکت النار وبورک في النار معناهما واحد فان العرب يقول بارک الله وبارک فيه بمعنی واحد. فالمعنى بورک في النار وفيمن حولها وهم الملئكة وموسی علیه السلام ويسمى النار مباركة، ولي چي مظهر د انوار د خدای ﷻ دی. کما يسمى البقعة مباركة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کما قال الله تعالی في البقعة المبارکة، او بعض مفسران وايي بورک من في طلب النار او في مکان النار بحذف المضاف، وهو موسٰی ؑ ومن حولها الملائکة الذي حول النار حاضرين هناک، نو پر دې تقدير دا تحية د خدای پاک له خوا څخه موسٰی بالبرکة وقيل من في النار يعني چې د موسٰی په خيال اور ؤ او په حقيقت کي نور الهي ؤ ملائکه دي چې دوی او ازونه د تسبيح او تحميد او تقديس د خدای پاک پورته کړي وه، ومن حولها موسٰی ؑ لانه کان بقرب منها وقيل من حولها عام شامل لکل من في تلک الوادي وحواليها من ارض الشام الموسومة بالبرکات لان ارض الشام مبعث الانبياء ومدفنهم، نو په دې عبارت بشارت دی و موسٰی ؑ ته چې برکت او دين به تر شام پوري ورسيږي.

يٰمُوسٰىٓ اِنَّهٗٓ اَنَا اللّٰهُ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُۙ﴿۹﴾

ای موسٰی شان دا دی (اسم د ان دی وانا الله خبر د ان دی، او يا د انه ضمير راجع دی و منادي يعني نعره کونکي ته، هغه يې اسم دی او انا يې خبر دی، او لفظ الله عطف بيان د انا دی، او العزيز الحکيم صفتان له) يعني زه قوي او غالب يم پر داسي کارو چې د خلکو تر عقولو لوړ وي، لکه لکړه چې مار کېږي او حکيم يم چې هر کار په تدبير او حکمت سره کوم.

پوه سه: چې دا آيت تمهيد دی و دې قول ته د خدای ﷻ.

وَاَلۡقِ عَصَاكَ ؕ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهۡتَزُّ كَاَنَّهَا جَآنٌّ

ته واچوه لکړه ستا يعني پر مځکه باندي.

فائده: دا جمله عطف ده پر بورک، او د هغې جملې سره منسلک ده په تفسير کي د نداء، والمعنی نو دی ان بورک وان الق آه فهو من قبيل عطف المفرد علی المفرد ده لا من عطف الانشاء علی الخبر فافهم، ويدل عليه قوله تعالی في صورة اخری وان الق عصاک بعد قوله تعالی هناک ان يا موسٰی اني انا الله چې دواړه ځايه يې ان مکرر کړی دی، والتقدير نو دی هذا المقول وهذا المقول فيتطابق الآيتان.

درويش وايي: وهذا حاصل ما في روح المعاني والمظهري وروح البيان وغيرها من التفاسير.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ" چي وليدل موسیٰ لکړه چي چابک په صورت د مار په اضطراب يې حرکت کاوه.

پوه سه: چي کلمه د فاء فصيحيه ده، تفصح عن جملة محذوفة ظاهرة کانه قيل فالقاها فانقلبت حية فلما ابصرها تتحرک لشدة واضطراب.

فائده: جمله د تهتز په ځای کي د حال ده، د مفعول څخه د راها، ولي چي رؤيت دلته بصري دی، دوم مفعول نه غواړي.

"كَاَنَّهَا جَآنٌّ" دا جمله هم حال ده بعد حالٍ.

پوه سه: چي جان الحية الصغيرة سريعة الحرکة چي په پښتو يې کوچه مار بولي.

پوښتنه: په بل ځای کي د قرآن کريم راغلي دي: فاذا هي ثعبان مبين، ثعبان په فارسي اژدها بولي او په پښتو يې اپي مار بولي؟

ځواب: نظر وسرعت حرکت او اضطراب کانها جان او نظر و لوی بدن ته ثعبان ؤ، او داسي ځواب يې هم ويل سوی دی چي په وخت کي د موسیٰ د امتحان لکه جان وه او په نېژد د فرعون ثعبان وه.

وَّلّٰى مُدْبِرًا وَّلَمْ يُعَقِّبْ

"ولي مدبرًا" ای هرب موسیٰ خوفًا "ولم يعقب" مخ يې نه پر راواړاوه لکه په جنګ کي د کافرانو سره يو سپاهي د مسلمانانو فرار وکړي او غرض يې فرار نه وي چي کافر پسي را ميدان کړي سپاهي مخ پر راواړوي قتل يې کړي چي دې ته په عربي کي انفر بنية الکر وايي، وهذا مروي عن مجاهد رحمه الله وقرب منه قتادة رحمه الله وهو الذي ذکره الراغب اللغوی رحمه الله.

پوه سه: چي فرار د موسیٰ عليه السلام امر طبعي کار ؤ، بمقتضی البشرية فان الانسان اذا رئی امرًا هائلاً جدًا يخاف طبعًا، او يا خيال دا ؤ چي دا مار چي طبعًا دښمن دی ما به وخوري، ولهذا قال الله تعالی:

يٰمُوْسٰى لَا تَخَفْ ۫ اِنِّيْ لَا يَخَافُ لَدَيَّ الْمُرْسَلُوْنَ ﴿۱۰﴾

ای موسیٰ مه بېرېږه له ماره څخه، په تحقيق نه بېرېږي زما په حضور او قرب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي رسولان لاني عزيز رحيم بهم وناصر لهم.

پوه سه: چي جمله د هذا في محل النصب ده په تقدير د قول اى قلنا يا موسى لاتخف من هذه الحية، او جمله د اني لايخاف تعليل او د سبب د عدم الخوف علت بيانول دي يعني هغه کسان چي تبليغ زما د رسولانو يې پر ذمه وي لايخاف احدًا غيري فلا منافات بين هذه الآية وبين قول النبي ﷺ انا اخشاکم لله.

اِلَّا مَنۡ ظَلَمَ

پوه سه: چي دا استثناء متصله ده، وفيه اشارة الى موسى ؑ حيث قتل، والمراد بالظلم الذنب الصغير او ترک الافضل کما قالوا حسنات الابرار سيئات المقربين، او لکه آدم ؑ چي اکل د شجرة منهي عنها څخه وکړی، يا يونس ؑ چي بېله اجازې د خدای پاک له قوم څخه فرار سو.

نکته: والتعبير بالظلم لقول آدم ؑ ربنا ظلمنا انفسنا، وقول موسى ؑ حين قتل القبطي رب اني ظلمت نفسي.

ثُمَّ بَدَّلَ حُسۡنًۢا بَعۡدَ سُوٓءٍ فَاِنِّیۡ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ ﴿۱۱﴾

بيا يې بدل کړی ښه شی يعني توبة بعد سوء وروسته تر هغه بد کار.

پوښتنه: چي ددې قيد څه فائده ده ثم بدل آه.

ځواب: ددې قيد فائده داده چي انبياء عليهم السلام که صغيره او خلاف الاولى کار وکړي يا قبل النبوة يې وکړي لکه د موسى ؑ قتل القبطي چي خطاءً يې مر کړی خامخا به وروسته مقرون په توبه سره دی.

پوه سه: چي روح البيان پر تقدير مذکور استثناء منقطع بللې ده ولاشک انه کبو من جواد، او مظهري رح پر تقدير مذکور متصل بللې ده وقد اصاب، او يا استثناء منقطع ده پر دې تقدير نسبت د ظلم و انبياء عليهم السلام ته نا زيبا معلومېدی نه لازمېږي، وتقديره على الانقطاع لکن من ظلم وهم غير المرسلين فانهم يخافون غير الله تعالى، مثلاً څوک چي غلا کوي له مالک څخه د دار بېرېږي، او څوک چي زنی کوي د اهل البيت د مزينه بېرېږي وعلى هذا فقس.

فَاِنِّیۡ غَفُوۡرٌ رَّحِيۡمٌ: په تحقيق زه غفور بخښونکی د ګناه يم او مهربانه پر تائب.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي غفور رحيم كه مستثناء متصله سي او كه منفصله سي ؤ پر بنائسته عبارت دی د نا اميدی د بنده په سبب د ګناه که څه هم کبیره وي درختي له بېخه وکښل.

درویش وایي:

اِلٰهِى عَبْدُكَ الْعَاصِى اَتَاكَا...... مُقِرًّا بِالذُّنُوْبِ وَ قَدْ دَعَاكَا

فَاِنْ تَرْحَم فَاَنْتَ لِذَاكَ اَهْلٌ...... وَاِنْ تَطْرُدْ فَمَنْ يَرْحَمْ سِوَاكَا

وَاَدْخِلْ يَدَكَ فِيْ جَيْبِكَ

او داخل کړه لاس خپل په ګرېوان کي خپل، قال الحسيني رح در آر دست خود را درگریبان پیراهن خود را.

پوښتنه: داسي يې نه وويل في كمك يعني په لستوڼي کي؟

ځواب: موسیٰ علیه السلام په دغه وخت کي د وړیو کوچنی چپنه اغوستې وه چي لستوڼي نه درلودل او نه يې تڼی درلودي، له دي څخه دا معلومه سوه چي ګرېوان د قميص یې پر څګروه كما هو اليوم عند العرب، او په صحيح روايت کي هم ثابته ده چي د عليه الصلوة والسلام ګرېوان هم پر څيګرؤ، لكه ابو داؤد چي خپل په سنن کي راوړي دي، باب في حل الازرار (يعني د قميصه تڼی خلاصي پرېښول) بيا يې حديث په روايت د معاويه بن قرة رض قال حدثني ابى قال آتيت النبي ﷺ في رهط من مزينة (په يو جماعت کي د مزينه له قوم څخه) فبايعناه وبايعته ثم ادخلت يدي في جيب قميصه (ما داخل کړی خپل لاس په ګرېوان د قميص د عليه الصلوة والسلام) فمست الخاتم اى خاتم النبوة (چي د عليه الصلوة والسلام د اوږو په منځ کي ؤ) قال عروة فمارئيت معاوية واباه قط الا مطلق ازراهما (چي د قميصه تڼی به يې خلاصي وې) متابعة لازراه قميصه ﷺ (يعني په دغه وخت کي د معاويه پلار بيعت ورسره کاوه، ولي كه د عليه الصلوة والسلام ګرېوان د قميصه تړلی وای، نو ده څرنګه لاس ورداخلاوه او بيا يې خاتم النبوة په مسحه کاوه) وقد جاء في رواية البغوي رح في معاجم الصحابة چي عليه الصلوة والسلام لمطلق يعني د قميص تڼی خلاصي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وي، په دې بیان کې زما عرض دادی چې بعض په نامه صوفیان وایي چې د قمیص گرېوان پر سینه خلاف السنة دی وانه من شعائر الیهود، دا قول باطل دی.

پوښتنه: خدای پاک د څه حکمت لپاره موسیٰ علیه السلام امر کړی چې لاس په گرېوان ننه کړه او سره د دې چې خدای جل جلاله خو پر دې قادر و چې د موسیٰ لاس بېله په گرېوان کې د داخلولو ورسپین کړي؟

ځواب: لامتحان، وله سبحانه ان یمتحن عباده بماشاء.

تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ

ستا لاس به راووځي تک سپین چې ستر کې به پر برېښي.

فائده: تخرج مجزوم جواب د امر دی.

سوال: په علم نحو کې د پر ځایو نه راځي چې فلانی فعل مجزوم دی، ولې چې ځواب د امر دی، سوال دادی چې جواب د امر ولې مجزوم وي؟

ځواب: تقدیر یې داسې دی ان تخرج یدک تخرج، جواب د ان شرطیه مجزوم چې فعل مضارع وي.

فائده: بیضآء حال دی له ضمیر مستتر څخه په تخرج کې.

"من غیر سوء" متعلق د من محذوف دی ای کائنا بېله افت نحو برص وغیره او دا لفظ یا صفت د بیضاء دی یا حال مرادف دی.

فِيْ تِسْعِ اٰيٰتٍ

یعني دغه دوې معجزې چې عصیٰ او ید بیضاء دي په جمله کې د نهو معجزو دي ستا، نو پر دې تقدیر جمله معجزې د موسیٰ نهه دي (۱) العصیٰ (۲) ید بیضاء (۳) والجدب، قحط سالي په صحراؤ کې (۴) نقص الثمرات (۵) طوفان یعني ډېر باران چې په کورو د قبطیانو به اوبه ننوځي تر حلق پوري د ناست سړي (۶) جراد: یعني ملخان په سېلوو به پر راسې چې د درختو پوستونه به هم وخوري (۷) قمل: شپوږي (۸) ضفادع: چونګونبې چې هر لوښی به یې د صفا اوبو ډک کړی چې پر سر به یې را پورته کړی تر اوبو دمخه به یې چونګونبه په خوله ور ننوتل، داغه رنګه هر خوراکي لوښی (۹) دم: یعني وینه چې هر لوښی چې د اوبو ډک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړي چي سر يې پورته کړي سرې ويني به وي.

درویش وايي: چي روح المعاني وايي چي معنی د آيت دا ده چي نهه معجزات نوري سره د يد بيضاء او د عصیٰ (۱) فلق البحر (۲) طوفان: كما مر معناه (۳) الجراد (۴) القمل (۵) الضفادع (۶) الدم. كما مر معناهم. (۷) والطمسة (ومعناها جعل اسبابهم حجارة) (۸) في مزارعهم (د کښتو تاوان (۹) الجدب: اى القحط في بواديهم، او هغه کسان چي يد بيضاء او عصا د نهو په جمله کي بولي هغه جدب او نقصان في المزارع يوه بولي، او فلق البحر نه پکښي حسابي. او هغه دليل د عدم دخول البحر په نهه کي دا وايي چي په فلق البحر سره خو موسیٰ ؑ نه ؤ استولی، ولي چي فرعون په فلق البحر کي غرق سو، او هغه څوک چي فلق البحر په معجزاتو کي د موسیٰ ؑ و فرعون ته شمېري، هغه وايي چي فرعون خو صرف وليدی فلق البحر د غه هم کافي ده، او يا د هغو کسانو لپاره خو معجزه وه چي د قبطيانو څخه بعض کسان د فرعون سره په طلب کي د بني اسرائيلو نه وه وتلي او ايمان يې هم نه ؤ راوړی.

إِلَىٰ فِرْعَوْنَ وَقَوْمِهِ ۚ إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَاسِقِينَ ﴿١٢﴾

و فرعون ته او قوم ته دده، په تحقيق فرعون او قوم دده له امر څخه د خدای ﷻ خارج کسان وه.

فائده: جمله د انهم تعليل دی د ارسال د موسیٰ ؑ و فرعون او قوم ته دده.

فَلَمَّا جَاءَتْهُمْ آيَاتُنَا مُبْصِرَةً

اى ظهرت لهم على يد موسیٰ ؑ، نو مجئ په معنی کي د ظهور مجاز دی او اسناد يې و آياتو ته حقيقت دی او بعض محققين وايي چي مجئ د آياتو حقيقت دی او اسناد و آياتو ته يې مجاز دی، او حقيقة دا معجزې د موسیٰ ؑ وې.

نکته: پوښتنه دا پيدا کېږي چي د داسي عبارت ويلو څخه فَلَمَّا جَاءَهُمْ مُوسَىٰ بِآيَاتِنَا خدای ﷻ عدول وکړی و دې عبارت ته، فَلَمَّا جَاءَتْهُمْ آيَاتُنَا، حکمت الهي څه دی؟

ځواب: د دې عدول فائده او حکمت اشاره و دې ته ده چي دغه مذکوره معجزات له طاقت څخه د موسیٰ ؑ خارج وي لکه نوري معجزې د انبياء عليهم السلام له طوق څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددوی خارج وي، او د موسیٰ ؑ په معجزو الي کي ددوی یعني چي خصم دي په عاجزه کړي دخل ؤ، مکر نه دا چي دده په دعا، یا اخبار به خدای ﷻ هغسي وکړه.

سوال: دا نکته به منافي د هغه آیت نه وي، چي په بل ځای کي د قرآن کریم فَلَمَّا جَاۤءَهُمْ مُوسٰی بِاٰیٰتِنَا؟

ځواب: هيڅ منافات نسته، ولي چي هغه اسناد و موسیٰ ؑ ته وکړل سو چي دا معجزات جاري او راغلي پر لاس د موسیٰ ؑ لپاره د اعجاز د خصم الد جاهل معاند متکبر فرعون عليه اللعنة.

فائده: اسناد د آیاتو چي خدای پاک خپل ځان ته وکړی لپاره د تعظیم د کما قال العلماء في بيت الله للكعبة المكرمة.

''مُبْصِرَةً'' يعني بينة واضحة بحيث لاينكرها الا المعاند المتكبر.

پوهه: چي مبصرة حال دی له آیاتو څخه.

سوال: مبصرة خو صيغه د اسم فاعل ده، او سره ددې چي ابصار خو د هغه کسانو کار دی چي په دې معجزاتو کي فکر ووهي؟

ځواب: چونکه دا آیات سبب د ابصار د متاملينو دی نو دا اسناد مجازي و سبب ته دی كذا قال العلامة البغدادي رح، او مظهري رح وايي چي صغيه خو د اسم فاعل ده لکن په معنی مفعول د اشعاراً بانها لفرط وضوحها للابصار بحيث تكاد تبصر نفسها لو كانت تبصر انتهى، ولايخفى انه تكلف فافهم.

درويش وايي: چي روح البيان ورته خبره د مظهري کړې ده، والله اعلم بما في كتابه.

قَالُوْا هٰذَا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ۝

ووېل فرعون او قوم دده چي دا د عصا مار کېدل او يد بيضاء سحر دی چي سحر والی يې ډېر ښکاره دی.

فائده: مبين مشتق دی له ابان لازمي څخه لا المتعدي فتدبر.

وَجَحَدُوْا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَآ اَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَّعُلُوًّا ۭ

او دوی انکار وکړی له دې آیاتو څخه چي دا دي من عند الله وي په صرف ژبو سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي جحود انکار دی له شي څخه بعد المعرفة والايقان تکبرًا وعنادًا، بيضاوي رح په ترجمه کي د جحدوا وايي اى في ظاهر امرهم فلايرد ان الجحود بعد اليقين مستبعد آه.

درويش وايي: چي دا استبعاد د وروسته آيت سره منافي دی او روح المعاني ددې آيت ”واستيقنها انفسهم“ اى علمت علمًا يقينًا انها آيات من عند الله.

فائده: الواو للحال په تقدير د قد کماهو القانون النحوي في الماضي الواقع حالاً، او بحر العلوم وايي چي په دې آيت کي استفعل په معنی د تفعل لپاره د تکلف لکه استکبر په معنی چي د تکبر ”ظلمًا وعلوًا“ له جهته څخه د ظلم او تکبر، دا دوه لفظه مفعول له دي د جحدوا بها اى لاجل الظلم والکبر، او يا يې معنی داده ظلمًا على انفسهم چي ځان يې مستحق د ابدي دوږخ وګرځاوه او تکبر يې وکړی له ايمان څخه پر موسیٰ عليه السلام.

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿١٤﴾

وګوره! (يا خطاب دی و رسول الله ﷺ ته لپاره د تسلي دده په قوم کي دده چي مشرکين وه او پر عليه الصلوة والسلام يې ايمان نه راوړی تکبرًا وعنادًا او، خطاب عام دی اى انظر ايها المخاطب په نظر د ځان پوه کولو، ومعنی الآية وګوره چي څرنګه سو عاقبة الامر د مفسدانو چي فرعون او قوم دده و يعني اغرقوا في البحر په دنيا کي او داخل سوه و ور ابدي ته چي دوږخ دی، کريمه: اغرقوا فادخلوا نارًا.

فائده: کيف خبر دی د کان او پر کان مقدم سو لتضمنه معنی الاستفهام الذي يقتضي الصدارة، او عاقبة المفسدين اسم د کان دی، والجملة في محل النصب مفعول دی د انظر.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا دَاوٗدَ وَسُلَيْمٰنَ عِلْمًا ۚ

پوه سه: چي دا کلام مستانف جديد دی، ددې آيت په تائيد من انك لتلقى القرآن من لدن حکيم عليم. لکه قصه د موسیٰ ع چي هم ددغه غرض لپاره وه تائيد په دې معنی چي نبوت او رسالت او نازل والی د کتابو له جانبه څخه د رب العزت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کوم نوی کار نه دی چې قریش یې انکار کوي.

بوه سه: چې لام موطئه د قسم دی اورده لکمال الاعتناء بمضمونه.

فائده: معنی داده چې والله ورکړي وه موږ و هر یو ته د داؤد او سلیمان علم پر ذات د خدای حسب الطاقة البشرية او علم پر صفاتو د خدای ﷻ او پر شرائع او احکامو د خدای ﷻ او پر احوال د مبدء والمعاد، او علم پر خبرو د مرغانو او تسبیح د غرو سره د تسبیح د داؤد ﷺ او نرمول د اوسپنې په لاس کې د داؤد ﷺ او سلطنت د انس او جن د سلیمان الی غیرها من الفضائل کما سیاتي في القرآن العزیز. په کشف الاسرار کې وایي: داؤد از انبیاء یعني بني اسرائیل بود از فرزندان یهودا بن یعقوب و روزگاری وی بعد از روزه گاری موسی بود به (۱۷۱) وملک وی بعد از ملک طالوت بود، کریمه: وشددنا ملکه چنانچه هر شب (۳۱۰۰۰) از بزرگان بني اسرائیل اورا حارس بودند، و بني اسرائیل همه تبع وی شدند وملک بروی مستقیم گشت وجای علم بود و نبوت چنانکه گفت ﷻ: آتینا داؤد و سلیمان حکمًا، وحکم که راندند وعمل که میکردند از احکام تورات کردند زیرا که کتاب داؤد یعني زبور همه موعظت وپند بود، درآن احکام امر ونهي نبوده.

وَقَالَا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ فَضَّلَنَا عَلٰی كَثِیْرٍ مِّنْ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۱۵﴾

وقالا ای کل واحد منهما شکرًا للنعمة، چې موږ ته یې فضیلت راکړی یعني بالنبوة والکتاب وغیر ذالک کما سیاتي في القرآن الکریم، پر ډېرو د بندګانو څخه د خدای ﷻ چې مؤمنان دي.

فائده: اصل عبارت خو داسې ږ چې هر یوه داویل چې فضلني الا انه ﷻ عبر عنها عند الحکایة بصیغة المتکلم مع الغیر ایجازًا.

بوه سه: چې په دې بیان سره ښکاره سو حسن د عطف بالواو اذ المتبادر من العطف بالفاء، ترتب حمد کل واحد منهما علی ما اوتي کل واحد منهما لا علی ما اوتي نفسه کذا قال البیضاوي، وروح البیان والمظهري نقلاً عن البیضاوي.

بوه سه: چې دا کثیر چې مفضل علیه ده داؤد و سلیمان چې هغو ته مثل د علم د دوی نه ږ ورکړل سوی لا من لم یؤت من العلم شیئًا ای من علم الدین، ولي د هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مفضل عليه خو بيان وكړى خو خداى پاک بيان په مؤمنانو سره او دا محاله خبره ده چي مؤمن دي پر هيڅ شي د دين علم نه لري كما هو الظاهر.

درويش وايي: چي په دې آيت كي دليل دى پر شرف د علم او پر دې چي علم موجب دى د فضل او د تقدم د علماء الدين پر من سوى ددوى، قال رسول اللهﷺ فضل العالم (يعني په علم مشغوله وي صرف فرائض او واجبات او سنن پر ځاى كوي نورو نفلي عباداتو ته فارغ نه وي) على العابد (چي عالم نه وي او په نفلي عباداتو كي علاوه پر فرائضو او واجباتو سنن وغيرها كوشان وي) كفضل القمر ليلة البدر على سائر الكواكب، وان العلماء ورثة الانبياء وان الانبياء لم يورثوا دينارًا ولا درهمًا، وانما ورثوا العلم فمن اخذه اخذ بحظ وافر، رواه احمد والترمذي وابو داؤد وابن ماجه من حديث قيس بن كثير.

درويش وايي: چي دا حديث نص دى په دې كي چي مراد له علم څخه علم د امور دينه وو دى من العقائد الاسلامية والاحكام الشرعية من الاوامر والمنهيات الدينية والمتكفل لها علم العقائد وعلم الفقه وما يتوقفا عليه كعلم اللغة واصول الفقه والنحو والصرف وعلم المعاني والبيان وغيرها لان علم العقائد والاحكام وهو ميراث الانبياء عليهم السلام لا علوم الفلاسفة كالطبعي والهيئة والهندسة والمنطق وغيرها كما لا يخفى.

فائده: كه تر علم دين افضل شى واى نو خداى پاک به خير البشرﷺ په طلب د زيادت د هغه شي امر كړى واى، كريمه: وَقُلْ رَبِّ زِدْنِي عِلْمًا، وفي حديث ابى امامة الباهليؓ الذي رواه الترمذي فضل العالم على العابد كفضلي على ادناكم الى اخير الحديث.

فائده: علم چي لوى نعمت دى نو شكر ددې نعمت پر عالم واجب دى. او عالم بايد متواضع وي متكبر نه وي، او دا يې عقيده وي چي كه څه هم ماته خداى پاک پر ډېرو كسانو فضيلت راكړى دى، نو تر ما به ډېر افضل په علم وي وفوق كل ذى علم عليم الى ان ينتهى سلسلة العلم الى العالم الخبير البصير عزوجل، په صحيح حديث كي راغلي دي چي يو سړي له عليه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وكړه د افضل الاعمال رسول اللهﷺ ورته وويل العلم بالله والفقه في دينه. هغه سړي بيا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال مکرر کړی علیه الصلوة والسلام هغ جواب ورته ووایه حتی تر دریږ واره پوري او جواب مذکور مکرر کړه سول، اخیر سائل ورته وویل یا رسول اللهﷺ اسئالک عن افضل الاعمال او ماته تاسي ځواب راکوئ په علم سره، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل ان العلم ینفعک معه قلیل العمل وان الجهل لاینفعک معه کثیر العمل، فتح الموصلي وایي الیس المریض اذا منع عنه الطعام والشراب والدواء یموت یعني موتًا ظاهریًا فکذا القلب اذا منع عنه العلم والفکر والحکمة یموت یعنی موتًا باطینًا، شیخ سعدي قدس سره وایي چي د یو عابد حکایت خلګ کوي چي هره شپه بې لس منه (والله اعلم بالمراد بالمن) وتا سحر ختم القرآن کریم درنماز بکرد صاحب دل بشنید وگفت اگر نیم نان بخوری وبخفتی بسیار فاضل ترا از این بودی. سعدیؒ:

اندرون از طعام خالی دار ..... تادر ونور معرفت بینی

تهی از حکمتی بعلت ان..... که پری از طعام تا بینی

وَوَرِثَ سُلَيْمٰنُ

او میراث یووړی سلیمان د خپل پلار داؤد ؑ څخه یعني نبوت او علم او ملک سلطنت، دا تفسیر منقول دی د عبدبن حمید او ابن المنذر او ابن ابی حاتمؒ څخه یعني بعد موت ابیه داؤد ؑ، نه نور اولاد د داؤد چي (۱۹) وه.

پوه سه: چي روافض خذلهم الله په دغه آیت سره دلیل وایي چي له انبیاء څخه میراث وړل کیږي لکه د خلکو څخه، او دوی په دې نه پوهیږي چي که د انبیاء ؑ څخه میراث وړه کېدای، نو تخصیص د سلیمان یې ولي وکړی په میراث کي د داؤد ؑ او سره دې کمامر د داؤد ﷺ نولس زامن وه، نو باید ټولو ته برابر میراث رسېدلی وای.

پوښتنه: د هغه حدیث معنی چي رسول اللهﷺ وایي (لانورث) څه ده؟

ځواب: معنی یې داده انه لایملک احد من الناس مال نبي بعد موته بل یکون ماله موقوفًا محبوسًا علی ملک الله تعالی (یعني په بیت المال کي د مسلمانانو دي تحویل سي) قال البغويؒ چي سلیمان ؑ ته هغه شیان چي داؤد ؑ ته ورکړل سوي وه ده ته ورکړل سوه یعني نبوت وغیره کمامر، او سلیمان ﷺ ته زیات تر هغو شیانو مسخر والی د باد، چي دده په امر سره به یې تخت دده په هواء وړی یا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کرار یا چټک حسب ارادة سلیمان ؑ او تسخیره د شیطانانو او د جنیاتو.

فائده: دی نبوت وغیره ته میراث د څه د رکه وایي او سره د دې چي حقیقت د میراث خو په مال کي دی؟

ځواب: اطلاق د میراث دلته مجاز دی لان الانبیاء علیهم السلام انما یورثون الکمالات ولا قدر للمال عندهم.

وَقَالَ يَا أَيُّهَا النَّاسُ عُلِّمْنَا مَنطِقَ الطَّيْرِ

وویل سلیمان (لپاره د تشهیر د نعمت د خدای ﷻ لاتکبرًا اوفخرًا) ای خلکو موږ ته راښوول سوي یعني د خدای ﷻ په قدرت سره خبري د مرغانو، په دې خطاب غرض د سلیمان اظهار د معجزې د خدای ﷻ دی تاچي ایمان د مؤمنانو په زړو کي ښه محکم سي او پر منکرانو باندي حجت سي کریمه: وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ.

سوال: ضمیر د متکلم مع الغیر یې څرنګه راوړی او سره د دې چي فهم د منطق خو خاصه د سلیمان ؑ وه داؤد ؑ نه په پوهېدی؟

ځواب: دا مبني پر عادت د باچهانو فانهم متکلمون بمثل ذالک رعایة لقاعدة السیاسة والنطق والمنطق (چي مصدر میمي دی او نطوق) په عرف عام کي کل لفظ یعبر به مافي الضمیر مفردًا کان او مرکبًا. قال الامام الراغب الاصفهاني النطق الاصوات المقطعة التي یظهرها اللسان وتعیها الاذان او نطق په دې معنی خاص په انسان پوري ده کما قال اهل المعقول الناطق فصل الانسان ولا یقال لغیره الا علی سبیل التبع کما یقال نطقت الحمامة ای صوتت.

فائده: اصوات د مرغانو چي منطق یې وبلل اعتبارًا بحال سلیمان الذي کان یفهمها فمن فهم من شئ معنی فذالک الشئ بالنظر الیه ناطق وان کان بالنظر الی من لایفهمه صامتًا، والطیر جمع طائر کرکب جمع راکب وهو کل ذی جناح یسبح في الهواء، وکان سلیمان یفهم نطق غیر الطیر من الحیوانات ایضًا کما سیجئ من قصة النمل وخص الطیر لشرفه علی سائر الحیوانات.

پوښتنه: د طیر څه شرافت دی پر نورو حیواناتو؟

ځواب: د طیر شرافت خو د سلیمان ؑ په قصه کي په نص د قرآن کریم ثابت سو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کمامر، او د نوح علیه السلام کښتۍ چې د جودي پر غره لنگر سوه، د هغې د ختمو حال يې کوترۍ په زبان حال ورته راوړه، او داغه رنگه هدهد د اوبو د نژدې والي په هکله کې په لسان حال سلیمان علیه السلام ته بیانا وه، او د بلقیس حال د تخت هم هدهد ورته راوړي وه سلیمان علیه السلام ته، او چې ابرهه پر مکة المکرمة د فیلانو په ذریعه حمله وکړه طیر ابابیل شکست ورکړی کما هو ثابت بنص القرآن في سورة الفیل، او دغه رنگه څه وخت چې علیه الصلوة والسلام د هجرت په موضوع کې سره د ابوبکر رضی الله عنه په غار کې د جبل ثور پناه اخستې وه کوترو یو لوی خدمت وکړی چې د غار په خوله کې یې ځالې جوړې کړې او د مشرکانو نظریې د دغې غاري څخه واړاوه کما ثبت في الاحادیث الصحیحة، له دې سببه کوترې الی یومنا پورې د مکه په حرم او ښار کې لوی موقعیت لري، وهذه الخدمات تکفی لشرف جنس الطیر علی سائر الحیوانات فاحفظ هذه الدقیقة.

درویش وایي: چې روح المعاني، بغوي او روح البیان د هغه خبرو د مرغانو د هر مرغه جلا جلا مثالونه راوړي دي، چې که فقیر تولي هغه خبرې چې سلیمان علیه السلام به خلکو ته د هغو د اوازو ترجماني کوله رانقل کړم د فقیر د تفسیر به اوراقې به په ډکې سي، نو که د چا هغه مثالونه په کار وي او د هغو د زدکړې شوق لري نامورې تفسیرونه دې په غور مطالعه کړي.

وَأُوتِينَا مِن كُلِّ شَيْءٍ

او موږ ته راکړل سوی دی هر شی یعنې د باري عزوجل له خوا څخه.

پوهسه: چې اعطاء د هر شي پر طریقه د استغراق حقیقي خو ممکن نه دی، له دې سببه یې مفسرین رحمهم الله په یوه خوله مبالغه بولي د عطایاؤ د خدای جل جلاله، له جانبه، دا جمله عطف ده پر علمنا منطق الطیر باندې، روح المعاني وایي چې د دې جملې یعنې معطوف علیها او معطوفه دواړې لکه شرح د ورث سلیمان داؤد دي، او مقاتل رحمه الله وایي چې مراد ما اوتیه من النبوة والملک وتسخیر الجن والانس والشیاطین والریاح کمامر، او ابن عباس رضی الله عنه وایي چې مراد څندې مهمات د دنیا او د آخرت دي، او بعض مفسرین وایي چې مراد څندې ما یحتاج الیه الملک من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

آلات الحرب وغيرها، او روح البيان وايي او مظهري هم ورته خبره د روح البيان کړې ده حيث قال اراد كثرة ما اوتي نحو فلان يقصده كل احد فلاني ته قصد کوي هر سړی يعني يو څه مال وغيره هر سړی غوندي غواړي اراد به كثرة قصاد د حاجاتو د خلګو، يا فلان يعلم كل شئ اراد به كثرة علومه العقلية والنقلية.

پوښتنه: داسي ولي نه وويل سول چي اوتيت يعني په صيغه د متكلم واحد نو د متكلم مع الغير څخه څوک د سليمان سره ملګري دي؟

ځواب: د اوتينا څخه يا مراد زوی او پلار دي په دې ځای کي يعني علمنا منطق الطير كي كمامر ان فهم د منطق الطير خاصه د سليمان ؑ وه او ايتاء د كل شئ په معنى مذكوره آنفًا په دواړو كي جوړيږي، لكن تر ټولو آسانه جواب دادی چي مراد د سليمان ؑ په دې آيت كي يعني نه په ماقبل آيت كي خپل ځان او اتباع د ده مراد دي، ولي اتباع د ده ياخذون منه ما اعطاه الله لكن مما علمه الله تعالى واعطاه سوى النبوة والملك وتسخير الانس والجن.

إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ الْفَضْلُ الْمُبِينُ ﴿١٦﴾

په تحقيق دا مذكوره نعمتونه صرف او صرف د خدای ﷻ يو فضل او احسان دی پر موږ باندي يعني داسي نه ده چي موږ يې مستحق وُ يا جزاء زموږ د عملو ده بل تفضل واحسان من الله عزوجل.

فائده: دا خبر د سليمان ؑ لپاره د شكر د دې نعمتو ده، لپاره د امتثال د دې قول د خدای ﷻ: وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ لكه چي په صحيح حديث كي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام وويل: انا سيد ولد آدم ولا فخر الى اخير الحديث.

درويش وايي: چي بغوي ؒ وايي په نقل د تاريخ څخه چي سليمان على نبينا وعليه الصلوة والسلام ملک مشارق الارض ومغاربها (۷۰۰) كاله (۶) مياشتي وركړل سوی وُ على جميع اهل الدنيا من الجن والانس والطير والدواب والسباع واعطى مع ذالک منطق الطير، او ده په سلطنت كي عجيبه صنائع و معرض ته د ظهور راغلي كما سيئاتي في القرآن العزيز.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَحُشِرَ لِسُلَيْمَٰنَ جُنُودُهُۥ مِنَ ٱلْجِنِّ وَٱلْإِنسِ وَٱلطَّيْرِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿١٧﴾

یعني في سیر له چي دی یو خوا ته تلی ”فَهُمْ يُوزَعُونَ“ لغات الحشر، یو جماعت له خپلو ځایو څخه راجمع کول او جنګ ته اماده کول، نو چي جماعت نه وي حشر نه ورته وایي، کذا في المفردات (وبالفارسیة ګرد کردن) کذا في تاج المصادر، والجنود جمع الجند هر مجتمع ته جند وایي کما یقال الارواح جند مجندة وانما قال جنود بصیغة الجمع لاختلاف اجناس عساکر سلیمان کما اشیر الیه في الآیة فکل من الخلق جند کریمه: وما یعلم جنود ربک الاهو، نو مچهر یعني غوماشي لښکر د خدای ﷻ دي نمرود او نمرودیانو ته.

والابابیل جند الله لاصحاب الفیل کما سیاتي تفصیله في سورة الم ترکیف آه ان شاء الله تعالی، والعنکبوت والحمامة جند الله الی حفاظة رسول الله ﷺ وابوبکر رضي الله عنه في غار جبل ثور کما مر عنقریب، والوزع په معنی د منع ده له انتشار څخه او له تفرق څخه، والوازع هو الذي یمنع العسکر عن التفرق، جمع یې وزعة ده، والمعنی راجمع کړه سوه وسلیمان ته عساکر ده د پیریانو او د انسانانو څخه او د مرغانو څخه چي دی له شام څخه د یمن پر خوا روان ؤ، نو دوی سره جمع کېدله یعني اول فوجیانو ته یې اخیر فوجیان را جمع کول چي سره یو ځای سي پس او پیش نسي کما هو حال الجیش الکثیر.

فائده: جن یې د مخه کړه سره د دې چي انس خو تر دوی مشرفه دی. لپاره د اشاره وقوت ته د حکومت د سلیمان من اول الامر. ولې چي جن فرقه طاغیه ده بعیدة من الحشر والتسخیر، قال الکاشفي رح ودرین اشاره هست که ایشان باوجود کثرت عدد ایشان مهمل وپریشان نبودند بلکه ضبط و ربط ایشان بمرتبه بود که هیچ کس از لشکریان از مقر مقرر خود پیش وپس نتوانستی رفت.

راوي وایي چي ځای د عسکرو د سلیمان علیه السلام سل (۱۰۰) فرسخه ؤ، پنځه ویست (۲۵) فرسخه د جناتو لپاره ؤ، پنځه ویشت د انسانانو لپاره، پنځه ویشت للطیر، و (۲۵) فرسخ للوحش وکان له (۱۰۰۰) غرفة یعني زر خوني د ښیښو پر لرګو او په دغو خونو کي درې سوه (۳۰۰) نکاح والا ښځي وې او اووه سوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۷۰۰) مینځیانې وي، نو سلیمان علیه السلام به امر کړی تند باد تخت به یې پورته کړی بیا به یې امر کړی نرم باد چې تخت به کرار کرار را روان ؤ او د مځکې سیل به یې کاوه. بیا سلیمان ؑ ته خدای پاک وحي را واستولې: اِنِّیْ قَدْ زِدْتُ فِیْ مُلْکِكَ (ستا سلطنت مې نور درزیات کړی) هغه دا چې په مځکه کې چې هر شی خبره وکړي باد به یې ستا تر غوږه را ورسوي.

درویش وایي: چې دا ټوله روایت وه د محمد کعب رحمه الله چې روح المعاني، روح البیان، قرطبي او مظهري رحمه الله ټولو راوړي دي، والله اعلم بالصواب..... بیت:

نه بر باد رفتی سریر سلیمان علیه السلام...... بآخیر ندیدی که برباد رفت

كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ، وَّيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ.

حَتّٰٓى اِذَآ اَتَوْا عَلٰى وَادِ النَّمْلِ

پوه سه: چې حتی غایة د سیر چې د هم یزعون څخه وفهمېدی، ولې چې ددوی جمع کېدل د سیر لپاره وه، فالمعنی سیروا حتی چې ورسېدی او راغله پر شېلهٔ د مېږیانو.

سوال: اتو خو متعدي بنفسه دی نحو اتیت موضع کذا، نو په علی سره یې ولې متعدي کړی؟

ځواب: تعدیته بعلی اما تنبیهًا علی ان اتیانهم کان من جانب عال، او یا له دې سببه چې مراد قطع د وادي ده کما في قولهم اتی علی الشئ اذا بلغ اخیره، بعض مفسرین وایي چې د سلیمان ؑ او دده د فوج مقصود شاید دا ؤ چې پر منتهی دد ې شېلې به کښته کېږي، ویدل علیه خوف ما في الارض وهو النمل لا عند مسیرهم في الهواء، نو له دې سببه هغه مېږي وویل: لایحطمنکم سلیمان وجنوده.

پوه سه: دا وادي النمل بعض مفسرین وایي چې دا وادي په شام کې ده، او بعض وایي چې په طائف کې ده، چې ډېر مېږیان پکښې دي، نو ځکه په دغه نامه مشهوره ده کما یقال بلاد الثلج (واوره) لما یکثر فیه الثلج.

درویش وایي: چې مشهوره خو داده چې دا عادي تور مېږیان مراد دي، او بعض خلګ وایي چې وادي د یوې شېلې نوم دی چې په هغه کې جن اوسېږي، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نمل ددوی د سپرتیا لکه مایه اوښان او یا لیوانو ته وایي. په روح المعاني کي وایي وهذا عندي مما لا یلتفت الیه. روح المعاني وایي واکثر الاخبار والروایات في قصة سلیمان عليه السلام لایعول (ای لایعتمد) فعلیک بالایمان بما نطق به القرآن ودلت علیه الاخبار الصحیحة وایاک الانتصار (یعني کومک او اعتماد) لما لاصحة له کما یذکره کثیر من القصاص (قصه کونکي خطیبان) یا تاریخ بیانونکي بعض ناپوه کسان. مما فیه مبالغات شنیعة او که ددوی څخه پوښتنه وکړل سي چي دادي څومره بعیده عن العقل خبره وکړه، دوی ځواب ورکوي چي دا چي ما بیان کړه ممکن شیان دی تعلق د قدرت د خدای جل جلاله پوري صحیح دي. روح المعاني وایي فتفتح بها باب السخریة بالدین والعیاذ بالله (یعني کافران به زموږ په اسلام پخسند وهي چي ستاسي په دین کي فلانی او فلانی قصه راغلې ده یعني ما سمعها من القصاص چي د عقل له دائرې څخه وتلې خبره ده. روح المعاني وایي چي اکثره د دغو قصو زنادقه وو وضع کړي دي یریدون بها التنفیر عن دین الاسلام یعني ددوی غرض دادی چي په دروا غجنو قصو سره د خلکو نفرت پیداسي له دین څخه د اسلام اعاذنا الله منها. انتهی ماقال صاحب روح المعاني السید محمود الآلوسي رحمه الله.

درویش وایي: چي مظهري رحمه الله چي په حدیثو کي ډېر ښه مهارت لري د وهب بن منبه رحمه الله او هغه له کعب رحمه الله څخه داسي روایت را نقل کړی دی چي سلیمان عليه السلام چي به پر خپل تخت کښېنستی، نو خپل اهل یعني زوجات او سریة او خادمان او لښکر من الجن والانس کمامر به یې هم د ځانه سره سپاره کړل او مخابز او مطابخ یعني تنوران د اوسپنې او لوی لوی دیگونه چي په هغو کي به د لسو اوښانو غوښي ځاېدلې او د دوابو لپاره پر تخت سربېره میدانونه وه، نو نانوایانو به ډوډۍ پخولې او اشپزانو به کټوي باندي کړي وې او دواب به په حضور کي د سلیمان عليه السلام وه بین السماء والارض، نو سلیمان عليه السلام به پر داسي عظیم الشان تخت ناست وُ چي د اصطخر څخه به یمن ته تلل په خیال کي یې وه چي په هواء کي به پر مدینة الرسول صلی الله عليه وسلم تېرېدل، نو همنشینانو ته به یې وویل هذه (ای المدینة) دارهجرة نبي آخیر الزمان طوبیٰ لمن آمن به وطوبیٰ لمن اتبعه، تر دې چي تخت دده پر محاذاتو د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مكې مكرمې تېرېدی او ده وليدل چې د بتانو عبادت كېدی من دون الله تعالى سليمان تېر سو بيت الله الشريف وژړل فاوحى الى البيت ما يبكيك؟ فقال يعني بيت الله يا رب ابكاني ان هذا نبي من انبيائك وقوم من اوليائك مروابي ولم يصلوا عندي (تېر سوا و په ما كې يې لمونځ نه وكړی) والاصنام تعبد عندي وحولي من دونك فاوحى الله اليه ان لا تبك فاني سوف املئوك. زه به ډك كرم ستا حرم يعني ستا حرم وجوهًا سجدًا وانزل فيك قرآنا جديدًا وابعث منك نبيًا في آخير الزمان احب الانبياء الى واجعل فيك عمارًا من خلقي يعبدونني وافرض على العباد فريضة يعني الحج چې دوی به راځغلي وتاته لكه د بابني مرغه وخپل ځالي ته او داسي به يې ځكېروی وي يعني ژاړي به لكه ځكېروی د اوبني وخپل بچي ته، ويطهرك من الاوثان وعبدة الشياطين يعني المشركين انتهى حديث المظهري عن وهب بن منبه عن كعب رحمه الله.

درويش وايي: چې دا قصه او روايت هغه تفسيرونه چې زما سره موجود دي بيله مظهري بل تفسير نه ده راوړې، والله اعلم بالصواب.

قَالَتْ نَمْلَةٌ

جواب د اذ دی. شعبي رحمه الله وايي دا نملة ذات جناحين وه چې د وادي النمل له مېږيانو وه. بعض وايي چې نوم يې منذرة وُ او بعض وايي حذمي وُ. او بعض وايي طاصية يې نوم وُ، راوي وايي چې دغه مېږي چې لښكر د سليمان عليه السلام وليدی چې ددوی د شپلې پر خوا را روان دی، نو دې مېږي لوړه ناره وكړه چې دی په خپله ناره نور مېږيان پوه كړي چې دلته حاضر وه، نو دې مېږي فرار وكړی په خپل غار ننوتی نورو يې متابعت وكړی په غار ور سره ننوتل، نو له دې سببه يې دوی مخاطبه متشابه كړه د مخاطبه سره د عقلاؤ چې يو بل ته نصيحت كوي، ولهذا جعلت هي قائلة وما عدها من النمل مقول لهم او كه تشبيه هم نوي دا ممتنع نه ده ان يخلق الله فيها النطق وفيما عداها من النمل الفهم.

پوښتنه: تا يې نوم ذكر كړی، نو مېږيان خو داسي نه دي لكه انسانان چې پلارپر زوی يو نوم ايږدي او انسانانو ته خو هم د يوه مېږي او د بل مېږي د صورت فرق نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کیږي چې پر یوه یو نوم کښېږدي او پر بل بل نوم کښېږدي. او نه مېږیان په مثل د انسانانو دي لکه سپی او خره وغیره چې پر دوی یو نوم کښېږدي او پر بل بل نوم؟

ځواب: په کتاب التعریف والاعلام کي وايي، سمیت بهذا الاسم في التورات والانجیل. او في بعض الصحف الالهیة سمها الله تعالی بهذا الاسم وعرفها بهذا الی الانبیاء قبل سلیمان علیه السلام.

فائده: امام رازي رح وايي چې قتاده رح کوفې ته راغلی خلک پر راټول سول. نو ده وویل چې زما څخه چې د هر شي پوښتنه ځوک کوي ودې کړي. او امام ابو حنیفة رح په هغه ځای کي او حدیث السن ځوان ؤ، نو یو چا وویل چې پوښتنه ځندي وکړئ چې نملة سلیمان نر ؤ او که ښځه، نو امام اعظم رح تر قتاده رح د مخه ورته وویل چې ښځه وه، چا ورته وویل چې د څه درکه درته معلومه سوه چې ښځه وه؟ ده ورته وویل من کتاب الله وهو قوله تعالی قالت النمة، اذ لو کان ذکرًا لقال الله قال نملة، ددې خبري د امام تحقیق دادی چې نملة لکه حمامة او شاة ده چې پر نر او ښځي دواړو یې اطلاق کیږي، نو تمیز یې په علامه سره کیږي نحو حمامة ذکر وحمامة انثی یا په هو یا هي سره ولایجوز ان یقال قامت طلحة ولا حمزة لانهما اسمان للمذکر فقط فلا یحتاجان الی علامة التانیث، او بعض مفسرین وايي چې تانیث د قالت په اعتبار د تانیث لفظي دی لکه تمر و تمرة، او دا مبحث روح المعاني ډېر څېړلی دی، او شیخ الاشراق وايي چې نفس ناطقه دراکة په ټولو حیواناتو کي سته، روح المعاني وايي چې ظواهر د آیاتو قرآنیه او د احادیثو صحیحه ؤ ددې خبري تائید کوي د مثال په توګه دا آیتونه د قرآن او په احادیثو صحیحو کي چې رسول الله ﷺ وايي چې زه هغه ډبره اوس هم پېژنم چې قبل النبوة چې به زه غار حرا ته تلم دې به راته وویل السلام علیک وغیرها من الاحادیث الصحیحة نو چې په جماد کي دا فهم سته نو په حیوان کي به ولي نه وي نو هیڅ مجاز او استعاره ته حاجت نسته. د مېږي د بعض احوالو څېړنه ددې شاهد ده چې د دوی نفس ناطقه سته، ولي چې مېږی په دوبي کي غنم وغیره د ژمي د خورک لپاره جمع کوي او هره دانه د غنمو دوه ځایه کوي، پر دې بېرېږي چې که چېري په ژمي شنه ناشه لوندوالی ور ورسېږي شین به سي زموږ له غذا څخه به ووځي روح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المعاني وايي وهذا وامثاله يحتاج الى علم الاستدلالي وهو يحتاج الى نفس ناطقة داركة، وامثال ذالک كثيرة في الحيوانات.

يٰٓاَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوْا مَسٰكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمٰنُ وَجُنُوْدُهٗ

ملکې (یعني بادشاه) د مېږیانو وویل: ای مېږیانو ننوځئ په خپلو کورو یعني غارو.

پوښتنه: دا مېږیان خو غير ذوی العقول وه، نو ولې یې ادخلوا ورته ووایه چې د ذوی العقول خطاب دی، ادخلن به یې ویلی وای؟

ځواب: قانون دا دی چې انسان چې خبري کوي او دی خو عقيده لري چې ماسوا د غير ذوی العقول دي نو هغو ته ضمائر د جماداتو راجع کوي لکه چې و بنځو ته هم ضمائر د جماداتو راجمع کړل کېږي له جهته څخه دد ې چې بنځي که هم ذوی العقول دي لکن له جهته څخه د ضعف د عقول دذوی کما جاء في الحديث الصحيح دوی هم په جمله کې د جماداتو حسابل کېږي په عربي خبرو کې، واما الحيوانات لکه په دې ځای کې ملكة النمل الوادي چې خبري کوي او نور هم جنس یعني چې نور مېږیان چې سامعان دي، نو يو له بله سره خطاب د عقلاؤ کوي، نو خدای ﷻ په دې آيت کې کلام د نملة هغه سي را نقل کړي لکه دې چې ویلي وه فافهم.

پوه سه: چې حطم کسر یعني ماتولو ته وايي، یعني چې تر پښتو لاندي مو مړه نه کړي، سليمان وجنوده.

فائده: ظاهرًا منع د حطم څخه ده لکن په حقيقت منع له توقف څخه ده یعني دربېږئ مه چابک ننوځي او بيرته مه راوځئ، ولي چې دا دواړه صورت به ستاسي د حطم سبب وګرځي لکه لا ارینک ههنا، والمراد نهي عن التوقف.

پوه سه: چې دا جمله استيناف بياني دی او یا بدل دی من الامر لاجواب الامر فان النون الثقيلة لاتدخل في جواب الامر في سعة الكلام.

وَهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۸﴾

او دوی به په ځان نه پوهېږي چې مو تر پښو لاندي سول، دا قيد یې ددې لپاره ووایه چې که دوی پوهدای داسي یې نه کول چې قصدًا مېږي غوندي ضعيف

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شي تر پښو لاندي مر کړي، مظهريؒ وايي چي افسوس دی روافضو لره چي دوی دومره شعور نه درلودی لکه شعور د میږي حتی چي دوی نسبت د ظلم واصحابو ته د سید البشر ﷺ کوي.

سوال: څرنګه نمله دا وويل چي لايحطمنكم آه او سره ددې چي سليمان ؑ وجنوده پر خپل تخت ناست ؤ په منځ کي د اسمان او د ځمکي تېرېدل؟

ځواب: بعض مفسرينؒ وايي چي بعض جنود د سليمان ؑ پر ځمکه روان وه څوک سپاره څوک پياده، لکن په امر د خداى ﷻ او په طور د معجزې د سليمان ؑ طي الارض ورته کېدی چي د ځمکي سپاره او پياده د تخت سليماني سره چي په هوا کي روان يو ځاى سره راهي وه، او بعض مفسرين وايي چي دا د نملة قول دمخه ؤ تر تسخير د ريح و سليمان ؑ ته، او بعض اهل المعرفة وايي چي معنا د قول د نملة داده چي ستاسي زړونه پايمال نه کړي رويت د ملک سليمان وما اعطاه الله من زهرة الحيوة الدنيا فيشغلكم عن ذكر الله تعالى روح المعاني وايي والله اعلم بصحة التوجيه الاخير، او روح البيان ډېر اوږد بيان کړی دی په قول د نملة او روح المعاني بيان خورا نقل کړی دی لکن په اخير کي يې حکم په موضوعيت ددې اوږد بيان کړی دی فارجع ان شئت الى روح البيان وروح المعاني، مقاتلؒ وايي چي سليمان ؑ د درې ميله لېري قول د نمله واورېدی لامر چي خداى ﷻ دده سره وعده کړې وه چي هر څوک چي ستا په باره کي يوه خبره وکړي باد به يې ستا غوږ ته دررسوي، نو دا قول نمله هم باد غوږو ته د سليمان ؑ ورساوه.

فَتَبَسَّمَ ضَاحِكًا مِّن قَوْلِهَا

"فَتَبَسَّمَ" روح المعاني وايي چي دا تفريع ده پر ما تقدم فلا حاجة الى تقديره المعطوف عليه اى فسمعها فتبسم، والمظهريؒ قدر المعطوفات عليها الكثيرة والجمل المتعددة في المعطوف عليها ولعل سليمان ؑ انما تبسم من سرورًا چي خوشاله سو له ښه حال څخه خپل او له حاله د جند دده په باب کي د تقوى والشفقة چي ده ته يې د خداى ﷻ له خوا الهام وسو، او بل يې خوشالي په دې وکړه چي د نمله آواز لکه همس نسبت يې و بشر ته وکړی په ده يې واورېدی او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په معنی د هغه آوازيې دی پوه کړی، او بعض مفسرين وايي چي دا تعجب دده له جهته د تعجب دی وحذرته د نملة الملكة او ددې ډېرول خپل قوم لره يعني بقولها يا ايها النمل آه، او وه تدبيرته د ملكة النمل د خپل ځان د مصالح او د مصالح د بني نوع ددې چي نور مېږيان وه حيران سو.

درویش وايي: چي ابن حجر وايي چي تبسم مبادی د ضحک دی من غير صوت او ضحک انبساط الوجه حتى تظهر الاسنان من السرور فان كان فيه صوت يسمعه غيره فهو القهقهة، نو بعض مفسرين ضاحكا حال مقدرة بولي يعني مفروضًا ضحكه، او ابو البقاء الكفوي يې حال مؤكده بولي، نو دده په نېز تبسم او ضحک سره يو دي، لكن اهل لغت يې فرق سره وايي كمامر من كلام ابن حجر.

پوښتنه: علماء او مفسرين ولي ضاحكا يا حال مقدره بولي يا حال مؤكده؟

ځواب: ددوی خيال دادی چي انبياء عليهم السلام حال تبسمؤ فقط، او دليل هغه حديث د بخاري بولي چي روايت يې له عائشي رضي الله عنها څخه كړی دی. ما رئيته مستجمعًا قط ضاحكًا ومعناه مقبلاً على الضحك بكلية انما كان يتبسم. علامه بغدادي وايي چي تبسم د عليه الصلوة والسلام تر ضحک ډېر ؤ، وربما ضحک حتى بدت نواجذه، وعلى هذا يدل مجموع الاخبار في حالهﷺ، او حديث د عائشي رضي الله عنها د ګاهي ضحک د عليه الصلوة والسلام سره منافي نه دی، ولي چي عائشه رضي الله عنها نفي د رؤيت خپل كوي د ضحک د عليه الصلوة والسلام، نو عليه الصلوة والسلام دي ضحک كړی وي احيانًا دې مباركي دې نه وي ليدلی.

پوه سه: چي ضحک د عليه الصلوة والسلام حتى بدت نواجذه په هغه حديث كي چي روايت يې بخاري، مسلم او ترمذي كړی دی په باره كي د آخير د اهل النار خروجًا منها وآخير اهل الجنة دخولاً فيها، او دغه ضحک د عليه الصلوة والسلام چي بخاري راوړی دی په باره كي د هغه سړي يعني صحابي رضي الله عنه چي د روژې په مياشت كي يې يوه ورځ د مايني سره جماع كړي وي.

وَقَالَ رَبِّ أَوْزِعْنِيٓ أَنْ أَشْكُرَ نِعْمَتَكَ ٱلَّتِيٓ أَنْعَمْتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَيَّ

او سليمان عليه السلام وويل لپاره د شكر د خدای جل جلاله هضمًا لنفسه عن اداء شكر ما

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انعم الله علیه او استغاثه یې و خدای ﷻ ته وکړه په توفیق د شکر ویلو.

ترجمه: سلیمان علیه السلام وویل ای ربه زما ماته الهام وکړې د شکر د نعمت ستا هغه نعمت چې ماته دې راکړی دی من النبوة والملک وتسخیر الجن والانس والریح الی غیر ذالک کمامر، یعني والدي داؤد علیه السلام بن ایشاء من النبوة وتسبیح الجبال والطیر معه، او د زغرو جوړول والانة الحدید في یده وغیر ذالک وعلی والدتي بتشایع بنت الیائن وهي امرئة مسلمة زکیة طاهرة دې مور به سلیمان ته چې نبي لا نه ؤ داسې نصیحت کاوه لاتکثرن النوم باللیل ډېر خوب د شپې مه کوه فانه یدع الرجل فقیراً یوم القیامة کذا في کشف الاسرار.

پوښتنه: سلیمان علیه السلام د والدینو د نعمت د شکر غوښتنه له خدای ﷻ ولې وکړه؟

ځواب: انعام پر پلار او مور انعام پر ولد دی او مستوجب د شکر پر ولد چې صالح وي.

فائده: د وزع معنی کف او منع ده له تفرق ځخه هم راغلې ده کذا في القاموس نو معنی د آیت داده چې ته ماته توفیق راکړې چې زه ستا شکر د ځانه لازم وګرځوم او له تفرق ځخه یې منع کړم.

وَأَنْ أَعْمَلَ صَالِحًا تَرْضَاهُ وَأَدْخِلْنِي بِرَحْمَتِكَ فِي عِبَادِكَ الصَّالِحِينَ ﴿١٩﴾

عطف دی پر ان اشکر، او بل الهام راته وکړی او یا توفیق راکړی د عمل صالح چې ته په راضي ګرځې او ما داخل کړې په رحمت سره ستا او په فضل سره په ډله کې د بندګانو ستا چې صالحان دي وهم الانبیاء والصلحاء مطلقاً، او ابن عباس رضي الله عنه وایي چې د سلیمان مراد له عباد صالحینو ځخه ابراهیم، اسماعیل، اسحق، یعقوب ومن بعدهم من النبیین والمرسلین علیهم السلام دي.

وَتَفَقَّدَ الطَّيْرَ

او اراده وکړه سلیمان علیه السلام د مرغانو تا چې ده ته معلوم سي حاضر او غیر حاضر منهم، روح المعاني وایي چې ظاهره داده چې تفقد د ټولو مرغانو یې شروع کړی، وذالک العنایة بامور الملک او غم خور دی په رعیتو سره خصوصاً الضعفاء منهم، نو پر دې تقدیر لام لپاره د جنس دی، لکن ظاهره داده لکه عبدالله بن سلام رضي الله عنه چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي: دی وايي چي سليمان علیه السلام په يو دښت کې سره د فوج عظيم وا ړول چي هو ړئ اوبه نه وې، فاصابته العطش يعني تنده غالبه سوه دده او د جند، او هُدهُد (چي په پښتو يې ملا چرګک بولي) چي دده و سترګو ته خدای پاک دومره دید ورکړئ ؤ چي په مځکه کې يې اوبه ليدلې داسي لکه په ښيښه کې چي انسانان او به ويني او قرب او بعد د اوبو به ورته معلومېدی، نو دی به وګرځېدی هر ځای چي به اوبه نژدې وې هغه ځای به يې په مو ښکه وواهه، نو پېريانو به هغه ځای وشانه عين الماء به يې پيدا کړې. رواه ابن ابی شيبة وعبد بن حميد وابن المنذر وابن ابی حاتم والحاکم رحمهم الله، سعيد بن جبير رح وايي چي ابن عباس رض چي هم هغه تېره سوې خبره وکړه د هدهد په باره کې نو نافع بن ازرق ورته وويل: ياوصاف (يعني چي د هدهد صفت د سترګو د تېز نظر بيان کوې) انظر ماتقول (ته فکر وکړه ته څه وايي د هدهد په صفت کې او سره ددې چي يو هلک و هدهد ته تلکه ودروي په مځکه کې او لې خاوره پر واچوي چي هدهد راسي کښېني د تلکي تناؤ يې په غاړه کې ولوېږي هلک يې ونسي، نو که د هدهد داسي تېز نظر وای لکه ته چي وايه نو بايد ده تلکي ليدلای پر هغه ځای به نه کښېښستلای. فقال ابن عباس رض ويحک ان القدر اذا جاء حال دون البصر يعني تقدير د خدای جل جلاله چي راسي يعني هدهد چي ونيول سي هغه تقدير الهي حائل وګرځي په مخ کې د ليدلو د هدهد.

القصه: سليمان ع او جند دده چي اوبو ته محتاج سول، او د هدهد تلاش يې وکړی هدهد نه ؤ چي اوبه وروښيي.

فائده: د خدای جل جلاله قدرت دی که په دې قصه کې غور وکړل سي چي سلطان الجن والانس سليمان علیه السلام يې يوه مرغه هُدهُد ته محتاجه کړي.... بيت:

بر فلک بر تر بود اسرار او .... شيئًا لله شيئًا لله کار او

چي په شان کې د عارف بالله فقير ويل سوي دي.

فَقَالَ مَالِیَ لَآ اَرَى الْهُدْهُدَ ۖ اَمْ كَانَ مِنَ الْغَآئِبِیْنَ ﴿۲۰﴾

نو سليمان ع وويل: دا جمله عطف ده پر تفقد الطير باندي، الاستفهام للتعجب عن حال نفسه، او جمله د لا ارى الهدهد حال دی له ضمير څخه د متکلم په ارى کي

Maktaba Tul Ishaat.com	Scanned by CamScanner

والمعنى څه عارض پېښ سو زما ليدلو ته يعني خيال د سليمان عليه السلام خو دا ؤ چي هدهد خو دلته يو ځای موجود دی زه يې نه وينم، لكن وروسته چي سليمان ؑ بنه د هدهد تلاش وكړی او هدهد يې نه كړی پيدا، نو په دې پوه سو چي دی غائب دی، نو دغه څخه يې اضراب وكړی او حال د صحت مالاح له يې وپښتي.

پوه سه: چي كلمه د ام منقطعه ده په معنى د بل، او همزه د بل يې لپاره د اضراب د ماقبل څخه او همزه يې لپاره د استفهام يعني آيا هدهد غائب دی؟

مسئله: په فتاوٰی زینیه كي راغلي دي چي چا سوال وكړی چي د هدهد غوښي خوړل روا دي كه يا؟ ده ورته وويل نعم انتهٰى.

لَأُعَذِّبَنَّهُ عَذَابًا شَدِيدًا

هر آئينه زه به عذاب وركړم وده ته يعني هدهد ته عذاب سخت تا چي هم جنسه دده عبرت ځندي واخلي (۱) بعض وايي چي بڼكي به يې ځندي وشكوم، دا عبارت د ابن عباس رضی الله عنه، مجاهد، ابن جريج رحمه الله دی. والظاهر ان المراد جميع ريشه (۲) يزيد بن رومان وايي چي د وزرو بڼكي به يې ځندي وشكوم، چي بيا به نو نسي الوتلای (۳) قال ابن وهب رحمه الله چي نيمی بڼكي به يې ځندي وكاږم (۴) بڼكي به يې ځندي وكاږم مېږيانو ته به يې كښېږدم (۵) بعض وايي د بڼكو د شكولو وروسته به يې لمر ته كښېږدم (۶) بعض وايي په قطران به يې ككښ كړم لمر ته به يې كښېږدم. قطران د يو تېل نوم دی چي اوښ گرگ سي په وهي يې چي ښه پر سوخت لري (۷) بعض وايي چي په قفص كي به يې بندي كړم (۸) بعض وايي د غير الجنس سره به يې په قفص كي واچوم لكه د كارگه سره مثلاً (۹) دی به د خپل خدمت څخه وشړم (۱۰) بعض وايي چي ده چي الفت ور سره نيولی وي جلا به يې كړم (۱۱) دی به خادم د نورو اقرانو وگرځوم.

فائده: په تفسير بحر العلوم كي وايي چي بنه داده چي دا ټول اقوال پر طريقه د مثال دي وهذا التعذيب للتاديب ويجوز ان يبيح الله تعالى كل ذالك لما راىٰ فيه من المصلحة والمنفعة. لكه چي خدای پاک روا كړی ذبح د بهائمو لكه پسونه وغيره او مرغان لكه كوتري او نور مرغان لپاره د خوراك انتهٰى.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

مسئله: په اکلیل کي (چي د یو کتاب نوم دی د جلال الدین السیوطي رح) وقد یستدل بهذه الآیة علی جواز تادیب الحیوانات والبهائم بالضرب یعني په لرګي یا په پنده پاده وغیر ذالک عند التقصیر في المشي یعني چي چابک نه ځي او یا تر اندازه ډېر تېز نه ځي، یا کونه غور ځوي سپور سړي ته تکلیف ورکوي انتهی. او داغه رنګه دا آیت دلیل دی پر دې چي وزر د بعض مرغانو کښل یعني بڼکي روا دی تاچي وتښتي لکه کرک، تارو الی غیر ذالک. او ابن العربي قدس سره وایي چي عذاب پر قدر د ګناه نه پر قدر د جسد آه.

أَوۡ لَأَاْذۡبَحَنَّهُۥٓ أَوۡ لَيَأۡتِيَنِّي بِسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٖ ﴿٢١﴾

پوه سه: چي لکه ترقي د عذاب شدید څخه و اشد ته لان في الذبح قطع الحیوة قطعًا دون ماسواه. علماء وایي چي هر ما دون المنیة (ای الموت) سهل.

یا به ماته راوړي یو حجت ظاهره د خپل غیبت او عذر ظاهر، په فارسي د حسین کاشفي رح یا بیاید بمن بحجتی روشن که سبب غیبت او ګردد.

درویش وایي: چي کلمه د لام په لا اعذبنه آه او لاذبحنه کي موطئه د قسم محذوف ده او قسم پر دې دوو کارو هلته دی چي امر ثالث نه وي یعني اولیاء تیني آه نه وي فافهم.

فَمَكَثَ غَيۡرَ بَعِيدٖ

نو وه ځنډېدی هدهد، د غیر بعید معنی داده نه ډېر ځنډېدل یا نه ډېره زمانه مراد سرعة رجوع د هدهد د بېرې د سلیمان علیه السلام پر خپل ځان.

تاریخ قدیم صحیح داسي نقشه پرانېزلي ده او علماء د اسلام هم منلي ده چي سبب د غیبت دا وُ چي سلیمان علیه السلام چي له بناء څخه د بیت المقدس چي قدیم قبله وه په ډېر صرف د مال کثیر او په رنګارنګ جواهراتو زیبا فارغ سو، نو عزم یې د تلو و حرم محترم ته د مکې وکړی، حرم مکي ته راغلی اول بتان د مشرکانو د هغې زماني یې محوه او نابود وکړځول. او هر څو اقامت چي یې په مکې کي تېر کړی (تفویض د علم به یې عالم الغیب والشهادة ته وکړو له دې کبله چي تاریخ دده اقامت په حرم محترم کي نه دی په ګوته کړی) نو ده په طول القیام کي د مکې هره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورځ به یې پنځه زره (۵۰۰۰) اوښان قرباني کول، او پنځه زره (۵۰۰۰) غوایي به یې ذبح کول، او شل زره (۲۰۰۰۰) پسونه چې د مکې والو په هر کور کې به د غوښو تناوونه ځړېدل، او سلیمان ﷺ د خپل قوم اشرافو ته او د اهل مکې داسې بشارت من عندالله بیان کړی هذا مکان یعني مکه یو ځای دی چې په دې ځای کې به نبي عربي قریشي چې صفت یې کذا وکذا دي مبعوث کېږي چې خدای ﷻ به هغه ته نصرت ورکوي پر ټولو مخالفینو او منکرینو د ده له نبوت څخه، او د دې نبي رعب او هیبت به د یوې میاشتې تر مسافته پورې رسیږي کما في الحدیث الصحیح النبوي، نصرت بالرعب مسیرة شهر. سلیمان ﷺ زیاته کړه چې قریب او بعید په دې رعب سره برابر دي.

درویش وایي: چې رعب د زړه د کافرانو د دې سره منافي نه دی چې مشرکانو په مکه کې ده ته ازار ورساوه یا وروسته تر هجرت د جنګ لپاره بدر او احد ته ورتله کما لایخفی فتدبر هداک الله تعالی) او ده زیاته کړه چې هغه نبي به په تبلیغ کې د لومة لائم فروا نه کوي. حاضرینو له سلیمان ؑ څخه پوښتنه وکړه بای دین یدین یا نبی الله، قال بدین الحنیفیة (ای المائل من الباطل الی الحق) قال فطوبیٰ لمن ادرکه وآمن به خلګو ورته وویل چې ستا او د هغه تر منځ به څو کاله وي قال مقدار الف سنة، سلیمان ؑ زیاته کړه چې دا زما پیغام دی، حاضرین دې غائبینو ته ورسوي (یعني یو و بل ته فانه سید الانبیاء وخاتم الرسل دی راوي وایي چې سلیمان ؑ تر څو مدې د اقامت په مکة المکرمة کې وروسته یې سهار پر خپل تخت له مکې څخه حرکت وکړی د یمن پر خوا، د زوال پر وخت صنعاء ته ورسېدی چې پر مځکه د یوې میاشتې مزل ؤ، کریمه: غدوها شهر ورواحها شهر، نو سلیمان ﷺ ته د صنعاء وطن چې ډېر ښکلی سرسبز او شاداب وقشنګ وطن، او سرزمین د یمن ډېر خوند ورکړی، نو دلته کښته سو او لمونځ وکړي او د غرمې ډوډۍ دلته وخوري، سلیمان ﷺ چې سره د جنده وارول، د هدهد دا خیال سو چې سلیمان ؑ به څه زمانه دلته تېره کړي، نو د اسمان پر خوا یې پرواز سو (په عجائب المخلوقات کې وایي چې تر ټولو مرغانو هدهد لوړ پرواز کوي) نو طول او عرض ته یې د مځکې وکتل او یمینًا وشمالاً یې نظر وکړی یو ځای یې ښه زیبا او له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مېوو څخه مالامال باغ وليدى چي دا باغ د بلقيس ؤ، نو هدهد سليمان و باغ ته ورشوه سو كه څه گوري اتفاقًا په هغه باغ كي بل هم جنس هدهد يې وليدى د هغه هم جنس سره يو ځاى سو.... بيت:

كند هم جنس با هم جنس پرواز ..... كبوتر با كبوتر و باز با باز

تاريخ وايي چي د هدهد سليمان نوم يعفور ؤ، او نوم د هدهد اليمن عنفير ؤ. نو عنفير اليمن و يعفور ته د سليمان^ع ووېل چي له كومي خوا راغلې او چېرې ځې؟ سليماني هدهد ورته ووېل له شام څخه سره د خپل ملك سليمان بن داؤد عليه السلام. د يمن هدهد ورته ووېل چي سليمان څوک دى؟ هدهد سليماني ورته ووېل ملك الجن والانس والشياطين والطير والوحوش والرياح. نو هدهد سليماني ورته ووېل چي ته د كوم ځاى يې؟ هدهد اليمن ورته ووېل چي د دغو ښاروېم. هدهد سليماني ورته ووېل چي بادشاه د دې ښار څوک دى؟ هغه ورته ووېل چي ښځه ده او نوم يې بلقيس دى، نو يمني هدهد و سليماني هدهد ته ووېل چي ستا د وينا سره موافق ستاسي ملك لره كه څه هم ملك عظيم سته لكن زموږ ملكه بلقيس تر هغه كمزوري نه ده، يو خو ټوله يمن د دې تر حكم لاندي دى او بل د دې تر حكم لاندي دوولس زره (۱۲۰۰۰) قومندانان دي چي د هر قومندان تر حكم لاندي سل لكهه عسكر دي يعني يو كروړ عسكر، نو يمين هدهد زياته كړه چي ته زما سره ولاړ سه، زموږ ملكه او د هغې ښكلى زيبا تخت به هم ووينې. سليماني هدهد ورته ووېل چي بېرېږم چي سليمان به د لمانځه په وخت كي و اوبو ته اړ سي زه به نه يم. يمني هدهد ورته ووېل چي ستا صاحب به ستا څخه خوشاله سي چي ته خبر زموږ ملكې ده ته ورسوې، خير هدهد سليماني هم ورسره ولاړى او بلقيس او د دې زيبا تخت او ښائسته گلباغ يې وليدى اخير هدهد سليماني وځنډېدى، ما زديگر سليمان^ع ته را ورسېدى، نو د سليمان^ع چي د لمانځه وخت راغلى او به نه وي خالي سرسبزه ځمكه وه، نو سليمان^ع له انس او جن څخه د اوبو پوښتنه وكړه. هغو ورته ووېل چي موږ ته د اوبو درک نه معلومېږي، بيا سليمان^ع ورته ووېل چي هدهد چي دليل الماء دى را پيدا كړئ، هدهد ورک ؤ، نو سليمان^ع عريف الطير (د مرغانو ملك) وهو النسر (چي باښه يې بولي) راغوښتى د هغه څخه يې پوښتنه وكړه چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هدهد چیري تللی دی؟ نسر ورته وویل اصلح الله الملک انا لا ادري این هو فعند ذالک غضب سلیمان ؑ غضبًا شدیدًا، ثم قال لاعذبنه الی اخیره.

وروسته سلیمان ﷺ ستر رئیس یعني کل اردو د ټولو مرغانو یعني عقاب چې یو قوي تېز پنجه ښکاري مرغه دی راوه یې غوښتی او ورته وه یې ویل علي بالهدهد ژر ماته راحاضر کړه هدهد، عقاب چې په نهایت لوړ پرواز کې سو شاو خوا یې وکتل هدهد د یمن له خوا څخه راروان دی. عقاب چې پر راکښته کېدو سو وه طرف ته د هدهد، هدهد پوه سو چې زما د مرګ قصد ته راکښته سو، نو هدهد ورته وویل: (په عربي عبارت چې دا یې پښتو ژباړه ده) چې د هغه خدای ﷻ روی مي درته نیولی دی چې ته یې قوي کړی یې او پر ما یې قادر کړی یې، پر ما رحم وکړه او بد مه راسره کوه. عقاب خو له ازاره څخه د هدهد لاس پورته کړی لکن دا یې ضرور ورته وویل ویلک ثکلتک امک (هلاکت دي وي تالره او مور دي درباندي بوره سه) ان نبي الله قد حلف ان یعذبک عذابًا شدیدًا ویذبحنک. نو هدهد او عقاب په هوا د سلیمان ﷺ پر خوا راروان سوه، چې عسکرو ته را ورسېدل د نسر او د نورو مرغانو سره د هدهد ملاقات وسو، هغو ورته وویل این غبت في یومک هذا القدر من الزمان توعدک نبي الله خبروه بما قال، هدهد ورته وویل چې په اخیر کې سلیمان ؑ څه وویل؟ هغو ورته وویل او لیاتني آه، هدهد وویل چې دا خبره یې کړې ده نو ما نجات پیدا کړی یعني سلیمان ؑ په ما هیڅ نه کوي، ولي زما سره سلطان مبین سته یعني حال د ملکې بلقیس او د دې د تخت وغیره. وروسته عقاب هدهد ورسره د سلیمان ﷺ و خوا ته راهي سوه او سلیمان ؑ پر تخت ناست ؤ، هدهد چې دی ولیدی په قرار د عادت د مرغانو په حال کې د نهایت عجز سر یې پورته ونیوی او لکی یې کښته کړه تواضعًا لسلیمان ﷺ، هدهد چې ښه ورنژدې سو سلیمان ؑ تر سر ونیوی و ځان ته یې ورکش کړی فقال له این کنت لاعذبنک عذابًا شدیدًا، فقال الهدهد اذکر وقوفک عند الله، درېیاده کړه درد دېدل ستا په نېز د خدای ﷻ. سلیمان ﷺ چې دا خبره واورېدل ورېږدېدی وعفا عنه، وروسته یې په ښه ورین تندي پوښتنه ځندي وکړه چې څه شي ؤ چې ته یې وځند ولې زما څخه؟ چې جواب به یې په وروسته آیت کې راسي ان شاء الله تعالی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي دا خو د عربي تفاسيرو حاصل ؤ په پښتو ژباړه، او په بعض فارسي تفاسيرو کي داسي راغلي دي که: سليمان[ؑ] به هدهد گفت چه گوئی که پرو بالت بکنم وترا باآفتاب گرم افگنم؟ هدهد گفت دانم که نکنی که اینکار صیادان است نه کار پیغمبران، سلیمان[ؑ] گفت که گلوات ببرم هدهد گفت که دانم که نکنی که اینکار قصابانست نه کار پیغمبران، سلیمان گفت که ترا با ناجنس جمع کنم درقفص، هدهد گفت که اینی هم دانم که نه کنی که این کار ناجوان مردانست وپیغمبران جوانمرد میباشد، سلیمان[ؑ] گفت که تو بگوی که باتو چه کنم هدهد گفت عفو کنی ودرگذاری که عفو کار پیغمبران است وکریمان فعفا عنه.

فَقَالَ اَحَطْتُّ بِمَا لَمْ تُحِطْ بِهٖ

هُدهُد و سليمان ﷺ ته وويل چي زما په زمانه د غيبت علم کامل راغلی پر هغه شي چي ته علم نه پر لرې يعني د بلقيس د سلطنت.

پوهه: چي مفسرين[رح] وايي چي احاطه علم دی پر يو شی من جميع جهاته.

سوال: علم پر يو شي له ټولو جهاتو څخه خاص په علم شامل کامل پوري د خدای ﷻ، نو د هدهد په علم کي يې څرنګه استعمال صحيح کېدای سي؟

ځواب: مفسرين وايي چي استعمال يا مبالغه ده يا مجاز دی ذکر کل مراد څندي بعض دي.

فائده: هدهد چي سليمان[ؑ] ته خطاب وکړی بما لم تحط به علمًا سره تنبيه پر دې ده چي يو ادنی د مخلوق د خدای ﷻ چي هدهد دی علم کامل يې راغلی پر هغه چي سليمان[ؑ] سره د ډېره جنده پر هغه علم نه درلودی تاچي سليمان[ؑ] په علم سره فخر ونه کړي او ده ځان علم حقير او صغير وګڼي وعلم شامل ته د خدای ﷻ.

پوښتنه: سليمان[ؑ] نبي مرسل ؤ نو دا عدم علم دده په نبوت کي نقصان نه دی؟

ځواب: لا! علم پر هغه شي چي له امور دينيه څخه نه وي لازم نه دی نبي لره. البته پر هغو احکامو او عقائدو به نبي خامخا علم لري چي عقائد شرعيه وي يا احکام ضروريه وي، ځکه په صحيح حديث کي راغلي دي چي عليه الصلوٰة والسلام به داسي دعاء کوله اعوذبک من علم لاينفع.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په دې آيت کې رد دی پر روافضو خذلهم الله چې دوی وايي امام د زماني لايخفى عليه الشئ ولايكون في زمانه اعلم منه، وجه الرد ان سليمان؏ بلاشک امام د خپلې زمانې ؤ چې نبي مرسل ؤ او هدهد تر ده اعلم سو فافهم.

وَجِئۡتُكَ مِن سَبَإِۭ بِنَبَإٖ يَقِينٍ ﴿٢٢﴾

او ما راتګ کړی دی و تاته له سبا ښخه په يو خبر سره چې هغه يقيني دی، ولې هغه چشم ديد واقعه د هدهد وه، او اهل معقول وايي چې علم د حواس ظاهره وو بدهي دی.

يوه سه: چې سبا د يو ښار نوم دی په يمن کې چې په منځ کې د دغه بلد او د صنعاء د درو ورځو مسافه ده.

فائده: ابو عمرو او البزي رح د سباء لفظ هر ځای چې په قرآن کريم کې راغلی دی همزه يې مفتوح بلا تنوين وايي يعني غير منصرف يې بولي چې تنوين او کسره نه قبلوي كما تقرر في كتب النحو، نو يو سبب د عدم انصراف علميت دی، او بل سبب يې تانيث په تاويل د المدينة او البلدة، او نور قاريان يې په کسره د همزه او تنوين وايي يعني منصرف يې بولي، دوی وايي چې سبا په اصل کې نوم د رجل ؤ، نو يو اخې علميت پاته سو، قال البغوي رح جاء في الديث النبوي ان النبي ﷺ سئل عن سباء فقال؏ كان رجلاً له عشرة من البنين تيامن منهم ستة (يعني پر راسته خوا آباد سوه) وتشائم منهم اربعة پر چپ طرف ولاړل، نو ځکه يمن ته يې يمن وايي او شام ته شام وايي فافهم.

درويش وايي: چې د دېرو خلکو پر زړه دا سوال ورګرځي چې سليمان؏ خو په دغه وخت کې په صنعاء کې د يمن ؤ او د صنعاء او د سباء تر منځ د درو ورځو مسافت ؤ، نو ځکه سليمان؏ د سباء په مملکت نه ؤ خبر؟

ځواب: روح البيان وايي چې په دې اخفاء کې حکمت الهي ؤ، لکه پر يعقوب؏ باندې حال د يوسف؏ چې په څاه کې د کنعان ورونو اچولی ؤ چې يعقوب؏ ته ښخې نژدې ؤ پټ وساته لحكم ومصالح مرت في سورة يوسف من هذا التفسير، يو شاعر د الله په باره کې وايي:

گهی بر طارم اعلی نشینم .... گهی بر پشت پای خود نه بینم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اِنِّيْ وَجَدْتُّ امْرَاَةً تَمْلِكُهُمْ

دا جمله مستانفه ده، ځواب دی د سوال چي له هدهد څخه کړل کېږي چي تا د سبا، څخه خبري يقيني راوړي دي، د هدهد د ځواب خدای پاک حکايت کوي.

په تحقيق ما پيدا کړه يعني وه مي ليدله يوه ښځه چي مملکت يې کاوه پر اهل سبا.

يوه سه: چي تملکهم صفت دی د امرئة.

فائده: ددې ښځي نوم او نسبت قرار ذيل دی: بلقيس بنت شراحيل من نسل يعرب بن قحطان، ددې پلار لوی سلطان ؤ او ډېره عظيم الشان بادشاهي يې وه چي څلوېښت (۴۰) پښته بادشاهان پکښي تېر سوي وه، پر ټوله مځکه د يمن يې حکمراني کوله (يعني د بلقيس پلار) او نورو بادشاهانو ته د اطرافو به يې ويل چي تاسي هيڅوک زما کفوه نه ياست وابى ان يتزوج فيهم، يعني په بادشاهانو کي د اطرافو، نو اخير الامر د اطرافو بادشاهانو ورده ته يوه ښځه له جن څخه ور وغوښتل چي نوم يې رېحانه بنت السکن وه فولدت له بلقيس ولم يکن له ولد غيرها (وورد في الحديث ان احد ابوی بلقيس کان جنيًا) نو چي د بلقيس پلار مر سو، نو دې يعني بلقيس طلب د سلطنت وکړی او له ټوله قوم څخه يې وغوښتل چي زما سره بيعت وکړئ، نو بعض قوم د بلقيس سره بيعت وکړی او بعض قوم منع وکړه چي سلطنت د ښځي نه سو منلای، او هغه خلکو چي د بلقيس له بيعت څخه يې اباء او منع وکړه هغو خپل ځان ته نر بادشاه وټاکی، او هغه نر چي خلکو سلطان ټاکلی ؤ ډېر بد اخلاقه او زناکاره سړی ؤ په رعايتو کي چي به يې د هر چا لور يا خور خوښه سوه د هغې سره به يې علانيه زنا کوله، نو قوم ځندي ناراض سو، او دده څخه يې د مملکت پرېښولو غوښتنه وکړه، فلم يقدروا عليه، بلقيس ته غيرت د پلار او نيکه ګانو ورپياد سو او له موقع څخه يې استفاده واخستل، نو هغې د طرف مخالف خپل وسلطان زټی کار ته چي خلک ټوله ځندي مخالف وه لکن قدرت د ايستلو يې نه درلودی، سړی يې ورواستاوه چي زه ستا سره نکاح کوم، هغه يې ناموسه بادشاه په مينه هر کلی وکړي او په خط کي يې بلقيس ته نوشته کړه چي ما چي د مخه تا ته مرکه نسوای کولای ددې سببه چي زه ستا څخه د نکاح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په باره کي نا امیده وم، بلقیس په جواب کي ورته نوشته کړه چي ته زما کفوه کریم یې، نو دې دا هم ورته نوشته کړه چي ته یو څو کسان مخور او مشران زما د قوم څخه دروغواړه او زما په باره کي د نکاح مرکه ورته وکړه، نو هغه سلطان فحش کار هم دا غسي وکړه چي د بلقیس د قوم مشران یې راغونډ کړه او د بلقیس مرکه ورته وکړه هغو ورته وویل چي زموږ ګمان نه کېږي چي بلقیس دي د تا سره نکاح وکړي، سلطان ظالم ورته وویل چي دې اولاً ما ته مرکه کړې ده تاسي ورسئ د بلقیس سره خبري وکړئ، قوم چي بلقیس ته دا موضوع پېش کړه هغې ورته وویل نعم! ما مرکه ورته کړې ده له دې کبله چي اولاد ته مي شوق وسو، نو بل څوک مي خپل کفوه ونه لیدی بېله ده. نو قوم د بلقیس دا په نکاح و هغه ته ورکړه، نو چي ښځه د اواده راورسېد بلقیس د ځان سره ډېر لښکر ورسره بوتلی، یعني په ظاهره د واده د خوشالۍ په مناسبت، حتی چي بلقیسه چي د ده سره یو ځای سوه، اولاً یې شراب ورکړه چي دی په حالت کي د مستۍ راغلی او په ځان نه پوهېدی، بلقیس یې سر په توره ځندي پرې کړی، او په دا غه شپه د خپل لښکر سره کورته ولاړه، چي سهار سو خلګو خپل ظالم بادشاه قتیل ولیدی او سر یې په دروازه پوري ځړېدی، خلګ پوه سوه چي دا نکاح مکر او خدیعه وه د بلقیس له خوا څخه، نو د مقتول بادشاه خلګ ورغله بلقیس ته او د دې سره یې بعیت وکړئ، وقالوا انت احق بالملک علینا، نو بلقیس ته بلا منازع حکمراني د سبا د یمن ورسېده.

درویش وایي: چي دا قصه پر بیان سوي دول مظهري ؒ راوړې ده، او روح البیان هم راوړې ده لکن په اخیر کي روح البیان د اکام المرجان څخه داسي قول رانقل کړی دی وهذا یدل علی امکان العلوق (یعني حمل اخستل) بین الانسي والجني فان الجن وان کان اصلهم من النار، لکنهم لیسوا بباقین علی عنصرهم الناري کالانس لیسوا بباقین علی عنصرهم الترابي فیمکن الازدواج بینهما، لکن روح المعاني اولاً دا قصه راوړې ده او هغه حدیث چي دمخه تېر سو (ان احد ابوی بلقیس کان جنیا) موضوعي بللې ده سره ددې چي په خپله روح المعاني دغه حدیث په روایت د ابن جریر او ابو الشیخ او ابن مردویة او ابن عساکر ؒ عن ابی هریرة ؓ رانقل کړی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي د دغو رواياتو حديثونه مظهري او په خپله روح المعاني په نورو ځايو کي رانقل کړي دي او غير صحيح يې نه دي بللي او دلته وايي، والذي يعول عليه (چي اعتماد پر کېږي) عدم صحة هذا الخبر آه. نو درويش حيران دی چي زه څه ووايم، او تفسير بحر العلوم د سمرقندي هم ورته رايه د روح المعاني بيان کړې ده والله اعلم بالصواب. مګر د درويش شخصي عقيده دا ده چي د روح البيان او مظهري روايت او بيان وصواب ته نژدې دی.

وَأُوتِيَتْ مِن كُلِّ شَيْءٍ وَلَهَا عَرْشٌ عَظِيمٌ ﴿٢٣﴾

ورکړل سوي وه دې ته د هر شي څخه يعني هغه شيان چي بادشاهان ضرورت ورته لري آسان، سلاح، غاتره والسياسة عدد كثير من الفوج كمامر، والمال والنعيم وغيرها، بعض عارفين وايي چي بيان د حسن او جمال د بلقيس يې صراحةً نه کړی ذکر لان بيان ذالک من سوء الادب. وفي الحديث النبوي ﷺ ان احسن الحسن الوجه الحسن والصوت الحسن والخلق الحسن.

پوه سه: چي مراد له وجه الحسن څخه د بې پېرو حسن نه دی بلکې طراوة د اعضاؤ د مخ دی فافهم.

"ولها عرش عظيم" او دې لره لوی تخت هم ؤ.

سوال: د بلقيس تخت د سليمان تر تخت هم لوی ؤ، او که څرنګه؟

ځواب: مراد لوی والی نسبت و تخت ته د نورو ملکو يا نسبت و حال ته د دې نه نسبت و عرش ته د سليمان عليه السلام. راويان د تاريخ قديم وايي چي تخت د بلقيس اتيا (۸۰) په اتيا کي ؤ او لوړ والی يې اتيا ګزه ؤ، او مقدم د تخت يې د سرو زرو ؤ او ياقوت احمر او زبرجد اخضر پکښي لګول سوي وه او د پای حصه يې د سپينو زرو وه او سپيني ملغلري پکښي کار سوي وې، او څلور پښې يې وې يوه د ياقوت احمر او بله د ياقوت اخضر وه او بله پښه يې د زبرجد وه او بله يې د ملغلرو وه او تخت يې د سرو زرو ؤ، او پر دې تخت اووه (۷) خوني وې او هري خوني ته لږې دروازه درلوده قلف پوري ځړېدی، کيلی ددې سره وې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَجَدْتُّهَا وَقَوْمَهَا يَسْجُدُوْنَ لِلشَّمْسِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ فَهُمْ لَا يَهْتَدُوْنَ ﴿٢٤﴾

هُد هُد سليمان عليه السلام ته وويل ما پيدا کړه يعني وه مي ليدل دا يعني بلقيس او قوم د دې چي سجدې يې کولې و لمر ته بيله خدايه (من دون الله) متعلق دی په يسجدون پوري او ښائسته کړي وه شيطان ودوی ته اعمال قبيحه ددوی يعني من عبادة الشمس وغيرها.

پوه سه: چي زين سره د معطوف يعني فصدهم حال دی له فاعل څخه د يسجدون په تقدير د قد كما هو القانون النحوي في الماضي الواقع حالاً وقدمر مراراً، نو شيطان دوی منع کړي دي د لاري څخه يعني د مستقيمي لاري څخه چي عبادت د خدای جل جلاله دی فقط ظاهراً وباطناً، نو دوی ليار نـوای پيدا کولای وصراط مستقيم ته جمله د فهم آه عطف ده پر يسجدون.

اَلَّا يَسْجُدُوْا لِلّٰهِ الَّذِيْ يُخْرِجُ الْخَبْءَ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

پوه سه: چي اصل ددې عبارت ان لايسجدوا ؤ، بيا يې نون د ان مصدريه په لاکي د حرف نفي مدغم کړی چي داخل ؤ پر مضارع يعني يسجدوا او ان مصدريه سره د مدخول په تقدير د حرف جر متعلق دی په زين لهم پوري يا فصدهم پوري. والمعنى زين لهم الشيطان اعمالهم فصدهم لئلا يسجدوا لله.

"لله الذي آه" هغه خدای جل جلاله له چي ظاهروي پټ شيان (نو خباء مصدر دی په معنی د مخبوء دی يعني چي له غير څخه د خدای جل جلاله پټ او مراد د اخراج څخه اظهار دی، په اسمانو او په مځکه کي.

پوه سه: چي اكثره مفسرين وايي چي خبء السموات باران دی، او خبء الارض نبات دی، او بعض مفسرين وايي چي مراد علم غيب السموات والارض دی، نو پر دې تقدير لفظ قرآني عام دی راخيژولو ته د ستورو وانزال المطر، وانبات النباتات او اخراج له قوت څخه و فعل ته نو پر هر تقدير دا شيان خاص په واجب الوجود جل جلاله پوري دي فهو المستحق للعبادة والسجود دون غيره ايا ما كان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيَعْلَمُ مَا تُخْفُونَ وَمَا تُعْلِنُونَ ﴿٢٥﴾

او خبر دی هغه ذات بې همتا په هغه شي چي تاسي يې په زړو کي پټ ساتئ او يا يې په علانيه کوئ.

تفریع: نو باید د داسي عالم الغیب والشهادة څخه د اشراک د غیر د ده څخه وبېرېږئ او پرهېز ځندي وکړئ.

اَللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ ﴿٢٦﴾

او خدای عزوجل هغه ذات دی چي نسته معبود بالحق بېله ده.

پوهه: چي رب العرش بدل دی له ضمیر څخه د هو، یا خبر ثاني دی د لفظ الله، او دا یعني الله لا اله الا هو الآیة، دلیل د الا یسجدوا، یعني فهو المستحق للعبادة والسجدة فافهم.

قَالَ سَنَنْظُرُ اَصَدَقْتَ اَمْ كُنْتَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿٢٧﴾

"قال" ای سلیمان [ع] لهدهد وروسته تر دې چي قصه د بلقیس یې د هدهد څخه واورېدل.

پوهه: چي دا جمله استینافیه ده، جواب د سوال ده کانه قیل ما ذا قال سلیمان لهدهد "سَنَنْظُرُ" مشتق له نظر څخه دی په معنی د تامل والسین للتاکید لا للاستقبال یعني موږ به غور او فکر وکړو ستا په دې قصه کي د بلقیس الملکة سبا.

"اَصَدَقْتَ" آیا ته رښتیا وایې، او که ته له ډلې څخه د دروغ ویونکو څخه یې.

پوښتنه: اخصره خبره خو داده چي مقابل د اصدقت هم ده، ام کذبت، نو وجه عدول د سلیمان د عبارت مذکوره څخه دی؟

ځواب: په دې کي یوه نکته مراعات ده فواصل د آیتو ده، او بله نکته داده چي په عبارت مذکوره کي مبالغه ده چي دی داخل کړي په ډله کي د کاذبانو او د هغو د ډلې څخه یې حساب کړی ویلزمه کونه کاذبًا البته.

فائده: په دې آیت کي اشاره ودې ته ده چي اخبار د یوه سړي یا د دوو چي حد ته د شهرت او تواتر وه نه رسېږي علم او یقین نه فائده کوي فیجب التوقف الی ان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یتبین حقیقة الحال لکن لازمه داده چې له قبول څخه به یې انکار هم نه کوي بلکې تلاش د صدق او کذب دې کوي، علماء وایي چې سلیمان ﷺ چې له مکالمې څخه د هدهد فارغه سو وروسته یې د اوبو معلومات د هدهده وغوښتی، هدهد اوبه پر یو نژدې یعنې تر ځمکه لاندې ورپیدا کړې، پیرانانو او شیطانانو ژر ژر هغه ځای وکنی اوبه د ډېر جوش سره پیدا سوې، اوښانو یو دګانو وڅښلې او انسانانو اودسونه وکړه او څانونه یې هم سیراب کړل بیا چونکه هدهد ده ته ویلي وه چې بلقیس او قوم ددې د لمر عبادت کاوه، نو دی ډېر په غصه سو او کاغذ و قلم یې راوغوښتل او داسې مکتوب یې بلقیس ته نوشته کړی په ډېر اختصار سره کما هو شان الانبیاء علیهم السلام لان خیر الکلام ما قل ودل ولم یمل، داسې یې نوشته کړه من عبد الله سلیمان بن داؤد الی بلقیس ملکة سباء، بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ سَلٰمٌ عَلٰى مَنِ اتَّبَعَ الْهُدٰى.

پوښتنه: چې په مختصره توګه یې داسې ولې نه کړه نوشته سلام علیک؟

ځواب: چونکه بلقیس هنوز مشرکه وه، نو کافر ته دعاء د سلامت نه ده رواء، نو سلام یې و اتبع ته واړاوه، وهکذا کان رسول الله ﷺ یکتب مکاتبه الی الکفار الغائبین، اما بعد فلا تعلو علي (پر ما بلندي مه غواړئ) واتوني مسلمين، قال ابن جريج رح چې سلیمان ؑ بالا الفاظ تر ما ذکره الله في کتابه نکړه نوشته، او بیا یې کاغذ د مشکو په اوبو ککښ کړی خپل مهر یې پر ولګاوه، او هدهد ته یې داسې وویل:

اِذْهَبْ بِّكِتٰبِيْ هٰذَا فَاَلْقِهْ اِلَيْهِمْ ثُمَّ تَوَلَّ عَنْهُمْ فَانْظُرْ مَاذَا يَرْجِعُوْنَ ﴿٢٨﴾

ولاړ سه متلبس زما په مکتوب سره ورسوه بیا ته ځندې ګوښه سه یعنې و یو نژدې ځای ته (په دې کې یې غرض دا ؤ چې تا ته ضرر ونه رسوي، نو بیا ته ګوره یعنې فکر کوه چې بلقیس او ددې وزیران څه سره وایي.

پوښتنه: سلیمان ﷺ خو قوي د ابناء الجن تر تصرف لاندې درلوده چې پر هر تصرف قادر وه، نو د ضعیفه مرغه هدهد په لاس یې ولې مکتوب ور کړی؟

ځواب: اول خو هدهد خبر د بلقیس او د هغې د مملکت راوړی ؤ، نو باید چې وروسته ایلچي هم دی وي، او بل ځواب دادی چې دمخه تېره سوه چې سلیمان ؑ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صدق او کذب د هدهد ځان ته معلوماوه، او بل ځواب دادی چې سلیمان علیه السلام په ډېرو شیانو پوهېدل په هدهد کې لیدل، په هر صورت الهدهد چې مکتوب د سلیمان علیه السلام واخستی یا یې په موښکې کې نیولی ؤ یا په منګولو کې، نو بلقیس په یو ځای کې د خپل مملکت چې د هغه ځای نوم مآب ؤ د صنعاء څخه پر دری منزله واقع ؤ او هورې دا په خپل قصر کې بیده وه او دروازې یې په ځان پسې قلف کړې وې او کیلی یې تر خپل سر لاندې ایښې وې، نو هدهد تر یوې لوړې دریچې ورننوتی او کاغذ یې ددې پر سینه ور کښېښو، دا خو روایت دی د عبد بن حمید او ابن المنذر او ابن ابی حاتم له قتاده رحمه الله څخه، لکن ظاهره او مقبوله خبره هغه ده چې مقاتل رحمه الله یې روایت کړی دی، چې هدهد چې مکتوب ورووړی بلقیس د خپلو وزیرانو او قومندانانو په مجلس کې ناسته وه، نو هدهد یو ګړی د وزرو ترپې شروع کړی خلګو ورته کتل او بلقیس سر کښته ځړولی ؤ طبعًا، حتی چې ترپې د مرغه یې تر غوږ سو او خلک یې ولیدل چې لوړ ګوري دې هم سر راپورته کړی. هدهد یې مکتبو په غېږ کې ورشوه کړی، راوي وايي چې د مکتوب له تاثیره دا وربرډېدل، ولې چې مکتوب سلیماني دده په مهر سره امضاء ؤ او بلقیس په خپل زړه کې وپوهېدل چې راستوونکی د مکتوب تر تا ډېر لوړ شخصیت دی، و په زړه کې یې بېره پیدا سوه، ولې چې غالبیت د سلیمان علیه السلام پر انس او جن باندې دده د ګتمی په سبب ؤ، هدهد ګوښه ګوښه ورته کښېنستی غیر بعید، بلقیس مکتوب خلاص کړی چونکه کاتبه وه خط یې ووایه، وروسته بلقیسې خپل تخت راوه ایستی د خپل ځای څخه او ټوله ملکي او عسکري قومندانان یې راوبلل چې دوولس لکه (۱۲۰۰۰۰) کسه وه او د هر قومندان عسکري تر مشری لاندې یو لک (۱۰۰۰۰۰) مقاتل عسکر وه، ټوله مشران او قومندانان چې سره جمع سوه، بلقیس د سلیمان علیه السلام مکتوب راپورته کړی.

قَالَتْ يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَؤُا۟ إِنِّىٓ أُلْقِىَ إِلَىَّ كِتَٰبٌ كَرِيمٌ ﴿٢٩﴾

بلقیس ووېل ای اشرافو او مشرانو او سپه سالارانو، په تحقیق ماته راغورځول سوی دی یعنې را استول سوی دی یو مکتوب چې کریم دی، بعض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چي د كريم معنى مهر شده، وروى عن رسول الله ﷺ كرامة الكتاب ختمه وقيل غير ذالك.

اِنَّهٗ مِنْ سُلَيْمٰنَ وَاِنَّهٗ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿۳۰﴾

ددې مكتوب عنوان داسي دى "من سليمان" وانه، يعني نور مضمون يې دادى بسم الله الرحمن الرحيم.

اَلَّا تَعْلُوْا عَلَيَّ وَاْتُوْنِيْ مُسْلِمِيْنَ ﴿۳۱﴾

دا چي تكبر او بلندي مه كوئ پر ما باندي.

پوښتنه: چي ان لا تعلوا علي خبر د مبتداء محذوفي دى اى هو، او المقصود ان لا تعلوا علي، او تاسي په داسي حال كي ماته راسئ چي مؤمنان به ياست يا منقادين.

درويش وايي: چي كه ترجمه د مسلمين په مؤمنين سره وكړل سي، نو ايمان انقياد لره مستلزم دى او كه په منقادين سره وكړل سي، نو انقياد ايمان لره نه دى مستلزم. كمردة الجن والشياطين لسيلمان [ع] كانوا منقادين له لا مؤمنين بنبوته يا نور اهل ذمه په دول الاسلامية ووكي.

پوښتنه: نو دواړي ترجمې ولي روا دي؟

ځواب: كه ايمان راوړي خو ظاهره ده چي د حزب المؤمنين د سليمان [ع] به وګرځي او كه انقياد وكړي د سليمان [ع] تر حكم ځانونه لاندي وبولي او اهل ذمه به وګرځي، دواړي ځواوي روا دي، فاحفظ فانه سانح عزيز، قل من نبه به.

قَالَتْ يٰٓاَيُّهَا الْمَلَؤُا اَفْتُوْنِيْ فِيْٓ اَمْرِيْ ۚ مَا كُنْتُ قَاطِعَةً اَمْرًا حَتّٰى تَشْهَدُوْنِ ﴿۳۲﴾

بلقيس وويل اى جماعته د مشرانو فتوى راكړئ ماته، يعني مشوره راكړئ ماته چي په دې امر كي ماته مشكل پيښ سوى دى (تعني من مكتوب سليمان چي مونږ ته يې ليكلى دى، وانقيا والفتوى الجواب عما يشكل من الاحكام سواء كان من الامور الدينية او الامور الدنيوية) زه نه يمه حكم كونكى په حكم قطعي سره تر هغو چي تاسي حاضر نه ياست يا معنى دا چي تاسي مشوره رانه كړئ، يا معنى دا چي تاسي شاهدي اداء نه كړئ چي داسي فيصله او حكم حق او صواب دى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: قالت په دې ځای کي ترا خیره پوري بدل اشتمال دی د قالت سابقه څخه.

درویش وایي: چي مشوره کول په اسلام کي لوی اهمیت لري. کریمه: وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ.

شاعر فارسي میگوید:

مشورت رهبری صواب آمد .... درهمه کارها مشورت باید

کار آنکس که مشورت نه کند .... غایتش غالبًا خطا آید

قَالُوا نَحْنُ أُولُوا قُوَّةٍ وَأُولُوا بَأْسٍ شَدِيدٍ

مشاورینو د بلقیس دې ته وویل په ځواب کي چي موږ خاوندان د قوت او قدرت یعني په جنګ کي د دښمن. او موږ درلودونکي د شجاعت په حرب کي.

پوه سه: چي په دې قول کي ددوی هڅول دي د بلقیس و جنګ ته. مقاتل وایي چي د ''اولوا قوة'' مراد کثرت عدد دی د فوج ددوی. او د ''اولي باس شدید'' څخه مراد شجاعت دی په جنګ کي.

پوه سه: چي دا مشوره غوښتل د بلقیسي دائره ده په منځ کي د قتال او د صلح. او قتال اصعب الامرین دی، نو دوی بلقیسي ته داد ورکړی چي په اصعب الامرین کي قتال دی ستا و امر ته تیار سی یو، یعني داسي نه وایو لکه یهودانو چي موسیٰ ﷺ ته وویل ''اِذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلَا اِنَّا هٰهُنَا قَاعِدُوْنَ'' نو په صلح کي خو په طریق اولیٰ ستا و امر ته لبیک وایو.

وَالْأَمْرُ إِلَيْكِ فَانْظُرِي مَاذَا تَأْمُرِينَ

او امر د قتال او صلح مفوض و تاته دی ته خپل د ځانه سره فکر وکړه چي موږ ته څه امر راکوې... شاعر فارسي وایي په خلاصه کي د جواب ددوی:

اگر جنگ خواهی بنزد آوریم ..... دل دشمنان رابدرد آوریم

دگر صلح جوئي ترا بنده ایم ..... بتسلیم حکمت سر افگنده ایم

درویش وایي: چي دا تفویض د امر ددوی بلقیس ملکه ته ددوی عین پوهنه او هوشیاري وه .... یو شاعر وایي:

خلاف رای سلطان رای جستن ..... بخون خویش باشد دست شستن

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حسين كاشفي رح وايي: بلقيس گفت مارا مصلحت جنگ نيست چه كار حرب درروئ دارد اگر ايشان غالب آيند ديار واموال مارا تلف خواهند كرد.

قَالَتْ إِنَّ الْمُلُوكَ إِذَا دَخَلُوا قَرْيَةً أَفْسَدُوهَا

بلقيس ووېل چي باداشاهان چي يو وطن ته قهرًا وعنوةً يعني د جنګ په زور داخل سي، هغه وطن خرابوي يعني كورونه او مالونه، كورونه يې ورانوي او مالونه يې تاراک كوي.

وَجَعَلُوا أَعِزَّةَ أَهْلِهَا أَذِلَّةً ۖ وَكَذَٰلِكَ يَفْعَلُونَ

او ګرځوي عزت مندان د خلګو ذليل يعني يا فرار ترک الوطن ته مجبور كړي او يا محبس ته يې د ذلت واچوي او يا يې قتل كړي.

درويش وايي: چي زما په ژوند كي دا وقعه ماته چشم ديد حاصله سوه چي په نامه د نور محمد تركي او دده د حزب په ملاتړ د روسانو يې پر افغانستان غلبه وكړه هم داغسي كارونه يې وكړه، د عزت مشران يې بنديان كړه يا يې قتل يا فرار ته مجبور كړه او ځمكي يې ځندي ضبط كړې، پر اندازه د كمونستي نظام دی ژر خپلو همراهانو له منځه يووړی، لكن دده منحوسيت تر اوسه په افغانستان كي باقي پاته دی، والله اعلم چي لا ترڅه وخته پوري به دا منحوسيت باقي وي.

وَإِنِّي مُرْسِلَةٌ إِلَيْهِم بِهَدِيَّةٍ

بوه سه: چي تنوين د هدية لپاره د تعظيم دی ای هدية عظيمة دا بيان او ارسال د هديه پيش خيمه د مصالحت ده، والمعنى زه استوم و سليمان او قوم دده ته رسولان يعني نمائيندګان سره د هديې يعني چي دی به د هديې په سبب له ملک ځخه به لاس ګرسرسي، والهدية اسم لما يهدي به الى احد كالعطية اسم لما يعطى الى احد، لكن بغوي رح وايي چي غرض د بلقيس امتحان ؤ د سليمان چي باداشاه دی او كه نبي دی، يعني كه يو باداشاه ؤ نو هديه به قبوله كړي او زموږ په مملكت به غرض ونه لري، او كه يې هديه نه كړه قبوله نو نبي دی چي نه راضي كيږي بيله اتباع دده پر دين اسلام.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فَنٰظِرَةٌۢ بِمَ يَرۡجِعُ الۡمُرۡسَلُوۡنَ ﴿۳۵﴾

نو زه ګورم يعني انتظار کوم چي په څه ځواب به راتګ وکړي فرستاده شده ګان، وروسته به د حال سره موافق رفتار وکړو.

درويش وايي: چي دا دي هديې د بلقيس او عمل د سليمان ﷺ دا دي هديې په مقابل کي روح البيان، روح المعاني او مظهري پر يوه ډول کړي ده. لکن روح البيان په اخير کي د قصې هيڅ نه دي ويلي او مظهري هم هيڅ نه دي ويلي. مګر روح المعاني په اخير کي د قصې دا عبارت ويلی دی وکل ذالک اخبار لايدری صحتها او کذبها، ولعل في بعضها مايميل القلب الی القول بکذبه په اخير کي يې ويلي دي والله اعلم.

قصه متفق عليها للمفسرين داده چي وهب بن منبه رح راوړي ده او نورو رواتو هم راوړي ده چي بلقيسي پنځه سوه (۵۰۰) بې برېري ښائسته مريان او پنځه سوه پېغلاني مينځياني داسي ګرځولي وې چي په مينځيانو يعني ښځو يې د نرانو کالي يعني ښائسته چېني او کمربندونه او په غلمانو يې د ښځو کالي اغوستي وه. يعني ورېښمين قميصان او پای جامې او د سرو زرو بنګړي يې په ورپلاس کړي وه او په غوږو يې غوږوالي ورځرولي وه او په غاړو کي يې د سرو زرو امیلونه وراچولي وه، وهکذا سرخې او سپېدې يې پر مخانو ورمښلي وې. او نجوني يې پر پينځه سوه اسپو سپرې کړي وې او هلکان يې پر پنځه سوه برزون آسانو سپاره کړي وه او د هر آس چي مجموع (۱۰۰۰) آسه وه د سرو زرو ځين چي جواهرات پوري ځړېدل او يو څو خښتي د سرو زرو او يو عدد خښتي د سپينو زرو او يو د سر تاج ؤ چي ملغلري او ياقوت پرې ځړېدل، او بلقيس يو اندازه مشک او يو اندازه عنبر او عود او يو د بلی ؤ د سپينو زرو چي په هغه کي يوه ملغلره ډېره قيمتي وه ايښې وه چي عذرا وه يعني سری سوې نه وه ايښې وه، او يوه داني جزع يماني چي سوری يې پيچ در پيچ ؤ او د خپل قوم له اشرافو څخه يې المنذر بن عمرو يې په مشری وټاکی او نور د قوم مشران چي اصحاب رايه وه ورسره کړه او بلقيس يو مکتوب هم نوشته کړی منذر ته يې ورکړی، او په مکتوب کي يې نوشته کړه که ته نبي يې نو په دغو استول سوو زرو (۱۰۰۰) کسانو کي پنځه سوه نر او پنځه سوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ښځي سره جلا کړه، او دا وښيه چې په دبلي کې د سپينو زرو څه شی پروت دی، او هر شی چې پکښې وي يو ه ته چې سوري نه لري مستقيم سوری ورکړه او چې پيچ پيچ سوری لري په هغه تار وه پيیه، او نرو هلکانو ته يې ويلي وه که دا ستاسي څخه پوښتنه کوله په نرم اواز د ښځو په لهجه خبري ورسره کوئ، او ښځو ته يې ويلي وه که سليمان ستاسي سره خبري کولې په دلاور اواز او د نورو په لهجه خبري ورسره کوئ، بيا بلقيس المنذر ته دا هم ويلي وه چې دوی د سليمان سره ملاقي سي ته فهم پر کوه که يې په غضب او تريو تندي خبري ورسره کولې، نو په دې پوه سه چې بادشاه دی ځندي بېرېږه مه، ولي فانا اعز منه زه په فوج وغيره کي تر ده غالبه يم، او که يې په لطف او نرمی او په خلاص تندي خبري درسره کولې، نو پوه سه چې نبي دی، نو دده خبري ته په ډېر غور او فکر سره ځواب ورکوه، نو المنذر او وه سره قومي مشران سره د هدايا د سليمان پر خوا راهي سوه او هدهد په ډېره چټکۍ سره د بلقيس د استولي هيئت حال سليمان ته را ورساوه.

درویش وایي: چې په دې معنا نه چې هدهد بيان د ټولو شيانو ورو کړی بلکې صرف يې د هيئت په روانګي سليمان خبر کړی، نو سليمان عليه السلام امر کړه جنيات چې د سرو زرو او د سپينو زرو خښتي دي جوړي کړي او امر يې کړه چې خښتي چې جوړي سوې يو ميدان جوړ کړئ نهه (۹) فرسخه او په دغو د سرو زرو او د سپينو زرو په خښتو يې فرش کړئ او دومره ځای پکښې خالي پرېږدئ لکه د هيئت د بلقيس چې خښتي موجودي دي او پر شا وخوا د ميدان لوړ ديوال د سرو او د سپينو زرو راو ګرځوئ، دوی هم هغسې وکړه، بيا سليمان ؑ وويل چې دا وبو څخه د بر او بحر حيوانات چې ښائسته وي راولئ، دوی ورته وويل يا نبي الله مونږ نه دي ليدلي د بحر په دوابو کي تر فلاني او فلاني قسم چې رنګونه يې سره مخالف دي او وزر لري او پر تندي لکه بر آسان وښتان لري. نو سليمان ؑ ورته وويل چې دا وس يې هم راولئ، جنياتو هغه دواب ورته راوستل، سليمان ؑ ورته وويل پر يمين او شمال د ميدان يې وتړی او جنياتو ته يې وويل چې ستاسي اولادونه ټول له سره راغونډ کړئ، نو ډېر مخلوق سره جمع سو، نو دوی يې و درول پر يمين او شمال د ميدان او امر وکړی سليمان عليه السلام و جن او انس او شيطانانو ته او وحشي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حیواناتو ته لکه لېوان، زمریان وغیرها او مرغان چي سره جمع سي، وروسته
سلیمان ؑ کښېنستی پر خپل سریر باندي او ځلور زره (۴۰۰۰) چوکۍ پر راسته
طرف وې او ځلور زره (۴۰۰۰) پر چپه طرف، او امریې وکړی ټولو انسانانو او
جنیاتو ته او شیطانانو ته او وحشي حیواناتو ته او درندګانو او مرغانو ته چي په
فرسخو صفوفو یې جوړ کړه د بلقیس هیئت چي میدان مذکور ته رانژدې سو، د
سلیمان ؑ و مملکت ته یې وکتل په دریاب کي د تعجب او تحیر غرق سوه. ولي چي
وه یې لیدل چي دواب قسم قسم د سرو او سپینو زرو پر ښښتو خوشایي او پوچي
کوي، نو ځانو نه او د خپلي ملکي بلقیسي حکومت لکه هیڅ چي نه وي ورته
معلوم سو، او خپلي راوړي هدایاوي ډېري حقیري ورته معلومي سوې، او په یو
روایت کي راغلي دي چي دوی چي هغه ځای په میدان کي د ښښتو ځخه د زرو
خالي ولیدی و بېرېدل یعني که موږ دا سره د سرو زرو او د سپینو زرو ښښتي
سلیمان ؑ ته وروړو سلیمان به موږ متهم کړي چي دا ښښتي تاسي له دغه ځای
ځخه کښلي دي، نو خپلي د بلقیسي د هدیې ښښتي یې په هغه خالي ځای کي
پرېښوولې، هیئت چي شیطانانو ته چي په صف کي ولاړ وه وکتل ډېر هیبت پر
پرېوتی او متغیر اللون وګرځېدل، شیطانانو ورته وویل تېر سئ لاباس علیکم او
داغسي هیئت تېرېدی پر جماعتو د جن، وحش او مرغانو حتی وقفوا بین یدي
سلیمان ﷺ، نو سلیمان ؑ په ورین تندي او په ډېره ښه لهجه او په ډېره مینه خبري
ورسره وکړې او پوښتنه د حال یې ځندي وکړه فاخبره رئیس القوم یعني المنذر د
ماجاؤا به حال یې ورته بیان کړی، او د بلقیسي ورکړی مکتوب یې سلیمان ﷺ ته
ورکړی، سلیمان ؑ چي مکتوب خلاص کړی وه یې ویل این الحقة، نو د بلقیسي
نمائنده المنذر حقه ورکړه سلیمان چي وښوروله یو شی پکښې ؤ سمدلاسه
جبرئیل ؑ ورته راغلی او د حقه د وه شیان یې ورښوول، نو سلیمان ؑ د هیئت مشر ته
وویل چي په حقه کي یوه دانه ملغلره ده چي هنوز نه ده سوري سوې او یوه دانه
جزعه یماني ده چي سوری یې کوږ اوږدی، منذره ورته وویل صدقت، نو ته هغه
دردانه سوری کړه او تار وروا چوه او جزعه ته هم تار وروا چوه. فقال سلیمان ﷺ د
انس او جن د پوهانو ځخه چي تاسي دا دوه کاره کولای سي، هغو ځواب ورکړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي زنوږ سره ددې دوو کارو علم نسته، بیا یې د شیطانانو څخه پوښتنه وکړه هغو ورته وویل چي ته وینه راوله هغه دا ملغلره سوری کولای او تار تر ایستلای سي، وینه چي راغلی یو نازک تار یې په خوله کي ونیوی او کرار کرار په دره ننوتی، تر هغه بله خوا یې تناؤ په خوله کي ؤ ووتی، سلیمان؏ و وینه ته چي په عربي یې ارضة بولي وویل چي زه تاته څه انعام درکړم، وینه ورته وویل چي ته خدای ﷻ ته خواست وکړه چي زما رزق په لرګو کي وي، سلیمان؏ ورته وویل لک ذالک، بیا سلیمان؏ وویل چي خزرة ته به سپږ سی څوک وروا چوي، هوري یو سپین چینجی چي دودة بیضاء یې په عربي بولي هغه ورته وویل چي دا کار زه کوم، نو تار یې په خوله کي ونیوی او پیچ پر پیچ په خزره کي روان ؤ تر هغه بله خوا یې ووتی، سلیمان؏ ورته وویل چي ته څه شی غواړې، هغه ورته وویل چي زما رزق دي په فواکه کي وي لکه انګور، انار وغیره، سلیمان؏ ورته وویل لک ذالک، بیا سلیمان؏ و مریانو ته چي په جامو کي د ښځو وه او وه مینځیانو ته چي په جامو کي د نرانو وې داسي جلا والی ورکړی، چي ټولو ته یې وویل چي ورسئ تاسي مخونه او لاسونه پرېمینځئ، نو هغه چي ښځي وې هغو په یوه لاس کي اوبه واخستلې او هغه بل لاس به یې ور جوت کړی مخ به یې په پرېولی، او هغه چي نران وه هغو په دواړو لاسونو کي اوبه واخستلې مخ به یې په پرېولی، راوي وایي چي وروسته سلیمان؏ هدیه د بلقیسي رد کړه، کما قال الله تعالی په وروسته آیت کي.

دروېش وایي: چي دا وه ترجمه د عربي نامورو تفسیرو په پښتو ژباړه د فقیر لفظا لفظا وما توفیقي الا بالله علیه توکلت والیه انیب.

فَلَمَّا جَآءَ سُلَيْمَٰنَ قَالَ أَتُمِدُّونَنِ بِمَالٍ

پس چي راغلی رسول د بلقیسي چي المنذر یې نوم ؤ یعني سره د هدایا مرسوله د بلقیسي د خوا کما مر في جریان القصة، نو سلیمان ؑ وویل آیا تاسي زما سره کومک کوئ په مال سره چي عبارت د هدایاؤ د بلقیس دي.

بوه سه: چي اصل د تُمِدُّوْنِ تُمِدُّوْنَنِيْ ؤ یاء یې حذف کړه کسره یې دلیل وګرځاوه، او همزه لپاره د استفهام انکاري دی یعني زه دا کومک نه قبلوم او تنوین د مَالٍ لپاره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د تحقير د دوی د هديو دی كما يدل عليه مابعده او خطاب د تمدون وه المنذره او دده ملګرو ته دی کمامر چي د منذره سره ډېر نفر بلقيسي را استولي وه.

فَمَآ اٰتٰىنِۦَ اللّٰهُ خَيْرٌ مِّمَّآ اٰتٰىكُمْ

هغه شي چي را کړي ما ته خدای ﷻ (من الدين القويم والنبوة والملك العظيم والمال الكثير بحيث لا مزيد عليه) افضل دی تر هغه چي وتاسي ته يې درکړی من الجهل والتكبر بالملك الحقير ومع ذالك السجود لغير الله وهو الشمس.

درويش وايي: چي لفظ د خير پر معنا تفضيلي نه دی پاته، ولي چي بلقيس ته په وركړل سوو شيانو كي هيڅ نوع د فضيلت نسته فافهم.

بَلْ اَنْتُمْ بِهَدِيَّتِكُمْ تَفْرَحُوْنَ ﴿۳۶﴾

بلکې تاسي په هديه خپل سره خوشاله ياست، ولي تاسي پېله حيوة الدنيا بل څه نه منئ يعني له متابعت څخه منكر ياست په هديه د بل چا چي تاسي ته يې درواستوي خوشاله کېږئ لزيادة اموالكم بهدايا الغير اليكم. نو پر دې تقدير اضافت د هديتكم ته اضافت وه مفعول ته دی او پر اول تقدير اضافت و فاعل ته ده، فتدبر حق التدبير.

اِرْجِعْ اِلَيْهِمْ

ته رجوع وکړه يا منذر "ارجعوا" يې نه وويل او سره د دې چي د منذر نور ډېر كسان هم ملګري وه لانهم تبع له في الرجوع او د اليهم ضمير راجع دی و بلقيس او قوم ته د دې.

فَلَنَاْتِيَنَّهُمْ بِجُنُوْدٍ لَّا قِبَلَ لَهُمْ بِهَا

جواب د قسم محذوف دی يعني قسم په خدای ﷻ دی زه د رولم دومره درونه لښکر چي مرکب د انس او جن څخه به وي، چي طاقت د مقاومت به و نه لري دوی يعني فوج د بلقيسي دې څند لره زما يعني په سبب د کثرت او سره د تائيد الهي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَنُخْرِجَنَّهُم مِّنْهَآ أَذِلَّةً وَهُمْ صَٰغِرُونَ ﴿٣٧﴾

او قسم په خدای دی زه به را وباسم بلقیس او قوم ددې د خپلو اراضیو څخه او په داسي حال کي چي دوی به ذلیل وي، بعض مفسرین وایي چي صاغرون تاکید دی د اذلة، او بعض مفسرین وایي چي اذلة جمع د ذلیل ده چي ضد د عزیز دی یعني غرة ددوی او مملکت ددوی به ورختم کړم. او د صاغرون څخه مراد دادی چي و محبس ته به یې وغورځوم لکن په پای کي سلیمانؑ دا شرط ولګاوه اِن لَمْ يَأْتُونِي مُسْلِمِينَ. وهب بن منبه او نور راویان وایي چي څه وخت چي فرستاده ګان د بلقیسي خپل مملکت ته راورسېدل او هدایا د بلقیسي یې هم واپس راوړې، او ټوله حال د مملکت د سلیمانؑ یې و دې ته بیان کړی بلقیسي وویل چي قسم په خدای چي زه په دې پوه سوم چي دا سړی تعني سلیمانؑ یو بادشاه نه دی او نه موږ له طاقت د مقاومت ددوی سته، او سلیمانؑ ته یې فوري استازی راهي کړی چي زه درځم سره د ملګرو د قوم خپل حتی چي ستا سره وګورو چي ته موږ په څه شي امر کوې وما تدع الیه من دینک چي ته موږ کوم دین ته رابولې. کاشفي رح وایي: وتخت خود را درخانه مضبوط داشت ونگهبانان برو گماشت ودروازه خانه قفل کرد. ومفتاح را برداشت وبالشکر گران راهی پایه سریر سلیمان شد آه. راوي وایي چي ددې زیر دست دوولس زره (١٢٠٠٠) لوی لوی بادشاهان وه چي هغو ته یې قیل وایه یعني هر یوه ته وتحت کل قیل الوف کثیرة من الرعیة. راوي وایي چي سلیمانؑ یو هیبت ناکه نبي ؤ هیڅ چا توان نه درلودی چي خبري یې کړي وای حتی چي ده له چا څخه پوښتنه نه وای کړې. نو سلیمان یوه ورځ پر تخت خپل کښېنستی که څه ګوري لوی ګرد او غبار یې ولیدی د یوه فرسخ پر مسافت، نو یې پوښتنه وکړه چي دا څه دوړې او ګرد دی؟ خلګو ورته وویل چي بلقیس سره د خپلو اقیالو دلته راروانه ده ابن عباس رض وایي چي په منځ کي د کوفې او حیرة یو فرسخ دی. نو سلیمانؑ پر جنود مخ راواړاوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ يَٰٓأَيُّهَا الْمَلَؤُا أَيُّكُمْ يَأْتِينِي بِعَرْشِهَا قَبْلَ أَن يَأْتُونِي مُسْلِمِينَ ﴿۳۸﴾

اې اشرافو زما څوک به راوړي تخت د بلقيس د مخه تر دې چې دوی راځي ماته مسلمين، راوي وايي چې سليمان؈ ته خدای ﷻ وحي کړې وه چې بلقيس ايمان راوړي. لکن د سليمان په تخت راغوښتلو کې مطلب دا ؤ چې په دې بعض معجزات خپل ووينې او د خدای ﷻ لوی قدرت او خپل صدق په دوی کې نبوت ودوی ته وښيي، نو ځکه يې خلکو ته وويل چې عرش ددې راوړې د مخه تر راتلو ددې سره ددې چې دې په کلک حفاظت سره تخت خوندي کړی ؤ کمامر، او بل ددې د عقل امتحان واخلي چې ددې تخت ته سليمان؈ څه تغيير ورکړي چې دا يې پيژني او که نه. مظهري وايي چې دا خبره چې سليمان؈ وکړه قبل آه، چې دا که ايمان راوړي بيا خو ده ته اخذ د تخت ددې نه دی روا مګر نه په رضٰی ددې. انتهٰی.

دروېش وايي: چې دا ايمان راوړي نو سليمان؈ ددې و عرش ته څه ضرورت درلودی او سره ددې چې تخت سليماني چې د مخه يې بيان وکړل سو د بلقيس پر تخت باندې نهايت بالا ؤ، نو صحيح هغه د مخه توجيه ده فافهم.

قَالَ عِفْرِيتٌ مِّنَ الْجِنِّ

وويل يو خبيث وهذا قول الضحاک رحمه الله وقال الفراء هو القوي الشديد. او ابن قتيبه رحمه الله وايي چې عفريت موثق الخلق ته وايي وهذا يرجع الى قول الفراء كما لايخفٰى، وهب بن منبه رحمه الله وايي چې نوم يې فوذٰی ؤ. وقيل ذکمان وقيل صخر الجني چې لکه غر دومره پنډ ؤ يضع قدمه عند منتهٰى طرفه.

أَنَا آتِيكَ بِهِ قَبْلَ أَن تَقُومَ مِن مَّقَامِكَ ۖ وَإِنِّي عَلَيْهِ لَقَوِيٌّ أَمِينٌ ﴿۳۹﴾

زه يې درلره راوړم د مخه تر دې چې ته له دې ځايه څخه ولاړ يږې، ابن عباس رضي الله عنه وايي چې سليمان به مجلس کې د قضاء د سهار څخه تر نصف النهار پورې به ناست، او د خلکو مشکلات او دعوې به يې فيصله کولې، او زه پر راوړلو ددې تخت غښتلی يم او امين هم چې جواهرات د هغه تخت نه بې ځايه کوم، هذه الجملة حال من فاعل آتيک، سليمان؈ ورته وويل چې زه يې تر دغه مدې چې عفريت وويل ژر د تخت راوړل غواړم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ الَّذِي عِندَهُ عِلْمٌ مِّنَ الْكِتَبِ

درویش وايي: چي اکثره مفسرين وايي چي مراد له دغه سړي څخه آصف بن برخيا دی چي د سليمان د خاله زوی ؤ او وزير يې هم ؤ او کاتب يې هم ؤ، او بنو ونکی معلم د سليمان هم ؤ په حال کي دده د صغر سن او دی رجل صديق ؤ چي کتب الهيه يې زده وه، نو مراد له کتاب څخه جنس دی لکه کتاب د موسٰی تورات او صحف د ابراهيم وغيرهما، او خدای ﷻ دی د نصرت د سليمان لپاره پيدا کړی ؤ، او اسم اعظم مبارک يې هم زده ؤ چي هر څوک چي په اسم اعظم سره خواست وکړي هغه قبلېږي کما جاء في الحديث النبوي الصحيح، او معتزله وايي چي مراد څخه جبرئيل دی لانهم ينکرون کرامة الاولياء رحمهم الله، او بعض روات وايي چي خضر ؤ او بعض وايي چي دا يوه ملکه وه ماسوٰی د جبرئيل چي په هغې ملکي سره خدای پاک تائيد د ملک سليمان کاوه، روی جرير ومقاتل عن الضحاک عن ابن عباس ان آصف قال لسليمان حين صلی مد عينيک حتی ينتهی طرفک، نو سليمان سترګي د يمن پر خوا وارولې، ودعی آصف فبعث الله الملائكة فحملوا السرير تحت الارض، او مخکه په اندازه د تخت ورته څيره له حتی تخرجت السرير بين يدي سليمان، بعض مفسرين وايي چي مسافت د دوو مياشتو پياده منزل ؤ او په دې کي اختلاف دی چي آصف څه دعاء وکړه، مجاهد او مقاتل وايي: يا ذا الجلال والاکرام، او کلبي وايي ياحي يا قيوم وروی ذالک عن عائشة رضي الله عنها.

پوښتنه: دا دعاء خو د هر عامي او خاصي زده ده، نو ولي داسي خرق العادة کارونه نسي کولای؟

ځواب: اسم اعظم خپل شرائط لري او په داعي کي شرائط غواړي، دوهم په خپل عدد لري چي علی الاستمرار به يې سړی وايي.

مصرع: ... نه هر که سر بتراشد قلندری داند

سوال: سليمان عليه السلام خو په نص د قرآن نبي ؤ، او آصف بن برخيا خو بلاشک نبي نه ؤ، نو په دې تفضيل د غير نبي پر نبي نه راځي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: لا! لانه تفضیل جزئي یعني په بعض جزئیاتو او هغه تفضیل ممنوع نه دی، په قصه کي د حدیبیه چي اوږده قصه ده راغلي دي چي علیه الصلوة والسلام چي د کفارو سره د مکې صلح وکړه چي بنږ کال دي موږ عمرې ته نه پرېږدو پر کال په ذوالقعدة الحرام کي به راځې درې ورځې موږ حرم شریف تا او ستا ملګرو ته خالي کوو عمره به وکړئ. وروسته علیه الصلوة والسلام دده سره ورسره اصحابو ؓ ته چي ځورلس سوه کسان وه تخمینًا چي ځانونه حلال کړئ یعني سرونه وخریاست او ګنډلي کالي واغوندئ، هیڅ چا یې په خوله ونه کړه، بیا یې ورته وویل بیا یې ورته وویل، وروسته علیه الصلوة والسلام محزون خپلي خېمې ته ولاړ په دې سفر کي دده سره ملګرې له امهات المؤمنین څخه ام سلمة ؓ وه یعني د علیه الصلوة والسلام حزن یې محسوس کړی طلب یې د سبب د حزن وکړی، علیه الصلوة والسلام هغه ماجری القصة بینه وبین اصحابه ورته بیان کړه ام المؤمنین ؓ ورته وویل چي صحابه تا ته ګوري چي په احرام کي یې، نو ددوی امید نه دی ختلی له عمرې څخه په دې وجه لعل الله یحدث بعد ذالک امرًا ام المؤمنین ؓ ورته وویل چي ته ورووځه حلاق راوغواړه خپل سر وخریه یا قصر وکړه بیا یې وګوره چي صحابه ؓ څرنګه کوي، علیه الصلوة والسلام هم ددې په خوله وکړه خلګو چي علیه الصلوة والسلام ولیدی چي ځان یې حلال کړی دی، نو امید یې وختی اویو د بل سرونه یې په یوه ګړي سره وخریل او جامې یې واخستې، نو ددې قصې چي روایت یې بخاري او مسلم کړی دی. تفضیل دام سلمه ؓ پر علیه الصلوة والسلام لازمېږي؟ کلا وحاشا. او محمد بن المنذر ؒ وایي چي د الذي عنده علم الکتاب څخه د سلیمان ؑ مراد دی آتاه الله العلم والحکمة فیکون التعبیر عن سلیمان ؑ الذي عنده علم الکتاب آه لپاره د شرف د علم دی. وان هذه الکرامة یعني د بلقیسي تخت راوړل د دعاء د سلیمان ؑ په سبب د علم دی.

اَنَا اٰتِيْكَ بِهٖ قَبْلَ اَنْ يَّرْتَدَّ اِلَيْكَ طَرْفُكَ ؕ

سوال: پر دې تقدیر په دې آیت انا آتینک به قبل ان ترد الیک طرفک کي مخاطب څوک دی؟

ځواب: هغه عفریت دی، ګویا د سلیمان ؑ اراده وه چي اظهار د بلي معجزې وکړي، نو اولاً یې خلګ انس او جن وهڅوله پر اتیان د عرش د بلقیسي بقوله یا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ایها الملؤ ایکم الآیة، فلما قال عفریت ما قال، نو سلیمان ؑ خندو منه خبره وکړ خول
نو یې، عفریت مخاطب کړی انا آتیک الخ؛ و اراد سلیمان ؑ چي دا راوړل چي
عفاریتو د جن په لنډ وخت کي د طاقت نه وه پوره فضلاً عن غیرهم نو خپل ځان یې
و دعا، ته په اتیان په دعاء د اسم اعظم مهیا کړی انتهی.

درویش وایي: چي دا توجیه د ډېرو تکالفاتو سره مخامخ ده او د قرآنیه عبارت
د ظاهره سره مخالف ده او د جمهور المفسرین و العلماء. دا قوالو سره هم سمون
نه خوري او که چېري دا توجیه صحیح سي هغه د مخه اعتراضات ټول له دفع کېږي،
والله اعلم بالصواب وعنده علم ما في الکتاب والیه المرجع والمآب.

فائده: د طرف معنی تحریک الاجفان للنظر الی شيئ ولما کان الناظر یوصف
بارسال الطرف وصف برد الطرف، نو معنی دا ده چي ته سترګي واړوه وکتلو ته د
یو شي نو د مخه تر رد الطرف احضر، زه به یې حاضر کړم تخت د بلقیسي وهذه
غایة الاسراع.

فَلَمَّا رَاٰهُ مُسْتَقِرًّا عِنْدَهٗ قَالَ هٰذَا مِنْ فَضْلِ رَبِّيْ

چي سلیمان ؑ ولیدی عرش د بلقیسي في مدة ارتداد الطرف من مسیرة شهرین
یا په خپله د خدای ﷻ په قدرت یا د غیر لکه آصف، (من لپاره د تبعیض دی)
یعني بعض له احساناتو څخه د خدای ﷻ زما سره.

لِيَبْلُوَنِيْٓ ءَاَشْكُرُ اَمْ اَكْفُرُ

یعني زما ابتلاء او امتحان کوي چي آیا زه شکر د دې نعمت وایم په دې ډول
چي دا فضل د خدای پر ما من غیر حولٍ ولاقوة، او یا کفران او ناشکري د دې
نعمت په دې ډول چي ځان مستحق د دې ګڼم او یا په اداء د شکر د دې نعمت بې
پرواهي کوم.

فائده: دا دواړې جملې په محل کي د نصب دي، او یا بدل دي له ضمیر
منصوب څخه في لیبلوني، وروسته سلیمان ؑ د شکر ویلو فائده بیان کړه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ شَكَرَ فَإِنَّمَا يَشْكُرُ لِنَفْسِهِ ۖ وَمَنْ كَفَرَ فَإِنَّ رَبِّي غَنِيٌّ كَرِيمٌ ﴿٤٠﴾

که څوک شکر د انعام د خدای ﷻ ووايي، نو د شکر فائده ورته رسیږي، ولې په شکر ویلو سره هغه نعمت قرار او دوام پیدا کوي بلکې سبب د زیادت د نعمت ګرځي، کریمه: لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ. قال العلماء الشكر قيد للنعمة الموجودة وصيد للنعمة المفقودة، او په شکر ویلو سره د سړي ذمه له واجب څخه فارغه کیږي ویرتفع درجته عند الله ويستحق اجرًا في دار الجزاء، په صحيح حديث کي راغلي دي چي روايت يې احمد او ترمذي او ابن ماجه او حاكم رحمهم الله له ابی هريرة رضي الله عنه څخه کړی دی چي رسول الله ﷺ وويل الطاعم الشاكر بمنزلة الصائم الصابر يعني په ثواب کي، او بيا سليمان ؑ د ناشکره سړي حال بيان کړي.

پوهه: چي من متضمن معنی لره د شرط دی، او ځواب یې محذوف دی او فان ربي الخ دليل د جواب محذوف دی په ځای کي د جواب یې راوړی، والتقدير ومن كفر (فلا يضر ربي) دا جواب محذوف دی (لانه غني كريم) دا دليل د جواب محذوف دی، په پښتو ژباړه: که څوک ناشکري د نعمت د خدای ﷻ کوي، نو خدای ﷻ ته ضرر نه لري لانه غني دي له شکره څخه د شاکر، ولي چي شاکر او کافر دواړو ته نعمت ورکوي، بلکې ناشکري خپله وه ناشکره ته ضرر دی.

فائده: په راوړلو کي د بلقيسي د عرش من جانب آصف بن برخيا قبل ارتداد الطرف من مسافة شهرين او سره د دې چي آصف په اتفاق د امت مرحومه نبي نه و، دليل پر دې دی چي كرامت د اولياء الله حق دی او ثابت بالقرآن دی، خلافًا للمعتزلة كما مر، او پر اثبات د كرامت د اولياء الله دلائل كثيرة في شرح العقائد وشرح المقاصد للعلامة التفتازاني رح وعليه انعقد اجماع الامة المرحومة قبل ظهور هذه الفرق الزائغة.

قَالَ نَكِّرُوا لَهَا عَرْشَهَا

وويل سليمان ؑ وجنياتو ته چي ناشناخته وګرځوئ و بلقيسي ته تخت ددې، وفي الفارسية التنكير: ناشناسا كردن كما في تاج المصادر، يعني څه تغييرات پکښي راولئ چي دا يې ونه پيژني چي وه يې ويني، په تاريخ کي ددې موضوع داسي راغلي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دي چي جنیاتو لوړه خواه د تخت د بلقیسي کښېنته وګرځول، او کښېنته خوا يې لوړه، وجعلوا مکان الجواهر الاحمر الجوهر الاخضر ومکان الجوهر الاخضر الاحمر، او نوري قبې يې پر جوړي کړې چي تر پخوانیو قبو ډېري ښائسته وې.

نَنظُرْ أَتَهْتَدِىٓ أَمْ تَكُونُ مِنَ ٱلَّذِينَ لَا يَهْتَدُونَ ﴿٤١﴾

موږ به وګورو (مجزوم على انه جواب الامر) آیا دا يې پېژني چي دا زما تخت دی یا به وګرځي د هغه کسانو څخه چي خپل تخت نه پېژني.

پوښتنه: د سلیمان عليه السلام په دې کي څه غرض ؤ؟

ځواب: کعب بن مالک رحمه الله او وهب بن منبه رحمه الله وغیرهما وايي چي جنیات له دې څخه بېرېدل چي سلیمان ؑ يې په نکاح نه کړي، نو دا به تېوله اسرار د جنیاتو و سلیمان ؑ ته کشف کړي کمامر چي مور د بلقیسي جنیه وه او پلار يې انسي ؤ، نو که يې سلیمان په نکاح کړي او دده څخه يې زوی پیدا سي، نو هغه خو وروسته د سلیمان تر مرګ وارث او جای نشین د سلیمان دی او په هغه کي به انسي او جني دواړه خوبیه وي، نو که مور د سلیمان ؑ له تسخیر څخه خلاص سو و تر مرګه به په تسخیر کي د اشد تر سلیمان به واقع سو ابداً، نو جنیاتو بلقیسه د مخه لا و سلیمان ؑ ته غندلې وه او بې کاره يې معرفي کړې وه او دا يې ورته ویلي وه چي بلقیسه د عقل د خوا پاته ښځه ده او پر پنډیو يې ډېر تور وېښتیان دي او پښې يې لکه د خره نوکان دي، نو سلیمان ؑ يې اول وارد عقل امتحان په تغیر د عرش واخستی او د پښو او د پنډیو امتحان يې په نباء الصرح سره واخستی کما سیأتي.

فَلَمَّا جَآءَتْ قِيلَ أَهَٰكَذَا عَرْشُكِ ۖ قَالَتْ كَأَنَّهُۥ هُوَ

چي راغله بلقیسه (هذه الجملة عطف على قوله فلما جآء سليمان قال اتمدنن الآية. او په منځ کي جملې جمل معترضه دي) ورته وویل سول ودې ته آیا ستا عرش دغه رنګه دی؟ په تشبیه کي د سلیمان ؑ غرض زیادة امتحان د عقل ددې ؤ یعني داسي يې نه ورته وویل: اهذا عرشک؟ (قالت کانه هو) بلقیس ورته وویل لکه دغه چي زما عرش وي، داسي يې نه ورته وویل چي دا زما عرش دی، مقاتل رحمه الله وايي چي دې خو وه پېژندی چي زما عرش دی ولکنها شبهت علیهم کما شبهوا علیها، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعض مفسرين وايي چي دې ته په سبب د تغير د بعضي شيانو اشتباه پيدا سوه، نو نه يې لا ورته وو وايه نه نعم خوفًا من الكذب يعني كه لا ورته وو وايم او دا زما عرش وي، يا نعم ورته وو وايم او دا زما عرش نه وي پر دواړو به دروغجنه سم، نو پر هر تقدير سليمان ؑ ته د دې د عقل اندازه معلومه سوه چي ډېره فهميده ښځه ده، نو چا ورته وويل چي دا ستا عرش دی، نو تا ته يې څه فائده وكړه ستا تړل د دروازو په دغه ډول او جند سپاه دې د حفاظت لپاره پر درولي وه، بلقيس ورته وويل:

وَأُوتِينَا الْعِلْمَ مِن قَبْلِهَا وَكُنَّا مُسْلِمِينَ ۝

مونږ ته راكړل سوی ؤ علم پر تمام او كمال د قدرت د سليمان او پر صحت د نبوت د ده، د مخه تر ليدلو د معجزې د آية العرش او په نورو معجزو سره د سليمان ؑ يعني چي هُدهد كتاب د ده زما پر سينه راوغورځاوه او سره د دې چي زه په مخصوص اطاق كي بيده وم، او هديه يې رد كړه او نر و ښځي مريان او مينځيانې يې سره جلا كړې الى غير ذالک كما مر ذكره ''وَكُنَّا مُسْلِمِينَ'' او مونږ ؤ يعني زه او قوم چي دا آيات او معجزات مو وليدلې مسلمانان له هغه وخت څخه، طائعين لله تعالى، او په دې كي د بلقيسي غرض تحدث يعني بيان د نعمت د خدای ﷻ پر دوی ؤ، لكه په سورة والضحى كي د قرآن كريم راغلي دي ''وَأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ''

وَصَدَّهَا مَا كَانَت تَّعْبُدُ مِن دُونِ اللَّهِ ۖ إِنَّهَا كَانَتْ مِن قَوْمٍ كَافِرِينَ ۝

او دا منع كړې وه سليمان ؑ، دا ترجمه مظهري كړې ده (درويش وايي چي د دې ترجمې معنى داده چي په اول مكتوب كي سليمان ؑ دا منع كړې وه حيث كتب اليها ان لا تعلوا علي واتوني مسلمين) مظهري د خپلي ترجمې پر بناء وايي چي كلمه د ما كانت په محل كي د نصب ده په حذف د حرف جر او ايصال د فعل چي صدها دی يعني اصل يې داسي ؤ فصدها مما كانت تعبد اى الشمس ماسوى له خدای ﷻ څخه نو د سره ترجمه د مظهري پر تقدير، او دا يعني بلقيس سليمان ؑ منع كړې وه په اول مكتوب كي د هغه شي څخه چي دې يې عبادت كاوه من دون الله، او روح المعاني او روح البيان يې داسي ترجمه كړې ده چي بيان دی له جانب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه د خدای ﷻ د هغه شي چي بلقيسه يې منع کړې وه له اظهار څخه د هغه شي چي دوی يې اوس دعوه وکړه د اسلام د مخه تر حضور و سليمان ته الى الآن، فالمعنى مانع له اظهار څخه د ايمان هغه عبادت قديمه دده وُ د لمر. فكلمة ما مصدرية والمصدر فاعل د صد دی.

بوه سه: چي إِنَّهَا كَانَتْ مِنْ قَوْمٍ كَافِرِينَ بيان دی د سببيت د عبادت قديمه للصد عن اظهار ايمانها يعني بلقيسه په داسي قوم کي وه چي هغه راسخين في الكفر وه نو دا د هغو په منځ کي نه وه قادره پر اظهار د اسلام الى حضرت بين دي سليمان ؈.

درويش وايي: چي د بلقيسي سره چي سليمان؈ ته راتله لوی جند په نامه د اقيالو ورسره ملګري وه، او هغه دده په کفر او په اسلام کي تابع وه، نو بناءً على هذا ضمير د متكلم مع الغير په اوتينا کي او په كُنّا کي او صيغه د جمع مذکر يعني مسلمين صحيح سوه تغليبًا.

درويش وايي: چي سليمان ؈ لپاره د امتحان د قدمينو او ساقينو د بلقيسي چي جنيانو ورته ويلي وه چي د بلقيسي پښي لکه حافر الحمار دي او پنډۍ يې په تورو وېښتانو پټي دي، امر يې وکړی و جنيانو ته د مخه تر رارسېدلو د بلقيسي چي دده په لار کي چي ماته نژدې کېږي يو قصر او کوټې جوړي کړئ چي د صرح په نامه په قرآن مبارک کي به راسي چي غولی د هغه قصر سپينه ښيښه وي او لاندي تر غولي او به جاري کړئ او په هغو او بو کي ماهيان او نور دواب البحر ايله کړئ چي تر ښيښه معلومېږي (چنانچه صحن آن خانه همه آب مينمود) او خپله چوکۍ سليمان؈ په منځ کي د هغه قصر کښېښول او پر کښېنستی او ده ته راجمع سوه رقم رقم مرغان او جن او انس، نو څه وخت چي بلقيسه و غولي ته د کوټې راورسېدله.

قِيلَ لَهَا ادْخُلِي الصَّرْحَ فَلَمَّا رَأَتْهُ حَسِبَتْهُ لُجَّةً

دې ته وويل سول چي قصر ته راسه، الصرح القصر وكل بناء عال، نو څه وخت چي وليدی بلقيسي غولی د قصر چي دده ممرؤ.

بوه سه: چي په كشف الاسرار کي وايي چي لجة لږ او بو ته وايي او تر زنګانه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوبو ته هم وايي لكن مراد دلته ډېري اوبه دي، چي سرې د پنډيو لڅېدلو ته مجبوره كوي، او د بلقيسي دا خيال ؤ چي دا ډېري اوبه دي پايڅې يې راپورته كړې، وبالفارسية: پنداشت كه آب ژرف است وندانست كه آب در زير ابگينه است.

وَكَشَفَتْ عَنْ سَاقَيْهَا ۚ قَالَ إِنَّهُ صَرْحٌ مُّمَرَّدٌ مِّن قَوَارِيرَ ۗ

دي لڅي كړې خپلي پنډۍ، چي په اوبو كه ه سي ددې په گمان، نو دې د احتياط لپاره چي كالي مي لانده نسي تر زنگنو پوري يې پايڅې راپورته كړې، سليمان٤ ورته وكتل صافي پښې يې وې، قال سليمان٤ ورته وويل چي پايڅې ايله كړه اوبه نسته، دغه چي تا تو هم د اوبو پر كاوه صرح يو غولي دی ممرد سوی (هموار چون روی آبگينه وشمشير) ځكه بې ږيري هلك ته امرد وايي لتجرده عن شعر الوجه. من قوارير ای مصنوع من الزجاج الصافي.

قَالَتْ رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَانَ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٤٤﴾

بلقيسي وويل لپاره د اظهار د خپل اسلام چي دا معجزه د سليمان٤ هم وليدل. ما پر خپل ځان ظلم كاوه په كفر او په عبادت د شمس، يعني اوس مي توبه ده، او زه مخلصانه په توحيد كي يم سره د سليمان٤ ورب العالمين ته.

درويش وايي: چي په دې كي دا هل تاريخ قديم او علماؤ اختلاف دی، فقال عون بن عبد الله سئل رجل عن عبد الله بن عيينة رح هل تزوجها سليمان قال انتهى امرها الى قوله تعالى واسلمت مع سليمان لله رب العالمين، ددې معنی داده چي زه يې پر تزوج وعدمه علم نه لرم، جمهور علماء پر دې عقيده دي چي سليمان٤ بلقيسه په نكاح كړې ده، په تاويلات نجميه كي وايي چي په دې آيا تو دليل دی پر دې چي سليمان٤ ددې د نكاح اراده درلوده، ولي كه يې اراده د نكاح نه درلودای ولي يې د صرح په ذريعه ددې پنډيو ته كتل، چي د شيطانانو قول ددې په باره كي رشتيا دی او كه دروغ چي پښې يې لكه د خره دي، ده يې پښې او ساق ځكه كاوه چي اراده د نكاح يې نه درلودای.

درويش وايي: چي په فتح الرحمان، تفسير مظهري، تفسير روح المعاني او په تفسير روح البيان كي وايي چي هغه وخت چي دې پايڅې تر ساقينو پورته كړې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سلیمان یې پر پنډیو وښتیان ولیدل فکره ذالک، نو د انسانانو څخه یې پوښتنه وکړه چې ددې وښتیانو د ابد لپاره یوه چاره سته؟ هغو ورته وویل چې په چاره دې وخریې چې موسٰی یې په عربي بولي یعني لکه خلک چې سرونه د سر په چاره خریي، د سلیمان دا رایه نه سوه خوښه ولې په دې سره یې ټپلدی، ګرول کېږي، او بلقیسي هم وویل چې زما پر بدن تر او سه چاره نه ده تېره سوې، بیا سلیمان د جنیانو څخه په دې باره کې پوښتنه وکړه، هغو ورته وویل لاندري، بیا یې د شیطانانو څخه پوښتنه وکړه، هغو ورته وویل چې زموږ یې داسي چاره زده ده چې ددې ساقین به لکه سپین زر داسي برېښي، نو دوی وویل چې دا دي نورة چې موی پاک یې بولي د شپې دي نوره په پنډیو پوري مښي او سهار دي په حمام کي ځان پرېمنځي، د هغه وخته نوره او حمام مشروع سوي دي تر الی یومنا پوري، او په تاریخ قدیم کي راغلي دي چې هغه حمام چې په بیت المقدس کي جوړ دی بباب الاسباط هغه د بلقیسي لپاره اول حمام ؤ علی وجه الارض، نو چې سلیمان دا به نکاح کړه احبها حبًا شدیدًا بیرته یې پر خپل سلطنت باندي مقرره کړه، او سلیمان جنیات چې ددې په دار الملک یمن کي ددې لپاره بنګلې جوړي کړي چې مثل د هغو نه وي لیدلی په ارتفاع او حسن کي (۱) ملحین (۲) غمدان (۳) بینون، په تفسیر حسیني کي وایي چې د هغو بنګلو نښه ورځ صرف نوم او د خاورو ډېري بل څه نسته بلکه همه خرابند، راوي وایي چې دا چې سلیمان بیرته خپل مملکت ته واستول، نو سلیمان به په هر میاشت کي یو وار ورتلی او درې شپې به یې د بلقیسي سره کولې، او بلقیس ته خدای ﷻ زوی ورکړی چې د زوی نوم یې داؤد بن سلیمان بن داؤد علیهم السلام ؤ لکن هغه زوی یې په ژوند کي د سلیمان وفات سو.

تاریخ قدیم وایي چې سلیمان علیه السلام د دیارلسو (۱۳) کالو ؤ چې د پلار داؤد سلطنت و ده ته په میراث پاته سو، او د وفات سنه (۵۳) کاله وه، نو دده د مملکت مدت څلوېښت (۴۰) کاله وه او دده د وفات سنه له وفات څخه د موسٰی علیه السلام اخیره دده (۵۷۵) کاله وه، او په منځ کي د وفات د سلیمان علیه السلام او د هجرت النبي ﷺ و دار الهجرة مدیني منوري ته (۱۷۷۳) کاله وه، او راویان وایي چې د سلیمان علیه السلام قبر په بیت المقدس کي دی عند الجسمانیة قریب و قبر ته د پلار دده، او بعض وایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي دی او پلار په يوه قبر کي دي وهو بعيد جدًا، لان مقبرة بيت المقدس اذ ذاک واسعة او بلقيس يوه مياشت وروسته تر سليمان ؑ وفات سوه، او بلقيس په خپل قصر کي د تدمر خلکو ددې په وصيت درولې وه په مساله يې وهلې وه چي صبر او مصطکي ورته وايي او ښه رنګارنګ کالي يې په اغوستي وه، او ورته نوشته وه انا بلقيس صاحبة سليمان بن داؤد خرب الله من خرب بيتي، وکان ذالک في زمن مروان الحمار، سعدي شيرازي رحمه الله ميګويد:

همه تخت و ملکی پذیرد زوال.......... بجز ملک فرمانده لایزال

جهان ای پسر ملک جاوید نیست.......... ز دنیا و فاداری امید نیست

مکن تکیه بر ملک و جاه و حشم.......... که پیش از تو بود ست و بعد از تو هم

نه لایق بود عشق با دلبری.......... که هر بامدادش بود شوهری

دریغا که مابی لبی روزگار.......... بروید گل و بشگفد نو بهار

مکن عمر ضائع بافسوس و حیف.......... که فرصت عزیز است والوقت سیف

عروسی بود نوبت ماتمت.......... گرت نیک روزی بود خاتمت

انا لله وانا اليه راجعون.

درويش وايي: چي روح المعاني په روايت د وهب بن منبه رحمه الله (چي داسي لفظ ويلی دی وزعموا) چي دال پر تضعيف دی چي سليمان ؑ بلقيس نده په نکاح کړې بلکي تبع الحميري ته يې په نکاح ورکړه، او په روح البيان کي يې دا روايت راوړی دی، او مظهري هم دا روايت راوړی دی. لکن الصحيح الذي عليه الجمهور، وهو الاول چي سليمان ؑ بلقيس په نکاح کړې ده، وهو المثبت في التواريخ القديمة، والعلم عند الله العزيز العلام.

درويش وايي تجديد النظر علی سرير سليمان عليه السلام.

يوه سه: چي تاسي د تخت او يا سرير سليماني تفصيل په ډېره کامله وجه واورېدی لکن په اوسني زمانه کي بعض جاهلان او له قدرت څخه د خدای ﷻ ناخبره يا منکره کسان وايي چي دا دومره لوی او درونډ تخت چي پر هغه به پر زرو کسان سره د دېګو او اشپزي وغيرها شيان هم وه کمامر تفصيل ذالک څرنګه به باد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په هوا وري ګاهي آرام او ګاهي تیز کما مر. نو چي دي بې دینه بې مذهبه خلګو ته ووبل سي چي امریکایانو یو ه دومره لویه طیاره جوړه کړي ده چي په هغې طیارې نوري جنګي طیارې ورتوځي او بمان وغیره آلات حرب ختندي راباسي او لویه طیاره ځای پر ځای ولاړه وي، او یا امریکایانو په دریاب کي یوه لویه بېړۍ درولي ده چي په زرو عسکر پکښې سته او له هوا څخه نوري کوچنی طیارې ورځي په توځي او عسکر یا وروړي او یا یې راباسي، او دا یې دینان کسان وایي هو ! دا سې صحیح خبره ده. تولي راډیوګانې ددې بیان کوي او یا په تلویزون کي لیدل کېږي الی غیر ذالک. نو درویش و دغه جاهل بې دینه چي ځان مسلمان هم بولي، زه وایم چي د خدای ﷻ قدرت زیات دی او که د امریکا؟ که دی وایي چي د امریکا قدرت زیات دی خو کافر سو. او که وایي چي د خدای ﷻ قدرت لوړ دی، نو دی ولي د تخت سلیماني څخه چي په هوا کي به یې رفتار کاوه منکر سو.

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَآ اِلٰى ثَمُوْدَ اَخَاهُمْ صٰلِحًا

ای والله په تحقیق موږ استولی ؤ و ثمودیانو ته ددوی هم نسب سړی صالح ؑ. نو کلمه د لام جواب د قسم محذوف ده، او دا جمله عطف ده علی قوله تعالی ولقد آتینا داوٗد و سلیمان الآیة. او صالحًا بدل دی د اخاهم څخه "ان اعبدوا الله" بتقدیر الباء ای بان اعبدوا الله ای وحده یعني شرک پرېږدئ.

اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ فَاِذَا هُمْ فَرِیْقٰنِ یَخْتَصِمُوْنَ

نو ناببره (نو کلمه د فاد مفاجات ده او هم مبتداء ده) دوی دلي سوې دا خبره د مبتداء دی یعني یوه فریق ایمان راوړی او بل فریق پر خپل کفر ثابت قدم وه "یختصمون" صفت دی د فریقان یعني ددوی تر منځ خصومت د کفر او اسلام جاري سو.

قَالَ یٰقَوْمِ لِمَ تَسْتَعْجِلُوْنَ بِالسَّیِّئَةِ قَبْلَ الْحَسَنَةِ

وویل ودوی ته صالح ؑ ای قومه زما (نو کسره عوض د یا محذوفي څخه ده) او د لم اصل لما ؤ حروف جاره چي پر ما استفهامي داخل سي لپاره د تخفیف په سبب د کثرت استعمال الف حذف کېږي لکه عم وبم وغیر ذالک) ولي تاسي تلوار کوئ په نزول د عقوبت د خدای ﷻ څخه د مخه تر بنه شي چي توبه او ایمان دی. دا علته چي قوم د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صالح ؑ به ده ته وويل يا صالح ئتنا بما تعد انت كنت من المرسلين، يعني لم تاخرون التوبة الى وقت نزول العذاب والاستفهام للانكار و التوبيخ، سعدي ؒ وايي:

تو پيش از عقوبت در عفو کوب .... که سودی ندارد فغان زير چوب

لَوْلَا تَسْتَغْفِرُونَ اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿۴۶﴾

ولي تاسي طلب د بخښني نه کوئ له خداى ﷻ څخه بالتوبة عن الكفر والشرک قبل نزول العذاب، لعل په معنى د لام کي دی ای لکی ترحموا چي پر تاسي به وکړه بقبول التوبة ولي توبه بعد نزول العذاب نه قبلېږي.

قَالُوا اطَّيَّرْنَا بِكَ وَبِمَن مَّعَكَ ۚ

دوی ورته وويل چي موږ بد فالي وکړه په تا سره او هغه چي ستا سره ملګري دي، يو مو په دې بد فالي وکړه چي موږ پر يوه دين متفق قوم وُ، تا سره تو ته تو ته کړو، بل دا چي ستا په راتګ سره پر موږ پي درپی بلاوي او سختی مسلطه سوې، او بل دا چي بارانونه ودرېدل، دا تو له ستا له شوم څخه او ستا سره درسره اصحابو د شوم څخه.

قَالَ طَائِرُكُمْ عِندَ اللَّهِ

صالح ؑ ورته وويل چي شوم ستاسي يعني سبب ستاسي د شوم په نبز د خداى دی يعني په قضاء د خداى ﷻ.

فائده: قاضاء الهي ته ولي طائر وايي؟ لسرعة نزوله بالانسان فانه لاشئ اسرع من نزول القضاء المحتوم لکه مرغه چي د لوړي څخه کښته راځي، او عمل ته هم طائر وايي لسرعة صعوده الى السماء، او ابن عباس ؓ وايي چي معنی د آيت دا ده چي شوم چي تاسي ته راغلی دی د خداى ﷻ له خوا څخه په سبب د کفر ستاسي دی.

پوه سه: چي د جاهليت د وخت عربو به بد فالي کوله د مرغه په اواز سره چي دوی به په سفر تلل مثلاً کد به کارګه ناره وکړه په وخت کي د وتلو د دوی، نو دوی به ويل چي سفر ناکام دی، او کد مثلاً کوتري ناره وکړه دوی به هغه سفر کامیابه باله، اخيراً لفظ د طائر و شوم ته مستعار سو په عرف کي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بَلْ اَنْتُمْ قَوْمٌ تُفْتَنُوْنَ ﴿۴۷﴾

اضراب دی له مفهوم څخه د کلام سابق یعني شوم زما او زما د اصحابو د خوا نه دی بلکې تاسې به په فتنه کې د عذاب واقع کېږئ په سبب د کفر ستاسې، کذا قال محمد بن کعب رح، او ابن عباس رض وایي چې ستاسې څخه امتحان اخستل کېږي بالخیر کاهي وبالشر یعني کاهي، کریمه: ونبلوا کم بالخیر والشر فتنة.

وَكَانَ فِي الْمَدِيْنَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ

او وه په مدینه کې د ثمود چې د حِجر بکسر الحاء په نامه یادېدی چې مسکن د ثمودیانو، نهه کسه وه.

پوهه: چې رهط چې تمیز د تسعة وګرځېدی په اعتبار د معنی، ولې چې معنی د رهط جماعت دی من السبعة او الثلاثة الی العشرة کما ان النفر معناه من الثلاثة الی التسعة.

يُّفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ وَلَا يُصْلِحُوْنَ ﴿۴۸﴾

چې فساد یې کاوه په مځکه کې، دا جمله خبر د کان دی او اسم یې تسعة رهط دی، او ددې نهه کسانو نومان لکه د وهب بن منبه څخه چې منقول دي دا دی (۱)هذیل بن عبد الرب (۲) غنم بن غنم (۳) یاب بن مهرج (۴) مصدع بن مهرج (۵) عمیر بن کردیة (۶)عاصم بن مخزمة (۷) مبیط بن صدقة (۸) سمعان بن صفي (۹) قدار بن سالف.

پوهه: چې د لایصلحون فائده داده چې شان ددوی خالص افساد ؤ د صلاح نمونه نه وه پکښې، ګویا دوی ابناء الشرک وه، دا هغه کسان دي چې اتفاق پر وژلو د صالح ؑ د اوښې یې کړی ؤ وهم غواة قوم صالح واشقیائهم، او په دوی کې تر ټولو شقي قدار بن سالف ؤ.

قَالُوْا تَقَاسَمُوْا بِاللّٰهِ

دوی یو د بله سره ویلي وه (دا جمله یا مستانفه ده یا حال ده په تقدیر د قد) دوی قسم سره کړی ؤ په خدای ﷻ سره، دا ترجمه پر تقدیر ددې ده چې تقاسموا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فعل ماضي سي، نو دا جمله بدل ده له قالوا څخه يا حال ده په تقدير د قد د فاعل څخه د قالوا، او كه تقاسموا امر وي، نو دا جمله مقوله د قالوا ده فافهم في الفرق.

لَنُبَيِّتَنَّهٗ وَاَهْلَهٗ

يعني د شپې به صالح ؑ وژنو، او هغه كسان چې پر ده يې ايمان راوړى وي، د اهل اطلاق يې پر مؤمنانو له دې سبب وكړى چې د نبي امتيان لكه د اهل او عيال دى، ولهذا قيل للازواج المطهرات للنبي ﷺ امهات المؤمنين فهو ﷺ كالاب الكريم لجميع المؤمنين.

ثُمَّ لَنَقُوْلَنَّ لِوَلِيِّهٖ مَا شَهِدْنَا مَهْلِكَ اَهْلِهٖ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۴۹﴾

بيا به موږ ووايو وه ولي ته دم د صالح ؑ افرد الضمير لان المؤمنين تبع له، او يا افراد يې په تاويل د كل واحد دى اى ولي دم كل واحد من صالح والمؤمنين آه. موږ نه يو حاضر سوي وهلاك ته د اهل دده او يا زمان ته د قتل دده يا مكان ته د قتل، ولي چې مفعل صالح دى د مصدر او ظرف زمان او ظرف مكان "وانا لصدقون" يعني پر دې به هم قسم ورته واخلو چې انا لصادقون.

وَمَكَرُوْا مَكْرًا وَّمَكَرْنَا مَكْرًا وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۵۰﴾

يعني دوى غدر اختيار كړى په قتل كې د صالح ؑ يعني موږ وګرځاوه دا د دوى مكر سبب د اهلاك ددوى.

پوه سه: چې اطلاق د مكر پر اهلاك د خداى د دوى لره مشاكلة كما في جزاء سيئة سيئة، او دوى په عذاب د خداى ﷻ نه پوهېدل دا جمله حال ده له فاعل څخه د مكرنا.

فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ مَكْرِهِمْ اَنَّا دَمَّرْنٰهُمْ وَقَوْمَهُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۵۱﴾

وګوره اى مخاطب غير معين والمعنى فكر وكړه چې څرنګه سو موږ هلاك كړه دوى او قوم ددوى ټول له.

پوه سه: چې عاقبت اسم د كان دى او كيف يې خبر دى تقديم يې په سبب د تضمن دى معنى لره د استفهام، والاستفهام للتعجب، والجملة الاستفهامية په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاویل د مفرد مفعول لانظر.

پوهه: چي دا جمله خبر د مبتدا ء محذوفي ده ای هو انا او یا بدل د اسم څخه د کان او خبر له.

فائده: اختلف المفسرون في كیفیة اهلاكهم، ابن عباس رضی الله عنه وایي چي خدای ج په دغه شپه ملكي را واستولې چي د صالح ؑ د كور پهره وكړي، نو دا نهو (۹) كسانو توري له تېكي څخه كښلي وې، ملكو دوی په ډبرو ويشتل ډبري یې ليدلې ملكي یې نه ليدلې، نو دا نهه كسان یې ځای پر ځای مړه كړه، او مقاتل رح وایي چي دا نهه كسانو د غره په بېخ كي چي هورې د صالح ﷺ عبادت ګاه وه یو و بل ته یې انتظار كاوه غر پر را وتړېدی تپوله تر لاندې سوه، او قوم باقي په نعره د جبرئیل ؑ هلاک سوه.

فائده: بعض روات وایي چي صالح ﷺ په حجر كي یعني د ثمود یانو په لوی مركز كي په یوه غره كي عبادت ګاه درلوده چي هورې به ده لمونځ پكښي كاوه، نو صالح ؑ و قوم ته ویلي وه چي دې نهو كسانو ناقة الله ووژل چي تاسي ته درې ورځي مهلت دی بیا عذاب د خدای ﷻ له خوا څخه پر تاسي نازلېږي، نو دغو نهو ګمراهانو سره وویل چي صالح وایي چي زه به ستاسي څخه فارغه سم په درې ورځو كي، نو راځي چي مونږ له ده څخه ځانونه فارغه كړو د مخه تر درې ورځو نو دوی ور غله هغه د غره بېخ چي معبد د صالح ؑ هورې ؤ او دوی سره وويل چي دی چي راسي پر لمانځه ودرېږي قتل به یې كړو، نو یوه غټه ډبره د غره څخه پر را پله سوه تپوله تر لاندي سوه، او قوم هیڅ نه ؤ په خبر چي دا زمونږ نهه كسان چېري دي چي په قتل پسي د صالح ؑ تللي وه وهلک الباقون بصیحة جبرئیل ؑ.

فَتِلْكَ بُيُوتُهُمْ خَاوِيَةً بِمَا ظَلَمُوا ۗ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَعْلَمُونَ ﴿٥٢﴾

دغه دي كورونه ددوی چي خالي دي له اوسېدونكو څخه، او یا د خاویة معنی دا ده چي كورونه ددوی نړېدلي دي، مشتق من خوئ النجم اذا سقط یعني چي ستوری به لوېدی عربو به وویل خوی النجم، په "بما ظلموا" كي كلمه د باء سببیه ده او كلمه د ما مصدریه ده ای بسبب ظلمهم و كفرهم، په تحقیق په دغه اهلاک كي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د قوم ثمود آيت دليل پر قدرت د خداى جل جلاله دى او پر صدق د انبياء عليهم السلام هغه
قوم لره چي پوهيږي نو به عبرت واخلي.

وَاَنۡجَيۡنَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا وَكَانُوۡا يَتَّقُوۡنَ ﴿۵۳﴾

او موږ نجات ورکړی و هغو کسانو ته چي ايمان يې راوړی ؤ او دوی د عذاب
ځخه د خداى جل جلاله بېرېدل چي عبارت دی د صالح عليه السلام او مؤمنانو ځخه.

وَلُوۡطًا اِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهٖۤ

پوه سه: چي لوطًا منصوب دی په فعل مقدر سره ای اذکر لوطًا مخاطب په
اذکر سره عليه الصلوة والسلام دی ای اذکر يا محمد "لقومک قصة لوط او يا
لوطًا منصوب دی په فعل مقدر سره يعني وارسلنا لوطًا آه لوط زوی د هاران دی
"اذ قال لقومه" ظرف د فعل مقدر دی چي اذکر دی يا متعلق په ارسلنا سره دی
على تقدير كون ارسلنا عاملاً في لوط چي وويل ده قوم ته خپل.

اَتَاۡتُوۡنَ الۡفَاحِشَةَ وَاَنۡتُمۡ تُبۡصِرُوۡنَ ﴿۵۴﴾

آيا تاسي ورتګ کوئ وه خصلت قبيحه ته چي په غايت قبح کي دی
(الاستفهام للانكار والتوبيخ وكذا الاستفهام الثاني) يعني تاسي يې په قبح هم
پوهيږئ، نو د بصر ځخه مراد علمي دی دا قيد يې دد لپاره وو ايه چي فعل د يو
کار د هغه چا ځخه چي په قبح يې اقرار کوي اقبح دی تر فعل د هغه کارچي د
جاهل بالقبح ځخه صادر سي که ځه هم جهل بالقبح د هغه لپاره عذر نه دی په اسلام
کي ولهذا قال رسول الله صلى الله عليه وسلم للجاهل ويل وللعالم سبعين ويلاً. او بعض مفسرين
وايي چي رويت بصري دی يعني په علانيه چي خلک درګوري دا کار کوي فيكون
الفعل المذكور افحش.

اَئِنَّكُمۡ لَتَاۡتُوۡنَ الرِّجَالَ شَهۡوَةً مِّنۡ دُوۡنِ النِّسَآءِ

آيا تاسي ورځئ و نرو ته په قضاء شهوت يعني په دبره کي چي لواطت يې
بولي پيله ښځو چي د قضاء شهوت لپاره خداى جل جلاله پيدا کړي دي والمراد بالنساء
الزوجات دون الاجنبيات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چي شهوة منصوب علی العلتية لپاره د دلالت پر قبح د دې فعل او لپاره د تنبيه پر دې چي مقصود په جماع طلب النسل لا قضاء الشهوة او طلب د نسل خو په فرج كي د ښځي دی ولهذا يحرم اللواطة مع زوجته چي لواطت صغری يې بولي او د نر دا لواطت كبری.

پوښتنه: رجل په لغت كي بالغ سړي ته وايي نو آيا د نا بالغ سره لواطت جائز دی كه څرنگه؟

ځواب: د صبي لواطت خو په طريق اولی ناجائز دی. ولي چي د لوی دبره قابل د لواطت ده او د كوچني دبره خو د لواطت قابله نه ده فافهم هذه الدقيقة.

بَلْ أَنْتُمْ قَوْمٌ تَجْهَلُونَ ﴿٥٥﴾

بلكې تاسي داسي قوم ياست چي كارونه د جاهلانو بالقبح كوي يا معنی دا ده چي داسي كسان ياست چي د كار په حسن او قبح نه پوهيږي.

سوال: قوم خو اسم ظاهر غائب دی او تجهلون خو مخاطب صيغه ده. فالجمع بينهما كالجمع بين الضب والنون.

ځواب: چي تاء الخطاب په تجهلون كي لكون الموصوب به يعني قوم مخاطب معنی او بعض مفسرين وايي چي خطاب يې د انتم د سببه دی او غيبت يې په سبب د قوم دی فافهم.

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَنْ قَالُوا أَخْرِجُوا آلَ لُوطٍ مِنْ قَرْيَتِكُمْ

نو نه ؤ جواب د قوم د لوط مگر دا چي دوی يو د بله سره وويل وباسئ آل لوط واصحابه له خپل وطن څخه.

درويش وايي: چي دا جواب د عاجز في الدلائل دی كما هو عادة الجهال چي دوی مغلوبه سي په دلائلو كي، نو له زوره څخه كار اخلي او جنگ ته اماده سي.

إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴿٥٦﴾

ولي چي دوی داسي خلک دي چي زموږ د افعال يعني اللواطة څخه ځانونه پاک ساتي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَأَنجَيْنَاهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ قَدَّرْنَاهَا مِنَ الْغَابِرِينَ

نو موږ نجات ورکړی يعني له عذاب څخه لوط ته او دده اهل ته چي ټول مؤمنان وه کما مر ان المؤمنين كلهم اهل للنبي المبعوث اليهم، مګر يوه ماينه دده چي کافره او معاون د لواطت کونکو وه چي د لوط کره به مېلمانه راغله دي به قوم د لواطت لپاره په خبرول چي موږ تقدير ددې کړی ؤ "في الغابرين" يعني الباقين في العذاب النازل على القوم لانها كانت معاونة لهم في الفعل الخبيث.

وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَسَاءَ مَطَرُ الْمُنذَرِينَ

وه اوراوه موږ پر دوی يعني قوم، مطرًا (مطرًا چي يې نکره راوړی لپاره د تهويل) يعني يو وار باران چي هغه د ډبرو باران ؤ وروسته يې مځکه پر چپه کړه.

قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ وَسَلَامٌ عَلَىٰ عِبَادِهِ الَّذِينَ اصْطَفَىٰ ۗ آللَّهُ خَيْرٌ أَمَّا يُشْرِكُونَ

و وايه يا محمد (ﷺ) ټول ستاينې الله ﷻ لره دي، او سلام يعني دعاء د سلامت وکړه ته چي خدای ﷻ برګزيده کړي له خپلو بندګانو څخه. قال مقاتل هم الانبياء والمرسلين، وقال ابن عباس ؓ في رواية مالك هم اصحاب محمد ﷺ. او کلبي ؒ وايي چي دا کسان ټول امت د عليه الصلوة والسلام دي.

بوه سه: چي خدای پاک چي په دې سورت کي ډېري قصې وکړې چي دلالت پر لوی قدرت د خدای ﷻ او پر عظمت د شان دده کوي، او هغه بيانات يې هم وکړه چي خدای پاک خپل رسولان په نازولي وه، ومن التشريفات، نو يې آنحضرت ﷺ امر کړی په حمد ويلو سره پر هلاکت د امم ماضيه وو او پر نجات د انبياء والمؤمنون له عذابو څخه چي پر کفارو به نازل سوه.

الاعراب: قل صيغة الامر، الحمد مبتداء ده لله يې خبر دی، وسلام مبتداء ده.

سوال: سلام خو نکره ده، نو ابتدائيه يې څرنګه صحيح دی؟

خواب: په شرح کي د کافيه لعبد الرحمن الجامي قدس سره السامي وايي چي دا دعاء ده معنی يې داده سلام من قبلي او على عباده يې خبر دی، الذين صفت د عباده او په اصطفى کي ضمير مستتر راجع دی وخدای ﷻ ته، او ضمير منصوب چي راجع دی وموصول ته هغه محذوف دی، والتقدير اصطفى هم الله "الله خير

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اما يشركون" الاستفهام للتعزير اى حمل المخاطب على الاقرار. آيا خداى ﷻ خير دى او که هغه بتان چي دوى شريک بولي د خداى پاک سره په عبادت کي.

فائده: درويش وايي چي مظهري نولسم جزء پر دې ځاى ختم کړى دى او شلم جزء يې د ام خلق السموات آه څخه پيل کړى دى، او روح البيان جزء نولس پر بل انتم قوم تجهلون ختم کړى او شلم جزء يې فما کان جواب قومه څخه کړى دى. وکذالک فعل روح المعاني، او د مصاحفو مطبوعه وو سره صنيع د مظهري رح برابره ده. ولي چي په مصاحفو مطبوعه وو کي د شلم جزء شروع له امن خلق څخه ده.

درويش وايي: الحمد لله وسلام على عباده الذين اصطفى وفي راسهم محمد المصطفى ﷺ وعلى آله وصحبه الاتقياء، په توفيق د رب جل سلطانه زه درويش هيچ مدان پر پاؤکم نهه بجې ورځ د سبت يعني شنبې پنځه ويشت تخميناً د مياشتي د ذوالحجة الحرام سنه (۱۴۳۰) هجري قمري کي له تفسير څخه د نولسم جزء فارغ البال سوم، فقر او خواست ولوى دربارته د خالق بى همتا

چهار چيز اورده ام شها که در گنج تو نيست
عاجزى و مسکينى فقر گناه آور ده ام

الهي عبدک العاصي آتاکا........ مقراً بالذنوب وقد دعاکا
فان ترحم فانت لذاک اهل........ وانوان تطرد فمن يرحم سواکا
حاشالجودک ان تقنط عاصياً........ الفضل اجزل والمواهب اوسع

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا محتاج احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

الجزء العشرون

أَمَّنْ خَلَقَ ۲۰

تفسير البوي حنفي

حضرت مولانا سعيد الله البوي

الحنفي النقشبندي القندهاري

مكتبة القراءة والتجويد
كاسي روڈ كوئٹه بلوچستان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي شروع د تفسیر د شلم (۲۰) جزء پر دري بجې د ورځي د یکشنبي شپږویشت تخمینًا د ذی الحجة الحرام سنه (۱۴۳۰) هجري قمري وسو په توفیق د خدای ﷻ. نو الله تعالی دې په خیر او عافیت پای ته ورسوي سره د صحت کامله، وما ذالک علی الله بعزیز.

فاقول اعوذ بالله من الشیطان الرجیم... بسم الله الرحمن الرحیم
والصلوة والسلام علی سید المرسلین وعلی آله وصحبه اجمعین

اَمَّنْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

آیا هغه څوک چي پیدا کړي یې دي اسمانونه او ځمکه.

درویش وایي: چي وجه دا جمع د اسمانو او مفرد راوړل د ځمکي په تفسیر ایوبي کي نور ځایونه تېره سوې ده.

فائده: چي کلمه د من په امن کي په نېز د روح البیان او روح المعاني منقطعه ده چي معنی یې بل چي معنی یې انتقال دی د انتقال د ماقبل مضمون څخه یعني الله خیر اما مایشرکون وبل مضمون او ضح ته، او همزه د استفهام لپاره د تقریر دی ای حمل المخاطب علی الاقرار، او مظهري وایي چي متصله دی او کلمه من مبتداء ده او معطوف پر ده محذوف دی، والتقدیر امن خلق السموات آه خیر یا الهة د مشرکانو چي بتان دي چي هغو هیڅ نه دي پیدا کړي او دوی یعني بتان د بل چا مصنوع دي چي بت تراشان دي. وروسته مظهري رح په قیل سره احتمال د ام منقطعه راوړی او داسي یې ویلي دي، وقیل منقطعة بمعنی بل والهمزة بل للاضراب عن الاستفهام السابق لبداهة کون الله تعالی مبدء لکل خیر وعدم الخیریة رسًا فیما اشرکوه. فکیف یمکن الموازنة بینهما والهمزة للتقریر الخ.

وَاَنْزَلَ لَكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَنْۢبَتْنَا بِهٖ حَدَآئِقَ ذَاتَ بَهْجَةٍ ۚ

اللام للنفع ای لنفعکم بالذات او بالواسطة، او نازل کړي دي ستاسي لپاره له اسمان څخه یا د وریځي څخه فان کل ما علاک یسمّٰی سماء، نو راشنه کړي دي موږ په هغو سره یعني چي اوبه د باران دي یا رودونه وګرځي یا کاریزونه یا چینې یا ویالې، باغونه جمع د حدیقة ده، فراء لغوي وایي چي حدیقة هغه باغ ته د هري مېوې چي وي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چې دېوال پر راګرځېدلی وي، او که دېوال نه وي پر راګرځېدلی لکه د غرو او صحراو مېوه داره درختي هغه ته حديقة نه وايي، او ددې قول د فراء تائيد کوي هغه قول د بيضاوي رحمه الله من الاحداق وهو الاحاطة "ذات بهجة" صفت دی د حدائق، يعني سرې چې ددوی سرسبزي او شادابي وويني په خوشاله کېږي كما هو الظاهر.

سوال: حدائق خو جمع وه او ذات بهجة مفرد دی او سره ددې چې هر بستان او حديقه ځان ته بهجه لري؟

ځواب: افراد د بهجة په سبب د تاؤيل دی د حدائق په جماعة الحدائق سره نو د جماعت لفظ هم مفرد دی فافهم.

فائده: په دې آيت کې نقل دی چې په نحو کې يې التفات بولي له غيبت ځخه يعني په من خلق السموات آه کې وه تکلم ته يعني في قوله تعالى فانبتنا آه.

درويش وايي: چې د انتقال و تکلم ته فائده داده چې دا فعل البته مختص په باري عزوجل پورې دی چې دا مختلفې مېوې په خوند او په رنګ کې او په مقدار کې تولهد متشابه موادو ځخه چې اوبه او خاورې دي د هيڅ چا په قدرت نه دی پوره بېله خدايه.

تنبيه: په تفسير بحر العلوم للسمرقندي رحمه الله کې وايي چې حديقة باغ ته وايي که يې احاطة دېوال پر راګرځولی وي که نه وي، بحر زياته کړې ده وهو ظاهر تفسير ابن عباس رضي الله عنه حيث فسر الحدائق بالبساطين ولم يقيد باحاطة الجدار.

درويش وايي: چې تفسير د حدائق په بساطين سره دليل دی د احاطة الجدار عليها وهذا هو الموافق للعرف العام چې باغ چې تفسير د بستان دی و محاط بالجدار ته وايي، او علامة الزمخشري رحمه الله وايي هي البستان ما عليه جدار من الاحداق وهو الاحاطة، وهو مروي الضحاک رحمه الله والله اعلم، او دا اختلاف و بيان ته د قدرت د خداى جل جلاله چې په دې آيت مقصود دی تاوان نه رسوي كما لا يخفى.

مَا كَانَ لَكُمْ أَنْ تُنْبِتُوا شَجَرَهَا

او نه ده ممکنه تاسي لره چې تاسي شنه کړئ يوه درخته له درختو ددې حدائقو فالاضافة للجنس فضلاً عن جميع اشجارها.

يوه سه: چې جمله د ما كان لكم آه صفت ده د حدائقو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۚ بَلْ هُمْ قَوْمٌ يَّعْدِلُوْنَ ﴿٦٠﴾

آیا بل الٰہ ستہ سرہ د خدای ﷻ چي دده سره دي کومک وکړي؟ (والاستفهام للانکار ای لیس له معاون في ذالک الصنیع، نو د عبادت ور نه دی بل څوک لانه تعالی هو الخالق وحده فیجب العبادة له وحده) بلکې کفار مکه یو داسي قوم دی چي دوی شریکوي من لایخلق چي بتان د دوی دي د من یخلق سره چي الله تعالی دی، یا معنی داده چي دوی عدول کوي له حق څخه چي توحید دی و باطل ته چي شرک دی.

فائده: په آیت کي التفات دی له خطاب څخه چي په لکم کي ؤ وه غیبت ته یعني بل هم چي ضمیر د غائب دی.

فائده: پوه سه! چي خبري او ضمائر دري قسمه دي، التکلم، والخطاب والغیبة، په عربي ژبه کي د هر یوه څخه و نورو دوو ته التفات کېږي، فاقسام الالتفات ستة وکلها مبنية في علم البيان والقران الوارد على معيار كلام العرب مملوة من هذه الالتفاتات.

اَمَّنْ جَعَلَ الْاَرْضَ قَرَارًا

آیا هغه څوک چي ګرځولې يې ده مځکه ځای د اوسېدو، قرارًا مصدر دی حمل يې پر مځکه مبالغة دی یعني دومره مځکه يې تر دریا محیط رابښکاره کړې ده چي د انسانانو وغیرهم د ژوندانه د چارو لپاره کافي ده، او دا ښکار مځکه يې داسي ګرځولې ده چي استقرار پر کېدلای سي.

وَّجَعَلَ خِلٰلَهَآ اَنْهٰرًا وَّجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ؕ

او پیدا کړي دي خدای پاک رودونه او ویالې جارية.

او پیدا کړي دي خدای پاک د مځکي لپاره غرونه پر ځای ثابت ولاړ تاچي مځکه حرکت ونه کړي او دا غرونه يې سرچشمې د رودو ګرځولي دي، او ګرځولي دي خدای ﷻ په منځ کي د دوو ردو چي د یوه اوبه خوږې دي او د بل دا توروې دي مانعًا د اختلاط ددې دووو اوبو، چي یو رود دی د فارس او بل رود دی د روم. وقد مر بيانه وتفصيله في سورة الفرقان.

پوه سه: خلالها ظرف مستقر دی ای کائنة خلالها مفعول ثاني دی د جعل وقس عليه الجملة الثانية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

﴿ءَإِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ۝٦١﴾

آیا خدای سته بل سره د خدای ﷻ چي په خلق کي د دي عجائبو دي دخیل یعني شریک وي؟ (والاستفهام للانکار یعني لیس معه غیره) بلکي اکثر د مشرکانو په دي نه پوهیږي چي لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، ولي چي په عجائب او صنائع کي د خدای پاک فکر نه وهي، ولي دوی نظر صحیح نه کوي عقل یې مهمل پرې ایښی دی فهم کالانعام بل هم اضل وانما قال اکثرهم لان بعضهم یعلمون ذالک وانما ینکروا تکبرًا وعنادًا.

﴿أَمَّن يُجِيبُ الْمُضْطَرَّ إِذَا دَعَاهُ﴾

آیا څوک دی چي قبلونه وکړي د خواست د یو مجبور سړي چي د یو ضرر سره مواجه وي، من المرض والفقر وغیر ذالک.

پوه سه: چي ضمیر منصوب په دعاه کي راجع دی ومن موصوله ته چي مبتدا وه چي مراد څخه دي خدای پاک دی.

پوه سه: چي مضطر اسم فاعل دی من الاضطرار چي باب د افتعال دی چي کلمه د تاء یې په طاء بدله سوه، چي تضرع وکړئ و خدای ﷻ ته او خدای ج دي اجابت د خواست وکړي.

سوال: د هر کسان په حال کي د اضطرار خدای ﷻ ته زاری او عجز کوي لکن خدای ج یې اجابت نه کوي؟

ځواب: الف ولام په المضطر کي لپاره د جنس دی د استغراق نه دی. او اجابت مقید دی په ان شاء اللّٰه پوري.

﴿وَيَكْشِفُ السُّوءَ وَيَجْعَلُكُمْ خُلَفَاءَ الْأَرْضِ ۗ﴾

او دفع دي کړي هغه غم چي بنده یې و دعاء ته مجبور کړی دی، او خدای ﷻ تاسي ګرځوي خلیفه ګان: د مځکي په عوض کي د من قبلکم یعني تاسي تصرف په مځکه کي په وراثت د ربړ دي او یا سلطنت د مځکي له یوه بادشاه څخه و بل بادشاه ته لکه چي میراث د سلطنت او نبوت د داؤد ع چي سلیمان ع ته ورسېدی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وهكذا میراث السلطنت من شخص الی شخص آخر. یا سلطنت د جن په مځکه کي وانس ته ورسېدی.

حکایت: شیخ داؤد یماني رح د مریض پوښتنې ته ورغلی ناجوړي او مریض ورته وویل چي ای شیخ ته ماته دعاء وکړه چي ما خدای ﷻ جوړ کړي! شیخ ورته وویل چي ته په خپله ځان ته دعاء وکړه چي مضطر یې او خدای ﷻ اجابت د دعاء په مضطر سره مقید کړې ده. ولي د مضطر عجز او نیاز ډېر دی تر بېګانه سري او حق جل وعلا نیاز د بېچاره ګانو دوست لري..... مثنوي:

این نیاز مریمی بود ست ودرد...... که آن طفلی سخن اغاز کرده

دا اشاره ده و هغې قصې ته چي مریم بنت عمران چي عیسیٰ ؑ بیله پلاره وزیږاوه او خلکو پر دې خولې د ملامت راخلاصې کړې کما جاء في القرآن في موضع آخر:

عیسی طفل یکروزه گفت اني عبد الله آه

هر کجا دردی بود دوا آنجا رسد...... هر کجا پستست آب آنجا رود

پیش حق یک ناله از روی نیاز...... به که عمری در سجود ودر نماز

زور را بگذار زاری را بگیر...... رحم سوی زاری آید ای فقیر

ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ؕ قَلِیْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۶۲﴾

آیا خدای سته سره د خدای ﷻ چي نعم عامه او خاصه و تاسي ته درکوي؟ والاستفهام للانکار یعني لآ اله الا هو.

بوه سه: چي قلیلاً معمول دی د تذکرون، او کلمه د ما زائده ده لپاره د تاکید د قلة، نو که د قلیلاً موصوف زمان وي ای زمانًا قلیلاً نو منصوب علی الظرفیة دی او که یې موصوف تذکیرًا وي ای تذکیرًا قلیلاً نو نصب یې له جهته ددې دی چي مفعول مطلق دی، د تذکرون مفعول محذوف دی ای الله. والمعنی چي یا لږ زمانه یا په لږ تذکر خدای تاسي یادوي.

فائده: مراد له قلت څخه یا عدم دی او یا حقارت دی چي هغه چندان فائده نه لري.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَمَّنْ يَهْدِيكُمْ فِي ظُلُمَٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ

ای څوک دی چي تاسي ته لار ښيي؟ يعني يا په ستورو يا په غرو يا په علاماتو د ځمکي، په تاريکيو کي د دښتو او د دريابو اضافة الظلمات الى البر والبحر للملابسة.

وَمَنْ يُرْسِلُ الرِّيَٰحَ بُشْرًا بَيْنَ يَدَيْ رَحْمَتِهِ ۗ

او څوک دی چي را استوي بادونه چي زيري کونکي دي (نو بشرًا جمع د بشير ده) په مخ کي د حضور د رحمت د خدای، چي مراد څخه باران دی.

أَءِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ۚ تَعَالَى اللَّهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ ۝

آيا خدای سته سره د خدای ﷻ يعني خدای ج لره شريک؟ الاستفهام للانکار يعني نسته، لوړ دی خدای پاک د هغو شيانو څخه چي قريش مکه د خدای ﷻ سره شريکوي په عبادت کي يعني الاصنام اين الله العزيز الجبار واين الاصنام الجمادات الشرار.

أَمَّنْ يَبْدَؤُا الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيدُهُ

آيا هغه څوک چي ابتداء د خلق الانسان يې کړې ده من كتم العدم الى عرصة الوجود بيا يې وروسته بيرته اعاده کوي يعني يوم القيامة.

پوښتنه: مشرکان که څه هم بدء الخلق د خدای ﷻ له خوا څخه بولي، لئن سئلتهم من خلقكم؟ ليقولن الله لکن د بعث بعد الموت څخه خو منکر دي. فكيف يستدل بالاعادة معه؟

ځواب: په تفسير کواشي کي وايي ذکر الاعادة مع انکارهم البعث لتقدم الدلائل الدالة على ذالک من انزال الماء وانبات النبات وجفافه ثم عوده مرة ثانية والعقل يحكم بامكان الاعادة او دوی يعني مشرکان په دې اقرار وه چي دوی خدای ﷻ پيدا کړي دي بعد العدم فاعادتهم بعد ان کانوا ايسر بحسب مقتضى النقل والعقل والا فلا فرق في قدرته تعالى بين البدء والاعادة بالعسر واليسر فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَمَنْ يَّرْزُقُكُمْ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ ۭ

او څوک رزق درکوي تاسي ته له اسمان څخه په اوربښت د بارانو او د مځکي څخه په نباتاتو او دانو د غنمو او د اوربشو او جورو مثلاً.

ءَاِلٰهٌ مَّعَ اللّٰهِ ۭ قُلْ هَاتُوْا بُرْهَانَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۶۴﴾

آیا خدای سته سره د خدای ج چي هغه دي هم پر دغو کارو قدرت لري؟ ته ورته ووایه چي راوړئ دلیل پر دغه مدعی چي ستاسي بتان پر یو شي د دغو شیانو قادر دي؟ لاهرگز، که تاسي رشتیا وایاست چي خدای ﷻ لره شریک سته په معبودیت او الوهیت کي، لان القدرة علی الخلق من لوازم الالوهية، بغوي رح وایي چي مشرکانو سوال وکړی د علیه الصلوٰة والسلام څخه چي قیامت کله دی؟ فنزلت.

قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ ۭ

نه دي خبر هغه څوک چي په اسمانو کي دي یعني الملائكة، او هغه څوک چي په مځکه کي دي من الانبياء والمرسلين والانس والجن ''الغيب'' یعني د حواس څخه غائب وي او دلیل عقلي هم نه وي باندي، الا الله.

بوه سه: چي الا الله استثناء منقطع ده، ولي چي خدای ﷻ منزه دی له استقرار څخه په اسمانو کي یا په مځکه کي، فالمعنی لكن الله يعلم ما غاب عنهم ای عن اهل السموات والارض وغيره تعالی لايعلم الا باعلامه تعالی..

فائده: الله چي مستثنی ده مرفوع دی پر لغت بني طئ چي دوی روا بولي رفع علی البدل من کلمة من او نصب هم روا بولي، او اهل الحجاز یواځي نصب روا بولي فافهم، او بعض مفسران وایي چي استثناء متصله ده او د خول د مستثنی په مستثنی منه پر تقدير د فرض د محال دی او فرض د محال محال نه دی، د معقولو په کتابو کي وایي چي یو فرض المحال دی بالاضافة لكه لاشيئ او لا ممكن او شريک الباري چي دوی یې کليات فرضيه بولي، والكلي عندهم ما يمكن فرض صدقه على الكثيرين، والامور الامور كذالك، او بل فرض محال بالتوصيف كصدق الجزئي الحقيقي على مافوق الواحد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: دا خبري ستا خو چي ماهر په عقلياتو كي نه وي نه په پوهيږي، نو تفسير ايوبي د ورته خبرو ځای دی او که څرنګه؟

ځواب: زه مظهري رح ودې خبرو ته مجبوره کړم چي هغه يو اجمالي عبارت راوړی دی (ودخول المستثنٰى في المستثنٰى منه على سبيل فرض المحال وفرض المحال ليس بمحال).

وَمَا يَشْعُرُونَ أَيَّانَ يُبْعَثُونَ ﴿٦٥﴾

او دوی نه پوهيږي چي کله به موږ بعث کېږو، والمعنى چي وخت د حشر ددوی په حواس ظاهره او باطنهٔ ددوی نه معلومېږي فهو من الغيب چي خدای جل جلاله په علم كي ساتلی دی او نه نبي مرسل او نه ملک مقرب يې په خبره کړي دی. والغيب لايعلم الا بتعليم الله تعالى، نو څرنګه دوی ستا څخه دا سوال کوي چي قيامت کله دی، کمامر شان نزول هذه الآية.

حكايت: په كشف الاسرار كي وايي چي يو منجم د حجاج بن يوسف حضورته ورغلی او دا يې ورته وويل چي ماته غيب شيان معلومېږي، حجاج يو څو سنګرېزې يعني شيګي په خپل لاس كي ورته ونيولې او وه يې شمېرلې، نو يې منجم ته وويل چي زما په لاس كي څو شيګي دي، هغه خپل زده کاروکړی او حجاج ته يې وويل چي حساب دده درست راغلی، وروسته حجاج بې حسابه شيګي په لاس كي ونيولې بيا يې منجم ته وويل چي دا څو شيګي زما په لاس كي دي؟ منجم چي هرڅو حساب وکړی خطا به سو، منجم و حجاج ته وويل يا ايها الامير، زما ګمان کېږي چي ته يې هم په حساب نه يې خبر؟ حجاج ورته وويل هو داغسي ده، حجاج ورته زياته کړه چي د مخه او د اوس نو څه فرق دی چي په هغه پوه سوې او په دې نه پوهېږې؟ منجم ورته وويل چي اول وار د غيب له دائرې څخه عدد د شيګو راوتلی ؤ، ولي چي ته په خبر وې او دا اوس عدد د شيګو په احاطه كي د غيب دی ولا يعلم الغيب الا الله.

د سيدتنا عايشة رضي الله عنها څخه روايت دی من زعم ان محمداً صلى الله عليه وسلم يعلم مافي غد (يعني چي عليه الصلوة والسلام خبر دی د سبا په حالاتو) فقد اعظم على الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

القرية (پر خدای ﷺ یې لوی دروا غ وویل) وهو موافق لقوله تعالى: قل لو اعلم الغيب لاستكثرت من الخير وما مسني من لغوب الآية.

بَلِ ادّٰرَكَ عِلْمُهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ

پوهه: چي كلمه د بل د انتقال ده له ماقبل څخه لپاره د تاكيد د هغه. اصل د اداک، تدارک ؤ، كلمه د تا، يې په دال بدله كړه لقرب المخرج او دال يې ساكن كړى لپاره د ادغام، نو چونكه ابتداء بالساكن راتلونه شي نو يې همزه د وصل ورته راجلب كړى.

فائده: علمهم فاعل دى د فعل مذكور، والمعنى پيدا به سي علم ددوى پر ورځ د قيامت، چي ورځ د قيامت او يا معنى داده چي كامل به سي او حاصل به سي علم ددوى پر آخرت په دنيا كي په تعليم د رسول اللهﷺ د قيامت په باره كي.
قال الله تعالى: إِنَّ السَّاعَةَ آتِيَةٌ لَا رَيْبَ فِيهَا وَأَنَّ يَبْعَثُ مَنْ فِي الْقُبُورِ. او په آخرت كي به يې هلته علم حاصل سي چي وه يېويني.

سوال: كافران خو قول د عليه الصلوة والسلام په باره كي د بعث بعد الموت نه مني، نو څرنګه به دوى ته په تعليم الرسول علم حاصل سي؟

ځواب: دوى كه مني لكن دلائل موجبه د علم پر ورځ د قيامت چونكه د پروه دا يې په ځاى كي د علم ددوى پر ورځ د قيامت في الدنيا وګرځاوه او حصول د علم قطعي و مؤمنانو ته پر ورځ د قيامت خو ظاهر دى.

بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ مِّنْهَا بَلْ هُم مِّنْهَا عَمُونَ

بلكي كفار د مكې په شك كي دي د ورځي د قيامت (بلكې په انكار كي دي) او سره ددې چي اسباب د يقين كولو ددوى د قيامت پر ورځ ډېر دي چي رسول كريم ﷺ چي رسالت يې په معجزاتو متكاثراتو سره ثابت دى به بار بار دوى ته د قيامت په اړه اظهار كړى دى، او كتاب معجز چي قرآن كريم ديى و كفارو ته د مكې يې په متعدد و آياتو كي شاهدي اداء كړې ده پر بعث بعد الموت "بَلْ هُمْ مِّنْهَا عَمُونَ" بلكې كفار د مكې له ساعت يعني بعث بعد الموت څخه رانده دي په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عمي القلب سره يعني جاهلون بها بحيث لايكادون يدركون دلائلها وان كانت كثيرة عديدة، ولي چي بصائر يعني قوي قلبيه محوه كوي دوی.

درويش وايي: چي ولنعم ماقيل:

سقام الحرص ليس له اشفاء....... وداء الجهل ليس له طبيب

قيل

وفي الجهل قبل الموت موت لاهله..... واجسامهم قبل الموت قبور

وقيل

ای که داری هنر و نداری مال...... تکن از کردگار گله

نعمت جهل رامه خواه...... که هست روضه در میان مزبله

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا

او وايي هغه كسان چي كافران دي.

فائده: دا جمله عطف ده پر مضمون د قوله تعالى بل هم منها عمون، ولي د هغې مضمون جهل بالقيامة ؤ او دا جمله تصريح ده په انكار كي د قيامت، والمراد بالذين كفروا كفار د مكې دي، وكل من يدان دينهم داخل في هذا الحكم كمشركي هند وغيرهم.

ءَإِذَا كُنَّا تُرَٰبًا وَءَابَآؤُنَآ أَئِنَّا لَمُخۡرَجُونَ ﴿٦٧﴾

آيا چي وگرځو موږ او زموږ پلرونه خاورې.

پوه سه: چي ضمير د نا چي متكلم مع الغير دی راجع دی زوی او پلار دواړو ته.

سوال: پلرونه خو يې مړه دي، نو څرنګه متكلم كېدای سي؟

ځواب: په دې كي تغليب دی د متكلم پر غائب باندې، د لمخرجون معنى دا ده چي له قبر څخه بيرته راوځو يني ژوندي كېږو به، والاستفهام لپاره د انكار دی يعني دا بعث بعد الموت بعيد من الامكان.

درويش وايي: چي دوی فكر نه وهي په اول ايجاد كي خپل چي د ماميهن څخه د نطفې د مور او پلار موږ خدای ﷻ څرنګه پيدا كړو، وليس البداية باهون من الاعادة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَقَدْ وُعِدْنَا هٰذَا نَحْنُ وَاٰبَآؤُنَا مِنْ قَبْلُ اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿٦٨﴾

لام جواب د قسم محذوف دی، وعده كړل سوې ده د دې بعث بعد الموت زمونږ سره (يعني په ژبه سره د محمد ﷺ) او زمونږ د پلرو سره (پر ژبه د نورو انبياؤ ﴿ع﴾) دمخه تر وعدې د محمد ﷺ. نه دي دغه قصې چي د بعث بعد الموت په باره كي يې محمد (ﷺ) كوي من البعث والجنة والنار، مګر نه خبري او قصې د درواغو د اولو خلكو چي يو د بل څخه يې نقل كوي.

فائده: لفظ د قبل مبني پر ضمه دی عوضًا عن المضاف اليه المحذوف، ولهذا لم يعمل فيه حرف الجر، تكرير د همزة الاستفهام په اول كي د آيت لپاره د مبالغې في الانكار دی.

پوه سه: چي اساطير جمع اسطار يا د اسطير بكسر الهمزة يا اسطور بضم الهمزة، قال الكاشفي ﴿رح﴾ **مع افسانهاى پيشينيان يعنى مانند افسانها كه مجرد سخنيست بى حقيقت چون افسانهاى روستم واسفنديار.**

قُلْ سِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿٦٩﴾

ته ورته ووايه يا محمد ﷺ چي سفر وكړئ په مځكه كي او وګورئ چي څرنګه ؤ اخير كار د مجرمانو يعني الكفار المنكرين للبعث والنشور.

پوه سه: چي په دې آيت كي تهديد دی كفارو ته د مكې پر تكذيب د ورځي د قيامت او ببرول دي د دوی چي پر تاسي به داسي عذاب نازل سي لكه پر اولين چي نازل سوی ؤ.

پوه سه: چي په لفظ د مجرمين چي په معنى د كافرين دي لطف دی د مؤمنانو ګناه كارانو سره.

وَلَا تَحْزَنْ عَلَيْهِمْ وَلَا تَكُنْ فِىْ ضَيْقٍ مِّمَّا يَمْكُرُوْنَ ﴿٧٠﴾

او ته غم مه كوه پر تكذيب د دوی تالره او د تا څخه پر اعراض كولو د دوی، او ته مه ګرځه د سينې په تنګېدلو كي.

پوه سه: چي من په مما كي چي اصل من ما ؤ سببي دی، او ما مصدري دی ای بسبب مكرهم يعني چي دوی قسم قسم حيلې او چمونه كوي چي ستا دين له منځه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ښخه یوسي، نو مقصود په دې آیت کې داده ورکول دي و علیه الصلوة والسلام ته
چې زه ستا دین و کمال ته رسول، ولو بعد حین، ولقد وفی الله تعالی بهذا الوعد
کریمه: والله متم نوره ولو کره الکافرون.

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا الْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ ﴿٧١﴾

عطف دی پر وقال الذین کفروا، او وايي کفار د مکې چې کله دی دا موعود
عذاب چې ته يې وعده د نزول کوې، که تاسي یعني ته او مؤمنان رشتیا واست ان
العذاب نازل علیکم.

قُلْ عَسَىٰ أَن يَكُونَ رَدِفَ لَكُم بَعْضُ الَّذِي تَسْتَعْجِلُونَ ﴿٧٢﴾

ته ورته ووایه چې ښایي چې په تاسي به ملحق سي بیله مهلته، بعض هغه
عذاب چې تاسي يې ژر غواړئ.

پوهسه: چې ردف متعدي بنفسه دی نو لام يې زائد دی.

فائده: رفع د بعض بناء پر تنازع د یکون او د ردف دی، نو عمل يې یکون ته
ورکړی دی یعني چې خبر د یکون او په ردف کې اضمار کړی دی ای ردف هو،
وهو عذاب یوم بدر، بیضاوي رح وايي چې عسیٰ او لعل او سوف په مواعید کې د
ممالکو یعني د بادشاهانو لکه مجزوم دي، او دوی چې دا الفاظ محتمل وايي
لپاره د اظهار د خپل وقار او پردې تنبیه کوي چې زموږ اشاره لکه تصریح د بل
چا، او بعض مفسرین وايي چې عسیٰ او لعل په کلام کې د خدای واجة الوقوع
دي راجع و قول ته د بیضاوي دي، یعني د عذاب په موضوع کې وعدة عفو يې
روا ده په شرط د ایمان، واما الکافر فلا یستحق العفو اذا مات کافرًا وعلیه یدل
الآیات والآحادیث وعلیه الاجماع.

وَإِنَّ رَبَّكَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى النَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾

په تحقیق ستا خدای جل جلاله خاوند د فضل دی پر خلکو فیغفر للمؤمن العاصي
ان شاء ولا یستعجل الکافر بالعذاب بلکه مهلت ورکوي او هم له دې سببه د فضل
دده (اهل مکه په دیارلس (۱۳) کاله د بعثت کې د رسول الله ﷺ په مکه کې پر اهل
مکه يې عذاب نه کړی نازل، کذا قال المقاتل رح) لکن اکثره د خلکو حق د نعمت د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ چي شکر دی نه پېژني بلکې علاوه ازآن د جهل په سبب طلب د استعجال د عذاب کوي.

وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٤﴾

او په تحقیق ستا خدای ﷻ خبر دی په هغو شیانو چي خلق یې پټ ساتي په سینو کي یعني په زړو کي او په هغو شیانو چي خلک یې ښکار کوي، یعني اهل مکه چي ستا سره هم پټ عداوت لري او هم په رسوا ددې آیت، معنی او حاصل دادی چي جزاء به ورکړي په دنیا او آخرت کي یعني تاخیر د عذاب ددوی څخه په سبب د خفاء د حال ددوی نه دی.

وَمَا مِنْ غَائِبَةٍ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ ﴿٧٥﴾

نسته یو شی چي د بر پټ وي د خلکو څخه په اسمان کي او په مځکه کي، مګر هغه پټ شی نوشته دی په کتاب کي ظاهر البیان یعني اللوح المحفوظ او پر هغه شي د خدای ﷻ علم احاطه کړې ده، وبالفارسیة: **وهیچ چیز نیست پوشیده درآسمان و زمین، مگر نوشته است درکتاب روشن یعنی لوح محفوظ وباو علم حق تعالی محیط است.**

فائده: لفظ د غائبة من الصفات التي تدل الشدة والغلبة نو تاء یې لپاره د تانیث نه ده بلکې لپاره د مبالغې ده کتاء العلامة والخافیة والراویة، نو ددې آیت حاصل دادی چي غیب عن الناس او شهادت د خلکو ته په اسمان او مځکه کي د خدای ﷻ په علم سره برابر دی، په بحر الحقائق کي وایي چي دا آیت دلالت کوي پر دې چي نه دی غائب له علمه څخه د خدای شی من المغیبات بالنسبة الی الخلق که موجود او که معدوم او برابر دی په علم کي د خدای ﷻ وجود او عدم یعني په حال د عدم د شي خدای ﷻ پر هغه شي علم لري چي وروسته تر وجود به هغسي کېږي، نو معلومات له عدم څخه تغیير پیدا کوي په وجود سره وکذا کل موجود یتغیر من حال الی حال آخر کالجنین في بطن یتغیر بالولادة ثم وثم الی وقت الهرم والموت ..... تغییرات في المعلومات ولایتغیر علمه تعالی بجمیع حالات انتهی په پښتو ژباړه، شیخ سعدي قدس سره په بوستان کي وایي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یکی متفق بود بر منکری (١) ...... گزر کرد بروی نکو محضری (٢)
نشست او خجالت عرق کرده روی (٣) ...... که آیا خجل گشتم از شیخ کوی (٤)
شنید این سخن شیخ روشن روان (٥) ...... بر و بر بشورید و گفت ای جوان
نیاید همی شرم از خویشتن ...... که حق حاضر است و شرم داری ز من
چنان شرم دار از خداوند خویش ...... که شرمت زبیگانه گانست و خویش

الى اخير الابيات الطيبة.

(١) يعني يو بد كاريې كاوه (٢) يعني يو ښه پاک سړی (٣) يعني د هغه كار څخه كښېنستی او پر مخ يې له خجالت څخه د شيخ خوله راغله (۴) يعني د کوڅې څخه د شيخ خجالت راته پيښ سو (۵) يعني نېک روح.

إِنَّ هَٰذَا الْقُرْآنَ يَقُصُّ عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَكْثَرَ الَّذِي هُمْ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿٧٦﴾

په تحقيق دا قرآن بيانوي وه بني اسرائيلو ته ډېر هغه شيان چي دوی په هغه کي اختلاف سره كاوه، يعني عن امور دينهم او دوی ډلي ډلي سوه او يو پر بل يې طعن او عيب سره وايه، د مثال په تو که عيسیٰ عليه السلام چي هم خدای جل جلاله بني اسرائيلو ته نبي را استولی ؤ نو بني اسرائيلو د عيسیٰ عليه السلام په باب داسي اختلاف درلودی د افراط او تفريط، بعضو به ويل چي عيسی ابن الله دی، او بعضو به ويل چي عيسی په خپله خدای دی، او بعضو به ويل چي عيسی ثالث ثلثه دی، يعني اول خدای دی، او بل خدای مريم دده مور ده، او دريم خدای عيسی دی، فهذا كله افراط في حقه عليه السلام، او بعضو به ويل چي عيسیٰ عليه السلام نعوذ بالله كاذب او ابن الزنى دی او مريم رضي الله عنها ته يې نسبت د زنا كاوه، دا تو له تفريط دی په حق کي د عيسیٰ عليه السلام او بعضو به ويل چي عيسیٰ عليه السلام يو بنده او نبي د خدای جل جلاله دی لكه نور انبياء كرام عليهم السلام وهذا هو التوسط بين الافراط والتفريط، او قرآن مبارک هم دغه مذهب تائيد كړی دی يعني ان عيسیٰ عبد الله ورسوله والانجيل كتابه حقًا، او په باره کي د نبي المبشر به في التورات هم يهودانو اختلاف كاوه، بعضو به ويل چي نبي مبشر په تورات کي يوشع عليه السلام دی او بعضو به ويل چي نبي مبشر في التورات عيسیٰ عليه السلام دی او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعضو به ويل چي نبي مبشر به في التورات تر اوسه نه دی راغلی په اخیر کي د زمان به راځي، نورو ورته اختلافات ددوی درولوده.

وَإِنَّهُۥ لَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّلْمُؤْمِنِينَ ﴿٧٧﴾

او په تحقيق قرآن هدايت دی (الحمل مبالغة وكذا رحمة) او رحمت دی د مؤمانو لپاره چي مؤمنانو پر قرآن نفع واخستل چي ايمان يې راوړی دون الكفار من اهل الكتاب والمشركين.

إِنَّ رَبَّكَ يَقْضِي بَيْنَهُم بِحُكْمِهِۦ ۚ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْعَلِيمُ ﴿٧٨﴾

په تحقيق ستا خدای ﷻ يا محمد (ﷺ) به فيصله وكړي په منځ كي د مختلفينو (يعني په ورځ د قيامت په خپل حكم سره او اهل حق والباطل به سره جلا كړي فريق في الجنة وفريق في السعير) او خدای ﷻ غالب دی چي دده قضاء څوک نسي ردولای، او خبر دی په حقيقت د هرشي.

سوال: د قضاء معنی خو حكم دی، نو د بحكمه به څرنګه تعلق پوري صحيح سي، ددې مثال دادی لکه يو سړی چي ووايي ينصر بنصره وهذا لايجوز؟

ځواب: د حكمه معنی دلته قضاء نه ده، بلكي معنا يې بحكمته، او يا يې جواب دادی چي حكم په معنی د محكوم به دی يعني يحكم بما حكم به في القرآن.

فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۖ إِنَّكَ عَلَى الْحَقِّ الْمُبِينِ ﴿٧٩﴾

يعني اذا كان الامر كذالک، نو ته توكل او اعتماد پر خدای ﷻ وكړه، په تحقيق ته يا محمد (ﷺ) پر حق ښكاريې، چي حق والی يې ظاهر دی ومنصف ته دون المتعصب والمعاند، نو مبين د ابان لازمي په معنی دی كما قال اهل اللغة ان ابان يستعمل لازمًا ومتعديًا، حاصل ددې آيتو دادی چي آنحضرت ﷺ ته خدای ﷻ وويل چي په عداوت سره د من عداک پرواه مه كوه، بلكي توكل پر خدای ﷻ وكړه.

إِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتَىٰ

په تحقيق ته نسې اورېدلای په مړو خپل وعظ.

پوښتنه: چي مراد له مړو څخه كفار دي، دوی يې مشابه كړه د مړو سره په دې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سبب چي لکه مړي چي فائده نسي اخستلای پر مایتلی علیهم باندي، کافران هم پر هغه نفع نه اخلي.

فائده: په دې آیت کي نفي د سماع الموتی یعني چي مړي نه اوري نه ده. لما في الحديث البخاري چي د بدر په غزاء کي چي اوویا (۷۰) کسه د کفار مکه قتل سوه چي په هغو کي فرعون هذه الامة ابو جهل هم وُ، او ټول دا مړي یې ویو څاه ته واچول، علیه الصلوٰة والسلام راغلی د څاه پر غاړه ورته ودرېدی او نوم په نوم یې دوی ته وویل یا فلان بن فلان یا فلان بن فلان هل وجدتم ماوعدکم ربکم فانا قدوجدنا ماوعدنا ربنا، عمر ﷺ وویل چي دوی خو مړه دي روحان نه لري، نو ته خطاب ورته کوې؟ علیه الصلوٰة والسلام ورته وویل چي اوري خو یې لکنهم لایجیبون انتهی الحدیث بالاختصار او کما قال رسول اللهﷺ، فلا دلیل في هذه الآية على عدم سماع الموتی کما زعم بعض الناس.

وَلَا تُسۡمِعُ ٱلصُّمَّ ٱلدُّعَآءَ إِذَا وَلَّوۡاْ مُدۡبِرِينَ ۝٨٠

او ته نسې اورېدلای په کڼیانو بلنه، چي دوی راهي سي او شا دروګرځوي.

پوه سه: چي صم جمع د اصم ده چي کاڼه ته وایي.

پوښتنه: د دې قید یعني اذا ولوا آه څه فائده ده. ولې چي کوڼ خو اواز نه اوري که تولی وکړي او که نه. بعض مفسرین وایي چي دا قید لپاره د تاکید د عدم سماع الاصم دی، او بعض مفسرین وایي چي د دې قید فائده داده چي اصم که عارضي کوڼ وي چي په زوره سري ناره پر وکړي اوري یې چي مخامخ وي وچي اصلي کوڼ وي یعني مورزاده چي هغه نو ګونګی کېږي هم، هغه مخامخ ولاړ وي یا په اشاره سره یا د شونډانو په ښورېدلو سره په یو څه پوهېږي یا په کتابت سره چي بعض ګونګیانو ته په ممالکو خارجیه وو کي تعلیم الکتابة کړل کېږي، او چي د ګونګي شا سي هیڅ امکان د پوهېدلو یې نسته، والحاصل ان الکفار لفرط اعراضهم د مما یدعون الیه څخه لکه مړي دي لاسبیل الی استماعهم وافهامهم.

وَمَآ أَنتَ بِهَٰدِي ٱلۡعُمۡيِ عَن ضَلَٰلَتِهِمۡۖ

او ته نسې کېدای لاربنود و ړانده ته. عمي جمع د اعمی ده "عن ضلالتهم"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني ما انت بمرشد من اعمى الله بصيرة قلبه عن الايمان، لکه چي رانده ته لار نسي وربنوول كېدلای.

إِن تُسْمِعُ إِلَّا مَن يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا فَهُم مُّسْلِمُونَ ﴿٨١﴾

نسي اوربدای (کلمه د ان نافیه ده) مګر په هغه چا چي ایمان یې راوړی وي پ آیاتو زموږ، نو هغه مخلصان دي.

پوه سه: چي مستثنٰی محذوف ده يعني لاتسمع ولاينفع اسماع القرآن احدًا الا من آه.

وَإِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ

پوه سه: چي مراد له وقوع څخه چي په صیغه د ماضي راغلی ده دنو والاقتراب يعني نژدې والی دی كما قوله تعالى اتى امر الله، او مراد له قول څخه ماينطق عن الساعة من الآيات القرآنية ومافيها من الاهوال (جمع د هال ده په معنی د خوف) التي كان المشركون يستعجلونها كما مر في الآيات السابقة.

فائده: غالبًا چي لفظ د وقع په قرآن مبارک کي راسي مراد ځني عذاب او شدائد دی ای اذا ظهرت امارات القيامة.

أَخْرَجْنَا لَهُمْ دَابَّةً مِّنَ الْأَرْضِ

موږ به راوباسو دوی لره يعني په هغه وخت کي چي ژوندي وي که مؤمنان او کافران وي يوه دابه له مځکي څخه بقدرته تعالى لکه ناقه د صالح ﷺ چي یې له غره څخه راوه ایستل.

پوه سه: چي دابه په لغت کي مايدب على الارض اى يتحرك فيها من اى نوع كان وان كان في العرف العام لايطلق الدابة على الانسان التحقيق في باب دابة الارض، صحيح داده چي عیسی ﷺ به ژوندی وي او طواف پر بيت الله شريفي به کوي چي دابة الارض به له مځکي څخه راووځي، والدليل عليه ما رواه احمد والطيالسي وتميم بن حماد وعبد بن حميد والترمذي، چي دا حديث ترمذي حسن هم بللی دی، وابن ماجه وابن جرير وابن المنذر وابن ابی حاتم وابن مردوية والبيهقي، في البعث عن ابی هریرة رض قال قال رسول الله ﷺ تخرج دابة الارض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ومعها عصا موسیٰ ؑ وخاتم سلیمان ؑ، نو به دا روښانه کړي مخ د مؤمن په خاتم سلیماني سره یعني پر تندي به د مؤمن لفظ ځلیږي، او پر پزه به ووهي کافر په عصا د موسیٰ ؑ یعني پر تندي به یې کافر نوشته سي، نو پر یوه سترخوان به خلک سره ناست وي مؤمن او کافر به سره پېژندل کیږي.

درویش وایي: چي د دابة الارض په باره کي روح المعاني یوه صفحه قولونه راوړي دي په روایاتو مختلفه وو سره. او مظهري تخمیناً یو نیم مخ روایات راوړي دي او روح البیان یو مکمل مخ روایات راوړي دي، لکن په بحر مواج کي د سمرقندي رحمه الله وایي چي علماء او راویانو اختلاف کړی دی (۱) په ماهیت کي د دي چي انسان دی او که بل حیوان دی (۲) شکل د دابة الارض څرنګه دی؟ (۳) له کوم ځای څخه راوځي (۴) څونده جسم یې دی (۵) څو واره راوځي (۶) له دي څخه څه پیدا کیږي (۷) ماتفعل بالناس (۸) چا دا راوه ایستل؟ اختلافًا مضطر یعارض بعضها بعضًا اعرضنا عن ذکره (ای الاختلاف) لان نقله تسوید للاوراق بما لایصح وتضییع لزمان نقله انتهٰی قول البحر. روح المعاني وایي وهو کلام حق، او روح المعاني د خپلو ډېرو روایاتو راوړلو داسي عذر ویلی دی. وانما نقلت بعض ذالک لشهرة من یحب الاطلاع علی حالها واخبارها صدقًا کان او کذبًا، روح المعاني په اخیر کي ویلي دي، وقصاری ما اقول في هذه الدابة انها دابة عظیمة لها اربة قوائم لیست من نوع الانسان اصلاً یخرجها الله تعالی في آخیر الزمان من الارض.

درویش وایي: چي فقیر د کم علمی سره سره دا تحقیق د دابة الارض په باره کي وکړی بحسب الطاقة، والعلم عند الله ولایکلف الله نفسًا الا وسعها.

تُكَلِّمُهُمْ أَنَّ النَّاسَ كَانُوا بِآيَاتِنَا لَا يُوقِنُونَ ﴿۸۲﴾

او دا دابة الارض خبري کوي د عربو سره په عربي فصیح او د عجمو سره په عجمي، سدي رحمه الله وایي چي خبري یې دا دي چي ټول ادیان منسوخ دي پر ته له دین اسلامه، او بعض وایي چي کلام د دابة الارض دغه دی ''اِنَّ النَّاسَ كَانُوا بِآيَاتِنَا لَا يُوقِنُونَ'' مقاتل رحمه الله وایي چي دابة الارض په عربي د خدای جل جلاله د قول حکایت ورته کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيَوۡمَ نَحۡشُرُ مِن كُلِّ أُمَّةٖ فَوۡجٗا

پوه سه: چي یوم منصوب دی په فعل مقدر سره یعني اذکر چي مخاطب یې علیه الصلوة والسلام دی ای لقومک.

فائده: مقصود د یوم په یاد سره اصلاً مقصود تذکیر د ماوقع في هذا الیوم ای القیامة کي من الحوادث لکن ظاهراً یې اضافت د تذکیر و طرف ته وکړی.

فائده: حشر په لغت کي جمع کولو ته وایي او مراد دلته له حشر څخه جمع کول د کفارو د عذاب لپاره و دوږخ ته وروسته تر حشر کلي د ټولو مخلوق که مسلمانان وي او که کافران، والامة هغه جماعت ته وایي چي رسول وراستول سوی وي کذا في القاموس، والفوج یو جماعت ته وایي چي په پښتو یې ډله بولي لکه زمرة چي یې هم بولي کما في المحیط (د لغت د کتاب نوم دی لکه قاموس)

مِّمَّن يُكَذِّبُ بِـَٔايَٰتِنَا فَهُمۡ يُوزَعُونَ ۝٨٣

له هغو کسانو څخه چي تکذیب یې کاوه یعني په دنیا کي، نو دوی سره جمع کړل کېږي یعني اول د دوی و اخیر ته ځنډول کېږي کمامر هذا التفسیر في هذه السورة في قصة سلیمان[ؑ]، په دې جمع کېدلو کي حکمت دادی چي تابعان او متبوعان به سره یو ځای په ډلییزه توګه و دوږخ ته ګېل کړي، ابن عباس[رض] وایي مراد له فوج څخه رئیسان د هر امت دي چي خلکو به د دوی متابعت کاوه په کفر او په تکذیب کي تاچي تابعان یې هم پسي راورسېږي لکه ابو جهل بن هشام، او ولید بن المغیرة وشیبة بن ربیعة، وامثالهم من رؤسا اهل مکة.

حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءُو

چي دوی راسي الی موقف السوال والجواب.

پوه سه: چي کلمه د حتی ابتداء د کلام ده او په شرطیه کي داخل نه دی، نو دا سوال نه واردېږي چي د دمخه آیت څخه خو دا معلومه سوه چي د سوال او جواب حال خو د دمخه وُ اوس خو یې و دوږخ ته تېله کول وه فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ أَكَذَّبْتُم بِآيَاتِي وَلَمْ تُحِيطُوا بِهَا عِلْمًا

خدای پاک ورته وواېي يعني په ذريعه د ملکي آيا تاسي تکذيب وکړی يعني په دنيا کي، الاستفهام للتوبيخ (سرزنش) او تاسي احاطه نه وکړه بر هغو آياتو از روی علم.

پوه سه: چي علمًا تميز دی له فاعل څخه د تحيطوا والمعنی چي علم ستاسي احاطه نه ده کړې د آياتو پر معنی يعني په اول الامر او بادي النظر کي مو تکذيب او غور او فکر مو نه دی کړی په معنی کي د هغو آياتو چي دا آيتونه د تصديق وړ دي او که د تکذيب.

فائده: کلمه د ولم آه لپاره د حال ده.

أَمَّاذَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝

او يا تاسي څه عمل کاوه بېله تکذيبه، حسيني وايي: چه کار کرديد بعد از آنکه بخدا و رسول ايمان نياورديد آه ای لم يكن لكم عمل غير الجهل والتكذيب والمعاصي، ګويا تاسي خدای ﷻ د دغو کارو لپاره پيدا کړي واست مع ان لامر ليس كذالک لان الانسان خلق للايمان والعلم والطاعة وتصديق الرسل که: انه وي نو د حيواناتو او د انسانانو څه فرق سته.

وَوَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِم بِمَا ظَلَمُوا فَهُمْ لَا يَنطِقُونَ ۝

او واقع سو قول د خدای يعني د مدلول د قول د خدای ﷻ چي عذاب دی پر دوی، کلمه باء سببية وکلمة ما مصدريه ای بسبب ظلمهم وتكذيبهم بآيات الله "فهم لاينطقون" يعني دوی د عذرو ويلو خبري نسي کولای لعدم العذر لهم او يا معنی داده چي دوی ته د عذر ويلو اجازه نه ورکوي، او يا معنی داده چي د هيڅ خبرو توان نه لري، ولي پر خولو يې مهرونه وهل سوي دي.

أَلَمْ يَرَوْا أَنَّا جَعَلْنَا اللَّيْلَ

پوه سه: چي مراد له رؤيت څخه رؤيت القلب دی چي علم دی "جعلنا الليل" ای خلقنا الليل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چي استفهام لپاره د انکار دی او نفي د نفي اثبات دی یعني دوی پر دي علم درلودی.

لِيَسْكُنُوا فِيهِ وَالنَّهَارَ مُبْصِرًا

چي تاسي ارام او خوب او استراحت وکړئ په شپې کي (او ستړیا د ورځي او سرګرداني به مو په آرام او استراحت بدله سي) او ورځ لیدونکې، ای پیدا کړې ده ورځ د لیدلو یو د بل سره زمانه او یا د عمومي شیانو د لیدلو وخت.

بوه سه: چي اصل د کلام خو داسي ؤ علی منوال السابق یعني لتسكنوا فيه ليبصروا فيه كما ترجمنا بذالک لکن مبالغةً یې ابصار یو حال د احوالو څخه د ورځي وګرځاوه چي له ورځي څخه نه جلا کېږي.

فائده: انا جعلنا آه قائم مقام د مفعولي د الم تروا دی لان الرؤية ههنا علمية، والمعنى چي دوی علم نه لري چي پر له پسې راتله د نور او د ظلمت پر وجه مخصوص باندي كما يعلمه كل واحد من الناس، لپاره د منافعو او د مصالح د ژوندانه چارو د خلګو او د اخروي چارو د دوی پر دې دلالت کوي چي دې مصنوعاتو لره خالق حکیم او قادر او غالب سته، نو هغه ذات پر دې هم قادر دی چي رسولان دي راواستوي تاچي خلګو ته دعوت د توحید او اطاعت د هغه ذات ورکړي او هغه ذات به یې همتا قادر پر انعام او انتقام دی على طاعته وعصيانه. او قادر دی پر حيوة بعد الموت کما هو قادر على ابدال الظلمة بالنور، والنوم باليقظة.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ۝٨٦

په تحقیق په دغو مذکوره شیانو کي (غرض دا دی چي شیان خو ډېر دي په تاویل د ماذکر اشاره په مفرد لفظ ورته صحیح ده) دلائل دي پر توحید د خدای ج او پر صدق د رسول الله ﷺ (نو مکذب لره څه عذر به وي په ورځ د قیامت) او قوم یې په یؤمنون سره مقید کړی که څه هم هدایت د قرآن مبارک عام دی، او دا مذکوره صنائع د خدای جلت قدرته د ټولو خلګو لپاره دي لکن نفع مؤمنانو پر واخستل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَيَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ

اى اذكر يوم آه معطوف على قوله ويوم نحشر آه.

پوهه: چي نفخ پوه كولو ته د خولې وايي او صور قرن ته وايي چي اسرافيل پكښې پوه كوي، كما روى عن ابن عمر چي يو صحرائي د عليه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وكړه د صور په باره كي، قال قرن ينفخ فيه، رواه ترمذي وابو داؤد والنسائي وابن حبان والحاكم عن ابن مسعود، ونحوه رواه مسدد بسند صحيح عن زيد بن الارقم، قال كيف انعم (زه به څرنګه خوشالي كوم) وصاحب القرن (يعني اسرافيل) قد التقم القرن (په خوله كي نيولى دى قرن) واحنى جبهته (او تندى يې لوړ نيولى دى) واصغى السمع (او غوږيې نيولى دى واوريدلو ته) متى يؤمر (چي كله به امر راكړل سي د خداى ﷻ له خوا څخه چي پوه يې كړي) دا خبره چي اصحابو واوريدل پر دوى بوج راغلى يعني ورته خبره ور معلومه سوه، نو رسول الله ﷺ ورته ويل: قولوا حسبنا الله ونعم الوكيل يعني دا بوج به در څخه دفع سي، قرطبي وايي چي علماء د امت مرحومه متفق دي پر دې خبره چي نافخ الصور اسرافيل دى.

فَفَزِعَ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ

نو وبه ويريږي هغه څوک چي په اسمانو كي دي من الملائكة وارواح المؤمنين او هغه څوک چي په ځمكه كي دي من الانس، روح البيان وايي چي مراد له دي نفخه څخه ثانيه ده چي خلک په راژوندي كيږي، وقال واذكر يا محمد لقومک يوم ينفخ في الصور نفخة ثانية يعني ينفخها اسرافيل يوم القيامة لرد الارواح الى اجسادها.

سوال: دا نفخ خو په مستقبل كي د زماني ده، نو ماضي صيغه څرنګه راوړل سول؟

ځواب: لپاره د وقوع د دغه نفخ لان المستقبل الموعود من فعل الله متيقن الوقوع كالماضي لان اخبار الله تعالى حق، روح البيان وايي چي دا فزع و تولو ته كه مؤمن او كه كافر وي پيښيږي. ولي چي دوى ووينې امور هائله خوفناک خارقة للعادات في الانفس والافاق كالجنة والنار.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ ؕ

مګر نه هغه څوک چي د خدای ج مشيت وي، يعني هغو ته بېره نه پېښېږي من الانبياء والاولياء والشهداء الذين لاخوف عليهم ولاهم يحزنون، والملائكة الاربعة وحملة العرش وخزنة الجنة والنار والحور وغيرهم.

درويش وايي: چي د روح البيان له عبارت څخه دا واضح سوه چي دی نفخ دوې بولي، ولي چي ددې ترجمه چي د نفخ په ثانيه سره وکړه، نو اول نفخه دده په نېز هغه نفخه ده چي ارواحان د موجودينو في ذالک الزمان من الانس والجن والحيوان په قبض کېږي، نو دده په نېز نفخة الصعق چي په بل آيت کي راغلې ده او نفخه اولی سره يو دی، او شيخ محي الدين ابن العربي قدس سره وايي چي نفخات درې دي (۱) نفخة الفزع ده چي خلک په فزع او بېره کي واقع کړي حتی چي اهل القرى خپل مواشي او نور حيوانات په صحراء کي خوشي کړي او دوی و لويو ښارو ته نقل سي د بېري له سببه (۲) نفخة الصعق ای الموت چي ټولو ته د خلق موجود في الزمان ددې نفخه څخه مړه سي (۳) نفخة البعث چي ټول مخلوق راژوندي سي للحساب والجزاء، دی وايي چي دا آيت پر اوله نفخة الفزع دلالت کوي، او هغه آيت چي په بل ځای کي راغلی دی ونفخ في الصور فصعق من في السموات ومن في الارض الا من شاء الله پر نفخة الصعق دلالت کوي. ونفخ فيه اخرى فاذا هم لقيام ينظرون په باره کي د نفخة البعث راغلي دي، او امام قرطبي رح لکه صاحب د روح البيان نفخه دوې بولي، دی نفخة القرع او نفخة الصعق سره يو بولي، دا قدر د روح البيان او قرطبي فرق دی چي روح البيان نفخة الفزع چي په دې آيت کي ذکر سوه نفخة ثانيه د بعث بعد الموت بولي، او قرطبي نفخة الفزع اول نفخه بولي چي نفخة الصعق يې هم بولي، التي جائت في قوله تعالى ونفخ في الصور فصعق من في السموات والارض.

درويش وايي: چي دا وو بيان د دوو لويو مفسرينو په نفخه اسرافيل ع کي او په دې باب کي مظهري ډېري خبري کړي دي او سوال او ځواب يې راوړی دی او ډېر اوږده حديثونه يې راوړي دي، او روح المعاني تر مظهري لا ډېر دا بحث څېړلی دی. فقير غواړي د خپل د متعلمينو د تفسير ايوبي په نظر نيولو سره خبري پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داغه ختم کړم، که څوک مزید تفصیل غواړي او نقض و ابرام غواړي، نو تفسير د علامه بغدادي روح المعاني او تفسير مظهري للقاضي ثناء الله پاني پتي دې مطالعه کړي، او روح المعاني په اخير کي ويلي دي چي دوه واره نفخة الصور صحيح ده، والله اعلم بما في كتابه.

وَكُلٌّ أَتَوْهُ دَاخِرِينَ ﴿٨٧﴾

"وكل" مبتداء ده تنوين د كل عوض دى له مضاف اليه څخه اى كل واحد من اهل السموات والارض "اتوه" اخبر دى اى حاضرون في المواقف يعني بعد نفخة البعث او يا راجعون الى امره تعالى "داخرين" صاغرين اى اذلاء وبالفارسية (خوار شده گان)

پوښتنه: د اتوه ضمير او د داخرين ضمير خو راجع دى و كل ته او هغه مفرد لفظ دى او ضميرونه دواړه جمع دي؟

ځواب: هو! راجع و كل ته خو دي، لكن نه په اعتبار د لفظ د كل بلكې په اعتبار د معنى وهو جمع بهذا الاعتبار... سعدي شيرازي قدس سره وايي:

بجائیکه دهشت خورد انبیاء ...... تو عذر گناه را چه داری بیا

وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ

او ته به وينې اې كتونكې غرونه (يعني وقت نفخة الفزع عطف على ينفخ داخل معه في حكم التذكير، ستا به خيال سي اې ناظره چي دا غرونه ولاړ دي پر خپل حالت يعني لكه پخوا چي وه، او سره د دې چي دا غرونه روان دي لكه تګ د وريځي په چابک والي كي يعني په وريځ چي باد پسې وي تا چي دا غرونه ولوېږي په كښتو ځايو كي د ځكي چي ځكه سره برابره سي.

فائده: دا جمله حال ده له فاعل څخه د ترى يا د مفعول لان فيها ضمير الفاعل والمفعول كليهما.

پوه سه: جمله "وهي تمر آه" حال ده له مفعول څخه د تحسبها چي غرونه ته راجع ؤ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایې: چي ددې رؤيت د غرو ثابت پر خپل ځای او حال هم دا دی چي غرونه په سرعت سره روان وي، وجه يې دا ده چي يو لوی جسم لکه غرونه او يا يو لوی جماعت د خلکو چي سترګي پر شا و خوا احاطه نسي کولای، نو که څه هم دوی روان وي لکن د ناظر په سترګو ثابت هر ځای معلومېږي، كذا قال روح البيان والمظهري وروح المعاني وغيرها.

تنبيه: په دې کي اختلاف دی چي دا مذکور هيئت د غرو به کله وي، روح البيان ويلي دي چي دا وروسته تر نفخة ثاني عند حشر الخلق دی، دليل يې دا ويلی دی چي خدای ﷻ محکه بدله او فراخه کوي او غرونه له منځ لېري کوي، نو ددې لپاره چي اهل محشر هم دا هيئت هائلة ووينې، نو ځکه وروسته حشر الناس بالنفخة الثانية دا مذکوره هيئت د غرو رونما کېږي، او مظهري په بيان کي د وقت ساکت دی، او روح المعاني د ارشاد العقل السليم څخه نقل کړی دی چي دا مذکوره هيئت د غرو چي په سرعت سره روان وي او د ناظرينو په ليدلو ثابت معلومېږي او وروسته تر نفخة ثانيه دی او دليل يې هم ذکر کړی دی لکه فقير د روح البيان څخه را نقل کړی آنفًا.

پوښتنه: په بل ځای کي د قرآن مبارک خو داسي راغلي دي يوم ترجف الارض والجبال وكانت الجبال كثيبا مهيلا. دا خو په وخت کي د نفخه اول ده، او داغه رنګه په بل آيت کي داسي راغلي دي: فاذا نفخ في الصور نفخة واحدة وحملت الارض والجبال فدكتادكة واحدة فيومئذ وقعت الواقعة آه، له دې آيت څخه هم دا فهمېږي چي د غرو لېري کېدل دمخه تر حشر الناس ده چي په نفخه ثانيه کي کېږي يعني په نفخه اولی کي دا کار کېږي؟

ځواب: ددې سوال په ځواب کي روح البيان داسي ويلي دي وهي وان اندكت يعني غرونه که څه هم ټوک ټوک سوي په نېز د نفخه اولی فتسيرها وتسوية الارض بها انما يكونان بعد النفخة الثانية.

درویش وایې: چي وهذا توجيه بعيد، او روح المعاني داسي په زړه پوري توجيه ددې آيتو کړې ده چي فقط د يوم چي په دې آيتو کي راغلی دی دا نوم د حين فراخه چي شامل سي هغه واقعوته چي په نفخة اولی کي پېښېږي يا په نفخه ثانيه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي ېښېږي، او سفاريني رح وايي چي مراد په دې آيت کي قبل النفخة الثانية ده قال صاحب روح المعاني ومن تتبع الاخبار وجدها ظاهرة في ذلک والله اعلم.

درويش وايي: چي خپله رايه ښکاره کول کوم حرج نه دی، نو په دې هر سرې پوهېږي چي د غرو له منځو څخه د تلو او ځمکه هموارول او تبديل الارض غير الارض په عرض او طول کي زياتول حمکت دادی چي اهل محشر من لدن آدم ؑ الی يوم القيامة پر ځای سي که مسلمانان دي او که کافران دي، نو بايد له نفخة الاولی څخه دا کار سر انجام سي، د مثال په توګه يو سړی چي د پر خلک يې راغونښتي وي بايد د مخه تر راتلو د هغو ځای فراخه په اندازه د خلکو ور ته جوړ کړي والعلم عند الله تعالی.

صُنْعَ اللّٰهِ الَّذِیْۤ اَتْقَنَ كُلَّ شَیْءٍ ؕ اِنَّهٗ خَبِیْرٌۢ بِمَا تَفْعَلُوْنَ ﴿۸۸﴾

پوه سه: چي نحات په ور ته ځای کي وايي، هذا مصدر لمضمون جملة متقدمة لامحتمل لها غيره چي دوی دي تاکيد لنفسه وايي ای صنع الله ذالک صنعًا. والمراد بذالک ما صنع الله من وقت نفخ الصور وما ترتب عليه جميعًا "الذي اتقن کل شيئ" هر مخلوق چي ده پيدا کړی دی پر مناسب هيئت او وضع يې پيدا کړی دی، وبالفارسية: استوار کرده همه چيزها را وبيا راست بروجهی که شايد "اِنَّهٗ خَبِیْرٌۢ بِمَا تَفْعَلُوْنَ" په تحقيق خدای ﷻ خبر دی په هغه عملو چي تاسي يې کوئ، نو پر دې ترجمه ما موصوله دی والعائد محذوف ای ما تفعلونه. او يا معنی دا چي خدای ﷻ خبر دی په فعل ستاسي. نو کلمه د ما مصدريه ده، وعلی کل تقدير مقصود دادی چي هر چا ته که مطيع وي او که عاصي وي جزاء به ورکړي مناسب ده د عمل سره، په وروسته آيت کي خدای ﷻ بيان د اعمالو د مکلفينو کوي.

مَنْ جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهٗ خَیْرٌ مِّنْهَا ۚ

پوه سه: چي ابراهيم رح (د يو مفسر نوم دی) په قسم اخستی او ان شاء الله به يې هم نه ويل چي مراد له حسنة څخه لا اله الا الله د اخلاص د لاري دی. دليل يې دادی چي کلمة التوحيد من کل الوجوه حسنة ده او احسن الحسنات ده. او قتاده وايي چي مراد له حسنة څخه اخلاص دی او عام رواة وايي چي مراد له حسنة هر طاعت مامور بها من الفرائض والواجبات والسنن وغيرها دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درويش وايي: چي لفظ د خير اسم تفضيل نه دی بلکې من سببية دی که مراد له حسنة څخه كلمة التوحيد وي، اذ لا شيئ خير من قول لا اله الا الله، فالمعنى يحصل له خير وهو الثواب والامن من العذاب من جهة تلك الحسنة يعني لا اله الا الله وبسببها، او محمد بن كعب او عبد الرحمن بن زيد رح وايي چي كلمه د من تفضيليه ده يعني كه مراد له حسنة څخه مطلق طاعات وي نو معنا داده چي هغه حسنة ثواب يې په لس مثل دی تر اوو سوه (٧٠٠) پوري الى ما شاء الله تعالى من التضاعيف، فافهم هداك الله لدرك دقائق القرآن الكريم.

وَهُمْ مِّنْ فَزَعٍ يَّوْمَئِذٍ اٰمِنُوْنَ ﴿٨٩﴾

او دوی به له بېري څخه په دغه ورځ يعني نفخ الصور په امن کي به وي.

يوه سه: چي قراء د کوفي فزع په تنوين سره وايي لپاره د تنکير او يومئذ په نصب سره وايي على الظرفية والتنكير يفيد الاستغراق، ولي دا جمله په قوت د نفي ده، ولي چي دا قول آمنون په معنى د لا يخافون ولا يحزنون، وقد تقرر في علم النحو وغيره ان النكرة في سياق النفي يفيد الاستغراق، او نور قاريان فزع بې تونينه وايي، يعني فزع ويومئذ ته مضاف بولي، والاضافة ايضًا تفيد الاستغراق.

وَمَنْ جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَكُبَّتْ وُجُوْهُهُمْ فِى النَّارِ ؕ

او څوک چي راسي په بدو سره (يوه سه چي مراد له سية څخه شرک دی بدليل مابعده) نو پر مخانو به اورته يعني د ورځ ته ولوبېږي او يا مراد له وجوه څخه انفس د دوی دي.

فائده: دا جمله عطف ده پر محذوف باندي د جزاء لپاره نه ده لان فاء الجزاء لاتدخل على المعاضي بغير لفظ قد كما تقرر في النحو، فالتقدير من جاء بالسيئة فله جزاء السيئة او يا استحق العذاب فكبت وجوههم الخ.

هَلْ تُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٩٠﴾

الاستفهام للانكار بمعنى النفي يعني جزاء نه درکول کېږي مګر جزاء د هغو عملو چي تاسي کوله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: مشرکان خو خالدًا په دوږخ کي دي، بنص القرآن في مواضع عديدة وبالاحاديث المتواترة وباجماع الامة المرحومة، او ددوی شرک خو مدة عمرهم وُ نو جزاء تر جرم ددوی بالا نه سوه او که څرنګه؟

ځواب: د دوی ټوله عمر په دنیا کي او د آخرت ورځ یوه ورځ ده شپه نه لري پر بله خوا، نو ددوی عمر خو ټوله په شرک کي تېر سو، نو دا بله ورځ چي قیامت دی ټوله به په اور کي وي، نو جزاء ابدي په قیامت کي ددوی د ټوله عمر سره د دنیا برابره سوه.

تنبیه: پوه سه: چي کفر او شرک اعظم د جرائمو او ګنهو دي، چي په بدوالي د هغه مماثل نسته، او د دوږخ سخت ترین د جزاء دی، فاشد الجزاء لاشد المعصية فافهم.

سوال: په مخه آیت کي خو کفار په صیغه د غائب راغلي وه یعني وجوههم في النار او په دې آیت کي مخاطب سوه هل تجزون مخاطب سوه حکمت یې څه دی؟

ځواب: په علم بیان کي وایي چي د خبرو اقسام درې دي (۱) التكلم نحو انا مانحن یاضربت بضم التاء (۲) والخطاب نحو انت وانتم یا ضربت بفتح التاء (۳) والغیبة نحو هو هم یا ضرب زید، د عربو دا عادت دی چي یو وار د تکلم خبري کوي یا خبره واړوي یا خطاب ته یا غیبت ته. او یا مخاطب خبري کوي تر یو وخته بیا خبري تکلم ته واړوي یا غیبت ته، یا اول خبري د غیبت کوي وروسته یې خطاب یا تکلم ته نقل کړي چي مجموع شپږ (۶) قسمه کېږي، دې تبدیل ته دوی التفات وایي چي مثالونه د ټولو په علم بیان کي موجود دي، په دې نقل کي مقصود توجه د مخاطب و خبرو ته ایقاظ دی دده، دا ټوله اقسام د التفات په قرآن مجید کي موجود دي لانه نزل على قانون العربية فافهم، په دې مانحن فيه کي یعني هل تجزون آه ګویا خزنة النار دوی ته خطابًا وایي هل تجزون آه.

إِنَّمَآ أُمِرۡتُ أَنۡ أَعۡبُدَ رَبَّ هَٰذِهِ ٱلۡبَلۡدَةِ ٱلَّذِي حَرَّمَهَا

زه امر کړل سوی یم له جانبه څخه د خدای ﷻ چي زه به عبادت د رب ددې ښار چي مکه ده کوم.

پوه سه: چي رب یې مضاف کړی و هذه البلدة تشريفًا للمضاف اليه تنبيهًا على ان في الكعبة الحسناء من التجليات المخصوصة من جناب ربها "الذي حرمها"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صفت د رب دی یعني جعلتها حرمًا محترمًا لا یسفک بها دم ولا یظلم بها احد و اعظم المظالم فیها عبادة غیر الله فیها ولا ینفر صیدها الی اخیر الحدیث الوارد.

پوه سه: چي په دې احسان او منت اچول دي پر قریشو چي خدای ﷻ ستاسي استوګنځای په امن کي وګرځاوه چي په نورو عربو کي شائع دی مفار او فساد نسته په کښي.

وَلَهٗ كُلُّ شَيْءٍ وَّ اُمِرْتُ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ ﴿۹۱﴾

او خدای ﷻ لره دي هر شی ملکًا و خلقًا چي په عموم کي دا بلدة الحرام هم داخل دي (دا عطف دی پر حرمها، و التقدیر الذي له کل شیءٍ)

پوه سه: چي کلمه د باء مقدر ده د مخه تر ان یعني بان، والمعنی زه امر کړل سوی یم چي زه ګرځم له منقادینو څخه د خدای ﷻ یا معنی دا من الثابتین علی ملة الاسلام و المآل واحد. دا جمله عطف ده پر امرت ان اعبد آه باندي.

وَاَنْ اَتْلُوَا الْقُرْاٰنَ

او په دې امر کړه سوی یم چي زه به تلاوت د قرآن کوم یعني په تلاوت د دعوت د خلکو و ایمان ته. لامجرد التلاوة، بیضاوي وایي چي خدای پاک امر کړی رسول الله ﷺ چي ته دوی ته دا خبره وکړه وامرت آه وروسته تر دې چي د مبدء او معاد او شرح د احوالو د قیامت وکړه سوه چي اوس ماته امر وکړه سو چي دعوت او بلنه د خلکو و خدای ﷻ ته پوره سوه او حقوق د ماکان في ذمته علیه الصلوة والسلام هم پوره سوه، اوس پر علیه الصلوة والسلام اشتغال په خپل ځان سره پاته دی والاستغراق في عبادة ربه تبارک وتعالی، والتقدیر قل لهم انما امرت آه چي تلاوت د قرآن کریم په غور سره یو د هغو شیانو دی چي سري ته استغراق في عبادة ربه ورته په نصیب کوي.

درویش وایي: چي پر تقدیر د بیان د بیضاوي مراد له تلاوت څخه تلاوة التبلیغ نه دی کما قلنا سابقًا متابعةً لبعض المفسرین.

فَمَنِ اهْتَدٰى فَاِنَّمَا يَهْتَدِيْ لِنَفْسِهٖ

کدچا هدایت پیدا کړی او توحید د خدای ﷻ یې شروع په عبادت سره یعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ستا په دعوت سره، نو دده لارد حق پیدا کول دده نفع ده چي له عذاب څخه د دنيا او آخرت یې ځان خلاص یعني هغه سړی دی پر تا احسان نه اچوي.

وَمَنْ ضَلَّ فَقُلْ اِنَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ﴿۹۲﴾

او که چا د حق لار نه کړه پیدا بعد تمام الدعوة من جانبک ته و هغه ته و وايه چي زه نه یم مګر له بیرونکو څخه ستاسي له عذاب څخه د خدای ﷻ یعني ستاسي پر هدايت وکیل نه یم ولا علي الا البلاغ المبين او ستاسي د ضلال وبال زما په ذمه کي نه دی.

وَقُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ سَيُرِيْكُمْ اٰيٰتِهٖ فَتَعْرِفُوْنَهَا ط

او ته و وايه الحمد لله (يعني على نعمة النبوة و التوفيق على آداء الرسالة اليكم والدعوة الواجبة عليک) ژر دی چي خدای ﷻ به ووینې په تاسي ایها الضالون المكذبون دلائل د قدرت خپل چي دلالت به وکړي زما پر حقیت د رسالت یا په دې دنیا کي بې تاسي ووينئ كما وقع في يوم بدر من قتل (۷۰) و اسر (۷۰) و الفرار والهزيمة في يوم بدر الى غير ذالک من المعجزات الباهرات كشق القمر باشارته وتسبيح الحصٰى في يد ابى جهل وشهادة ان لا اله الا الله او یا په آخرت کي من عذاب النار "فتعرفونها" او دغه آیات به تاسي ته معلوم سي چي محمد ﷺ رسول بر حق ؤ، لکن معرفت د آخرت وه تاسي ته فائده نه کوي، سعدي شيرازي قدس سره وايي:

تو پیش از عقوبت در عفو کوب ...... که سودی ندارد فغان زیر چوب

وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ﴿۹۳﴾

او نه دی ستا خدای ﷻ غافل او ناخبره له هغو کارو څخه چي تاسي عمل کوئ کلمه د ما یا مصدريه ده اى عن عملكم او یا موصوله ده و العائد محذوف اى ما تعملونه، پر هر تقدير مراد دا دی چي هر چا ته به جزاء ور کړل سي مطابق دده د عمل سره.

درویش وايي: چي الحمد لله و المنة وعلى سيدنا محمد الصلوة و التحية وعلى آله وصحبه الكملة البررة، چي تفسير د سورة النمل د دوشنبې په ورځ پر لس بجې پنځه د محرم الحرام سنه (۱۴۳۱) هـ پای ته ورسېدی، يا الله منک والیک تبارکت وتعالیت. تر دې وروسته تفسير د سورة القصص شروع کېږي ان شاء الله تعالى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه: چي روح البيان وايي چي سورة القصص مكية دى او آيتونه يې اته اتيا دي على ما في التفاسير المعولة من المختصرة والمطولة او روح المعاني وايي چي دا سورة مكية دى ټوله وهو مذهب الحسن وعطاء وطاؤس وعكرمه رحمهم الله او مقاتل وايي چي دا آيت الذين آتيناهم الكتاب الى قوله تعالى لانبتغي الجاهلين مدني دى، او طبراني له ابن عباس رض څخه روايت كړى دى چي دغه آيتونه يعني الذين آتيناهم الكتاب الى قوله تعالى لانبتغي الجاهلين او اخير د سورة الحديد په اصحابو كي د نجاشي چي مديني منورې ته راغلي وه او په غزاء كي د احد حاضر وه، او بل روايت د ابن عباس رض داسي راغلى دى چي دا آيت مذكوره په جحفة كي نازل سوى دى چي عليه الصلوة والسلام هجرت كاوه او بعض مفسرين وايي چي په منځ كي د مكة المكرمة او د جحفة نازل سوى دى والله اعلم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُورَةُ الْقَصَصِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ ثَمَانٌ وَثَمَانُونَ آيَةً وَفِيهَا تِسْعُ رُكُوعَاتٍ

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

طٰسٓمٓ ﴿١﴾ تِلْكَ اٰيٰتُ الْكِتٰبِ الْمُبِيْنِ ﴿٢﴾

دروېش وايي: چي بيان د حروف متشابهه ؤ او مقطعات قرآنيه ؤ په اول کي د سورة البقرة تېر سوی دی، او مذهب د علماؤ هم بيان سوی دی لکن قال الله تعالی ومايعلم تاويله الا الله، بالوقف اللازم وهو مذهب ابی حنيفة رح ومحققي المذهب الاخر، اما سره د هغه روح البيان والا چي ستر حنيفي او نامور صوفي هم دی د طٰسٓمٓ لوی نژدې و يوه مخ ته تاويل کړی دی.

يوه سه: چي تلک اشاره ده ودې سورت ته او اشاره د بعيد يې لپاره د تعظيم ده، آيتونه مخصوصه دي د قرآن کريم چي ظاهر دی اعجاز دده (دا د مبين ترجمه ده)

يوه سه: چي دا ترجمه پر دې تقدير ده چي باب د ابان چي مبين څخه دي مشتق دی لازمي رغلی دی او ابان متعدي هم راغلی دی چي پر هغه تقدير يې ترجمه داده چي قرآن بيانونکی دی د حرام او حلال او د نورو احکامو شرعيه ؤ او د مافيها من القصص والامثال والوعد والوعيد الی غير ذالک.

نَتْلُوْا عَلَيْكَ مِنْ نَّبَاِ مُوْسٰى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٣﴾

التلاوة القرائة المتتابعة يعني بتلاوة جبرئيل ؑ (في مدة ٢٣/٢٠، سنة) پر تا باندي، د خبرو څخه د موسٰی ؑ او فرعون، د هغه قوم لپاره چي پر خدای ﷻ او رسول او قرآن ايمان لري، قيد به لان المنتفعون بهذا هم المؤمنون که څه هدايت د قرآن عام دی ولذالک ورد في موضع آخر هدًی للناس.

يوه سه: چي بالحق ظرف مستقر دی، حال دی له نبا، څخه ای مقرونًا بالصدق، او يا حال دی له فاعل څخه د نتلوا ای محققين ومتلبسين بالصدق.

دروېش وايي: چي د سورت القصص مناسبت د ماقبل سره يعني سورة الشعراء و سورت النمل دادی چي په دې سورت کي تفصيل دی د ما اجمل في السورتين المذکورتين، جلال الدين السيوطي رح وايي چي خدای ﷻ چي حکايت وکړی د قول د فرعون و موسٰی ته الم نربک فينا وليدًا الی قوله ففررت منکم لما خفتکم (يعني بسبب قتل القبطي الی اخير الآية) هذا ما في سورة الشعراء، بيا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په سورة النمل کي خدای ﷻ حکایت وکړی د قول د موسیٰ ؑ لاهله اني آنست نارًا الی اخیر الآیة چي دا قول د موسیٰ وروسته تر فرار د فرعون څخه ؤ او دا دواړه قولونه د شعراء او طٰس پر طریق د اجمال وه، نو په دې سورت کي خدای ﷻ تفصیل د ما اجمل في السورتین المذکورتین وکړی، نو په دې سورت کي ابتداءً تمام حالات د فرعون او دې قصې ته د پر بسط ورکړی وروسته یې سبب د قتل د قبطي بیان کړی دی، او بیا د موسیٰ ؑ ورتګ و قریې ته د شعیب ؑ او تزویج د موسیٰ ؑ د ابنة شعیب ؑ سره، نو ګویا دا سورت شرح د سورت طٰس او د سورت الشعراء ده، عن ابن عباس و جابر بن زید ؓ ان الشعراء نزلت ثم نزلت طٰس ثم سورة القصص انتهی، قول السیوطي ؒ ونقل البغدادي ؒ عنه.

إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا

په تحقیق فرعون، چي نوم یې مصعب بن الولید بن الریان ؤ، تکبر او تجبر او لوړوالی یې شروع کړی په مځکه کي د مصر حتی چي تجبر یې د خدایي و دعوې ته ورساوه، او ده وګرځول اهل د مصر "شیعًا" جمع د شیعة ده ای فرق مختلفه، چي بعض فرق ته یې نهایت اعزاز ورکړی وهم القبط، او د بعضو د پر سپکاوي لاره یې په مخه واخستل وهم بنو اسرائیل، او په بني اسرائیلو یې کښنتونه کول او په بعضو به یې اوښان، میږي او پسونه وغیره پوول، او بعض یې د سرایو او د ګل کاری په کارو اخته کړي وه، او ددوی د ښځو پر غاړه به یې د قبطیانو د کورو خدمت په غاړه اچولی ؤ تاچي دوی وده ته متفق نسي او مملکت د لاسه څخه ونه باسي.

يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِنْهُمْ

ضعیف او خوار یې استعمالول بعض ددوی یعني له اهل څخه د مصر چي بني اسرائیل وه کما مر عنقریب.

بوه سه: چي دا جمله استینافیه ده، جواب د سوال ده چي څرنګه یې شیع ګرځولي وه، او یا حال ده له فاعل څخه د جعل.

يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ ۚ

دا جمله بیان ده د یستضعف چي ده به حلالول (ذبح کول) زامن ددوی بعد

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وضع الحمل، نسبت د ذبح يې و فرعون ته وكړى لانه سبب الامر لذالک الذبح.
ددې سبب دا ؤ چې فرعون يوه شپه خوب ليدلى ؤ چې له بيت المقدس څخه يو اور
راووځي او پر مصر شاو خوا راوګرځي او قبطيان تو له پکښې وسوځل سي او بني
اسرائيل سالم پاتته سي، نو ده چې له كاهنانو څخه پوښتنه او تعبير ددې خوب
وپوښتى هغو ورته وويل چې په بني اسرائيلو كي به يو مولود وزيږي چې ستا
مملكت به درخراب كړي. كذا اخرج عبد الرزاق وعبد بن حميد وابن المنذر عن
قتادة، نو ده احمق تدبير د تقديره سره پر لار واچاوه ''وَيَسْتَحْيِ نِسَآءَهُمْ'' اى
يترکو بناتهم حتى تكبروا، يا له دې سببه چې د ښځو سره خو دده كار نه ؤ. ولې
چې كاهنانو هغه د خوب سړى نر ورته معرفي كړى ؤ، او يا ددې لپاره چې د
قبطيانو د كورو كارونه به كوي.

يوه نکته: چې جمله ''وَيَسْتَحْيِ نِسَآءَهُمْ'' بدل ده من قوله يَسْتَضْعِفُ.

درويش وايي: چې بدهي ضعف د بني اسرائيلو دى چې دوى د نوزاده شرين
زامنو ذبح نسو اى دفع كولاى.

إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُفْسِدِينَ ﴿٤﴾

په تحقيق ؤ فرعون له فساد پيشه ظالمو كسانو څخه چې د پر كوچنيان د انبياؤ
له نسل څخه يې په قتل ورسول د خيال فاسده لپاره. ولې چې قتل ده ته فائده نه
كول لان الكاهن ان كان صدق فما الفائدة في القتل وان كذب فما الوجه للقتل.

وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ

او موږ اراده وكړه ددې چې تفضل او احسان وكړو پر هغه دله چې فرعون
ضعيف استعمالول يعني بني اسرائيل يعني د فرعون له ظلم څخه يعني د ظالم له
ظلمه يې خلاص كړم.

سوال: نريد خو مضارع ده يا د حال يا د استقبال لپاره ده، او ددې آيت مضمون
خو په زرو كونو كلونه د مخه تر نزول القرآن ؤ؟

ځواب: دې ته استحضار د حالت ماضيه وايي يعني چې په ماضي زمانه كې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یو تعجب آمېزه کار پېښ سوی وي حاضرینو کسانو ته یې حاضره وي چي تعجب ورته وکړي.

وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ ﴿٥﴾

او وګرځوو دغه مستضعفین ''ائمة'' جمع د امام ده وهو من يقتدى به في امور الدين ودعاة الخير كذا قال مجاهد رحمه الله (وفي كشف الاسرار اى انبياء او په منځ کي د موسی او د عیسی علیهما السلام زر نبیان وه له بني اسرائیلو څخه) او وګرځوو موږ دوی میراث خواره د فرعون او دده د قوم.

فائده: وراثت یې تر امامت وروسته کړی لانحطاط رتبة الوارثة عن الامامة یعني که څه هم وراثت د ملک فرعون پر امامت د مخه دی ونمکن لهم في الارض، او موږ دوی ته ځای د بود و باش ورکړو چي په امان پکښې او سېږي په مځکه کي یعني د مصر او شام او په ځایو کي به د دوی امر چلېږي.

وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُمْ مَا كَانُوا يَحْذَرُونَ ﴿٦﴾

او موږ وو ینو په فرعون او په هامان چي دده وزیر وُ کل اختیار ''منهم'' د بني اسرائیلو له خوا څخه هغه شي چي دوی ځندي بېربدل چي زوال د مملکت او وزارت پر لاس د یوه سړي وي د بني اسرائیلو څخه، نو خدای جل جلاله هغه په ولیدل پر لاس د موسی علیه السلام من بني اسرائيل، حسین کاشفي رحمه الله وایي: دویدن این صورت را در وقتیکه در دریا علامت غرق شدن مشاهده کردند واسرائیل تفرج کنان بر ساحل بنظر در آوردند که بسبب ظلم وتعدی مغلوب ومقهور شده مظلومان وبیچاره گان بمراد رسیده وسرافراز شدند وسر این مقوله ''يوم المظلوم على الظالم اشد من يوم الظالم على المظلوم'' آشکارا شد انتهى.

درویش وایي: چي په دې عبارت کي د حسیني رحمه الله هغه سوال دفع سو چي فرعون او هامان او لښکرونه د دوی چي غرق سوه، نو کوم ده چي دوی ولیدی د بني اسرائیلو له خوا ماکانوا یحذرون. ولي جي دوی د دغه سره سمدستي مړه سوه، وحاصل الدفع چي فرعون او هامان او جنود د دوی علامات ولیدل په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ستر کو چي درياب کوڅه کوڅه دی او بني اسرائيل د درياب پر هغه بله غاړه سيل کونکي ولاړ دي، نو دوی پوه سول چي دا کوڅې کوڅې درياب زموږ د غرق لپاره دی فافهم، حسيني رح وايي:

ای ستمگار بر اندیش ازان روز سیاه ...... که ترا شوی ظلم افگند از جاه بجاه

او په حديث نبوي صحيح کي راغلي دي، اسرع الخير ثوابًا صلة الرحم، واعجل الشر عقوبة البغی آه ای الظلم..... شيخ سعدي رح ميگويد:

خبریافت گردن کشی در عراق........ که میگفت مسکینی از زیر طاق

توهم بر دری هستی امید وار........ پس امید بر در نشینان بر آر

نخواهی که باشد دلت در مند........ دل در مندان بر آور ز بند

پریشانی خاطر داد خواه........ بر اند از دار مملکت بادشاه

تحمل کن ای ناتوان از قوی........ که روزی توانا تر ازوی شوی

وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰٓ أُمِّ مُوسَىٰٓ

او موږ وحي وکړې و مور ته د موسیٰ ع، بغوي رح وايي چي د ټوله امت د علماؤ پر دې اجماع ده چي دا وحي د ام موسیٰ ع وحي د نبوت نه دي او پر دې اتفاق دی چي نبي نه وي مګر نر، قال قتاده رح قذف في قلبها وهو الالهام في اصطلاح الصوفية، او له دې جنسه څخه دی منام صادق الموجب لليقين واطمنان القلب.

مسئله: دا آيت پر دې دلالت کوي چي الهام هم له اسبابو څخه د علم دی وان كان علمًا ظنيًا كما في كتب العقائد، لكن المعتبر الهام القلوب الزاكية والنفوس المطمئنة.

سوال: د الهام او د وسوسې څه فرق دی؟

ځواب: په الهام کي زړه مطمئن وي، او په وسوسه کي زړه متردد او مشوش وي. او علم الهدی فرموده که شايد رسول يعني ملک فرستاده باشد، يعني اتاها ملک كما آتى مريم من غير وحي نبوة، قال الله تعالى واذ قالت الملائكة يامريم الآية.

درويش وايي: چي فرعون چي په اثر د خپل خوب کشت وخون د ابناء د بني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسرائیلو شروع کړی چي تخمیناً اوویا زره (۷۰۰۰۰) یا څه بالا کوچنیان یې قتل کړه او د بني اسرائیلو په قوم کي وباغوندي مرینه جاري سوه. نو مشران د قبط فرعون ته ورغله چي تا په کشتار د زامنو د بني اسرائیلو لاس پوري کړی دی او د بلې خوا په بني اسرائیلو وبايي مرض ګډ سوی دی. اخیر الامر که دا دواړه اسباب جاري وي، نو بني اسرائیل به یکلخته ختم سي او کاروبار به قبطیانو ته پاته سي. او هیڅ قبطي به د خدمت سړی نه لري، نو فرعون پر دې فیصله وکړه چي یو کال دي د بني اسرائیلو کوچنیان وژل کېږي او بل کال دي نه وژل کېږي، نو هارون؏ چي تر موسیٰ؏ مشر ؤ په هغه کال پیدا سو چي کوچنیان د بني اسرائیلو یې نه وژل نو دی پاته سو. او هغه کال چي موسیٰ؏ د مور یعني یوخابز بنت لاوي بن یعقوب؏ وه چي حمل د موسیٰ؏ یې په رحم کي سو او دا کال هغه کال ؤ چي فرعون کوچنیان د بني اسرائیلو وژله.

پوښتنه: په بني اسرائیلو کي هر کال په زرو ښځي امیدواره کېدلې، نو فرعون څه په خبرېدی چي دې په زرو ښځو نر وزېږاوه او که ښځه؟

ځواب: فرعون په ډېره پیمانه دایي ګانې ښځي د بني اسرائیلو پر کورو ګومارلې وې چي هره میاشت به ورتلې او د حواملو ښځو درک به ور معلومېدی، نو د بني اسرائیلو ښځه چي به یې حامل په خیال ورغله د هغې معلومات د وضع الحمل به یې کاوه، چي وخت د زېږېدلو به یې رانژدې سو هغه دایي به ورغله که به یې نر راوړی قتل به یې کړی او که به ښځه وه پرې به یې ښول.

سوال: تاسي د مخه وویل چي موسیٰ؏ په هغه کال پیدا سو چي فرعون د بني اسرائیلو هلکان وژل، نو هغه دایي چي د موسیٰ؏ د مور کور ته ورتله هغې ته درک د حمل نه معلومېدی او که څرنګه؟

ځواب: د موسیٰ؏ مور چي امیدواره سوه هیڅ اثر د حمل په قدرت د رب العزة پر دې نه معلومېدی، یعني چي یا دې نس لوی سي یا دې رنګ لکه امیدواره ښځي متغیر سي یا دې په تیو کي شیدې پیدا سي وذالک شیئ یمن الله عزوجل به علی بني اسرائیل حتی چي د موسیٰ؏ مور د شپې لنګه سوه چي نه قابله وه او نه شیطانت کونکې، ولم یطلع علیها احد من القوابل الموکلة من جانب فرعون علی حبالی بني اسرائیل ولا غیرهن الا اخت موسیٰ؏ یعني مریم، قال و اوحینا الی ام موسیٰ آه کمامر.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اَنْ اَرْضِعِیْهِ ۚ

یو سه: چي ان مفسره دي په معنی د ای دی یعني د اوحینا تفسیر دی یا ان مصدریه دی، والباء محذوفة ای بان والمعنی ته شیدې خپلي ورکوه تر هغه وخته پوري چي ته یې پټ ساتلای سې، بغوي رح وایي چي په مده کي د شیدو ورکولو د مور اختلاف دی، بعض مؤرخین وایي چي اته میاشتي مور په کور کي موسیٰ ؑ ته خپلي شیدې ورکولې، او بعض وایي څلور میاشتي وې، او بعض وایي درې میاشتي وې، او مور به یې موسیٰ ؑ په غېږ کي پرې ایستی تی به یې ورکاوه او په قدرت د خدای ﷻ نه موسیٰ ؑ بنور پېدی او نه یې ژړل.

فَاِذَا خِفْتِ عَلَیْهِ فَاَلْقِیْهِ فِی الْیَمِّ وَلَا تَخَافِیْ وَلَا تَحْزَنِیْ ۚ

پس هغه وخت چي ته وبېرېږې پر ده باندي یعني چي جاسوسان د فرعون به یې ووینی او فرعون به په خبر کړي او فرعون به یې راځخه قتل کړي، نو دوی وغورځوه د نیل په رود کي او ته بېرېږه مه چي رود به یې مړ کړي، او غم مه کوه په فراق کي دده.

اِنَّا رَآدُّوْهُ اِلَیْكِ وَجَاعِلُوْهُ مِنَ الْمُرْسَلِیْنَ ۝۷

موږ به بیرته رد کړو تا ته یعني په لږ وخت کي چي باره به ته بېغمه دی روزې او دیکه بال به یې کوې (دا جمله علت دی د فالقیه تر پایه پوري) او دی ګرځوو یعني په استقبال بعید کي د رسولانو له ډلې څخه، دا بل بشارت ؤ و مور ته د موسیٰ ؑ.

فائده: عطاء او ضحاک رح له ابن عباس رض څخه روایت کړی دی چي اول بني اسرائیل په مصر کي په ډېر کثرت کي وه، لکن چونکه دوی معاصي شروع کړه او له امر بالمعروف او نهي عن المنکر څخه لاس پر سر سوه، نو خدای ﷻ پر دوی قوم قبط مسلط کړه چي مشري یې فرعون ولید بن مصعب بن الریان کوله، نو هغه ؤ چي پر بني اسرائیلو خدای ﷻ دې د ذلت ژوند مسلط کړی کما مر من قبل، حتی چي بیا دوی ته خدای ﷻ د عزت ژوند ورېه برخه کړی د موسیٰ ؑ د رسالت په برکت.

فائده: د موسیٰ ؑ د ولادت موضوع فقیر په تفصیل سره وځېړل چي د موسیٰ په ولادت کي هیڅ قابله له قوابلو څخه د فرعون نه ده خبره سوې، لکن ابن عباس رض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چي د ام موسیٰ د ولادت وخت چي نژدې سو يوه قابله يعني دايي د هغو
قوابلو څخه چي فرعون پر اميد وارو ښځو د بني اسرائيلو ګمارلې وې. يوه قابله د
موسیٰ د مور سره ډېره جوړه وه، نو څه وخت چي د موسیٰ ؑ مور ته درد زه ښکاره
سو هغه قابله يې راوغوښتل، نو د موسیٰ ؑ مور ورته وويل چي پر ما خو د
زېږېدو وخت راغلی زما او ستا ديرينه محبت به ما ته څه فائده وکړي؟ هغې
ورته وويل نعم، نو قابلې خپل د دوا وغيره د لاري خپل عمل شروع کړی، موسیٰ ؑ
چي له موره جلا سو او پر مځکه ولوېدی، نو نور او رڼا د موسیٰ د سترګو تر منځ
وځلېده، نو د قابلې ټوله بند ونه په حرکت سوه ددې نور له هيبته. او خدای ﷻ د
قابلې په زړه کي تر اندازه تېر محبت د موسیٰ ؑ ورواچاوه، نو قابلې ام موسیٰ ؑ ته
وويل ماجئت اليک حين دعوتني الا ومن ورايي قتل مولودک يعني جاسوسان د
فرعون راپسې دي لکن وجدت لابنک حبًا ما وجدت حب شيئ مثل حبه، قابلې
ورته وويل چي خپل زوی دي ساته زه نه کار په لرم يعني د قتل او نه يې نورو
قوابلو ته جاسوسي کوم، قابله چي ووتل نور جاسوسان راغله دروازې ته چي کور
ته ورسي درک ځان ته معلوم کړي، نو د موسیٰ ؑ خور چي په دروازه کي حرس
وليدل وه يې ويل: يا اماه هذا الحرس بالباب، مور يې ژر په هول موسیٰ ؑ په يو
ټکره کي وپېچی په تنور کي چي اور هم پکښې بل ؤ وايې چاوه، حرس چي راغله د
موسیٰ ؑ مور ناسته وه رنګ يې هم د لنګې ښځې پر دول تغير نه وکړی، نو هغو ام
موسیٰ ته وويل چي قابلې څه کول چي ستا کور ته رغلې وه؟ ام موسیٰ ؑ ورته
وويل چي زما اشنايه وه زما د ملاقات لپاره راغلې وه، نو جاسوسان چي له کوره
ووتل د ام موسیٰ ؑ عقل سر ته ورغلی، نو خپلې لور د موسیٰ خور ته يې وويل چي
ما کوچنی څه کړی؟ هغې ورته وويل لا ادري! اخير ام موسیٰ د کوچني ژړا له
تنوره واورېدل، سمدستي ورولاړه سوه که ګوري موسیٰ ؑ په ټوکر کي پېچلی
پروت دی، راوه يې کښې خدای ﷻ و موسیٰ ؑ ته اور د تنور بردًا وسلامًا کرځولی
ؤ کما لابراهيم ؑ، راوي وايي چي چونکه د موسیٰ ؑ مور وليدل چي فرعون په
طلب کي د هلکانو د بني اسرائيلو سر ګرم کوشان دی، خافت علی ابنها، نو
خدای ج ددې په زړه کي الهام ورواچاوه چي تابوت يعني صندوق جوړ کړه.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

درويش وايي: چې تابوت په اصلاح هغه د لرګو صندوق مثل ته وايي چې مړي پکښې ايږدي، نو د موسیٰ ؑ مور ته چې الهام وسو چې په دې تابوت کې موسیٰ ؑ پرې باسه او رود نیل ته يې وغورځوه، نو ام موسیٰ ؑ يو نجار ته چې د فرعون د قوم يعني قبطيو ورغله او يو کوچنی تابوت يې څخه دي رانيوی، نو نجار ورته وويل چې دا کوچنی تابوت ته څه په کوې؟ دې ورته وويل چې زما کوچنی زوی دی په دې تابوت کې يې پټوم د قاتلانو څخه يعنې رشتيا يې ورته وويل، خير ام موسیٰ ؑ چې تابوت رانيوی او يو يې وړی، حسين کاشفي در تفسير حسيني ميګويد: که نام آن نجار خربيل بن صور بود ابن عم فرعون، چون صندوق تيار کرد و بمادر موسی داد. وپيش از اين مادر موسی بدو ګفته بود که ما کودک نوزاده درو نګاه ميکنم از ګماشته ګان فرعون، آن نجار نزد ګماشته ګان فرعون امد که حال طفل بني اسرائيل بايشان برساند تا اورا بکشد، آنجا که رسيد زبانش بسته شده هيچ ګفته نمی توانست بخانه خود آمد خواست که نزد فرعون برود و اورا از حال کودک اسرائيلی آګاه کند بقدرت خدا چشمش نابينا شد، بس او دانست که آن طفل اسرائيلی که کاهنان بفرعون خبر داده بودند اينست في الحال نا ديده باو ايمان اورد بصدق واخلاص، زبان وديده او بر حال خود ګشته وپسان کی درقرآن کريم می آيد مؤمن از آل فرعون هم اوست انتهی بتغير يسير وزيادت قليله.

نو وروسته مور د موسیٰ ؑ هغه د صندوق په عبارت د تابوت غارونه او چاکونه په قار (چې لکه لوک داسې دي) بند کړه د دننه د خوا يې وربند کړه او موسیٰ ؑ ته يې دننه په صندوق کې ځای ور او ار کړی دی يې پر پرې ايستی او سر يې پسې بند کړی و رود نیل ته يې وروه غورځاوه د شپې په وخت کې، ابن عباس رضی الله عنه او نور راويان هم وايي چې فرعون يوه لورد رلوده چې بل اولاد يې هم نه وُ او پر فرعون ډېره ګرانه هم وه، او هره ورځ به دې درې حاجته و خپل پلار فرعون ته ويل او هغه به اجراء کول، او دې نجلۍ شديد پيس چې په عربي يې برص بولي پر مخ درلودی او فرعون د دې د علاج لپاره طبيبان د مصر جمع کړي وه خو چا يې علاج نسو ای کولای، بيا يې ساحران سره جمع کړي وه هغو چې د فرعون د لور په برص کې غور او فکر وکړی، نو يې دې ته وويل لاتبرئنی الا من قبل البحر (يعني رود نيل) چې په رود نيل کې مشابه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د انسان پیدا کېږي د هغه ناري چې ته په برص پوري و موږې پس به دي جوړ سي، او ساحرانو تاریخ او ورځ هم ورته بیان کړې وه چې په فلانی ورځ په وخت کي د راختلو د لمر دا انسان به په رود نیل کي په یو تابوت کي پیدا سي، نو چي ورځ د دوشنبې سوه فرعون د لمر خاته په وخت کي و هغه مجلس ته چي د رود نیل پر غاړه به دی کښېنستي ورغلی او دده ماینه آسیه بنت مزاحم هم ورسره وه او د فرعون لور سره د نورو مینځیانو هم راغله چي د رود نیل پر غاړه کښېنستي او بازي یې سره کولې او یو پر بل به یې اوبه پاشلې چي ناګاه په رود نیل کي تابوت را روان دی او څپې د رود نیل یې ګاهي ډوب ګاهي ښکاره کړي. فرعون و هم نشینو ته وویل چي په رود نیل کي دا یو شی چي د درختي په بېخ کي بند سو، خدمتګارانو ته یې وویل چي ورسئ رایې وړئ دستي نفر په کښتیو کي سپاره سوه د هر طرفه خو تابوت یې په ډېره چټکی سره د فرعون مخ ته کښېښو، فرعون و خلکو ته وویل چي خلاص یې کړئ، د هیڅ چا په خلاصېدلو کي طاقت نسو پیدا، بیا فرعون امر و کړی چي سر یې پر مات کړئ. هغه یې هم له وسه نسوه پوره، نو آسیه د فرعون ماینه ورته راغله. نو دې په دننه کي نور ولیدی چي بل هیڅ چا دا نور نه ؤ لیدلی، دې چي معمولي کوشش وکړی د تابوت سر خلاص سو، دننه یو کوچنی پکښې پروت ؤ او په تندي کي یې یو نور برېښېدی او بته ګوته یې په خوله کي وه رودل یې، دې چي دا ګوته یې له خولې څخه څندي را وکښل شیدې ترتوی سوې، نو خدای ﷻ د آسیې په زړه کي ډېر لوی محبت د موسیٰ ؑ پیدا کړی، او فرعون ته چي یې ورښکاره کړی د هغه محبت پر راغلی ابنة فرعون چي مخ یې پیس ؤ په چټکی راغله او د موسیٰ ؑ له خولې څخه یې دده ناړي را وکښلې او په برص پوري یې و مښوولې، ځای پر ځای ددې پیس جوړ سو، نو دې موسیٰ ؑ مچ کړی او په زړه پوري یې ټینګ ونیوی، وروسته د قبط بعض ګمراهانو فرعون ته وویل ایها الملک انا نظن ان ذالک المولود الذي تحذر منه من بني اسرائیل هو هذا المولود رموه في البحر خوفًا منک، نو فرعون یې هم نیت او قصد د قتل وکړی، لکن آسیې ورته وویل کما سیجیئ في القرآن الکریم "قرة عین لي ولک لا تقتلوه عسی ان ینفعنا او نتخذه ولدًا" وکانت آسیة لاتلد بعد البنت المذکورة، نو آسیې و فرعون ته وویل چي دا کوچنی ماته را و بخښه زه به یې تربیه کوم ځېل زوی به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې زګرځوم. فرعون ورته وویل چي زه خو هیڅ ضرورت نه ورته لرم ستا يې قرة العين. وفي الحديث الصحيح قال رسول الله ﷺ چي كه فرعون په هغه ورځ ويلي واى هو قرة عين لي كما هو لك فهداه الله كما هداها الله ﷻ. نو آسيې ته يې وويل چي نوم پر كښېږده، آسيې ورته وويل چي نوم يې موسٰى دى لانا وجدنا بين الماء والشجر، مو اوبو ته وايي، سٰى درختي ته وايي.

فَالْتَقَطَهٗۤ اٰلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُوْنَ لَهُمْ عَدُوًّا وَّحَزَنًا ؕ

نو واخستي موسٰىؑ جنود د فرعون چي وګرځي دغه موسٰى چي د درياب نيل څخه راوخستي د دوى لپاره دښمن چي رجال بې وروژني او غم وګرځي چي ښځي د دوى خپلي مينځياني وګرځوي.

پوښتنه: فرعون او جنود د ده موسٰىؑ د دې لپاره له دريابه نه دى راكښلى چي د دوى لپاره غم جوړ سي، بلكې آسيې دى بنوت او د قرة اعين لپاره واخستى؟

ځواب: لام د ليكون لپاره د غرض نه دى بلكې دې ته لام عاقبت وايي يعني عاقبة الامر د دوى لپاره دښمن او غم وګرځېدى وفي العربية لمثل هذه اللام امثلة كثيرة كما قيل لدوا للموت، زېږئ لپاره د مرګ يعني عاقبت مو مرګ دى. وابنوا للخراب، او بناوي كوئ لپاره د خرابېدلو يعني عاقبت د بناء كه څه هم ډېره محكمه وي خراب دى، او بعض ملايان وايي چي دا دوې جملې حديث دى لكن صحيح دا ده چي مقوله ده.

اِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ وَجُنُوْدَهُمَا كَانُوْا خٰطِـِٕيْنَ ۝

په تحقيق فرعون او هامان او د دوى جنود لښكر وه خطاوتلي په هغه فعل كي چي د موسٰى په طلب كي د دوى په زرو اطفال د بني اسرائيلو ووژل چي موسٰى نه پيدا كړي بيا په تربيه د هغه پيل وكړي اخير الامر چي هغه موسٰى لوى سي د دوى سر به هغه وكړي چي د دوى خندي ببربدله.

وَقَالَتِ امْرَاَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّيْ وَلَكَ ؕ لَا تَقْتُلُوْهُ ۖ

او وويل مايني د فرعون يعني آسية بنت مزاحم بن عبيد بن الريان الذي كان فرعون مصر في زمن يوسف، او بعض وايي چي د فرعون مايني آسيه د بني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسرائیلو ځخه د سبط ځخه ده کانت من خیار النساء وکانت من بنات الانبیاء وکانت ام المساکین چي رحم یې پر کاوه او صدقات یې ورکولې.

درویش وایي: چي وهب بن منبهؒ ویلي دي چي تابوت چي یې په حضور کي د فرعون خلاص کړی او موسیٰؑ پکښې پروت ؤ، فرعون چي ورته وکتل وه یې ویل عبراني من اهل الاعداء چي دا کوچنی عبراني دی یعني د بني اسرائیلو ځخه دی چي زما دښمنان دي د فرعون درباب د غم او غصې پر جوش راغلی غو ښتل یې چي مړیې کړي، آسیه یې و ځنګ ته ناسته وه هغې ورته وویل چي د هلک عمر تر یوه کال بالا دی او تا خو امر د وژلو د سږ کال د کوچنیانو د بني اسرائیلو کړی دی نو دا هلک ماته راپرېږده، او وه یې ویل: قرة عین ولک ''خبر د مبتداء محذوفي دی ای هو ''لاتقتلوه'' که ځه هم مخاطب د آسیه خو فرعون یو اځي ؤ لکن صیغه د خطاب یې جمع راوړه تعظیمًا لفرعون، او په یوه روایت کي راغلي دي چي آسیه ورته وویل چي دا کوچنی له بلي مځکي ځخه رود نیل راوړی دی لیس من بني اسرائیل.

فائده: لوړ کسان و مایني ته لکه غلامان وي، آسیې ورته زیاته کړه.

عَسَىٰٓ أَن يَنفَعَنَآ أَوْ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدًا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ ۝

شاید دا طفل به موږ ته فائده وکړي (ولي چي دې علامات د برکت په طفل کي ولیدل، او ددې نفع یې مشاهده کړې (۱) دې د موسیٰؑ د سترګو د منځ نور ولیدی (۲) بېه ګوته یې رودل او شیدې تر راوتلې (۳) او پیس د بنت فرعون دده په ناړو جوړ سو) یا به یې موږ وګرځوو خپل زوی چي په عربي یې متبنّٰی بولي، نو فرعون هم د آسیې قول ومانه.

پوه سه: چي وهم لایشعرون حال دی من آل فرعون، والتقدیر فالتقته آل فرعون وقالت امرئته کیت وکیت او حال دا دی چي آل فرعون پر لوی خطاء وه چي موسیٰ ته یې د نفع او تبني امید وکړی.

وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَىٰ فَٰرِغًا

ای صبا وګرځېدی (دا عطف دی پر هغه جمله قالت امرئة فرعون) زړه د مور د موسیٰ ''فارغًا'' ای خالیًا عن العقل په سبب د شدة خوف چي دې واورېدی چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ستا زوی د فرعون په لاس ورغلی کقوله تعالی، وافئدتهم هواء ای خلاء لاعقل فیها، او اکثر مفسرین وايي چې زړه د مور د موسیٰ خالي وُ د هر شي غير له ذکر ځخه د موسیٰ؏ یعني دغه د موسی غم يې ټوله ذکر ددې وُ اخرجه الفريابي وابن ابی شیبة وعبد بن حمید وابن الجریر وابن المنذر وابن ابی حاتم والحاکم رحمهم الله عن ابن عباس رضی الله عنه وروی ذالک عن ابن مسعود رضی الله عنه والحسن ومجاهد رحمه الله.

پوښتنه: د مخه تېره سوه چې خدای جل جلاله دې ته الهام کړی وُ، ان ارضیعه فاذا خفت علیه فالقیه في اليم ولا تحزني انا رادوه الیک الآیة. نو ددې ولي زړه فارغه وه له هر شي ځخه بېله موسیٰ؏؟

ځواب: حسن رحمه الله وايي فارغًا ای ناسیًا للوحي الذي اوحی الله الیها کمامر یعني الهام يې هېر وُ، او په عین حال کي شیطان ورته راغلی چې ته بېرېدلې چې فرعون به زما زوی قتل کړي نو فرضًا که فرعون قتل کړی وای تا ته خو به خدای ثواب در کړی وای، اوس تا ځه وکړه په خپله دې قتل کړی، ولي چې دریاب ته دې واچاوه غرق دې کړی. فلما جائها الخبر بان فرعون و اصحابه في النیل قالت انه وقع في ید عدوله فانساها عظم البلاء ماکان من عهد الله ووحیه الیها، او مظهري وايي چې ددې غم له دې سببه ډېر سو چې الهام د اولیاء خو دلیل ظني دی احتمال د خطاء في الالهام په زړه کي ور گرځېدل.

إِن كَادَتْ لَتُبْدِي بِهِ

پوه سه: چې کلمه د ان مخفف له مثقل ځخه دی چې اسم يې ضمیر شان محذوف دی او کادت يې خبر دی یعني قریب وه چې مور د موسیٰ دې اقرار وکړي او اظهار دې وکړي "به" ضمیر راجع دی و موسیٰ؏ ته په حذف د مضاف ای بامر موسیٰ چې موسیٰ زما زوی دی ما په تابوت کي رود نیل ته غورځولی دی. دا په سبب د نهایت غم چې دا خبره سوه چې موسیٰ د فرعون په لاس کي دی.

سوال: د ان مخفف من المثقل او د ان نافیه فرق په ځه سره کولای سو؟

ځواب: په کلمه د لام د لَتُبْدِيْ چې هغه په ځواب کي د مخفف راځي وبس؛ او عکرمه رحمه الله وايي عن ابن عباس رضی الله عنه انها کادت ان تقول وا ابناه، او مقاتل رحمه الله وايي چې مور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د موسیٰ ؑ چي ولیدی چي تابوت د موسیٰ یوه څپه د رود نیل یې پورته کوي او بله یې کښته کوي خشیت علیه الغرق فکادت تصیح چي بغاري دي کړي له ډېره شفقته.

درویش وایي: چي نور ورته روایات روح المعاني او مظهري راوړي دي والقول الاول هو المختار.

لَوْلَآ اَنْ رَّبَطْنَا عَلٰى قَلْبِهَا

پوه سه: چي علی قلبها ظرف لغو دی متعلق په ربطنا پوري دی.

فائده: ان ربطنا په تاویل د مصدر مبتداء ده خبر یې محذوف دی وهو موجود دی یعني لولا ربطنا علی قلبها موجود آه، او ځواب د لولا هم محذوف دی چي دلیل یې ماقبل دی یعني لابدت به، او معنی د آیت داده چي که موږ ټینګ کړی نه وای زړه د ام موسیٰ بالصبر والثبات او یا ورپیداولو د وحي الهامي د خدای ﷻ چي زه به موسیٰ وتاته رد کړم او له رسولانو څخه به یې وګرځوم.

لِتَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ۝

کاشفي رح میگوید: واین لطف کردیم تا باشد آن زن از باور دارنده گان وعده ما را.

پوه سه: چي لتکون متعلق دی په ربطنا پوري.

سوال: د موسیٰ ؑ مور خو ښځه وه، نو جمع مذکر یې ولي راوړه او مؤمنات یې نه و وایه؟

ځواب: لتعظیم شانها ولي د دومره غمه سره سره صبر کول د ښځو له شان څخه بعید دی فافهم.

وَقَالَتْ لِاُخْتِهٖ قُصِّيْهِ

وویل مور د موسیٰ ده و خور ته، ته تلاش وکړه د خبر د موسیٰ چي په کور کي د فرعون دی چي فرعون څه چار چلند ورسره کوي.

سوال: اخت موسیٰ خو د دې لور وه، نو ولي یې بنتها نه وویل؟

ځواب: لپاره د باعثه کولو د محبت د موسیٰ ؑ چي مدار یې اخوة دی، بعض مفسرین وایي چي نوم د اخت موسیٰ مریم ؤ موافق د نامه سره د مریم ام عیسیٰ، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بعض مفسرین وایي چي نوم یې کلثوم ؤ لا مریم والله اعلم.

پوه سه! قالت عطف دی پر اصبح.

فَبَصُرَتْ بِهٖ عَنْ جُنُبٍ وَّهُمْ لَا یَشْعُرُوْنَ ﴿۱۱﴾

نو اخت موسیٰ ولیدی خپل ورور موسیٰ له لېري څخه یعني د سترګو تر ېخږ یې ورته کتل چي څوک را ونه پوهېږي.

فائده: عن جنب حال یا له ضمیر مرفوع څخه په بصرت کي یا له ضمیر مجرور څخه د به ''وَهُمْ لَا یَشْعُرُوْنَ'' او فرعون او اهل بیت دده نه پوهېدل چي دا یې خور دده او دده معلومات کوي.

وَحَرَّمْنَا عَلَیْهِ الْمَرَاضِعَ مِنْ قَبْلُ

او موږ حرامي کړځولي وې پر موسیٰ.

پوه سه: چي مراد له تحریم څخه شرعي تحریم نه دی بلکي مراد منع په قدرت د خدای جل جلاله ده چي تحریم تکویني یې بولي، والمراضع مرضع د مرضعة نه ده، ولي چي تی ورکول د ښځي صفت خاصه دی، لکه حوامل چي جمع د حامل ده، والمعنی موږ دی منع کړی دی له تي رودلو څخه د هري ښځي چي ده ته به یې تی په خوله ورکړی موسیٰ ؑ به د هغې ښځي شیدې نه رودلې ''من قبل'' د مخه تر ورتګ دده د خور، ابن عباس رضی الله عنه وایي ان امرئة فرعون کان همها من الدنیا ان تجد له مرضع ډېري ښځي امرئة فرعون راغوښتي وې چي د شیدو ډک تي به یې درلودل لکن موسیٰ تی په خوله کي نه نیوی، او په قصه کي راغلي دي چي موسیٰ ؑ اته شبانه روزه تی د ښځي نه ؤ رودلی او بغاري به یې وهلې.

سوال: اته شبانه روزه موسیٰ ؑ څرنګه ژوندی ؤ؟

خواب: اولاً به دا ژوند دده اته شبانه روزه و قدرت ته د رب جل وعلا وسپارو او د عالم له لاري به و وایو چي ده غو شیدې د ښځو نه رودلې شاید غزا دده اته شبانه روزه په تورو چایو یا په ورکولو د ایشوولو د بارتنګ به وه. الی غیر ذالک. د موسیٰ ؑ خور چي اضطراب د امرئة فرعون ولیدی، نو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَقَالَتْ هَلْ اَدُلُّكُمْ عَلٰٓى اَهْلِ بَيْتٍ يَّكْفُلُوْنَهٗ لَكُمْ وَهُمْ لَهٗ نٰصِحُوْنَ ⑫

وويل خور د موسیٰ ؑ "قالت" عطف دی پر حرمنا، آیا زه درو ښیم یو اهل
خانه چي ذمه واري واخلي ستاسي لپاره ددې کوچني د شیدو ورکولو او تربیت.
او دوی یعني اهل البیت به تقصیر ونه کړي په ارضاع کي دده او په تربیه کي دده.
دا جمله حال ده له فاعل څخه د یکفلونه، ابن جریج ؒ او السدي ؒ وایي چي اخت
موسیٰ چي دا خبره وکړه یعني وهم له ناصحون فرعون او اهل بیت دا تینګه کړه
چي تا خو دا کوچنی وپېژندی نو چابک یې کور راوښیه. دې ورته وویل چي زه
یې نه پېژنم ما خو داسي وویل چي هغه اهل البیت د ملک فرعون خیرخواه دي
یعني مخلصان یې دي، او یا یې ورته وویل چي ما خو دا خبره د ملک د خوشالی
لپاره وکړه، نو هغو ورته وویل چي دا ښځه څوک ده؟ دې ورته وویل چي زما مور
ده. فرعونیانو ورته وویل چي ستا مور پر تي بل کوچنی لري؟ دې ورته وویل هو!
نوم یې هارون دی چي په هغه کال زو کړی دی چي ملک د بني اسرائیلو کوچنیان
نه وژل، دوی ورته وویل صدقت، ورسه مور دي راوله. اخت موسیٰ ولاړه مور یې
په ټوله ماجری خبره کړه، نو مور یې راوستل مور چي موسیٰ راواخستی او په غېږ
کي یې د تي ورکولو لپاره پرې ایستی، پر موسیٰ د مور بوی ولاړ سو قبل ثدیها
ویمصها مصًا شدیدًا، او په ډېر شدت او شوق سره یې رودی حتی چي نس یې ډک
سو. نو فرعون او دده ماینې ورته وویل چي دې کوچني ته به ته تی ورکوې او د
ورځي یو طلا یعني دینار ستا اجرت دی، ام موسیٰ ورته وویل چي کوچنی خو د
شپې او د ورځي وخت او بېوخته ضرورت لري، نو زه خو همېشه ستاسي په کور
کي ګذاره نسم کولای، خپل کور لرم، فرعون او ماینې یې ورته وویل چي دا خبره
دې پر ځای ده، بو یې څه کور ته صرف یې په هفته کي یوه ورځ راوله.

سوال: له اخت موسیٰ څخه چي د فرعون، ماینې او نورو پوښتنه وکړه چي ته
دا کوچنی پېژنې، دې وویل یا، نو دروغ یې ولي ورته وویل؟

ځواب: په ځای کي د ضرورت دروغ روا دي، په ټولو شرائعو کي.

سوال: د موسیٰ ؑ مور څرنګه اجرت پر ارضاع قبول کړی، ارضاع خو پر دې
حق مستحق وُ شرعًا؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: مال د فرعون خو مال د حربي ؤ، مال د حربي خو حلال دی.

فَرَدَدْنٰهُ اِلٰۤى اُمِّهٖ كَیْ تَقَرَّ عَیْنُهَا

رد کړی مونږ موسیٰ و خپل مور ته، د دې لپاره چې د دې سترګې په خنکې سي، وبالفارسية: تا روشن شود چشم او.

درويش وايي: چې د واړې ترجمې کنايه له نهايت خوشالی ځخه دي.

وَ لَا تَحْزَنَ وَ لِتَعْلَمَ اَنَّ وَعْدَ اللّٰهِ حَقٌّ وَّ لٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا یَعْلَمُوْنَ۠

او دا غم و نه کړي په فراق د زوی.

جامي رح:... چه خوش باشد که بعد از انتظاری .... بامید رسد امیداوری

او دا پوه سي او يقين يې سي چې وعده د خدای جلاله په رد د موسیٰ و دې ته حق ده لکن ډېر کسان نه پوهېږي چې وعده د خدای ج حق ده.

درويش وايي: چې مراد له اکثر الناس ځخه کافران دي، ولي که دوی پوهېدای اعظم د جرائم چې کفر دی (او خدای جلاله وعده کړې ده د کافرانو سره د ابدي دوږخ) به يې نه کولای، او روح البيان له اکثر الناس ځخه آل فرعون مراد کړي دي، او هغه ترجمه چې مظهري کړې ده حيث قال والا لما ارتکبوا منهيات الله خوفًا من وعيده وما ترکوا او امره في وعده زيبا او لائق معنی نه ده، ولي تر دې مسلمانان هم لاندي کېږي، ولي چې مسلمانان خو هم بعض منهيات کوي او بعض اوقات فرائض پرېږدي او سره د دې چې د مسلمانانو خو دا يقين دی چې وعده د خدای جلاله حق ده والا لکان کافرًا فتدبر.

مفسرين تړله وايي چې موسیٰ ع د مور سره ؤ چې د رضاع مده يې ختمه سوه او له تې ځخه يې پرې کړی، و فرعون او آسيې ته يې ور رد کړی، لکن مور به يې هم ګاهي ګاهي د ليدلو لپاره ورتله، نو فرعون او آسيې ښه تربيه کاوه او خپل زوی يې ګاڼه، نو موسیٰ يوه ورځ د فرعون په حضور کې بازی کولې يو لرګی ور ځخه ؤ ساتۍ يې په تېراوه ناببره يې فرعون پر دا سر په لرګي ووهه، فرعون ته درد ور غلی او په دې وهلو کې يې بد فالي وکړه. آسيې ته يې وويل چې دغه زما دښمن دی زه يې قتل کوم، آسيې ورته وويل ايها الملک لا تغضب او ته دا ضرب پر ځان مه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درنوه، ولي چي موسیٰ کوچنی دی ستا په احترام نه پوهیږي، آسیې ورته وویل که
یې نه منې په یو غاب کي سره غمیان ورته کښیږده او په بل غاب کي سکروټي د
اور ورته کښیږده ته وګوره چي کوم یو اخلي په لاس کي، فرعون هم داغسي وکړه،
موسیٰ ؑ چي لاس د سرو غمیانو و خواته غځاوه ملکي یې لاس رد کړی د
سکروټیو خواته، موسیٰ ؑ سکروټه واخستل خولې ته یې واچول بیرته یې
وغورځول چي ژبه یې په وسوه، نو آسیې و فرعون ته وویل چي ما نه درته ویل چي
کوچنی دی په شي نه پوهیږي. نو فرعون پر خپل عزم پښیمانه سو او د آسیې
تصدیق یې وکړی، علماء وایي چي هغه بندیز د ژبي چي په ژبه کي د موسیٰ ؑ وُ
قبل النبوة هغه تاثیر د دغي سکروټي وُ چي ده خولې ته واچول او ژبه یې وسول.
لکن وروسته تر نبوت هغه عقدة خلاسه سوه، ولي چي ده خدای ﷻ ته خواست
وکړی: واحلل عقدة من لساني یفقهوا قولي.

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَاسْتَوَىٰٓ

هغه وخت چي ورسېدی موسیٰ و اشد ته.

پوهسه: چي اشد جمع د شدة ده په معنی د قوة لکه نعم جمع د نعمت ده یعني
داسي حد ته د عمر ورسېدی چي بالا یې نشوه او نما ختمه سوه: کلبي رح وایي چي له
اتلسو کالو څخه شروع کېږي تر دېرشو کالو پوري، او مجاهد رح او نور وایي چي تر
دري دېرشو کالو پوري "واستوی" او عقل یې ښه قوي سو. له ابن عباس رض څخه
روایت دی چي مده د استویٰ څلوېښت کاله ده، روح البیان هم دا مسلک چلولی دی،
لکن روح المعاني وایي والحق ان بلوغ الاشد في الاصل هو الانتهاء الی حد القوة
وذالک وقت انتهاء النمو وغایته وهذا مما یختلف باختلاف الاقالیم والاعصار
واحوال الشخص ولذا وقع له تفاسیر مختلفة في کتب اللغة والتفسیر، وروسته ده
ویلي دي چي اولی داده چي بلوغ الاشد عبارت دی له هغه قدر عمر څخه چي د سړي
قوتونه د بدن قوي سي او بالا نما یې ختم سي او استواء اعتدال د عقل دی وکماله،
ولاینبغي تعیین وقت في ذالک في حق موسیٰ ؑ الا بخبر یعول علیه، لکن في الاغلب
هغه سن د څلوېښتو (۴۰) کلو وي، انتهیٰ بعبارته رترجمتهما.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اٰتَيْنٰهُ حُكْمًا وَّعِلْمًا ط

اى النبوة او معرفت د خداى ﷻ او د احكامو د خداى ج.

پوښتنه: نبوت خو موسى ؑ ته په طور كي وركړل سو چي د مدين قريه شعيب ؑ سره د اهل راستون سو؟

ځواب: مظهري رح د دې سوال په ځواب كي ويلي دي چي عطف په واو سره لپاره د مطلق جمع دى ولا دليل فيه على الترتيب كما تقرر في النحو.

سوال: نبي والى چي د موسى ؑ وروسته تر هجرت وُ، نو دلته يې ولي راوړى؟

ځواب: لپاره د دې چي هغه وعده چي خداى ﷻ د مور سره دده كړې وه ورپه ياد او ذكر سي. قال الله تعالى انا رآدوه اليک وجاعلوه من المرسلين فافهم.

درويش وايي: چي د هر چون او چرا ځنځه خلاص تفسير هغه دى چي روح المعاني د بعض مفسرينو ځنځه نقل كړى دى چي مراد له علم ځنځه هغه علم دى چي په انبياء عليهم السلام كي خداى پيدا كړى قبل النبوة او د علم ځنځه د دين او شريعت. او بعض كسان وايي چي مراد له حكم ځنځه سيرة د انبياء عليهم السلام دى فكان موسى ؑ لا يفعل فعلاً قبيحًا يعيب به. كما لنبينا ﷺ فانه ما فعل فعلاً يستقبح في شريعته بعد النبوة حتى لم يسجد لصنم ولا شرب خمرًا قبل تحريمها في شريعته وهكذا. وهذا معنى العصمة قبل النبوة لكه چي د دې خبري درويش پوره تحقيق كړى دى په يوه رساله كي چي نوم يې "كشف الغطاء عن عصمة الانبياء" وهي انفع من تفاريق العصاء. روح المعاني په اخير كي ويلي دي ورجح بانه اوفق لنظم القصة بما تقدم لان استنبائه ؑ بعد وكز القبطي والهجرة الى مدين ورجوعها منها كما مر. فتدبر وخذ ماصفى ودع ماكدر.

وَكَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۱۴﴾

اى لكه موږ جزاء وركړه موسى ؑ او مور ته دده، موږ جزاء وركوو ټولو محسنينو ته پر احسان ددوى.

تنبيه: په دې آيت كي اشاره ودې ته ده چي موسى او مور دده محسنين وه په عمل كي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: احسان هغه عمل ته وايي چي په حديث طويل کي چي روايت يې عمر رضي الله عنه کړی دی او بخاري و مسلم دواړو راوړی دی چي جبرئيل عليه السلام چي په صورت کي د يوه ناشناخته سړي يعني اصحابو رضي الله عنهم نه پېژندی که څه هم رسول الله ﷺ مسجد نبوي ته راغلی ؤ، او د عليه الصلوة والسلام څخه يې د ايمان پوښتنه وکړه، او عليه الصلوة والسلام د ايمان په باره کي ځواب ورکړی، او عليه الصلوة والسلام يې تفصيلي بيان ورته وکړی او جبرئيل عليه السلام صدقت ورته وويل. بيا يې د اسلام پوښتنه ځني وکړه، عليه الصلوة والسلام يې مفصل ځواب ورکړی. هغه صدقت ورته ووايه. او بيا يې ورته وويل ما الاحسان؟ رسول الله ﷺ ورته وويل الاحسان ان تعبد الله کانک تراه فان لم تکن تراه فانه يراک الی اخير الحديث.

درويش وايي: چي حاصل د معنی د احسان وه اخلاص في العمل ته راجع دی چي د دې سره تقوی هم لازمه ده. نو دلته يې معنی داده چي موسی عليه السلام او مورد ده د محسنينو او متقينو له جملي څخه وه. کريمه: هل جزاء الاحسان الا الاحسان.

درويش وايي: چي زموږ تول اعضاء د خدای ﷻ احسان دی پر موږ يې شکر واجب دی.... سعدي رحمه الله:

زبان امد از بهر شکر و سپاس...... به غیبت نگردانش حق شناس
گذرگاه قرآن وپند است گوش...... به بهتان و باطل شنیدن مکوش
دو چشم از پی صنع باری نکوست...... زعیب برادر فرو گیر و دوست
برو شکر کن چون بنعمت دری...... که محروم می آید ز مستکبری
گر از حق نه توفیق خیری رسد...... کی از بنده خیری بغیری رسد
ببخش ای پسر کہ آدمی زاده صید...... باحسان توان کرد و وحشی بصید
مکن بد که بد بینی از یار نیک...... نیاید ز تخم بد بار نیک

وَدَخَلَ الْمَدِيْنَةَ عَلٰى حِيْنِ غَفْلَةٍ مِّنْ اَهْلِهَا

او داخل سو موسی و ښار ته "على حين" حال ای کونه في وقت غفلة. قال ابن عباس رضي الله عنه دخلها في الظهيرة وقت قيلولة الناس او بازار خالي ؤ، روح البيان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چي موسیٰ ؑ د قصر فرعون او مصر معهود ته راغلی.

پوښتنه: قصر فرعون چيرې وُ؟

ځواب: پر یو طرف ده چي هغه د قصر ځای ته يې منف وايه من ارض مصر وهي مدينة فرعون موسیٰ چي دی به ګاهي هورې نازلېدی وفيها كانت الانهار تجري تحت سريره وكانت في الجانب الغربي د رود نيل وه پر د دولس ميله مسافت باندي من مدينة فسطاط مصر، چي ننه ورځ معروف په مصر قديمه دی، تاريخ وايي چي منف اول ښار دی چي په مصر کي جوړ سوی دی وروسته تر طوفان نوح، او دغه منف په قديمه زمانه کي پای تخت د مصر وُ، او السدي ؒ وايي چي دا قريه په نامه د مدين من ارض مصر (يعني لامدين التي فيها شعيب ؑ) او مقاتل ؒ وايي چي نوم د دغې مدينې خانين چي وُ چي دوه فرسخه له مصر څخه لېرې وه، او بعض راويان وايي چي يوم يې عين الشمس وُ، او جلال الدين المحلي وايي چي نوم يې منف وُ، تاريخ وايي چي موسیٰ ؑ ته خلګو ابن فرعون وايه او د فرعون پر شخصي آسانو به سپرېدی، او کالي يا درېشي به يې ورته د فرعون وه، نو يوه ورځ فرعون د خپل قصر خوا ته سپور سو موسیٰ حاضر نه وُ دی چي راغلی نو چا ورته وويل چي فرعون قد ركب، نو موسیٰ ؑ پسي سپور سو، نو پر موسیٰ ؑ غرمه راغله په منف کي، نو په عين نصف النهار کي کي منف ته داخل سو، فكان ما كان كما سيجئ.

درويش وايي: چي بحر العلوم په روايت د ابن عباس ؓ د قريې نوم منف ښوولی دی، او ابن اسحاق په روايت د روح المعاني وايي چي مراد له مدينې څخه مصر دی، ولي چي موسیٰ ؑ مجاهرة ای علانية داسي خبري کولې چي فرعون او دده د قوم به نه وې خوښي، نو باره يې د ښهري ځان پټ ساته او د فرعون او دده له قوم څخه به ګوښه ګوښه کېدی، يوه ورځ په هيئت متنكره کي په وخت کي د نصف النهار مصر ته ورغلی چي خلګ د قيلوله په سبب په كورو کي وه.

فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلَانِ هَٰذَا مِن شِيعَتِهِ وَهَٰذَا مِنْ عَدُوِّهِ

ده پيدا کړه يعني وه يې ليدل دوه کسه (يقتلان صفت د رجلين دی) چي سره خصومت او نزاع يې وه، دا يو دده له قوم څخه وُ يعني من بني اسرائيل، دا جمله سره ما عطف عليها په ځای کي د حال ده لکن واو للحال يې نه دی ور سره راوړی نحو كلمته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نوه الی في "وهذا من عدوي" او هغه بل ده د دښمن له قومه څخه ؤ يعني القبط.

سوال: موسیٰ ؑ خو ځواني تو له د فرعون په کور کي تېره کړې وه حتی چي په ابن فرعون سره يې شهرت درلودی، نو ده څرنګه خپل قوم بني اسرائيل پېژندل؟

ځواب: د موسیٰ ؑ مور خو ژوندۍ وه، هغې د وخته دی خبر کړی ؤ چي ته د بني اسرائيلو له قوم څخه يې قبط نه يې، او بل ځواب دادی چي فرعون خو هم موسیٰ ؑ خپل نسبي زوی نه باله بلکې متبنّٰی يې باله، او بل ځواب دادی چي د مخه تېره سوه چي خور د موسیٰ ؑ و فرعون ته اظهار وکړی چي زما مور پر تي بل زوی لري چي نوم يې هارون ؤ او په هغه کال زوی کړی دی چي ملک کشنيان نه وژل فافهم.

فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِي مِنْ شِيعَتِهِ عَلَى الَّذِي مِنْ عَدُوِّهِ

نو طلب د کومک وکړی هغه چا چي موسیٰ د هغه له قوم څخه ؤ پر هغه چا چي ده له دښمنانو څخه ؤ يعني پر قبطي چي د دښمن فرعون له قوم څخه ؤ، نو موسیٰ ته درد ورغلی فرعوني ته يې وويل خل سبيله، قبطي ورته وويل چي ستا د پلار فرعون لرګي پر ورم، د موسیٰ ؑ او د قبطي تر منځ خبرو تاؤ واخستی، موسیٰ ته يې وويل چي زه قصد لرم چي ستا پر شا يې ورسوم، موسیٰ ؑ په بدن غايته قوي ؤ او غضب يې هم بلا نهايته ډېر ؤ، کريمه: رب اشرح لي صدري.

فَوَكَزَهُ مُوسَى فَقَضَى عَلَيْهِ

نو موسیٰ ؑ قبطي وواهه په سوکه، او بعض وايي چي په لغته يې پر ځيګر وواهه، بعض وايي پرې يې واهه، په هر صورت "فقضی عليه" ای قتله يعني قضی الهي پر راغله په يوه سوکه يې مړ کړی، دستي يې په معاونت د اسرائيلي په رېګو کي ښخ کړی، او د موسیٰ ؑ غرض خو قتل نه ؤ، بلکې تاديب ؤ چي دا نه قتل عمد او شبه عمد دی او نه خطاء ده لکه يو ښکاري چي ښکار ولي غشی يې خطاء سي په سړي کي ومښلي او مړ سي، ولي چي په مذکوره صورت کي خو آله قاتله استعمال سوه چي غشی دی، او په قتل د قبطي خو موسیٰ آله قاتله نه کړه استعمال او سوک خو آله قاتله نه وه، نو دا شبه خطاء ده، نو موسیٰ ؑ پر دې سوکه وهلو هم پښېمانه سو او وه يې ويل:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ هٰذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ ۖ اِنَّهٗ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِيْنٌ ﴿١٥﴾

وه يې ويل (دا جمله مستانفه ده) هٰذَا يعني دا قتل د قبطي له عمل څخه د شيطان ؤ چي ماته يې غضب راوستی و قبطي مي په سوکه وواهه (ولي چي موسیٰ ؑ خو په امن کي ژوند کاوه په قبطيانو کي، نو دا غتيال خو حق دده نه ؤ) په تحقيق شيطان چي دی دښمن دی ګمراه کونکی ښکاره.

سوال: انبياء عليهم السلام خو معصوم دي له ګنهو څخه بالاجماع قبل النبوة وبعدها لکه چي فقير دد‌ې مسئلې تحقيق کړی دی په يوه رساله کي چي نوم يې کشف الغطاء في عصمة الانبياء؟

ځواب: دا قتل منافي له عصمت سره نه دی لانه خطاء بل شبه خطا.

سوال: چي داسي وه نو ولي موسیٰ ؑ عمل الشيطان وباله او ظلم يې وباله او طلب د بخښني يې وکړی؟

ځواب: دا د مقربينو بندګانو عادت دی چي محقرات الذنوب چي ددوی څخه صادرسي دوی يې پر ځان لويه ګناه بولي، حسنات الابرار سيئات المقربين.

قَالَ رَبِّ اِنِّيْ ظَلَمْتُ نَفْسِيْ فَاغْفِرْ لِيْ فَغَفَرَ لَهٗ ؕ

ده وويل ای زما خدايه ما ظلم وکړی پر خپل ځان چي قبطي مي ستا بې امره مړ کړی، ماته دد‌ې ګناه بخښنه وکړه "فغفرله" عطف دی پر قال يعني غفرالله يعني خپل حق يې ور وه بخښی، او قبطي خو حربي ؤ معصوم الدم نه ؤ فلا يرد ان المغفرة من غير قصاص او دية او عفو المقتول او وژنه غير متصور فافهم

اِنَّهٗ هُوَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ ﴿١٦﴾

په تحقيق خدای پاک بخښونکی دی د ګناه د بندګانو بعد التوبة وبغير التوبة لمن يشاء، او مهربان دی خدای جل جلاله پر دوی.

قَالَ رَبِّ بِمَآ اَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ اَكُوْنَ ظَهِيْرًا لِّلْمُجْرِمِيْنَ ﴿١٧﴾

وويل موسیٰ (جملة مستانفة اخریٰ)

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چي كلمه د باء لپاره د قسم ده او جواب يې محذوف دى. او فلن اكون پر هغه جواب محذوف عطف دى، والمعنى اقسم بانعامک علي (نو كلمه د ما مصدريه ده) بالمغفرة لاتوبن (دا جواب محذوف دى) زنه كرخم ابداً (دا معطوف پر جواب محذوف دى) كومكي د مجرمانو لكه پرون چي مې د اسرائيلي كومک وكړى ابن عباس رض وايي اى للكافرين. مفسرين وايي چي كه دا روايت له ابن عباس رض څخه په صحيح روايت ثابت وي، نو له دې څخه دا معلوميږي چي اسرائيلي چي موسىٰ ع كومک ورسره وكړى كافر ؤ، او قتاده رح وايي معناه لن اعين بعد هذا على خطيئة.

فَأَصْبَحَ فِي الْمَدِينَةِ خَائِفًا يَتَرَقَّبُ

موسىٰ ورځ تېره كړه په ښار كي د مصر چي هغه قبطي دده په يوه سوكه مړ سو. بېرېدى پر خپل ځان انتظار يې ددې كاوه چي ورته د مقتول خبره سوې وه چي دا قبطي موسىٰ وژلى دى، نو زما څخه به انتقام واخلي، او يا يې انتظار كاوه د كومک من عند الله، پر هر تقدير خائفًا او يترقب دواړه حال دي له فاعل څخه د اصبح.

فَإِذَا الَّذِي اسْتَنْصَرَهُ بِالْأَمْسِ يَسْتَصْرِخُهُ ۚ

كلمه د اذا لپاره د مفاجات ده اى نابېره هغه اسرائيلي چي له موسىٰ څخه يې طلب د نصرت وكړى پر قبطي چي په نتيجه كي قبطي مړ سو. بيا يې استغاثه يعني طلب د كومک وكړى. يستصرخه مشتق دى د صراخ. يعني ناره پر موسىٰ ع وكړه. ابن عباس رض وايي چي پر فرعون اولياء د مقتول عرض وكړى چي يو بني اسرائيلي زموږ قبطي وژلى دى، نو زموږ حق ځندي واخله! فرعون ورته وويل چي تاسي قاتل پيدا كړئ او شاهدان پر تېر كړئ زه ستاسي كسات يعني قصاص ځندي اخلم، بېله شاهدانو زه حكم نسم كولاى، نو اولياء د مقتول تلاش كاوه د قبطي د قاتل په دمخه ورځ كي شاهد يې نسواى پيدا كولاى چي كوم اسرائيلي دا قبطي وژلى دى. دوى په دغه تلاش كي وه چي هغه اسرائيلي چي د بل قبطي سره يې جنګ ؤ د موسىٰ ع څخه يې كومک وغوښتى پر دې بل قبطي او د دمخه تېره سوه چي موسىٰ ع پښېمانه ؤ پر هغه قتل د قبطي پرون ورځ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالَ لَهُ مُوسَىٰ إِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُّبِينٌ ﴿١٨﴾

وويل و هغه اسرائيلي ته موسىٰ چي ته حتماً ګمراه يې ښکاره چي يو وار سبب د قتل د قبطي وګرځېدې پرون او نن دې بيا د بل سړي سره جنګ دی. او زما څخه کومک غواړې، راوي وايي چي دا خبره موسىٰ ؑ و فرعوني ته وکړه چي ته غوي مبين يې چي پر اسرائيلي ناحقه ظلم کوې.

فَلَمَّا أَنْ أَرَادَ أَنْ يَبْطِشَ بِالَّذِي هُوَ عَدُوٌّ لَّهُمَا

چي اراده وکړه موسىٰ چي حمله وکړي پر هغه چا چي هغه دښمن وُ د موسىٰ ؑ او اسرائيلي لانه (اى القبطي) لم يکن على دينهما او لان القبط کانوا جميعاً اعداء بني اسرائيل، د اسرائيلي دا خيال سو چي دا پېښ رو يې ماته وواهه او اوس ما وژني.

قَالَ يَا مُوسَىٰ أَتُرِيدُ أَنْ تَقْتُلَنِي كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًا بِالْأَمْسِ ۖ

وويل اسرائيلي اى موسىٰ ته اراده لرې چي ما مړ کړې لکه چي تا مړ کړى يو څوک پرون ورځ؟

إِنْ تُرِيدُ إِلَّا أَنْ تَكُونَ جَبَّارًا فِي الْأَرْضِ

ستا اراده نه ده مګر دا چي ته جبار يعني قتال چي درد درسي، په مځکه کي د مصر او پر موږ حکمراني کوې و عاقبت ته نه ګورې.

وَمَا تُرِيدُ أَنْ تَكُونَ مِنَ الْمُصْلِحِينَ ﴿١٩﴾

او ستا اراده نه ده چي د متنازعينو تر منځ صلح وکړې او د دوى تخاصم په ښه طريقه ورخلاص کړې، نو ورته وو د قبطي مقتول بالامس دا خبره د اسرائيلي چي واورېده اتريد ان تقتلني کما قتلت نفساً بالامس، هغه پوه سوه چي قاتل د پرون ورځي زموږ د قريب هم دغه موسىٰ دى، نو قبطيان په چټکۍ سره فرعون ته ورغله چي زموږ قريب پرون موسىٰ وژلى دى او قصه يې ټوله و فرعون ته وکړه، فرعون فرمان عام صادر کړى چي موسىٰ دي قتل کړل سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَجَآءَ رَجُلٌ مِّنۡ أَقۡصَا ٱلۡمَدِينَةِ يَسۡعَىٰ

او راغلی یو سړی چي مؤمن د آل فرعون ؤ او فرعون یې په ایمان نه ؤ خبر (بعض مفسرین وایي چي نوم د هغه حزئیل ؤ او بعض وایي چي نوم یې شمعون ؤ او بعض وایي چي نوم یې سمعا ؤ، او بعض وایي چي نوم یې حزبیل ؤ چي د فرعون د اکا زوی ؤ) د لېري ځای څخه. وبالفارسیة: از دور جای از شهر از بارگاه فرعون که بر یک کناره شهر بود "یسعٰی" چي راځغاستی یعني په ډېر تلوار، روح البیان وایي چي یسعٰی صفت د رجل دی حتی وصل الی موسٰی ؑ، مفسرین وایي چي هغه سړی پر لنډه لار راغلی موسٰی ؑ ته.

قَالَ يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّ ٱلۡمَلَأَ يَأۡتَمِرُونَ بِكَ لِيَقۡتُلُوكَ

هغه سړي وویل ای موسٰی اشرافو د قوم د فرعون مشوره سره وکړه په سبب ستا یا ستا په باره کي یا ستا د قتل قبطي په سبب چي تا قتل کړي.

فَٱخۡرُجۡ إِنِّي لَكَ مِنَ ٱلنَّٰصِحِينَ ۝٢٠

نو له ښاره ووځه په تحقیق زه ستا لپاره چي امر د خروج درته کوم د نصیحت کونکو څخه یم، وبالفارسیة: از نیک خواهان شما ایم.

فائده: لک متعلق په محذوف سره دی یعني اني نافع لک، او داسي نه ده روا چي لک دي متعلق په ناصحین پوري سي لان معمول الصلة (معمول لک دی او صلة صالحین د چي صله د ال موصوله په معني د الذي) لایتقدم علی الموصول فافهم.

فَخَرَجَ مِنۡهَا خَآئِفٗا يَتَرَقَّبُ

موسٰی ؑ بلا تراخي ووتی له مدینه (ښار) څخه چي بېرېدی پر ځان له قتل څخه د اعوان د فرعون، خائفًا حال دی له فاعل څخه د خرج "یترقب" چي انتظار د طلبونکي د ښا دخوا کاوه، او بعض مفسران وایي چي انتظار د نصرت د رب ﷻ یې کاوه.

پوښتنه: له دې آیت څخه خو دا معلومه سوه چي پر انبیاء علیهم السلام بېره د غیر الله روا ده او سره د دې چي خدای پاک د دوی په شان کي ویلي دي "لا یخشون احدًا الا الله" نو توافق د دې دوو آیتو په څرنګه وي؟

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ځواب: خوف پر ځان له دښمن ځخه مقتضٰی د طبیعت بشري او اختیاري هم نه ده او په هغه کي چي لا یخشون آه راغلی د هغه مراد دا دی چي انبیاء په رسولو کي د اوامرو او منهیاتو د خدای ﷻ د چا ځخه نه بیریږي یعني چي دا تبلیغ به ماته ضرر و ګرځي بلکه خدایه. بخلاف سائر الناس فانهم یخشون الناس کخشیة الله او اشد خشیة.

قَالَ رَبِّ نَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِينَ ﴿۲۱﴾

وویل موسٰی ای زما خدایه نجات را کړې ماته له قوم ځخه د ظالمانو یعني فرعون و قومه قبط.

پوه سه: چي قال یا جمله مستانفه ده او یا حال ده په تقدیر د کماهو القانون النحوي في الماضي الواقع حالاً، او حال ده له فاعل ځخه د خرج.

فائده: فرعون چي خبر سو چي موسٰی ؑ وتښتېدی، نو نفریې واستول په طلب کي دده، عسکرو ته یې وویل چي پسي سپاره سئ عمومي لاري ورته ونسئ، ولي چي ده ته د لاري درک نه معلومېږي.

وَلَمَّا تَوَجَّهَ تِلْقَاءَ مَدْيَنَ

هغه وخت چي موسٰی متوجه سو وه طرف ته د لاري د مدین. زجاج رح وایي ای سلک الطریق التي یلاقي فیها مدین چي د یو قریې نوم دی چي مدین بن ابراهیم ؑ یې باني ؤ، نو دده په نامه مشهوره سوه، او موسٰی ؑ له ډېر تلوار او خوف ځخه نه یې د سپرتیا شی درلودی او نه توښه او نفقه ورسره وه، او مدین له مصر ځخه پر مسافت د اتو ورځو لاروه چي د فرعون پر مدین سلطنت نه ؤ.

فائده: لما ظرف دی چي معنی د شرط ورسره ده. متعلق دی په قال پوري، یعني موسٰی ؑ توکلاً علی الله دا خبره وکړه.

قَالَ عَسٰى رَبِّي أَنْ يَهْدِيَنِي سَوَاءَ السَّبِيلِ ﴿۲۲﴾

وویل موسٰی چي ژر به رب زما هدایت وکړي ماته (د سواء اضافت و سبیل ته اضافت د صفت و موصوف ته دی) والمعنی یهدیني السبیل السوي الذي لازحمة فیه (ای الازدحام) ولا اعوجاج (کږوالی) دا سوال یې له دې جهته وکړی چي موسٰی ؑ د مدین اوریدلی ؤ او په دې هم خبر ؤ چي د فرعون پر مدین تسلطه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نسته مګر لاړ نه ور معلومېدل، ده چي دا خواست وکړی ملکه د انسان په صورت
کي چي په لاس کي يې لکړه هم وه، نو موسىٰ ته يې وويل چي راځه لاړ به زه
درو ښيم، مفسرين وايي چي د موسىٰ ؑ سره نفقه نه وه د لاري په اوږدو کي يې د
درختو بلګونه خوړل يا نور وابښه حتى چي د هغو وښو او د درختو شين والى يې له
ظاهره څخه د بطن معلومېدى، او چوتيي يې هم ځيري سوي وې لڅي پښې روان و،
ابن عباس ؓ وايي چي دا اوله ابتلاء د خداى ﷻ وه په موسىٰ ؑ سره، حافظ
شيرازي ؒ مطابق حال موسىٰ دربن سفر مدين چنان فرموده:

شب تاريک وبيم موج وګردابي چنين هائل .... کجادانند حال ماسبکساران ساحلها

وَلَمَّا وَرَدَ مَآءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِّنَ النَّاسِ يَسْقُونَ ۙ

هغه وخت چي ورسېدى موسىٰ ؑ و اوبو ته د مدين چي عبارت له يو ځاه څخه
دى چي د مدين خلګو به خپل مواشي پر اوبول، وه يې ليدل پر هغو اوبو يعني
جانب البئر، يو جماعت کثيره د خلګو (نو تنوين د امة لپاره د تکثير دى) چي
خلګو خپل مواشي آبخوره کول.

وَوَجَدَ مِن دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ ۚ

ده پيدا کړې يعني وه يې ليدلې په کښته ځاى کي د نارينه وو تر ځاى دوې
ښځي چي دوى منع کول خپل مواشي له اوبو څخه چي د نرانو په مواشيو ګډ نسي.
فائده: تذودان يا صفت يا حال دى له امرئتين څخه.

قَالَ مَا خَطْبُكُمَا ۖ قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّىٰ يُصْدِرَ الرِّعَآءُ ۖ

موسىٰ وويل و دې دوو ښځو ته څه شان دى ستاسي چي خپل مواشي له اوبو
څخه منع کوئ؟ (والخطب الشان کما في القاموس، او بعض اهل لغت وايي چي
خطب مصدر دى په معنى د مخطوب يعني ما مطلوبکما من هذا المنع) هغو دوو
ښځو ورته وويل چي موږ خپل مواشي نه اوبه وو تر هغو چي شپنيان خپل مواشي
له اوبو څخه بونه ځي.
درويش وايي: چي دا ترجمه پر قرائت د جمهورو قراوو ده چي يُصدر په ضمه د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یاء او په کسره د دال چي د مضارع له بابه د افعال سي او متعدي سي، نو مفعول يې محذوف دی چي مواشيهم دی.

نکته: مفعول يې حذف کړی له دې سببه چي اصل غرض فعل دی دون المفعول لکه په يسقون وتذودان ولانسقی چي په دې ټولو کي مفعول چي مواشي دی محذوف دی، او عمرو او ابن عامر او ابو جعفر رحمهم الله له قراء سبعه وو څخه يَصدر په زور د ياء او په ضم د دال وايي چي فعل مجرد او لازمي دی، نو معنی يې داده حتی يرجع الرعاء، فافهم.

فائده: د موسیٰ ؑ پر دې دوو ښځو زړه وسو، ولي چي دوی خپل مواشي منع کول مع الحاجة الی السقی، په سبب د ضعف خپل چي ښځي وې او نرانو خپل مواشي اوبنان وغيرها پر دوی يې زړه نسو سره ددې چي ددوی مواشي پسونه وه، او بل په دې منع کي د خپلو مواشي عفت او پرهېزګاري ددوی معلومه سوه چي د رجال سره مخالطه او مزاحمت زړه غوښتی.

وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ ﴿٢٣﴾

او زموږ پلار شيخ کبير السن دی چي پر سقي د مواشيو قادر نه دی، نو له دې سببه موږ مجبوره يو او اوبو ولو ته د مواشيو، دا جمله حال ده له فاعل څخه د لانسقی.

پوښتنه: ددې ښځو جواب د موسیٰ د سوال سره چي "ماخطبکما" څرنګه سمون خوري؟

ځواب: موسیٰ ؑ ددوی څخه سوال وکړی چي تاسي ولي خپل مواشي منع کوئ له اوبو څخه دوی په ځواب کي ورته وويل چي موږ اول خو ښځي يو چي ضعيف يو او بل دا چي مستورات يو پر مزاحمت د نرو قدرت نه لرو او شرمېږو د مخالطت څخه د نرانو، نو چاره نه لرو چي موږ به خپل مواشي منع کوو او سقی به يې ځنډوو تر څو چي رجال ولاړ سي او پلار مو سپين ږيری دی پر سقی قادر نه دی بغوي رح وايي چي په نامه کي د پلار يې اختلاف دی، مجاهد، الحسن، سدي او ضحاک رح وايي چي د پلار نوم يې شعيب ؑ ؤ وهو الاشهر في التفاسير، او وهب او سعيد بن جبير رح وايي چي نوم يې ثيرون ؤ چي د شعيب د ورور زوی ؤ، دوی وايي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چي شعیب ؑ چي په سترګو ړوند سو وفات سوی ؤ دمخه تر وړتګ د موسیٰ ؑ
فدفن بين مقام ابراهيم ؑ وبئر زمزم، والله اعلم، او روح البيان پله کوم اختلافه د
شعیب ؑ نوم اخستی دی، او روح المعاني وايي وابوهما عند اکثر المفسرين هو
شعيب ؑ، بيا روح المعاني هغه دمخه چي ذکر سول اختلافات په نامه کي د ابوهما
ذکر کړي دي وهو المختار عند الفقير. مصرع: وللناس فيما يعشقون مذهب.

فَسَقٰى لَهُمَا

نو موسیٰ ؑ د دې ښځو پسونه ور اوبه کړه. ابن عباس ؓ وايي چي موسیٰ ؑ قوي
سړی ؤ نو د ټرو په منځ يې ځان ور ګډ کړی او يوه خوا او بله خوا يې سره پړي وهل
د څاه له غاړي څخه او د ښځو پسونه يې ور اوبه کړه. او بعض مفسرين وايي چي د
خلګو هوري دوه څاهان وه چي يوه ورځ به يې پر يوه څاه مواشي اوبوله پر هغه بل
څاه به يې دو مره غټه ډبره ايښوله چي په لسو کسانو به يې پر ايښوول، او بله
ورځ به يې د هغه څاه ډبره په لسو کسانو پورته کړه بيا به يې مواشي پر هغه بل اوبه
ول، موسیٰ په قدرت الهي ورغلی د هغه بل څاه ډبره يې ايسته کړه او اوبه يې
ځندي راوکښلې د ښځو پسونه يې ور اوبه کړه، او بعض مفسرين وايي چي
موجوده څاه چي خلګو اوبه ځندي راکښلې يوه سولاغه يې ځندي راوکښل
خدای ﷻ برکت پکښې واچاوه او د ښځو پسونه په اوبه سول.

ثُمَّ تَوَلّٰٓى اِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ اِنِّىْ لِمَآ اَنْزَلْتَ اِلَىَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيْرٌ ﴿٢٤﴾

وروسته تر اوبه ولو د ښځو د مواشيو ورغلی په سايه کي د يوې درختي
کښېنستی لشدة الحر (وروسته چي لوږه او ستړيا او بې کسي د موسیٰ ؑ ډېره وه
نو شکايت يې و خپل بادار ذو الجلال ته وکړی) نو موسیٰ وويل اې ربه زما په
تحقيق زه و يو شي ته چي ته يې نازلوې ماته يعني راکوې يې ماته د يو خير څخه
که قليل او که کثير وي محتاجه يم، اکثره مفسرين وايي چي مراد ځندي طعام دی
بقرينة المقام چي دی وږی ؤ کما مر بيانه.

يوه سه: چي شکايت و بادار ته وغير ته د خدای ﷻ شکايت نه دی او يا د
خدای ﷻ څخه شکايت نه دی روا، وعليه انعقد الاجماع.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بوه سه: چي تنوين د خير لپاره د شيوع دى يعني هر مقدار چي وي.

سوال: موسیٰ ؑ خو طالب د طعامؤ نو بايد ده تعين په مضارع کړى واى يعني لما تنزله او ده تعبير په ماضي سره اعني انزلت وکړى؟

ځواب: تعبير په ماضي سره لپاره د جلب د رحم د خداى ﷻ دى لکه تعبير په رب سره يعني ګويا تا ماته طعام راکړىؤ زه اوس اخبار د هغه کوم لکه يو سائل چي يو مهربان غني ته ورسي د ډوډى يا د نقد د سوال لپاره، نو هغه ووايي چي تا خو ماته ډوډى او نقود راکړي وه مقصد يې دا وي چي را يې کړه.

فائده: انزال په قول کي د موسیٰ په معنا د اعطاء دى كما يقال انزل الله تعالى نعمه او نعمته على الخلق اى اعطاهم ذالک، او انزال ګاهي په انزال د شي بعينه وي كانزال القرآن او انزال المطر، او ګاهي په معنی انزال د اسبابو د هغه شي او هدايت وهغو اسبابو ته. كما في قوله تعالى وانزلنا الحديد يعني د اوسپنې و منافعو ته مو لارو ښوول، ابن عباس ﷺ وايي چي موسیٰ ؑ سوال وکړى خداى ﷻ ته د يوې ګولې ډوډى، چي ملا په سم سي، او امام باقر ﷺ وايي لقد قالها وانه لمحتاج الى شق تمرة، او سعيد بن جبير ؒ هم په روايت د ابن عباس ﷺ وايي لقد قال موسیٰ ؑ رب اني لما انزلت آه، او حال دا ؤ چي اكرم د خلکو پر خداى ﷻ دى ؤ، وقد افتقر الى شق تمرة.

درويش وايي: چي مظهري ؒ نور توجيهات هم کړي دي لکن روح المعاني راوړي دي او رد کړي يې دي حيث قال وانت تعلم ان خلاف الماثور الذي عليه الجمهور انتهى.

تجديد نظر على مامر من الفقر (جمع د فقرة ده يعني پر د مخني جملو نوى نظر) روح المعاني دا سوال مطرح کړى دى چي څرنګه نبي الله شعيب ؑ ته روا وه چي په لوڼو يې رعۍ د پسو کوله او سره دد پ چي لوى ښځي وې، بيا يې ځواب ورکړى دى چي په دې کوي کوم محظور نسته، زموږ اسلام هم له دې څخه منع نه ده کړې، او بيا روح المعاني په ځواب کي ددې سوال چي غيرت د سړي ددې څخه اباء کوي چي ښځي دې شپني کوي، او بيا يې ځواب ورکړى دى چي عادات د خلکو په دې مختلف دي، احوال د عربو مخالف دي د احوالو سره د عجمو، او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مذهب د پوهنده وو خلکو مخالف دی له احوالو څخه سره د ښارو او د قریو خصوصًا اذا کان الحال حال الضرورة، کما في قصة شعیب ؑ وابونا شیخ کبیر، کما مر، نو اوس بیرته د قصې پر لور: موسی ؑ چې هغه خبره وکړه اني لما انزلت الي فقیر، د شعیب ؑ لوڼې وپوهېدلې چې دا سړی وږی دی، نو څرنګه چې د شعیب ؑ لوڼې قبل الوقت المعتاد یعني چې په خوا به دېرې ناوخته راتلې په دې ورځ وختي راغلې، نو شعیب ؑ پوښتنه ځندې وکړه چې نن ولې دومره وختې راغلاست دوی قصه د موسی ؑ بتمامها ورته وکړه او دا یې هم ورته وویل چې دا سړی زموږ په خیال ډېر وږی ؤ، نو شعیب ؑ یوې لور ته چې مشره لور یې وه او نوم یې صفوریاء ؤ علی الاشهر چې ورسه دعوت ورکړه چې راسي او موږ ډوډۍ ورکړو، قال الله تعالی.

فَجَآءَتۡهُ إِحۡدَىٰهُمَا تَمۡشِي عَلَى ٱسۡتِحۡيَآءٖ

نو موسی پر هغه ځای سایې ته ناست ؤ چې لور د شعیب ؑ ده ته راغله، چې دا په حیاء کې چې لستوڼی د قمیص یې پر مخ نیولی ؤ استحیاءً.

بوه سه: چې جمله د تمشي حال ده له فاعل څخه د جائت، ابوبکر بن طاهر په سبب کې د حیاء د بنت شعیب ؑ داسي ویلي دي لتمام ایمانها وشرف عنصرها وکریم نسبها ولهذا قال علیه الصلوة والسلام الحیاء من الایمان ای شعبة من الایمان.

سوال: څرنګه روا وه شعیب ؑ ته چې یوازې یې لور و بیګانه سړي ته واستول د مهمانۍ لپاره؟

ځواب: شعیب ؑ لوی زوی نه درلودی چې وروایې ستوي، او یا عفت او صلاح د موسی ؑ وه ده ته د لوښو له پیانه ښکاره سوه، او یا په نور د وحي ورته معلومه سوه.

قَالَتۡ إِنَّ أَبِي يَدۡعُوكَ لِيَجۡزِيَكَ أَجۡرَ مَا سَقَيۡتَ لَنَاۚ

لور د شعیب ؑ وویل موسی ؑ ته چې زما پلار تا بولي چې تا ته در کړي مزدوري او مکافات د هغه کار چې تا زموږ پسونه را اوبه کړه، ابن عساکر رح او بغوي رح وایي چې سلمه بن دینار رح وایي چې موسی ؑ چې لفظ د اجر واورېدی یو وېرېې اراده دا سوه چې مه ورسره ځه، او یا له دې سببه چې بېګانه ښځه ده ته څرنګه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورسره ځي، او تا خو دا کار لپاره د رحمت پر دوی او یا لپاره د خدای ﷻ کړی ؤ، نو مزدوري څرنګه پر اخلې، لکن چونکه نهایت مجبوره ؤ او ډېر وږی ؤ ورسره راهي سو، نو ښځه د مخه سوه موسیٰ ؑ وروسته پسې روان ؤ، لکن د خدای پاک امتحان ؤ باد پیدا سو چې د ښځې قمیص به باد وواهه د دې پنډۍ به ښکاره سوې، نو موسیٰ ؑ ته دا ناجائزه معلومه سوه چې د بېګانه ښځې پنډۍ ووینې، نو یې دې ته وویل چې تر ما وروسته راځه ماته لار په خوله راښیه که زه خطا وتم، نو ښځې هم دغسې وکړه چې د شعیب ؑ کره ورغله د ماخستن ډوډۍ تیاره پرته وه، وروسته تر ښه راغلې یې ورته وویل یا شاب (نوم خو یې نه ؤ زده) اجلس ډوډۍ دروا خله، موسیٰ ؑ وویل اعوذ بالله، شعیب ؑ ورته وویل اعوذ بالله دې ولې وویل ته وږی نه یې؟ موسیٰ ؑ ورته وویل هو! وږی خو یم لکن اخاف انیکون چې دا ستا ډوډۍ به عوض وي د ماسقیت لبناتک المواشي، او زیاته یې کړه چې موږ له داسي خاندان څخه یو چې پر یو عمل چې موږ یې د آخرت لپاره وکړو عوض د دنیا له چا څخه نه غواړو، شعیب ؑ ورته وویل لا والله یعني دا ډوډۍ ستا عوض د نه کار نه ده، بلکې زما او زما د آباء دا عادت دی چې مهمان نوازي کوو، ونطعم الطعام للمسافرین والاضیاف فجلس موسیٰ واکل.

سوال: موسیٰ ؑ ته خو د شعیب ؑ لور وویل ان ابی یدعوک لیجزیک اجر ماسقیت لنا، نو دا خو صراحةً دلالت پر دې کوي چې د موسیٰ ؑ دعوت لپاره د اعطاء الاجر ؤ او موسیٰ ؑ یې هم اجابت وکړی او د شعیب د لور سره ولاړی، چې یو واریې ددې اراده کړې وه چې مه ورسره ځه، نو بیا موسیٰ ؑ څرنګه ورته وویل چې اخاف انیکون آه؟

درویش وایي: چې مظهري رح دا سوال راوړی دی اخیراً یې دا حکم کړی دی چې دا قصه دروغ ده او څه دلائل یې هم ویلي دي، د مظهري د سوال په ځواب کې روح المعاني ویلي دي ولا اقول ان الرغبة في سد الجوعة رغبة في استیفاء الاجر علی عمل الآخرة او مستلزمة لها، او روح المعاني دغه قصه چې مظهري کړې ده ټوله یې راوړې ده او د غلط نوم یې نه دی پر ایښی، فکیف حکم المظهري رح بقوله فالآیة تدل علی بطلان هذه القصة، والله اعلم بالصواب، ولله در صاحب روح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

البيان حيث قال: موسیٰ ؑ بجهت زيارت شعيب ؑ او به مناسبت اشنائی با او اجابت کردند نه برائ طمع ومزد سقيا، ولان موسیٰ ؑ کان بين الجبال خائفا مستوحشا او د شعيب ؑ د لور قبلونه يې وکړه، او نوره قصه يې پوره کمام راوړې ده.

فَلَمَّا جَآءَهٗ وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ ۙ

چي موسیٰ ؑ راغلی شعيب ؑ ته او قصه د کوچنيوالي راتيولې بيا يې ترپايه پوري شعيب ؑ ته وکړه.

بوه سه: چي قصص مصدر دی په معنی د مقصوص دی.

قَالَ لَا تَخَفْ ۫ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۲۵﴾

شعيب ؑ ورته وويل چي بېرېږه مه د فرعون او دده د قوم قبطيانو څخه تا نجات پيدا کړی د هغه قوم څخه چي دوی ظالمان وه يعني فرعون وقومه، ولي د دوی پر مدين تسلط نسته، مولوي معنوي جلال الدين الرومي قدس سره په خپل کتاب مثنوي کي وايي:

هر که را ترسد مرورا ايمن کنند ... مر دل تر سنده را ساکن کنند
انکه خوفش نيست چون گوئی مترس ... درس چه دهی نيست او محتاج درس

اويس القرني رحمه الله چي عليه الصلوٰة والسلام دده په شان کي ويلي دي اني لاجد نفس الرحمن من اليمن، وايي کن في امر الله کانک قتلت الناس جميعًا يعني مغمومًا، شعيب بن حرب رحمه الله وايي چي ما چي به سفيان ثوري رحمه الله ته وکتل داسي به په خيال راغله لکه يو سړی چي په داسي ځای کي چي هغه د درندګانو ډک وي يعني دومره بېره به مي دده په مخ کي محسوسه کړه، او ما چي په وکتل د عبد العزيز بن ابی داؤد رحمه الله ومخ ته خيال به مي داسو چي دی تر يوې دربچې و قيامت ته ګوري.

او موسیٰ ؑ د فرعون په کور کي ظاهري نعمتونه ډېر درلودل چي د مصر څخه يې هجرت وکړی الی الله، او د لارو په اوږدو کي يې ډېر شدائد د سفر وليدل او لوږې پر راغلې کمام او لخې پښې او غربت له کوراو قوم څخه ورپه برخه سو کمام عوض يې خدای ﷻ په نعمت ظاهره والباطنه سره ورپه برخه کړی کما سيجيئ بيانه ان شاء الله تعالى حيث قال له لاتخف نجوت الخ... سعدي رحمه الله وايي:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سعدیا حب الوطن گرچه حدیث است صحیح
نتوان مرد بسختی که من اینجا زادم

یوه محقق شاعر په عربي ژبه داسي ویلي دي

سافر تجد عوضًا عمن تفارقه........ وانصب فان اكتساب المجد في نصب
بلاد الله واسعة فضاء........ورزق الله في الدنيا فسيح
فقل للقاعدين على هوان........اذا اضاقت بكم الارض فسيحوا

(انصب) یعني ځان ستړی کړه، (فسیح: ډېر دی) یعني که ځګه درباندي تنګه سوه سیاحت وکړه بلي ځکي ته ولاړ سه

هرکجا با شدشه ما را بسا ط........هست صحراء اگر بود سم الخیاط
هرکجا باشد یوسف رضي چو ماه....... جنت است آن گرچه باشد قعر چاه

قَالَتْ إِحْدَىٰهُمَا يَٰٓأَبَتِ ٱسْتَـْٔجِرْهُ ۖ إِنَّ خَيْرَ مَنِ ٱسْتَـْٔجَرْتَ ٱلْقَوِيُّ ٱلْأَمِينُ ۝٢٦

یوې لور و پلار شعیب ؑ ته وویل (مشره لور یې وه چي موسیٰ ؑ ته یې دعوت د پلار ورساوه، وهي التي زوجها موسیٰ ؑ چي شعیب ؑ په نکاح ورکړه) یعني دغه ملمه اجیر وګرځوه لپاره د پولو د پسو، موږ له دې تکلیف څخه د رعی الاغنام خلاصي کړه، په تحقیق ښه مزدور هغه دی چي هم قوت والا وي او هم امین وي یعني خیانت په مزدورۍ کي نه کوي.

یوه سه: چي الف ولام په القوي الامین کي لپاره د جنس دی فیکون موسیٰ مندرجًا فیه.

په قصه کي ددې وینا د لور و پلار ته چي شعیب ؑ وُ وه لور ته یې وویل چي ته په قوت د موسیٰ ؑ څه خبره یې؟ دې لور یې قصه د پورته کولو د لویې ډبري د هغه ځاه څخه چي په لسو کسو به پورته کېدل او ده یوازي پورته کړه کما مر تفصیله، او شعیب ﷺ ولور ته وویل چي ته یې په امین والي څه خبره یې، هغې ورته وویل چي تا چي زه ده ته د عوت لپاره ورواستولم ده سر کښته نیولی وُ او زما مخ که څه هم ما پټ کړی وُ ده نه کتل د خپلي پرهېزګارۍ له سببه، او بل دا چي ما دی کور ته راوستی ستا په امر ده راته وویل چي ته وروسته سه که زه په لار کي خطاوتم ته یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په خوله د انبیاء دا ایې بله تقوٰی وه کما مر بیانه تفصیلاً ، نو شعیب ؑ قناعت وکړی او وه یې ویل موسٰی ؑ ته.

قَالَ اِنِّیْۤ اُرِیْدُ اَنْ اُنْكِحَكَ اِحْدَى ابْنَتَیَّ هٰتَیْنِ

زه اراده لرم چې تا ته په نکاح درکړم یوه د دغو دوو لوڼو چې ناستي دي، حرف تاکید یې د دې لپاره راوړی چې زما دا عزم مصمم دی چې زه تا ته په نکاح درکړم یوه د دوو لوڼو څخه چې دا ناستي دي، چې د یوې نوم صفوراء ؤ او د بلې نوم اریاء ؤ، او ابن عباس رض وایي چې د یوې نوم صفورة ؤ او د بلې دا شرقاء ؤ، او بعض وایي چې د یوې نوم صفراء او د بلي کشري نوم اصفیراء ؤ، وهب بن منبه رح وایي چې کبرٰی یې په نکاح ورکړه، او اکثره مفسرین پر دې مذهب دي چې زوجه الصغرٰی وه اسمها صفورة، بخاري د انس رض څخه روایت کړی دی چې صغرٰی یې په نکاح ورکړه، او بغوي رح وایي له ابو ذر رض څخه اذا سئلت ای الامرتین انکحها، فقل الصغرٰی منهما، وهذا حدیث مرفوع الی رسول اللّٰه ﷺ.

فائده: جمله د اني مستانفه بیانیه ده کانه قیل فما ذا قال شعیب ؑ في جواب البنتین.

سوال: د هاتین د لفظ څه فائده ده؟

خواب: بعض وایي چې شعیب ؑ څلور نوري کوچنیانې لوڼې درلودې، بعض وایي شپږ یې درلودې.

عَلٰۤى اَنْ تَاْجُرَنِیْ ثَمٰنِیَ حِجَجٍ ۚ فَاِنْ اَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِنْدِكَ

یعني ځان به زما مزدور کړځوې په رعٰی کي د اغنام، اته کاله که دي لس کاله پوره کړه هغه تفضل او حسان دی ستا له جانبه واجب پر تا نه دی.

بوښتنه: رعٰی د اغنامو خو مهر ؤ نو شعیب ؑ ولې وویل علی ان تاجرني، ولي مهر او مزدوري خو فرق سره لري او سره د دې مهر به مال متقوم وي زموږ په شریعت کي، او خدمت یا تعلیم القرآن خو مال متقوم نه دی لقوله تعالی: ان تبتغوا باموالکم، او بله پوښتنه دا ده چې مهر خو حق د ښځو دی یعني المنکوحات، قال اللّٰه تعالی آتوا النساء صدقاتهن ای مهورهن زموږ په شریعت کي نکاح پر خدمت کولو یا پر تعلیم القرآن نکاح خو صحیح ده لکن واجب مهر مثل دی، والجواب عن الاول

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ان هذا كان جائز في شريعة شعيب ؑ يعني خدمت چي مال متقوم نه دی دده په شریعت مهر گرځېدی، وجواب الثاني در عين المعاني اورده كه در شرائع متقدمه مهر دختران پدر را بود وايشان ميگرفتند ودرشريعت ما منسوخ شده.

درویش وایي: چي بعض پښتانه اوس هم د لور وَلُوَرْ خپل ملک گرځوي، يو جزوي کالي او زېور ولور ته ورکړي چي ودوي يې هغه پاته ولور پلار نوشجان کړي وهذا عمل بالشريعة المنسوخة مخالف صراحةً للآية المذكورة. او بعض پښتانه دا حيله ورته جوړه کړي چي د ولور روپۍ چي د اوري لور ته ووايي چي دا خو ستا ولور دی او حق هم ستا دی ماته يې رابخښې. لور د شرمه ورته ووايي هو بابا ماتاته دربخښلي دي.

درویش وایي: چي بعض مفسرينو يوه زيبا او ښائسته توجيه ددې آيت کړې ده چي زړه د سالک لبيک ورته وايي، او د عين المعاني و توجيه ته هم ضرورت نه پيدا کيږي. هغه دا دی چي شعيب ؑ خو موسٰی ؑ ته داسي وويل انا جرني يعني زما د رضا. لپاره په نکاح د بنت اته کاله به زما مزدوري کوې. داسي نه روته وايي ان تاجرها حتی چي ولور وگرځي. او هغه دوه سواله پروارد سي.

پوښتنه: په نکاح کي مهر شرط دی مسمّٰی یا مهر مثل؟

ځواب: شعيب ؑ د لور د خبرو يعني يا ابت استاجره الآية څخه دا ومفهول چي دا د ولور په باره کي اني د مهر چي عشر دراهم دي راضي ده. نو عين ممکنه ده چي شعيب ؑ دي په وخت کي د عقد نکاح ادنٰی د مهر شرعي ذکر کړی وي فافهم. ويدل عليه ما قال المظهري رح وهذا استدعاء لعقد النكاح يعني عقد نه دی، اذ لو كان عقداً لقال قد انكحتک هذه بتعيين احدهما. والظاهر انه جرى العقد على احدهما معينة بعد ذالک انتهٰی.

درویش وایي: چي له دې عبارت څخه د مظهري رح دا معلومه سوه چي رعی الاغنام مهر نه وُ اته یا لس کاله. لکن مظهري رح چونکه د مذهب ډېره پابندي نه لري له دې سببه يې ورسته دا ويلي دي چي ددې آيت ولايجوز ذالک عند ابی حنيفة رح في رواية الاصل (ای المبسوط) والجامع (ای الجامع الصغير) دابی حنيفه رح د قول دليل يې دا راوړی دی چي دليل په دې آيت سره نه دی روا الا اذا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثبت كون الغنم ملكا للبنت لاجماع على ان المهر في شريعتنا يكون للزوجة لا لوليها، والغنم كانت لشعيب عليه السلام انتهى.

درویش وایي: چي هغه تفسير چي ما ذکر کړي دي چي ډېر زیبا دی او پر ذروة د تحقیق دي او د امام اعظم رح د مذهب سره پوره سمون لري.

وَمَآ اُرِیْدُ اَنْ اَشُقَّ عَلَیْكَ ؕ سَتَجِدُنِیْۤ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ مِنَ الصّٰلِحِیْنَ﴿۲۷﴾

زما اراده نه ده چي پر تا تکلیف تېر کړم او مشقت در کړم، یا په پوره کولو کي د لسو کلو یا فوق العادة او په اعمال شاقه وو سره تا مکلف کړم یا په رعٰی د اغنامو سرزنش در کړم، ژر دی چي ته به ما ووینې د صالحانو له ډلې څخه یعني بالوفاء بالعهد بیني وبینک.

پوه سه: چي دا جمله تاکید ده لقوله ما ارید ان اشق علیک د انشاء الله څخه فیما وعده من الصلاح فائده داده چي خدای ﷻ دي ماته توفیق را کړي چي دا وعده پر ځای کړم، او بله فائده یې داده چي پر خپل ځان باور نه ؤ ددې لپاره نه ده چي شعیب؈ متردد ؤ په موعود کي.

قَالَ ذٰلِكَ بَیْنِیْ وَبَیْنَكَ ؕ اَیَّمَا الْاَجَلَیْنِ قَضَیْتُ

موسٰی ورته وویل چي دغه شرط زما او ستا تر منځ دی، هره یوه ددې دوو وعدو چي اته یا لس کاله دي ما پوره کړه، ایما منصوب په قضیت سره دی.

فَلَا عُدْوَانَ عَلَیَّ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰی مَا نَقُوْلُ وَكِیْلٌ﴿۲۸﴾

نو ته به اعتداء او تجاوز نه کوې پر ما باندي یعني بطلب الزیادة یعني لکه زه چي طلب د زیادت د اجرت نه کوم له تا څخه چي لس کاله پوره کړم ته به هم طلب د زیادت نه کوې که ما اته کاله پوره کړه، او خدای ﷻ زما او ستا پر ویناوو یعني فیما بیني وبینک وکیل دی یعني تفویض د امر و خدای ﷻ ته دی لکن دلته په معنی د شاهد دی.

فائده في خشیة شعیب عليه السلام من الله تعالی، شداد بن اوس رح روایت کړی دی چي اکثره تفاسیرو راوړی دی چي شعیب النبي عليه السلام به دومره ډېر ژړل چي په سترګو ړوند سو خدای ﷻ بیرته بینا کړی، بیا یې ژړل ژړل چي بیا په سترګو ړوند سو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني له دېرې ژړا څخه بیا خدای ﷻ سترګي وربینا کړې، نو خدای پاک ورته وویل: یعني جبرئیل ؑ یې ورته راواستاوه چي دا ستا ژړا د جنت له محبته ده او که د دوږخ له بېرې څخه ده؟ شعیب ؑ ورته وویل لا یا رب، یعني نه د جنت د محبت لپاره ژاړم او نه د دوږخ له بېرې ژاړم بل شوقًا الی لقائک فاوحی الله تعالی الیه مبارک دي سه زما ملاقات یعني في الجنة ولذالک اخدمتک موسیٰ ؑ، راوي وایي چي عقد تر منځ د شعیب او د موسیٰ ؑ پای ته ورسېدی کما مر في الآية السابقة، شعیب ؑ خپلي لور ته وویل چي ورسه د موسیٰ په لاس لکړه ورکړه چي پسونه په پیایي او درندګان په دفع کوي، او اکثر علماء او مفسرین وایي چي دا لکړه آدم ؑ له جنته راوړې وه او میراث پر میراث د شعیب ؑ لاس ته ورغله او دا لکړه بېله نبي بل چا په لاس کي نه ده اخستې (یعني یا حالاً یا مالاً لکه موسیٰ ؑ فلا یرد ما یتوهم فتامل، یعني چي موسیٰ ؑ خو په دغه وخت کي نبي نه ؤ، نو څرنګه لکړه د ده په لاس ورغله) نو ځکه دي عصاء د عصاء الانبیاء په نامه شهرت درلودی، او سدي ؒ وایي چي دا لکړه یوې ملکي چي په صورت د سړي وه شعیب ته ایښې وه، نو شعیب ؑ چي ولور ته وویل چي ورسه موسیٰ ته لکړه راوړه لور چي یې ورغله هغه امانت لکړه یې ورته راوړل؛ چونکه د شعیب ؑ سره د دېري نبیانو لکړې پرتې وې، لور چي یې هغه امانت لکړه ورته راوړل شعیب ؑ چي ورته وکتل لور ته یې وویل چي دا لکړه هلته کښېږده بله لکړه راوړه، بیا هغه لکړه په لاس ورغله بیا چي شعیب ؑ ورته وکتل لور ته یې وویل چي هورې یې کښېږده بله لکړه راوړه تر درې واره پورې، او بعض مفسرین وایي تر اووه واره پورې، نو وروسته شعیب ؑ هم په راضي سو او موسیٰ ؑ ته یې هغه لکړه ورکړه موسیٰ ؑ پسونه وه ایستل لکړه ورسره وه، وروسته شعیب ؑ پښېمانه سو چي دا خو امانت لکړه وه، نو په موسیٰ ؑ پسي ورووتی او ورته وه یې ویل چي دا لکړه راکړه (یعني دا امانت ده) راځه بله لکړه به درکړم، موسیٰ ؑ منع ورته وکړه، اخیر یې فیصله پر دې سړي وکړی چي اول چي هر سړی زما او ستا په مخه راغلی هغه به زما او ستا تر منځ محکم وي، خدای ﷻ ملکه پر صورت د سړي اول په مخه ورووستی، هغه سړي یعني ملکي دا فیصله وکړه چي دا لکړه وغورځوي هر چا چي راپورته کړه د هغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ده، شعیب ؑ چې هر څه کوشش وکړی نه سوای پورته کولای، موسیٰ ؑ چې لاس وروا چاوه لکړه یې راپورته کړه. فترکها الشیخ یعني شعیب ؑ.

درویش وایي: چې راویان د تاریخ قدیم وایي چې موسیٰ ؑ چې د رعی الاغنام لپاره ابتدائي ورځ راهي سو، شعیب ؑ ورته وویل چې ته چې هغه ځای ته ورسېدې چې دوې لارې په مخه درسي هغه د راسته لاس لار په مخه مه اخله یعني د رعی الاغنام لپاره، ولې وابنه که څه هم په هغه جانب کې ډېر دي لکن په هغو وښوو کې ماران سته زه بېرېږم چې تا یا پسونه یعني مېږې او بوزې پر غلانځو باندې ونه خوري، موسیٰ ؑ چې هغه ځای ته اغنام ورنږدې کړه، پسو چې شنه وابنه ولیدل د یوه مخه په ګډ سوه او د موسیٰ له قبضې څخه ووتل یعني منع یې نسوای کولای، نو وروسته په پسې سو، موسیٰ ؑ چې دا سرسبزه او شاداب ځمکه ولیدل او د پسو په هول هول خوراک یې ولیدی، کرار ورته بیده سو، دی بیده دی له بله خوا یو مار پرده را روان دی، مار چې وده ته رانږدې سوې دی د لکړې ورسره جنګ سوی دی یعني بقدرته تعالی ولیکون لموسیٰ ارهاسًا (یعني الکرامة قبل النبوة) خو ماریې وژلی دی او لکړه بیرته د موسیٰ ؑ وخنګ ته پرته ده لکه ده چې ایښې وه لکن په وینو رنګ وه، موسیٰ ؑ چې راویښ سو لکړه یې په وینو رنګ ولیدل او ماریې مړ ولیدی، ماښام چې د شعیب ؑ کور ته راغلی دا قصه یې ورته وکړه، شعیب ؑ ډېر خوشاله سو او پوه دې پوه سو چې موسیٰ او لکړه ډېر لوی شان لري.

تاریخ قدیم: د موسیٰ ؑ خبرې کوي چې موسیٰ ؑ چې خپله نېټه پوره کړه او شعیب ؑ خپل لور وده ته تسلیم کړه، موسیٰ ؑ وخپلې کوروالا ته وویل چې ستا پلار دې موږ ته یو څو پسونه او مېږې راکړې، نو دې چې پلار ته دا خبره وکړه شعیب ؑ دا خبره ومنل په دوه سببه: یو لپاره د اکرام د موسیٰ چې د شعیب ؑ سره یې لس کاله تېر کړه په ښه مراعات سره او په ښه رعی د اغنامو او بل په سبب د صله رحمی د لور سره چې له کوره وځي او په مسافری، د خپل خاوند سره مصر ته راهي ده، نو شعیب ؑ خپل لور ته وویل چې په دې کال چې مېږې لنګې سي هر ابلق (کمر) نر یا ابلقه ښځه چې راوړې هغه ستاسي دي، خدای ﷻ و موسیٰ ؑ ته وحي وکړې په خوب کې چې ته په لکړه خپل هغه اوبه وواهه چې په سقی کې د اغنام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولاړي وې، نو موسیٰ ؑ هم داغسي وکړه او مېږې يې تولي پر اوبه کړې هر څه مېږې چي د شعيب ؑ وې په دغه کال يې ابلق نر راوړه يا يې بلقاء ښځي وزېږولې. نو شعيب ؑ په نور د نبوت په دې پوه سو چي دا يو رزق ساقه الله الی موسیٰ ؑ، فوفی بالشرط او هغه ابلق او بلقاء وري يې ټول له موسیٰ او لور ته ورکړه.

درویش وايي: چي تر دې ځايه پوري د تاريخ قصه وه چي هم روح المعاني، روح البيان او مظهري راوړې وه، نو فقير وايي چي دا پسونه خو يوائي موسیٰ ؑ او خپلي خانه وداني خو نسوای بېولای مصر ته كما يشهد به العقل، نو حتمًا شعيب ؑ شپانه هم ورسره کړي دي د لاري په اوږدو کي چي پر لاري د پسو رعی او حفاظت کوي، او وروسته به راسي چي د شعيب ؑ لور حمل هم درلودی، نو شعيب ؑ په پوهېدی چي د لاري په اوږدو کي به زما لور ته د وضع الحمل ضرورت واقع سي، او خدمت ګاره او ورته ناست به څوک وي، نو يې منځه هم ورکړه.

درویش وايي: چي دا خبري دي متعلمين په ياد ولري چي د شيعب ؑ له کوره څخه چي د مصر پر خوا راهي وه، موسیٰ ؑ، او د شعيب ؑ لور وه او شپانه ؤ او يوه مينځه وه دا وروسته ستاسي د پوهني په ښه راځي ان شاء الله تعالی.

فَلَمَّا قَضَىٰ مُوسَى الْأَجَلَ

نو څه مهال چي موسیٰ پوره کړی اجل موعود، سعيد بن جبير رحمه الله وايي چي زما څخه يوه يهودي پوښتنه وکړه چي موسیٰ ؑ کوم اجل پوره کړی يعني اته کاله که لس کاله، ما ورته وويل چي نه يم په خبر تر څو چي پوښتنه ونه کړم له حبر العرب څخه مراد د سعيد بن جبير رحمه الله له حبر العرب څخه رئيس المفسرين ابن عباس رضي الله عنه، نو له ابن عباس رضي الله عنه سره مي ملاقات نصيب سو هغه د يهودي د سوال پوښتنه مي ځندي وکړه ده راته وويل اکثرهما و اطيبهما (١٠) کاله ان رسول الله ﷺ (ولو فيما سيئاتي) اذا قال فعل و اذا وعد وفي به) او مجاهد رحمه الله وايي چي موسیٰ ؑ اکثره يعني لس کاله د شعيب ؑ سره تېر کړه، لس کاله يې نور ورسره تېر کړه او شل کاله وروسته يې اجازه ځندي وغوښتل يې زه خپل تاتوبي مصر ته ځم، نو شعيب ؑ هم اجازه ورکړه.

درویش وايي: چي روايت د ابن عباس رضي الله عنه اولی و احری بالقبول دی، روح البيان هم لس کاله ذکر کړي دي او روح المعاني هم لس کاله ذکر کړي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راویان وایي چي موسیٰ ؑ چي آرزو د وطن مصر وکړه شعیب ؑ وژړل چي ته ځرنګه زما څخه جلا کېږي وقد ضعفت وکبرت، موسیٰ ؑ ورته وویل چي زما ډېر کلونه د جلا والي د خپلوانو څخه یعني د مور، خاله، ورور هارون ؑ او د خور څخه تېر سول، ددوی و لیدلو ته ډېر مشتاق یم، نو شعیب ؑ ولاړ سو لاسونه د دعای یې پورته ونیول او داسي دعاء یې موسیٰ ؑ ته وکړه یارب بحرمة ابراهیم الخلیل واسماعیل الصفي والسحق الذبیح (درویش وایي چي اسحاق الذبیح چي ده یاد کړی پر مذهب د محققینو بناء دی چي اسحاق ذبیح الله دی لکن مشهوره داده چي اسماعیل ذبیح الله دی والله اعلم) وبحرمة یعقوب الکظیم (یعني غم دیده في فراق یوسف ؑ) وبحرمة یوسف الصدیق رد قوتي وبصري، او موسیٰ ؑ آمین آمین وایه پر دعاء دده چي خدای ﷻ دده سترګې روښانه کړې او قوت د ځوانی یې ورکړی، بیا یې موسیٰ ؑ ته وصیت وکړی په باره کي د خپل لور یعني چي ښه ګذاره ورسره کوه.

درویش وایي: چي په دې خبره کي تول مفسرین سره متفق دي چي د شیعب ؑ لور د موسیٰ ؑ کور والا په دغه سفر کي امیدواره وه، صرف روح البیان وایي په حواله د کشف الاسرار چي د موسیٰ ؑ یو زوی د شعیب ؑ په کور کي پیدا سوی ؤ او بل په حمل کي ؤ، والغیب عندالله.

وَسَارَ بِأَهْلِهِۦٓ ءَانَسَ مِن جَانِبِ ٱلطُّورِ نَارًا ۖ قَالَ لِأَهْلِهِ ٱمْكُثُوٓا۟

او راهي سو موسیٰ د اهل سره (حتی چي ورسېدی یو بیابان ته نژدې و طور سینا ته في لیلة مظلمة شدیدة الشتاء، او ماینې ته یې د عیال درد وریښن سو) ده ولیدل د هغه جانبه څخه چي طور ته ځرمه ؤ اور یعني دده په خیال اور ورتلی، ده وویل خپل اهل ته چي تاسي دلې کښېني، مظهري وایي ضمیر د جمع که دا صحیح وي چي د موسیٰ ؑ سره بېله ماینې بل څوک نه ؤ لما کنی عنه بالاهل آه.

درویش وایي: چي مظهري په خپله دا قصه راوړې ده چي شعیب ؑ و موسیٰ ؑ او لور ته پسونه ورکړه او دمخه یې وویل چي د پوسو تربیه او ساتنه بې شپانه څوک نسي کولای، نو دا پسونه موسیٰ ؑ بېول او که د شعیب ؑ لور؟ او مظهري دلته هم ویلي دي چي د شعیب ؑ لور ته د عیال زېږېدلو درد پیدا سو چي شعیب ؑ په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خبرۇ چي حمل لري، نو هغه خبري چي فقیر یې پېش بیني وکړه ډېري صحیح دي چي شعیب شپانه هم ورسره کړی او مینځه هم، نو ضمیر د جمع خو صحیح دی غاية ما في الباب، تذکیر د ضمیر په اعتبار د تغلیب د مذکر دی پر مؤنث باندې، او بله دا چي مظهري دلته چي ان صح په شک سره، نو هغه د پسو قصد چي دهم کړې وه د شک څه معنا ده، او بل چي دی وايي چي که بل څوک نه ؤ ورسره، نو ضمیر لما کنی عنه بالاهل.

درویش وايي: چي ما کنی عنه بالاهل خو پر دغه تقدیر یوائې ماینه ده. نو صحیح تفسیر هغه دی چي روح البیان کړی دی، وکان في البرية، او مابنام دی یعني موسٰی ومن معه یو بیابان ته ورسېدل او شپه هم ډېره تاریکه وه او یخ هم ؤ، نو د شعیب له کوره یې یو کوچنی خېمه هم راخستې وه هغه یې پر غاړه د وادي ودرول او ماینه یې پکښې کښېنول او باران هم شروع سو او برف باري (واوره) هم، او پسونه چي شعیب ولور ته ورکړي وه سره تیک وپرک سول او شپانه په هغو پسي ځغاستی، او له خېمې څخه مینځي دغ وکړی چي سخت یخ دی، ماینې ته د وضع الحمل درد ورپېښ سو، زند وواهه چي روښا سي او یو څه اور بل کړو (زند په پښتو وورتک بولي) ده چي هر څو زند وواهه اور یې نه کاوه، نو په دې وخت کي آنس من جانب الطور الى اخير الآية.

پوه سه: چي طور نوم د جبل مخصوص دی، مفسرین وايي چي هغه انوار الٰهیه وه چي موسٰی ته په صورت د اور ښکاره سوه.

﴿إِنِّيٓ ءَانَسۡتُ نَارٗا لَّعَلِّيٓ ءَاتِيكُم مِّنۡهَا بِخَبَرٍ أَوۡ جَذۡوَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ﴾

په تحقیق ما ولیدی اور (دا جمله علت ده لقوله امکثوا) شاید زه به راتک وکړم د اور په خبر دلاري د مصر، او د موسٰی لار هم ورکه وه. دده خیال دا ؤ چي اور چي بلېږي هرو مرو هلته خلک دي. زه به د لاري پوښتنه ځني وکړم. دا خطاب د جمع د ماینې، مینځه او هغه شپانه ته دی چي شعیب ددوی سره کړی ؤ، روح المعاني وايي چي د موسٰی سره دوه نور زامن ورسره وه چي د شعیب په کور کي زو کړي وه، چي د مشر زوی نوم یې جیرشوم او د کشر زوی نوم یې الیعادر ؤ. في الحال دا په حمل د ریم کي وه، نو خطاب د ضمیر د جمع مذکر تغلیبًا ورته صحیح دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: موسیٰ ؑ لعل ولې ووایه جزمًا یې ولې نه ووایه، چې زه خبر د لارې راوړم او اور به هم راوړم؟

ځواب: انبیاء علیهم السلام او اولیاء کرام رح په مستقبل کار جزمي خبره نه کوي لان جمیع الامور متعلقة بمشیة الله تعالیٰ، نو یا ان شاء الله وایي یا لعل فافهم.

پوه سه: چې لفظ د جذوة مثلثة الفاء عند القراء، قتاده او مقاتل وایي چې جذوة هغه لرګي ته وایي چې یوه حصه یې اور وي او باقي لرګی وي، جمع یې جذیٰ ده، او په قاموس کې وایي چې جذوة مثلثة الفاء یوې حصې ته د اور وایي او سکروټې ته هم وایي.

درویش وایي: چې د تفسیرو چې مظهري راوړي دي نقلاً ضرورت د وروسته کلمې د من د ذکر کولو نه ثابتیږي، نو صحیح تفسیر د بیضاوي دی چې هغه وایي چې جذوة پنډ لرګي ته وایي که یې په سر پورې اور وي او که نه، ولذالک بینه بقوله "من النار" او روح المعاني هم ورته بیان د بیضاوي کړی دی، بقوله عود غلیظ آه، او روح البیان هم په تفسیر کې د جذوة بعینه بیان د تفسیر د بیضاوي او د روح المعاني کړی دی قال عود غلیظ سواء في راسه نار اولا، الی اخیر تفیر البیضاوي.

لَعَلَّكُمْ تَصْطَلُونَ ۝

شاید تاسي به ځانونه په تاوده کړئ چې نور بتي او خاشې پر واچوو، وقد مر ان اللیل کانت باردة.

فَلَمَّآ أَتٰىهَا نُودِيَ مِن شَاطِئِ الْوَادِ الْأَيْمَنِ

موسیٰ چې راغلی هغه اور ته ناره پر وکړه سوه له جانبه څخه (چې معنی د شاطي ده) له هغې ښیلې څخه چې پر راسته لاس د موسیٰ وه.

فِي الْبُقْعَةِ الْمُبٰرَكَةِ مِنَ الشَّجَرَةِ

په هغه ځای کې چې مبارک نظروه موسیٰ ته وه ولې خدای جل جلاله بدون واسطة الملک خبرې ورسره وکړې او نبي یې وګرځاوه، له یوې درختې څخه، بدل اشتمال دی له شاطي څخه، ولې دغه درخته شنه وه پر غاړه د ښیلې، دا درخته د عناب وه په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

روایت د ابن عباس ﷛ څخه، او له ابن مسعود ﷛ څخه روایت دی چي سمرة درخته وه. او ابن جريج او كلبي ﷬ وايي چي عوسجة درخته وه وهو المذكور في التورات اليوم.

اَنْ يّٰمُوْسٰۤى اِنِّيْۤ اَنَا اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۳۰﴾

پوهه: چي ان مفسر دی د نودي، یا موسٰی په تحقیق زه الله يم چي رب العالمين دی.

پوښتنه: په سورت طٰه کي داسي راغلي دي اني انا ربک، او په سورت النمل کي داسي راغلي دي انه انا الله العزيز الحكيم، او په سورت طٰه کي عبارت هم موجود دی اخلع نعليک انک بالواد المقدس طوی، او په بل سورت کي بورک من في النار ومن حولها الخ، نو ددې ټولو تطبيق به څرنګه کېږي؟

ځواب: مقصود الكل واحد فهو رواية بالمعنى في تلک السور، او امام رازي ﷬ په تفسیر کبیر کي وايي انه تعالى حكى في كل من هذه السور بعض ما اشتمل عليه النداء.

درويش وايي: چي دا خبري چي په مذکوره سورتو کي راغلي دي، ټولي موسٰی ته خدای پاک کړي دي، لکن هر سورت د دغو خبرو يوه حصه خدای ﷻ په قرآن كريم کي ذکر کړې ده، امام همام زياته کړې ده لما ان في المطابقة بين في المواضع الثلاثة تحتاج الى تكلف ما انتهى، او کاشفي په تفسير حسيني کي وايي: موسٰی در درخت نگاه کرد آتشی سفید بی دود آید، ویدل فرو نگریست شعله شوق معبود حقیقی مشاهده نمود این در آتش نزدیک بود که شمع وجودش بتمام سوخته گردد.... بیت:

هست درمن آتش روشن نمیدانم که چیست
این قدر دانم که همچون شمع می کاهم دگر

دگر موسٰی ﷷ از ندای یاموسٰی سوخته عشق الهي شده وگداخته شوق دیدار شوده درپیش درخته بایستاد وآن ندا در دل داشت که اني انا الله رب العالمين.... بیت:

ای عاشق دل سوخته اندوه مدار ...... روزی بمراد عاشقان گردد کار

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَاَنْ اَلْقِ عَصَاكَ فَلَمَّا رَاٰهَا تَهْتَزُّ كَاَنَّهَا جَآنٌّ

او ته وغورځوه لکړه ستا.

پوهه: چي دا جمله عطف ده پر ان یٰموسیٰ، دوارې جملې د نودي مفسر دي "فلما راٰها" عطف دی پر محذوف تقدیره فالقاها فصارت ثعبانًا (یعني لوی مار په جسم کي) واهتزت فلما رائها، چي چابک حرکت یې کاوه لکه کوچنی مار (چي کوچه مار یې بولي) په چابک چابک حرکت کي، په پښتو ژباړه، په بدن لکړه لکه اپي مار وه او په چابک حرکت کي لکه کوچه مار.

وَّلّٰى مُدْبِرًا وَّلَمْ يُعَقِّبْ يٰمُوْسٰٓى اَقْبِلْ وَلَا تَخَفْ اِنَّكَ مِنَ الْاٰمِنِيْنَ

موسیٰ مخ څنډي واړاوه په تېښته له دې کار څخه، مخ یې نه پر راواړاوه، خدای پاک ورته وویل: ای موسیٰ مخ پر راواړوه او بېرېږه مه، په تحقیق ته د آمنینو څخه یې له چیچلو څخه د مار، او په بل ځای کي د قرآن کریم داسي راغلي دي: فانه لایخاف لدي المرسلون، نو موسیٰ چي و لکړي ته چي اوس مار وه ورحمله کړه چي راپورته یې کړي هغه دده لکړه وه.

سوال: په دې القاء کي د لکړي او بیرته په راخستلو کي فائده څه وه؟

ځواب: فائده داده که دلته موسیٰ ته تجربه نه وای حاصله سوې د فرعون په حضور کي چي لکړه مار سوې وای، موسیٰ ؑ به په خپله څنډي بېرېدلای.

اُسْلُكْ يَدَكَ فِيْ جَيْبِكَ تَخْرُجْ بَيْضَآءَ مِنْ غَيْرِ سُوْٓءٍ

داخل کړه لاس په ګریوان کي د قمیص ستا، راوباسه خپل لاس په داسي حال کي چي تک سپین به وي ورېنګې به یې پورته کېږي بېله عیبه لکه پس، یعني سپین والی به یې بد نه معلومېږي لکه د پیس چي په عربي یې برص بولي.

وَّاضْمُمْ اِلَيْكَ جَنَاحَكَ مِنَ الرَّهْبِ

پوهه: چي معنی د رهب بیرې ته وایي، او جناح تولهٔ لاس ته وایي او یا بازو ته د لاس وایي، او جناح اصلاً په لغت کي وزر ته د مرغه وایي، نو لکه مرغه چي دوه وزره لري د انسان دواړه لاسه هم جناحان بولي تشبیهًا بجناحی الطائر او دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اطلاق په عربي ژبه کي متعارف گرځېدلی دی فصار کالحقیقة، عطاء د ابن عباس څخه روایت کړی دی امر الله موسیٰ ان یضم یدیه الیه لیذهب عنه الخوف عند صیرورة العصا حیة عند فرعون، او ابن عباس رض زیاته کړې ده چي هر خائف وروسته تر موسیٰ ؑ چي په وخت کي د خوف لاسونه پر ځیگر کښېږدي خوف یې زائلېږي، او مجاهد وایي چي څوک چي سخت وبېرېږي دواړه لاسونه دي پر ځیگر کښېږدي او راسته لاس دي ترچپه تخرگ لاندي کړي وبالعکس ذهب عنه الفزع، او بعض مفسرین وایي چي له ضم څخه د جناح سکون او ثبات او اظهار د تجلد دی عند انقلاب العصا حیة.

درویش وایي: چي دا عادت بعض خوانین او فوجي مشران هم لري د اظهار د غرض مذکور، نو پر دې تاویل دا حالت په انسان کي استعاره ده له حال څخه د مرغه چي په حال کي د خوف یې وزرونه خلاص نیولي وي او چي د امن په حالت کي او مطمئن وي وزرونه په ځان پوري جفت نسي، او بغوي رح وایي چي ارام کړه خپل زړه او سکون ورکړه و خپل جانب ته یعني بدن ته لان من شان الخائف ان یضطرب چي زړه مضطرب وي او بدن یې رېږدي.

فَذٰنِكَ بُرْهَانٰنِ مِنْ رَّبِّكَ اِلٰى فِرْعَوْنَ وَمَلَا۟ئِهٖ

(فذٰنک) اشاره ده و عصاء او ید بیضاء ته، یعني دا دوه حجته دي ستا د صحت د دعوی د رسالت، یعني په نېز د فرعون طاغي، په قاموس کي واي البرهان بالضم ای بضم الباء الحجة کما یقال برهن علیه ای اقام "من ربک" له جانبه څخه د رب ستا، او روح البیان د برهانان ترجمه داسي کړې ده حجتان نیرتان ومعجزتان نیرتان.

پوه سه: چي کلمه د الی متعلق ده په محذوف سره ای مرسلاً بهما الی فرعون وجماعته ای القبط.

فائده: من ربک صفت دی د برهانان ای کائنان من ربک او الی فرعون یا صفت بعد الصفت دی د برهان یا استیناف دی متعلق په محذوف پوري دی ای اذهب بهما الی فرعون وملائه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّهُمْ كَانُوا قَوْمًا فَٰسِقِينَ ﴿٣٢﴾

په تحقیق دوی وه او دي یو قوم چي په اعلی درجه کي د فسق دي چي فرعون د خدایي دعوی کړې ده او قوم دده یې عبادت کوي، دا جمله علت دی د موسٰی په راسلت سره ودوې ته ای انهم احقاء بالرسالة الیهم.

قَالَ رَبِّ إِنِّي قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا فَأَخَافُ أَن يَقْتُلُونِ ﴿٣٣﴾

موسٰی وویل ما د فرعون د قوم یو سړی وژلی دی، چي اشاره یې و هغه قبطي ته وه چي د اسرائیلي سره یې جنګ ؤ او موسٰی په سوکه وواهه هغه مړ سو کما مر في صدر القصة، نو زه بیرېږم چي ما به قتل کړي یعني قبل اداء الرسالة الیهم.

پوه سه: چي کسره د نون عوض دی د یاء محذوفي ای یقتلوني.

وَأَخِي هَٰرُونُ هُوَ أَفْصَحُ مِنِّي لِسَانًا فَأَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْءًا يُصَدِّقُنِي ﴿٣٤﴾

او زما د ورور هارون ژبه یې خلاص ده تر ما په خبرو کي او تبلیغ کي، ولي د موسٰی په ژبه کي عقده وه په سبب د هغه سکروتي چي ده خولې ته اچولې وه کمامر، نو هارون هم رسول کړه د ما سره چي زما کومکي (مرستیال) سي په وخت کي د تبلیغ د رسالت.

إِنِّي أَخَافُ أَن يُكَذِّبُونِ ﴿٣٤﴾

زه بیرېږم (په سبب د بند و بند و خبرو چي څه لقنت د ژبې یې باقي ؤ) دوی به تکذیب وکړي زما.

پوه سه: چي بعض قراء یې په اظهار د یاء وایي یعني تکذبوني او بعض قاریان یې په حذف د یاء وایي ویجعلون الکسرة دلیلاً علی المفعول المحذوف کما في المصاحف المطبوعة

قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَٰنًا

خدای ﷻ ورته وویل چي ژر دی چي به ستا تقویه وکړم ستا په ورور هارون سره او هغه به هم رسول وګرځوم، چي هارون په دغه وخت کي په مصر کي ؤ. او مو به وګرځوو غلبه او حجت پر دښمنانو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: شدة العضد په ایت کي مستعار دی د تقویت لپاره، ولي چي په شدت د ید قوت د سړي دی په اکثر مزاولة الاعمال کي کما یدل علیه التجربة.

فَلَا يَصِلُونَ إِلَيْكُمَا ۚ بِآيَاتِنَا أَنتُمَا وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الْغَالِبُونَ ﴿٣٥﴾

نو فرعون دوی نسي رسېدلای یعني فرعون او دده قوم، تاسي ته په ضرر سره چي تاسي دي د مکر سره مخامخ کړي، تاسي دوه او هغه خوک چي ستاسي متابعت کوي غالبین به یاست پر فرعون او پر من اتبعوه.

درویش وایي: چي دا خو د موسیٰ او د هارون علیهما السلام د رسالت حال ؤ، پاته دا خبره ده چي موسیٰ ؑ له طور څخه برابر مصر ته روان سو او اهل او عیال یې پرډاګ پرېښول او سره ددې چي موسیٰ ؑ چي پر طور اور نما مانندہ شی ولیدی دوی ته یې وعده ورکړه په دې سره چي اني آنست نارًا تر اخیره پوري، دا خو هیڅ امکان نه لري چي اهل او عیال او پسونه او ښځه هم په حال د طلق وه یعني د عیال زېږېدلو په حال کي وه، نو بعض علماء وایي چي دی راستون سو او مایښه چي یې لنګه سوه، دا هغه او مېنځه او شپانه بیرته د شعیب ؑ کره واستول، دا هم ډېره بعیده خبره ده، ولي د موسیٰ ؑ ورور په مصر کي ؤ او مور یې هم ژوندۍ وه او خور یې هم، موسیٰ ؑ څرنګه په دوه لاسه او دوو پښو مصر ته ووتی د تبلیغ د فرعون او د قبط وخت وروسته ؤ کما سیئاتي، نو صحیح خبره داده چي موسیٰ ؑ سره د اهله او دوو زامنو او د شپانه او پسو چي شعیب ؑ وه لور ته ورکړي وه په ډېر عزت مصر ته روان سو چي د ورور، مور او خور ستر ګي په خنکي سي، مور به خپل مېړور ویني او خور به خپل وربندار ویني او هارون به هم خپل وربندار ویني نو خوشالي به یې یو په سل سي، نو موسیٰ ؑ په داغسي آب وتاب مصر ته راهي سو. بعض ملایان وایي چي د موسیٰ اهل و عیال وغیره پر هغه ځای وه سهار بعض پونده وو دوی وپېژندل او د شعیب ؑ کور ته یې ورسول، دا روایت که څه هم په بل ځای کي ما راوړی دی لکن اشد ضعفًا دی، والصحیح الذي یقتضیه العقل خصوصًا عقل د موسیٰ رسول الله چي تقاضا کوي او غیرت انساني هم د دغه سره پوره سمون خوري، دغه روایت چي فقیر وویل والصحیح خبره داده الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: دا خبري په قرآن مبارک کي ولي نسوې ذکر؟

ځواب: مقصود بالذات خو په دې ځای کي رسالت د موسیٰ او د هارون عليهما السلام وفرعون ته دی دا نوري خبري د توابعو څخه وې، نو د قرآن مبارک د ایجاز سره سم توابع په حیز د التواء پاته سوه والله اعلم والتفکر في ماقلنا مشروط. معاندان دې د عناد د سترګو څخه کار نه اخلي، هذا ما عند الفقیر.

فَلَمَّا جَآءَهُم مُّوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا بَيِّنَٰتٍ

پس هغه وخت چي ورغلی موسیٰ (دا جمله معطوف ده تقدیره فجاء موسیٰ الی فرعون وقومه) زموږ په آیاتو واضحاتو سره چي دلالت یې پر صدق د موسیٰ په دعوه کي د رسالت چي عصاء او ید بیضاء ؤ په ابتدائي حالت کي، که څه هم نوري معجزې د تبلیغ د زمانې په اوږدو کي هم ورښکاره کړې.

سوال: ضمیر د جاء یې مفرد راوړی او سره ددې چي هارون خو هم رسول؟

ځواب: په سوال او ځواب کي خو موسیٰ خبري کولې او هارون[4] یې معاون ؤ، نو د اصل په سبب یې ضمیر مفرد راوړی داسي نه ده چي هارون[4] نه ؤ ورسره.

قَالُوا۟ مَا هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّفْتَرًى

نه دی دغه عصاء ونحوه مګر جادو دی یعني موسیٰ د ځان څخه دا سحر کاري کړی دی او په دروغو یې و خدای ته منسوبوي، او یا معنی داده چي دا کار د موسیٰ موصوف په افتراء سره دی لکه نوري انواع د سحر چي ټولي دروغ دي.

سوال: هذا یې ولي مفرد راوړی او سره ددې چي په اول وهلت کي خو موسیٰ عصاء او ید بیضاء دواړه ورښکاره کړه؟

ځواب: افراد په سبب د تاویل په ماجاء به موسیٰ.

وَمَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِىٓ ءَابَآئِنَا ٱلْأَوَّلِينَ ﴿٣٦﴾

نه دی اورېدلی موږ دا سحر او دعوی د نبوت ورسره زموږ په پلرو او نیکه ګانو چي ترموږ دمخه تېر سوي دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَالَ مُوسٰى رَبِّيۡۤ اَعۡلَمُ بِمَنۡ جَآءَ بِالۡهُدٰى مِنۡ عِنۡدِهٖ

او ویل موسیٰ چي رب زما خبر دی (نو صیغه د تفضیل لپاره نه ده) په هغه چا چي راتګ یې کړی وي په هدایت سره یعني په حق سره چي توحید دی له جانبه څخه د هغه خدای ﷻ یعني خدای په دې خبر دی چي زه پر حق یم او "تاسي پر باطل یاست چي وروسته تر لیدلو د آیاتو بیناتو هم انکار کوئ، او ستاسي په زړو کي خو یقین دی لکن د تکبر او د علو د لاري انکار کوئ.

پوه سه: چي جمله د وقال موسیٰ معطوف ده على قالوا ماهذا آه، د من جاء بالهدیٰ څخه د موسیٰ ؑ ځان مراد دی.

وَمَنۡ تَكُوۡنُ لَهٗ عَاقِبَةُ الدَّارِ ؕ اِنَّهٗ لَا يُفۡلِحُ الظّٰلِمُوۡنَ ۝

او په هغه چا چي ده لره عاقبت محموده وي په دار الآخرة کي، او بیضاوي وایي چي مراد له دار څخه دار الدنیا دی او له عاقبت څخه مراد جنت دی لان الدنیا مزرعة الآخرة، او بعض محققین وایي چي لفظ د عقبی او د عاقبت مایعقب الحسنات چي وروسته پیدا کیږي تر نېکو عملو من الثواب والجنة ونعیمها، او لفظ د عقاب او عقوبة او معاقبة چي وروسته تر بدو اعمالو کیږي ویترب عا بها من العذاب بقدر الجنایة ته وایي، کریمه: والعاقبة للمتقین، کریمه: ونعم عقبی الدار، کریمه: هو خیر ثوابًا وخیر عقبًا، کریمه: شدید العقاب، کریمه: وان عاقبتم فعاقبوا بمثل ما عوقبتم به، وهذه الآیات للعاملین في الدنیا السیئات.

"اِنَّهٗ لَا يُفۡلِحُ الظّٰلِمُوۡنَ" په تحقیق فلاح نسي پیدا کولای یعني خلاصون له عذاب څخه د دنیا او آخرت نسي پیدا کولای کافران.

وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ يٰۤاَيُّهَا الۡمَلَاُ مَا عَلِمۡتُ لَـكُمۡ مِّنۡ اِلٰهٍ غَيۡرِىۡ

او وویل فرعون ای زما جماعت او قوم او سردارانو، نسته مالره علم ستاسي لپاره پر معبود بیله ما څخه، یعني چي موسیٰ وایي چي خدای ته نه یې خدای ﷻ بل ذات مقتدر دی او زه یې رسول یم، دروغ وایي.

فائده: دا خبره فرعون هلته وکړه چي ساحران یې د معارضې او د مقابلې د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موسیٰ ؑ راغونی کړي وه او ددې خبرې د فرعون او د هغې خبره دده انا ربکم الاعلی تر منځ څلوېښت کاله تېر سوي وه.

درویش وایي: چې فرعون دومره دسیسه قوم ته جوړه کړې وه چې داسي یې وویل چې نفي د علم یې وکړې پر بل خدای بې ځانه، او نفي د وجود د بل خدای یې نه وکړې یعني داسي یې نه وویل لیس لکم اله غیري، او د علم نفي خو نفي لره وجود نه دی مستلزم ضمنًا، ده دا شیطاني چم ښکاره کړی چې زه منصف یم که ما پر بل خدای ﷻ علم درلودای لکه موسیٰ چې وایي ما به یې هم متابعت کړی وای او ایمان به مي پر راوړی وای.

فَأَوْقِدْ لِي يَٰهَٰمَٰنُ عَلَى ٱلطِّينِ

بل که اور ای هامان (هامان د فرعون وزیر مشاور ؤ) پر ختو باندي یعني پخې خښتي راجوړي کړه، بعض علماء وایي چې اول سړی چې په پخو خښتو یې بناء کړې ده او د پخو خښتو صنعت یې جاري کړی دی فرعون ؤ.

فَٱجْعَل لِّي صَرْحًا لَّعَلِّيٓ أَطَّلِعُ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ

یوه مناره ډېره بلنده (والتنوین للتعظیم) ده چې وویل ما علمت لکم الآیة چې معنا یې داوه چې په مځکه کي بېله ما بل خدای نسته، نو چې موسیٰ وایي چې زما رب خالق السموٰات دی، نو په اسمانو کي به وي زه به مړ کړم نعوذ بالله. بعض علماء لکه مظهري وایي چې فرعون دهري ؤ چې نسبت د ممکناتو یې واجب الوجود ته نه کاوه او دا یې عقیده وه چې یو څوک پر یو ولایت غالب راسي هغه اله د هغه مرز دی او مستحق د عبادت دی آه.

درویش وایي: چې دا توجیه منافي ده لقوله تعالی: وجحدوا بها واستیقنها انفسهم، دوی یعني فرعون او قبط انکار وکړی له آیاتو څخه د موسیٰ او یقین درلودی ددوی زړو یعني چې د موسیٰ آیات او معجزات سحر نه دی انکار یې صرفًا تعنتًا او تکبرًا او عنادًا ؤ، دا خبره چې زه اسمان ته خېژم او هوري که بل خدای وي زه جنګ ورسره کوم، نعوذ بالله من ذالک تلبیسًا او تمویها پر قوم کوله، په تفسیر الاسئلة القحمة کي وایي: لایظن ان فرعون کان شاکًا في عدم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إستحقاقه لدعوی الالٰهية اذ يعلم في نفسه من الحاجات ومحل الافات او الٰه خو بايد مستغني من كل الوجوه او له آفاتو څخه مبراء وي لكن كان معاندًا في دعوی الالٰهية من غير اعتقاد له في قلبه كمامر في الآية الواردة قريبًا، نو دې توجيه ته د مظهري رح څه ضرورت ؤ او څرنګه صحيح کېږي؟

وَإِنِّي لَأَظُنُّهُۥ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ

او زما پر موسیٰ ظن غالب دادی چي دی د کاذبانو له ډلې څخه دی يعني په دې خبره کي چي ځمکي او اسمانو لره معبود بالحق سته، بغوي رح وايي چي اهل التفسير وايي چي هامان سمدلاسه کارکونکي بنایان پنځوس زره سره جمع کړل سوی د اتباعو او مزدورانو او د پخو خښتو د جوړونکو، نو کارونه ډېر په چټکی روان وه، بعض نجارانو به لرګي تراشل، او بعضو به ګچ جوړول بعضو به مېخونه پر ويشتل حتی دا مناره او صرح يې دومره لوړه کړه چي هيڅ چا پر روی زمين او نه بنيان د مخلوق ليدلې وه، اراد الله عزوجل ان يفتنهم فيه، او پر موسیٰ او هارون ع د دې منارې د جوړولو لوی پرتم او غم ؤ، ولې چي کارونه چي يې کول په بني اسرائيلو يې کول.

درويش وايي: چي د بعض مفسرينو څخه روايت دی چي جګوالی د دې منارې يا قصر يا صرح پنځه زره ګزه ؤ او عرض يې درې زره ګزه ؤ، سبب د عرض مذکور دادی چي دومره عرض نه وي پر دومره طول انسان نسي درېدلای، او ځينې د خښتو يې په داخل کي وې او ځای پر ځای يې د روڼا لپاره د ښيښو روبندانونه وه، مظهري وايي چي دا قصر چي تکميل سو د مظهري لفظ دادی چي فرعون او قوم ده د ه پکښي وختل.

درويش وايي: چي مراد له قوم څخه بعض اشراف د قوم دي، او کاشفي رح وايي چي د فرعون طاغي دا ګمان ؤ چي زه چي د دې منار سر ته ورسېږم نو به اسمان نژدې وي، لکن دی چي د منار سر ته ورسېدی آسمان هغومره لېرې ښکارېدی لکه د ځمکي څخه، يوه غشي ويشتونکي ته يې وويل چي لوړي خوا ته غشي وله، هغه چي به غشی وويشتی د لوړي خوا څخه به په قدرت د خدای جل جلاله په وينو ککړ راشوه سو، فرعون وويل چي نعوذ بالله، د موسیٰ خدای مي قتل کړی، فرعون سره د ملګرو ځمکي ته راغلی او دا اعلان يې په ځمکه کي هم وکړی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فرعون چې مځکې ته راغلی خدای پاک جبرئیل ؑ امر کړی چې ورسه دا مناره او صرح په خپلو وزرو ووهه چې ټوټې ټوټې سي، جبرئیل ؑ چې قصر وواهه یوه ټوټه یې په دریاب کې ولوېدل. او بله ټوټه پر لښکرګاه د فرعون ولوېدل چې په زرو قبط پکښې مړه سوه. او بله ټوټله د مغرب پر خوا چې هغه بنایان او مزدوران پکښې وه چې د منار په کار کې یې برخه اخستې وه. هغه یې ټوله کشتار کړه. یعني هغه کسان چې پر دین د فرعون وه. او بني اسرائیل که څه هم په کار کونکو کې وه لکن هغه په خپل قدرت خدای ﷻ ځندي وساتل.

درویش وایي: چې دا بیان ټوله چې ما وکړی له دغو تفاسیرو څخه ماخوذ دی تفسیر روح البیان، تفسیر مظهري، تفسیر حسیني، تفسیر زاد المسیر وتفسیر فتح الرحمان، تفسیر البغوي، واما روح المعاني ففي تفسیر هذه الآیة تقدم رجلاً ویؤخر اخرٰی، والله العلم جمیعًا.

پوښتنه: څه حکمت د حکیم مطلق ؤ چې فرعون چې د صرح څخه راکښته سو او خلکو ته یې دا ګمراه کن اعلان وکړی نعوذ بالله من ذالک چې قتلت اله موسیٰ تر هغه وروسته خدای ﷻ جبرئیل ته وویل چې منار په بل تعبیر صرح په بل تعبیر قصر په وزرو وواهه چې ټوټې ټوټې سي کمامر بیانه آنفًا چې فرعون او مشران د قوم دده په منار کې وه د څه حکمت لپاره یې جبرئیل نه کړی امر چې منار ټوټې ټوټې کړه چې فرعون او مشران دده د قوم پکښې مردار سوي وای؟

ځواب: حکمت الهي یو دا ؤ چې پر فرعون بل غم راسي او دی په خپلو سترګو ووینې چې په لښکرګاه کې دده پر زرو عسکرو د هلاک پرده اواره سوه، او بل حکمت دا ؤ چې په خپلو سترګو ووینې چې هغه بنایان او مزدوران چې دده دین یې پالی ټوله هلاک سوه، او بني اسرائیل که څه هم جبراً د فرعون له خوا په دغو مزدورانو کې شامل وه هغو ته هیڅ ضرر ونه رسېدی، او بل حکمت دا ؤ چې فرعون که جاهل مطلق نه وای، دا به یې معجزه د موسیٰ ؑ ګڼلې وای او ایمان به یې راوړی وای.

وَاسْتَكْبَرَ هُوَ وَجُنُودُهُ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ

او طلب د کبر او لوړتیا وکړی فرعون او قوم دده په مځکه کې چې ده ځان و خلکو ته اله معرفي کړی او خلکو یې عبادت شروع کړی او کاوه یې. لکن دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کبریاء دده ناحقه وه ولي چي کبریاء بالحق د هغه چا صفت دی چي نه تر ده لوړ وي او نه دده مثل وي بلکې ټوله تر ده دون وي، وما هو الا الله الجبار المتکبر خالق کل ماسواه وعظمت قدرته لا اله الا هو.

وَظَنُّوٓا أَنَّهُمۡ إِلَيۡنَا لَا يُرۡجَعُونَ ﴿٣٩﴾

او ددوی دا ګمان ؤ چي دوی به موږ ته يعني زموږ و حساب ته حاضر نه سي ای في يوم القيامة لانهم کانوا منکرين عن البعث بعد الموت.

فَأَخَذۡنَٰهُ وَجُنُودَهُۥ فَنَبَذۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡيَمِّۖ فَٱنظُرۡ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٠﴾

نو موږ ونیوی دی او دده قوم قبطیان ټوله او وه مو غورځول دریاب ته چي ټوله غرق سوه کما مر قصته غرقهم، دا خطاب عام دی، وګوره ایها النظر بنظر العبرة چي څرنګه سو پای د ظالمانو چي فرعون او قوم وه.

درویش وایي: چي دا عبرت ؤ د حاضرینو د هغې زمانې چي بني اسرائیل قوم د موسیٰ وه، الذین آمنوا به، او عبرت دی د وروسته کافرانو د نړۍ چي دوی د تاریخ په پاڼو کي دا قصه مطالعه کړي.

وَجَعَلۡنَٰهُمۡ أَئِمَّةٗ

او ګرځولي دي موږ دوی مقتدیان د اهل ضلال چي هغه به یې باعثه کول پر کفر، یا معنی داده چي دوی مو ګرځولي رئیسان په دنیا کي باعطاء الجاه والجلال، کریمه: ان الانسان لیطغی ان رآه استغنی.

يَدۡعُونَ إِلَى ٱلنَّارِۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ لَا يُنصَرُونَ ﴿٤١﴾

چي دوی دعوت ورکاوه خلکو ته د دخول په اور کي چي دوږخ دی (لان الدعوة الی الکفر دعوة الی النار "یدعون الی النار" صفت د ائمة دی) او په ورځ د قیامت ددوی سره کومک نه کړل کېږي، یعني چي له اوره دي خلاص کړي نه په شفاعت او نه په زور.

وَأَتۡبَعۡنَٰهُمۡ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا لَعۡنَةٗۖ

او پسې کړی موږ په دوی پسې لعنت په دې دنیا کي یعني بېرل د رحمت څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وایضًا یلعنهم الله والملائکة والمؤمنون، دا جمله عطف ده پر جعلنا باندي.

وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ هُمْ مِّنَ الْمَقْبُوْحِيْنَ ﴿۴۲﴾

او په ورځ د قیامت فرعونیان هم له ډلي څخه د بدو بند ګانو دي.

فائده: لفظ د یوم منصوب دی په مقبوحین سره، د مقبوحین ترجمه بعض مفسرین په ملعونین سره کوي، او بعض په مبعدین من رحمته تعالی العامة او ابن عباس رضی الله عنه یې ترجمه په قبیح الوجوه سره کوي چې مخان به یې تک تور وي او سترګې به یې تکې شنې وي، وهذا اقبح کون الوجوه.

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ مِنْۢ بَعْدِ مَآ اَهْلَكْنَا الْقُرُوْنَ الْاُوْلٰى

لام جواب د قسم محذوف دی ای والله قد اتینا موسٰی ته کتاب چې تورات دی، وروسته تر دې چې مونږ هلاک کړه (کلمه د ما مصدریه ده ای بعد اهلاکنا) دمخه اهل قرون یعني قوم نوح، قوم هود، قوم صالح قوم لوط علیهم السلام وغیرهم.

بَصَآئِرَ لِلنَّاسِ وَهُدًى وَّرَحْمَةً لَّعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ ﴿۴۳﴾

"بصائر" حال دی له کتاب څخه ای حال کون الکتاب سبب البصائر (بحذف المضاف)

پوهه: چې بصائر جمع د بصیرة ده وهي نور الهي چې ددوی زړونه حقائق د شیانو په ووینې من الواجب والممکن والانبیاء والرسل والدین الحق او تمیز د حق او باطل کولای سي بقدر الطاقة البشریة، کریمه: لایکلف الله نفسًا الا وسعها "وهدًی" مصدر دی حمل یې مبالغةً پر کتاب باندي دی یعني چې دوی په هغه کتاب سره لار پیدا کولای سي وصلاح ته د معاش او معاد "ورحمة" ای حال کون الکتاب طریقًا الی نیل رحمة الله چې دوی متابعت د هغه کتاب وکړی د رحمت حمل هم مبالغةً دی "لعل" په معنی د لام کی دی ای لکی یتذکروا چې دوی به پند واخلي ددې کتاب په علم سره، کریمه: انما یخشی الله من عباده العلمآء.

وَمَا كُنْتَ بِجَانِبِ الْغَرْبِيِّ

او ته نه وې یا محمد ﷺ پر جانب غربي د موسٰی علیه السلام وهو الطور، قتاده او سدي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وايي چې بجانب الغربي من جبل الطور او كلبي وايي بجانب الوادي الغربي.

پوه سه: چې ددې مفسرينو غرض دادى چې اضافت د جانب و غربي ته اضافت د صفت و موصوف ته نه ده بلکې موصوف محذوف دى وهو الجبل او الوادي، ابن عباس رض وايي يريد حيث ناجي موسىٰ ربه والخطاب لرسول الله ﷺ كمامر في الترجمة يعني ماكنت يامحمد حاضراً.

إِذْ قَضَيْنَآ إِلَىٰ مُوسَى ٱلْأَمْرَ وَمَا كُنتَ مِنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ﴿٤٤﴾

هغه وخت چې حکم ورکړى موږ ده ته د رسالت او د تبليغ و فرعون ته وقومه. او نه وې ته د حاضرانو د وحي و موسىٰ ته او علی الوحي اليه وهم السبعون الذين اختارهم من قومه للعذر عن عبدة العجل چې د حضور په سبب دا حال بيانوي بلکې ستا ددې قصې بيانول بالغيب دي لايمكن الاطلاع عليه الا بالوحي فهذا الاخبار المطابق للتورات معجزة وبرهان على صدق دعواک الرسالة، ځکه په دې قول يې استدراک وکړى.

وَلَٰكِنَّآ أَنشَأْنَا قُرُونًا فَتَطَاوَلَ عَلَيْهِمُ ٱلْعُمُرُ

"اى رجالاً مقارنين في كل عصر" او اهل قرون بحذف المضاف ان كان بمعنى الازمنة، نو ډېر عمرونه پر دوى تېر سوه چې زمانه د فترة الرسل يې بولي چې علوم شرائع سره زاړه سي او د شرائعو تغيير هم رونما سي، او خداى جل جلاله پيدا کړه قرون بعد القرون، نو موږ تا ته وحي وکړې او د قرون اختلاف ستا په رسالت سره دفع سو چې ستا ثبوت د رسالت په دې اخبار بالغيب سره و اوج ته د قبول عند ذوى العقول ورسېدى، نو كفار د قريشو ولې ستا له رسالت څخه انكار كوي. او دوى ته دا معلومه چې ته د هغه سرى نه وې چې حاضر وې فاخبارک عن ذالک انما هو بسبب الوحي وصاحب الوحي لايكون الا الانبياء، والحاصل چې ستا د موسىٰ ع تر منځ ډېر قرون تېر سوه چې او عمرونه د راز پر خلكو قرناً بعد قرن او د خلكو تر منځ اختلافات هم ډېر سوه. نو حال ددې تقاضا وکړى چې شرع جديد مابين ته راسي. فاوحينا اليک.

فائده: اصلي مستدرک په لکن سره خو اوحينا اليک دى او هغه يې حذف کړى په سبب د هغه چې انشانا قروناً فتطاول آه په ځاى کې د اصل مستدرک

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راوړي، روح البیان، روح المعاني، مظهري، بیضاوي او بغوي رحمهم الله ددې آیت داسې ترجمه کړې ده چې خدای ﷻ د موسیٰ او دده د قوم څخه ډیرې وعدې اخستې وې په باره کې د محمد ﷺ والایمان به، نو چې پر بني اسرائیلو عمرونه ډیر تیر سوه او پیدا سوه په دوی کې قرون بعد القرون نسوا تلک العهود (دوی هیر کړه هغه وعده) وترکوا الوفاء بها، بغوي رح وايي چې نو معنا ددې آیت داسې ده چې ته نه وې حاضر په هغه وخت کې چې خدای ﷻ وايي چې موږ وعده اخستې وه د موسیٰ ع او د قوم څخه دده ستا په باره کې یعني چې تاسې به ایمان پر راوړې او تصدیق به یې کوئ، او ددې نبوت غوښتنه ستا له جانبه څخه هم نه ده لکن موږ ته نبي کړې تفضلاً ابتدائیاً یعني چې ستا د خواهیڅ طلب نه ؤ آه.

وَمَا كُنتَ ثَاوِيًا فِيٓ أَهۡلِ مَدۡيَنَ تَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِنَا

او ته نه وې مقیم په اهل مدین کې لکه موسیٰ او شعیب ع چې هورې وه، ولې ستا او د موسیٰ تر منځ په سوو کلونه تیر سوي دي، مقاتل رح وايي چې معنی د آیت داده چې نه وې حاضر په اهل مدین کې چې ته دې د موسیٰ او شعیب ع کارنامې او حالات دیده وشنیده واهل مکه ته بیانوې.

وَلَٰكِنَّا كُنَّا مُرۡسِلِينَ ﴿٤٥﴾

لکن موږ یو استونکي ستا و اهل مکه ته بل الی سائر الناس الی یوم القیامة بالمعجزات واخبار المغیبات الیک بالوحي، او که ته رسول نه وای او امم ماضیه حالات التي منها قصة موسیٰ وشعیب علیهما السلام تا و کفارو ته د مکې نسوای کولای، خصوصاً چې نبي امي هم یې چې تاریخ دان هم نه یې چې اهل مکه تو هم ددې وکړي چې ته تاریخونه مطالعه کوې او موږ ته دا خبرونه وایې فعلم علماً بدهیاً انک رسول الله والاخبار بالمغیبات من جانب الله تعالی بالوحي الیک فکیف عمی بصیرة اهل مکة من قبول رسالتک.

وَمَا كُنتَ بِجَانِبِ ٱلطُّورِ إِذۡ نَادَيۡنَا

او نه وې ته په ناحیه د کوه طور چې خدای پاک په هغه ځای کې د موسیٰ سره خبرې کولې، چې موږ ناري کړې و موسیٰ ع ته.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوښتنه: دا آیت د دمخه آیت تکرار نه دی؟

ځواب: تکرار نه دی ولي چي د مخني آیت په وخت د نبي کرځولو د موسیٰ ؑ او لکه د قصې په ابتداء کي چي تېره سوه. ان یا موسیٰ اني انا الله رب العالمین آه. او دا آیت په وخت کي د اعطاء التورات دی لکه په بل آیت کي چي راغلي دي خذ الکتاب بقوة یعني تورات په جد او اجتهاد سره، لکن د روح البیان پر تفسیر د دې آیت سوال د تکرار وارد دی، ولي چي روح البیان یې داسي تفسیر کړی دی ای وقت ندائنا موسیٰ اني انا الله رب العالمین واستنبائنا ایاه وارسلنا الی فرعون انتهیٰ.

درویش وایي: چي مظهري په دې مقام کي په روایت و هب بن منبه رح راوړی دی چي موسیٰ ؑ خدای ﷻ ته وویل چي محمد ﷺ په ما ووینه، خدای پاک ورته وویل چي ته د هغه تر زمانې نسې رسېدلای، که ستا خوښي وي زه به یې امت ته ورناړې کړم او د هغو اصوات به په تا واورم، قال نعم موسیٰ ؑ ورته وویل هو خوښه مي ده، قال الله تبارک وتعالی یا امة محمد فاجابوا من اصلاب الاباء، وقال ابو زرعة بن عمرو بن جریر رح، نادی یا امة محمد ؑ قد اجبتکم قبل ان تدعوني واعطیتکم قبل ان تسئلوني، وروی عن ابن عباس رض قال الله تعالی یا امة محمد فاجابوا من اصلاب الاباء وارحام الامهات لبیک اللهم لبیک ان الحمد والنعمة لک والملک لاشریک له، قال الله تعالی یا امة محمد ان رحمتي سبقت غضبي وعفوی عقابي قد اعطیتکم من قبل ان تسئلوني وقد اجبتکم من قبل ان تدعوني وقد غفرت لکم قبل ان تعصوني من جاء یوم القیامة بشهادة ان لا اله الا الله وان محمداً عبده ورسوله دخل الجنة وان کان ذنوبه اکثر من زبد البحر، انتهیٰ قول وهب بن منبه رح.

درویش وایي: چي دا حدیث نه بخاري او نه مسلم راوړی دی او نه اصحاب السنن الاربعة او نه بغوي او نه حاکم او نه بل کتاب معتبره د حدیثو، والله اعلم.

وَلٰكِنْ رَّحْمَةً مِّنْ رَّبِّكَ لِتُنْذِرَ قَوْمًا مَّآ اَتٰهُمْ مِّنْ نَّذِيْرٍ

او لکن موږ پر تا رحم وکړی چي تا ته مو وحي درواستولې او ته مو رسول وګرځولې او پر غیب د احوالو د سابقو امتو مو تا ته اطلاع درکړه الی غیر ذالک من الفضائل... ع:. آن چه خوبان همه دارند تو تنها داری.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"ولكن رحمةً من ربک" مفعول مطلق د فعل محذوف دی ای رحمناک رحمةً
آه "لتنذر" چي ته وبېروې (حرف جر متعلق دی په هغه فعل پورې ای رحمناک)
هغه قوم چي عبارت د قريشو د مکې دی، چي دوی ته نه دی راغلی يو بېرونکی
(ما آتاهم صفت د قوماً دی او کلمه د من زائده ده لاستغراق النفي)

مِّن قَبْلِكَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ﴿۴۶﴾

تر تا دمخه، لعل په معنی د لام کی دی ای لکی يتذکرون چي دوی به پند
واخلي او ايمان به راوړي په توحيد سره او ستا په نبوت سره.

پوه سه: چي اهل مکه ته هيڅ نبي نه ؤ راغلی تر اسماعيل علیه السلام وروسته او
موسٰی او عيسٰی علیہما السلام و بني اسرائيلو ته استول سوي وه لا الی العرب.

وَلَوْلَآ أَن تُصِيبَهُم مُّصِيبَةٌۢ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيهِمْ

پوه سه: چي ضمير د هم راجع دی و اهل مکه ته. والمصيبة العقوبة ته وايي،
په فارسي يې ترجمه داده، واگر نه آن بودی که بديشان رسيدی عقوبت رسنده،
بما قدمت آه" يعني په سبب د کفر او معاصيو چي دوی دمخه کړي دي.

سوال: کفر او شرک خو د زړه او خولې کار دی او معاصي خو لکه کذب او
بهتان، او غيبت د ژبې کار دی او سرقه يا قتل خو د پښو او د لاسو دواړو کار دی،
نو نسبت د کفر او نورو ګنهو يوازې و لاسو ته څرنګه وسو؟

ځواب: لاسونه اقوٰی د آلاتو دي چي په هغو سره عمل کوي او په اکثرو افعالو
کي کومک ته د لاسو ضرورت سته فلهذا اسند الکل الی الايدي، نو دا اسناد
تغليباً دی، تدبر.

فَيَقُولُوا۟ رَبَّنَا لَوْلَآ أَرْسَلْتَ إِلَيْنَا رَسُولًا

دوی به وايلای ای پروردګاره! ولي دي نه را استاوه موږ ته يو رسول چي
رسالت يې په معجزاتو ثابت وای "فيقولوا" عطف دی پر تصيبهم داخل دی
لاندي تر حکم د لولا الامتناعية.

پوه سه: چي مدار د امتناع جواب د لولا هم دغه يقولوا دی لا امتناع
المعطوف عليه چي اصابة العقوبة دی ولي چي هغه متمنع نه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: نو ولي يې ان تصيبهم د لو لا امتناعية سره متصل راوړی؟

ځواب: ددې لپاره چې اصابة المصيبة دوی ته سبب دی ددې قول ددوی "ربنا" لولا حرف حرف تخصيص دی په معنی د هلا.

فَنَتَّبِعَ اٰيٰتِكَ وَنَكُوْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۴۷﴾

نو موږ به متابعت کړی وای د هغو آیاتو چې پر لاس دده ښکاره سوي وای، یعنې ایمان به مو راوړی وای (وهذا جواب لولا الثانية) او موږ به ګرځېدلي وای له ډلې څخه د مؤمنانو بالتوحيد والرسالة او له اصابت څخه د عقوبت به خلاص وای، وجواب لولا الاولى چې امتناعیه دی محذوف دی لدلالة الحال عليه. والحاصل لولا قولهم هذا المذكور ربنا لولا ارسلت آه عند اصابة عقوبة جناياتهم التي قدموها ما ارسلناك، دا جواب د لولا دی، ته به مو نه وراستولای یعنې بېله ستا د ارساله به مو دوی ته عقوبت د جنایاتو ددوی ورکړی وای، لکن په دې صورت کې دوی حتمًا او خامخا دغه خبره کوله، یعنې ربنا لولا ارسلت آه. نو له دې سببه مو ته یا محمد ﷺ وروا ستولې چې قطع د عذر ددوی وسي او اقامت د حجت پر دوی راسي، وهذا نظير قوله تعالى "لئلا يكون للناس على الله حجة بعد الرسل" یعنې وروسته تر را استولو د رسولانو دوی و خدای ﷻ ته هيڅ عذر نسي ويلای، فتدبر غاية التدبر لان فهم معنى هذه الآيات موقوف على العقليات وفهم معنى لولا الامتناعية وجوابها.

فَلَمَّا جَآءَهُمُ الْحَقُّ مِنْ عِنْدِنَا

چې راغلی و کفارو ته د مکې بلکې ټولو عربو ته حق چې قرآن مبارک دی یا محمد ﷺ دی چې دده تائيد کوي قران معجز "کریمه: لو کنتم في ریب مما نزلنا على عبدنا فاء توا بسورة من مثله الآية" زموږ له جانبه څخه ای بامرنا ووحينا. اشاره په عندنا ودي ته ده چې علیه الصلوة والسلام ومقام ته د عندية رسېدلی دی. كذا في كشف الاسرار.

قَالُوْا لَوْلَآ اُوْتِيَ مِثْلَ مَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى

وويل: تعنتًا وعلوًا وتكبرًا (بعض مفسرين وايي چې دا وينا د قريشو په تعليم د يهودانو دوی وکړه) لولا په معنی د هلا دی، ولي نه دی ورکړل سوی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

محمد (ﷺ) ته مثل د هغه کتاب چي موسیٰ ته ورکړه سوی ؤ يعني تورات جملة واحدة، يا مراد د آياتو څخه عصا او يد بيضاء دي.

اَوَلَمْ يَكْفُرُوْا بِمَآ اُوْتِيَ مُوْسٰى مِنْ قَبْلُ

آيا کفر نه دی کړی خلکو په ما اوتي موسیٰ سره د مخه تر نزول د قرآن کريم.

فائده: الاستفهام للانكار، وانكار النفي اثبات، يعني کفر يې کړی دی او کلمه د واو للعطف على مقدر تقديره الم يكذبوا موسىٰ. هذا هو المعطوف عليه المقدر ولم يكفروا بما اوتي موسىٰ، والحاصل ان الناس قد كذبوا بما اوتي موسىٰ من قبل القرآن فكيف يطلبون منك مثل ما اوتي موسىٰ.

سوال: طلب د مثل د تورات چي يې کاوه هغه خو کفار د قريش وه او کفر د ما اوتي موسیٰ خو نورو کافرانو د موسیٰ ؑ د زمانې کړی ؤ، نو دا آيت څرنګه سوال د قريشو دفع کولای سي؟

ځواب: داسي يې دفع کولای سي چي کافران د زمانې د موسیٰ ؑ خو اهل عقل، اهل رايه او اهل مذهب وه، نو هغو چي تورات ونه مانه تاسي د هغو ابناء الجنس ياست تاسي بيا قرآن کريم ونه مانه، او کلبي ؒ داسي جواب ورکړی دی چي رسول اللهﷺ دعوت ورکړی قريشو ته د اسلام، قريشو بعض کسان د مکې څخه د يهودو ملايانو ته چي د احبارو په نامه ياديدل واستول چي په باره کي د محمد ﷺ له دوی څخه پوښتنه وکړي او دده حالات ورته بيان کړي چي دی نبي دی او که څرنګه، احبارو د يهودانو د مديني ورته نوشته کړه چي په دغه نامه شخص چي مولد يې مکه ده او له اولاد څخه د اسماعيل ؑ دی زموږ په کتاب تورات کي وايي چي هغه سړی نبي اخير الزمان دی، دا جواب چي قريشو ته راورسيدی، دوی له تورات څخه هم انکار وکړی، نو پر دې جواب ضمير د يكفروا راجع دی وکفارو ته د قريشو نه و کفارو ته د موسیٰ ؑ د زمانې کما هو حاصل الجواب الاول، فافهم.

پوښتنه: احبارو د يهودانو د مديني څرنګه تصديق د عليه الصلوة والسلام وکړی، او سره د دې چي عليه الصلوة والسلام چي مديني منورې ته هجرت وکړی اکثرو احبارو د يهودانو دده څخه انکار وکړی، او له دې څخه هم منکر سوه چي دده ذکر په تورات کي نه سته (وانما قلت اکثر احبار المدينة) يعني لا کلهم، ولي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عبدالله بن سلام او دده د اکا زامنو رضي پر عليه الصلوة والسلام ایمان راوړی او دا یې ښکاره کړه چې دده ذکر په تورات کي موجود دی، وقد ورد في شان هؤلاء الاحبار المنكرين قوله تعالى: كريمه "فلما جائهم ما عرفوا كفروا به الآية" کریمه "اشتروا به ثمنا قليلا الآية، کریمه "يعرفونه كما يعرفون ابنايهم الآية، والاحاديث المباركة في بيان هذه المعرفة متواترة المعنى.

قَالُوا سِحْرٰنِ تَظٰهَرَا

درویش وایي: چي اهل حجاز او اهل البصرة او اهل الشام دا لفظ ساحران وایي پر صیغه د تثنیه د اسم فاعل ای الساحران اهل مکة وویل دا دواړه ساحران دي، مراد یې ځنډي محمد او موسیٰ علیهما السلام وه، او بعض مفسرین وایي چي دا قول د اهل مکة نه دی بلکې قول دی د کافرانو د زمانې د موسیٰ ؑ او مراد له ساحرانو څخه موسیٰ او هارون ؑ دي، او قراء د اهل کوفه دا لفظ سحران وایي بکسر السین واسکان الحاء پر لفظ د مصدر کما هو في المصاحف المطبوعة اليوم.

سوال: پر محمد او موسیٰ علیهما السلام باندي حمل د سحران څرنګه روا دی، یعني حمل د مصدر دي پر ذات باندي؟

خواب: یا حمل مبالغة دی نحو زید عدل یا سحران یې معنی د ساحران دي یا مضاف محذوف دی، یعني ذا سحرین، او بعض مفسرین وایي چي مراد له سحرین څخه تورات او فرقان دي.

درویش وایي: چي حمل د سحران پر تورات او فرقان باندي هم هغه دري جوابه ته ضرورت لري فافهم، او دا درې توجیهات مفسرانو په دې قول کي د خدای ﷻ في سورة البقرة لكن البر من اتقى کړی دی، ولي چي په هغه آیت کي هم بر مصدر دی، حمل د من اتقى نه دی پر صحیح، نو یا به بر په معنی د اسم فاعل وي ای لكن البار من اتقى او یا به مضاف محذوف وي په جانب کي د مبتداء ای لكن ذا البر من اتقى یا په جانب د خبر یعني لكن البر بر من اتقى یا بې حمل مبالغة وي فتدبر "تظهرا" ای تعاوا یعني محمدا و موسیٰ علیهما السلام بتوافق الكتابين ای التورات والفرقان، او یا موسیٰ او هارون علیهما السلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَالُوْٓا اِنَّا بِكُلٍّ كٰفِرُوْنَ ﴿۴۸﴾

او وویل ای کفار مکة او کفار زمن موسیٰ ''انا بکل'' تنوین عوض د مضاف الیه دی بکل واحد من محمد و موسیٰ علیهما السلام او بکل واحد من الکتابین ای التورات والفرقان وما قال المظهري رح بکل من الانبیاء انتهیٰ، فلیس معنی الآیة لان الکلام ههنا في موسیٰ و محمد علیهما السلام او کتابیهما، بل هذا مفهوم من خارج لان الکفر بنبي من الانبیاء کفر بکل واحد منهم، وکذا الکفر بکتاب من الکتب المنزلة کفر بجمیع الکتب المنزلة ''کافرون'' ای منکرون، مظهري وایي چي ظاهر قول د کلبي رح دی.

درويش وايي: چي کمامر بدلیل سیاق الکلام وبدلیل الآیة الآتي یو قوله تعالیٰ.

قُلْ فَاْتُوْا بِكِتٰبٍ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ هُوَ اَهْدٰى مِنْهُمَآ

روایه ته یا محمد (ﷺ) تاسي راوړئ یا اهل مکة، کلمه د فاء جواب د شرط مقدر ده یعني ان کفرتم بالکتابین القرآن والتوراة، او تاسي دا ویل چي دواړه سحر دی، نو تاسي رواړئ یو کتاب له جانبه څخه د خدای ﷻ، چي هغه کتاب پر ډېر هدایت وي تر دمړا اوتي محمد و موسیٰ علیهما السلام من التورات والقرآن.

سوال: قرآن او تورات خو دمخه نه دي ذکر سوي، نو قبل الذکر اضمار څرنګه صحیح دی؟

ځواب: د کلام د سوق څخه فهمیږي فافهم.

اَتَّبِعْهُ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۴۹﴾

''اتبعه'' مجزوم دی جواب د امر دی یعني فاتوا یعني انت آتیتم بکتاب اهدیٰ زه بې متابعت وکړم، که تاسي صادق یاست په دې دعوه کي چي فرقان او تورات سحران دي، او محمد او موسیٰ علیهما السلام ساحران دي، وجواب الشرط مفهوم من قوله فاتوا.

درويش وايي: چي دا شرطونه چي قرآن مبارک په دې آیتو کي کفارو ته : مکي بیان کړه لپاره د الزام ددوی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال: علیه الصلوة والسلام په کذب کي ددوی شک نه ؤ، نو په صدق کي ددوی حرف الشرط څرنګه راوړه سو یعني ان کنتم صادقین؟

ځواب: حرف شرط لپاره د تهکم دی بهم فافهم.

فَإِن لَّمْ يَسْتَجِيبُوا لَكَ فَاعْلَمْ أَنَّمَا يَتَّبِعُونَ أَهْوَاءَهُمْ ۚ

که دوی اجابت ستا د طلب د اتیان بکتاب الاهدی ونه کړي یعني ان لم یاتي بکتاب اهدی، فاعلم نو ته پوه سه چي پر دوی د حجت ویلو لاربنده سوه، او ملزم یعني د دلیل د لاري ملامت سوه، نو دوی چي دوی متابعت نه کوي مګر نه د خپلو خواهشاتو نفسیه ؤ چي کبرا و لویي هم ورسره ده، ولي که یې دلیل درلودای ویلي به یې وای.

وَمَنْ أَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوَاهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللَّهِ ۚ

الاستفهام للانکار یعني نسته لوی ګمراه تر هغه چا چي متابعت کوي د هواء یعني تعنتًا وعنادًا وتکبرًا بیله هدایته د خدای ﷻ.

سوال: ددې قید فائده څه ده، ولي اتباع د هوی خو وي بغیر هدیٰ من الله؟

ځواب: کلمه د باء متعلق ده په متلبسًا پوري او دا عبارت حال مؤکد دی د ماقبل او بعض مفسران وایي چي دا قید دی، ولي چي هویٰ نفسیه ګاهي مطابق د حق سره لکه یو سړی چي د حلال نکاح خواهش کوي یا د بنو زامنو الی غیر ذالک مما یوافق الشرع، ولهذا قال رسول الله ﷺ لایؤمن احدکم حتی یکون هواه تبعًا لما جئت به، رواه البغوي رح في شرح السنة عن عبد الله بن عمرو وقال النووي رح حدیث صحیح

إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ۝

په تحقیق هدایت نه کوي و هغه قوم ته چي ظالمان وي، یعني چي ظلم کوي پر خپلو ځانو چي ځانونه په اتباع کي د هویٰ او خواهشات د نفس اموخته کړي دي.

وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ ۝

فراء نحوي وایي یعني انزلنا آیات القرآن یتبع بعضها بعضًا، او بیضاوي وایي چي موږ متصل کړي دي آیات د قرآن په انزال کي تاچي نوی وعظ او تذکیر وکړل سي، او په مدارک کي وایي التوصیل تکثیر الوصل (ولي چي باب د تفعیل لپاره د تکثیر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راڅي) او ابن عباس رضي الله عنه وايي بينا بعض الكتاب ببعض، او قتاده رحمه الله وايي چي مونږ په مکرر، توګه کفارو ته د مکې ویلي دي چي مونږ څه وکړه په من مضىٰ من الكفار ليعتبروا، وقال مقاتل رحمه الله بينا لكفار مكة بما في القرآن من اخبار الامم الماضية كيف عذبوا بتكذيبهم، او ابن زيد وايي وصلنا لهم اى لكفار مكة خبر الدنيا بخبر الآخرة حتى كانهم يرون الآخرة من الدنيا (لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ) اى لكي يعني ددې لپاره چي دوی پند واخلي، دا جمله متعلق ده په وصلنا پوري يعني ايمان به راوړي.

اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِهٖ هُمْ بِهٖ يُؤْمِنُوْنَ ۝

هغه کسان چي مونږ ورکړی ؤ دوی ته کتاب چي مراد ځنې يا تورات دی يا انجيل لکه وروسته چي به راسي ان شاء الله تعالی دمخه تر محمد ﷺ. ابن جرير رحمه الله له علي بن رفاعة رحمه الله څخه روايت کړی دی چي لس کسه د اهل کتابو يعني اليهود منهم رفاعة چي د علي پلار ؤ ورغله او پر نبي ﷺ يې ايمان راوړی او نورو يهودانو به ازارول (هم به يؤمنون) دوی پر عليه الصلوة والسلام ايمان راوړی دی، نو پر دې روايت مراد له کتاب څخه تورات دی. او طبراني له ابن عباس رضي الله عنه څخه داسي روايت کړی دی چي څلوېښت کسه د اصحابو څخه د نجاشي چي په دين کي نصارٰی وه د خيبر په غزاء کي راغلي وه يعني په غزاء کي يې شموليت هم وکړی او بعضو ته ددوی څخه جراحات ورسېدل او څوک ددوی څخه نه ووژل سوه، نو دې څلوېښتو کسانو مسکنت او فاقه کښي د مسلمانانو وليدل، نو رسول الله ﷺ ته يې داسي وويل چي مونږ په خپل وطن کي ډېر شتمن يو او اغنياء يو، نو مونږ ته اجازه راکړه چي مونږ خپل مالونه راوړو او د مسلمانانو سره مرسته وکړو فانزل الله فيهم: الذين آتيناهم الكتاب من قبله هم به يؤمنون. او ابن ابی حاتم له سعيد بن جبير رحمه الله څخه داسي روايت کړی دی چي جعفر بن ابی طالب رضي الله عنه سره د نورو کسانو مسلمانانو له مکې څخه يې حبشې ته هجرت وکړی نو نجاشي شاه حبشه چي نوم يې اصحمة ؤ دوی ته ښه ښه ځايونه او احسانونه يې ورسره وکړه، نو څرنګه چي جعفر رضي الله عنه په هجرت د عليه الصلوة والسلام و مدينې منورې ته خبر سو، نو جعفر رضي الله عنه سره د نورو ملګرو قصد وکړی چي مدينې ته ولاړ سي، په دغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دوران کي د اقامت د جعفر او ملګرو ﷺ ډېرو کسانو د حبشې ایمان راوړی وُ هغو کسانو نجاشي ته وویل چې موږ ته اجازه راکړه چې موږ هم د جعفر او دده د ملګرو ﷺ سره د دریاب په سفر کې ولاړ سو چې په دریاب کې به ددوی خدمت وکړو او هغه نبي چې موږ غائبانه ایمان پر راوړی دی، نو د هغه سره به ملاقات هم وکړو، نجاشي هم اجازه ورکړه، نو دوی ټوله یعني جفعر بن ابی طالب او ملګري او د حبشې څلوېښت (۴۰) مؤمنان مدینې منورې ته را ورسېدل او د علیه الصلوة والسلام سره یې ملاقات په برخه سو، نو اصحاب د حبشې په غزاء کې د احد او د حنین او د خیبر هم شامل سوه، او هیڅ څوک ددوی په شهادت نه ورسېدی، نو مسلمانانو د حبشې و نبي ﷺ ته وویل چې موږ ته اجازه راکړه چې موږ خپل وطن ته ولاړ سو فان لنا اموالاً یعني په خپل وطن کي نو پر مهاجرینو به یې تقسیم کړو، ولي چې موږ وینو چې په مهاجرینو کي د مکې لوږه ده، نو علیه الصلوة والسلام هم اجازه ورکړه دوی ولاړه خپل وطن ته او ډېر نقود وغیره یې راوړه او پر مهاجرینو یې تقسیم کړه، فانزل الله تعالی فیهم الآیة: الذین آتناهم الکتاب الآیة، نو پر دې تقدیر له کتاب څخه انجیل مراد دی.

او بغوي رح دا روایت هم کړی دی چې دا آیت په هغو اتیا (۸۰) کسانو کي د اهل کتابو نازل سوی دی چې څلوېښت (۴۰) یې د نجران وه او دوديرش (۳۲) یې د حبشې وه او اته (۸) کسه د شام وه او خدای ﷻ ددوی وصف داسي بیان کړی.

وَإِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ قَالُوا آمَنَّا بِهِ

یعني چې تلاوت د قرآن مبارک ورددوی ته وکړل سي، دوی وایي چې موږ ایمان پر راوړی دی، یعني چې بلا ریب دا کلام الله دی کلام د بشر نه دی.

پوهه: چې اذا ظرف دی عامل یې آمنا دی

إِنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّنَا إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلِهِ مُسْلِمِينَ ۝

جمله مستانفه ده لپاره د بیان د موجب د ایمان ددوی ''إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلِهِ'' ای قبل نزول القرآن ''مُسْلِمِينَ'' ای مخلصین في التوحید مؤمنین بمحمد ﷺ انه نبي، ولي چې عیسی ﷺ ته په انجیل کې داسي ویل سوي وه چې په عربي یې معنی داده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مبشرًا بنبي ياتي من بعدي اسمه احمد[۴] او په تورات او انجیل دواړو کې د محمد ﷺ ذکر وُ.

فائده: انا کنا آه جمله مستانفه اخرئ ده لپاره د دلالت پر دې چې زموږ ایمان داسې نه دی چې داهم اوس اوس یې موږ احداث وکړی بلکې دا زموږ ایمان له ډېرې زمانې څخه دی، په روح المعاني کې وایي ویکفی في کونهم علی دین الاسلام قبل نزول القرآن ایمانهم اجمالاً. او په بحر العلوم کې چې د یو تفسیر نوم دی او په کشاف کې وایي چې اسلام صفت دی د هر موحد چې تصدیق پر وحي لري، روح المعاني وایي چې ظاهره له دې څخه داده چې اسلام له خصوصیاتو څخه د امت محمدي نه دی من بین الامم، او جلال الدین السیوطي رح وایي چې اسلام له خصوصیاتو څخه د دې امت دی وصنف فیه رسالة، والله اعلم.

پوښتنه: د دې آیت په نزول کې مختلف روایتونه راغلي دي او د سندو سره لکه ما چې ذکر کړه آیا په دغو شان نزولو کې کوم یو د اعتبار وړ دی؟

ځواب: دا ټول له د اعتبار وړ د دې سببه چې دغه مذکوره واقعات په نژدو زمانو کې واقع سوي دي، نو دا ممکنه ده چې د آیت تر ټولو واقعاتو وروسته نازل سوی وي، نو هر راوي ته چې یوه واقعه په سند رسېدلې ده هغه یې بیان کړې ده.

اُولٰٓئِكَ يُؤۡتَوۡنَ اَجۡرَهُمۡ مَّرَّتَيۡنِ بِمَا صَبَرُوۡا

دغه ذکر سوي کسان ورکړل کېږي دوی ته ثواب د دوی دوه واره یو وار ثواب یې پر ایمان په کتاب سره خپل او بل وار ثواب ورکول کېږي پر ایمان پر قرآن قبل نزوله بشهادة نبیهم علی ذالک واخبار نبیهم بذالک ''بِمَا صَبَرُوۡا'' کلمه د ما مصدریه ده ای بصبرهم وبقائهم علی الایمان بالقرآن بعد نزوله کما کان قبل نزوله.

درویش وایي: چې په قید سره د ما صبروا هغه اهل کتاب چې اکثر یې یهودان وه خارج سوه چې دمخه تر بعثت د علیه الصلوة والسلام او دمخه تر نزول د قرآن پر علیه الصلوة والسلام او پر قرآن د دوی ایمان وُ لکن پر هغه ایمان یې صبر ونه کړی او دوام یې نه وکړی، کریمه: وکانوا یستفتحون به علی الذین کفروا (یعني دوی یې طلب د فتح کاوه پر هغه کسانو چې کافران وه یعني المشرکین، د به ضمیر راجع و

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عليه الصلوة والسلام ته دی، داسي اللهم بحرمة النبي آخير الزمان انصرنا على القوم المشركين، او په خوله به یې هم مشركانو ته ویل چي زمانه د نبي اخير الزمان نژدې ده چي هغه مبعوث سي موږ د هغه په فوج کي داخلېږو ایمان پر راوړو او ستاسي سره به جنګ کوو، چي هغه نبي السيف دی یعني امر د جهاد ږي، کریمه: فلما جائهم ماعرفوا كفروابه حسدًا، او بل علماء ددوی اشتروا به ثمنًا قليلاً آه. سورة البقرة، بخاري او مسلم د ابی موسی الاشعري ﷺ څخه روایت کړی دی چي رسول اللهﷺ وويل ثلاثة لهم اجران (۱) رجل من اهل الكتاب آمن بنبيه وآمن بمحمد (۲) والعبد المملوک اذا ادی حق الله (من الصلوة والصيام وغير ذالک) وحق مواليه (او حق د بادارانو او مالکانو دده من حسن الخدمة وغيرها) (۳) ورجل كانت عنده امة يطائها (چي وطي یې ورسره کولې یعني په ملک اليمين سره) فادبها فاحسن تاديبها وعلمها فاحسن تعليمًا ثم اعتقها وتزوجها فله اجران.

وَيَدْرَءُونَ بِالْحَسَنَةِ السَّيِّئَةَ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ۝

او دوی دفع کوي په ښه فعل سره بد فعل، او له هغه مال څخه چي موږ دوی ته په رزق ورکړی دی انفاق کوي في سبيل الله (ابن عباس رض يدفعون بشهادة ان لا اله الا الله الشرک، مقاتل رح وايي يدفعون دوی دفع کوي هغه څه چي د مشرکينو له خوا څخه به ور رسېدی یا به یې اورېدله من الاذی والشتم (د زهیرېدلو خبري او ښکنځل) په صفح او عفوه سره، او بعض مفسرين وايي چي دوی به دفع کو د دښمن دښمني په احسان سره ددوی سره، کریمه: فاذا الذي بينک وبينه عداوة کانه ولي حميم (یعني که ته د دښمن سره احسان وکړې نو په دغه وخت هغه سړی چي ستا او دده تر منځ عداوت ؤ داسي به وګرځي لکه غمخور دوست) او بعض مفسرين وايي چي په طاعت معصيت دفع کوي، کریمه: ان الحسنات يذهبن السيئات. او په صحيح حدیث کي راغلي دي رسول اللهﷺ وايي اتبع الحسنة السيئة يمحها (ته ښه کار یعني طاعت کوه وروسته تر بد کار چي بد کار دفع کړي)

وَإِذَا سَمِعُوا اللَّغْوَ أَعْرَضُوا عَنْهُ

او چي دوی واوري بد قول یعني د کافر یا د جاهل اعراض څندي وکړي یعني مخ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واړوي، بغوي رحمه الله وايي چي مشركينو د عربو به و مؤمنانو ته د اهل كتاب ښكنځل كول په دې الفاظو تبًا لكم (هلاكت دي وي تاسي لره) تركتم دينكم (خپل دين يهوديت وغيره مو پرېښو يعني پر محمد ﷺ مو ايمان راوړى) هغو به هيڅ نه ورته ويل.

وَقَالُوا لَنَا أَعْمَالُنَا وَلَكُمْ أَعْمَالُكُمْ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ لَا نَبْتَغِي الْجَاهِلِينَ ﴿٥٥﴾

دا قدر به يې ورته وويل چي موږ ته خپل عملونه دي او تاسي لره خپل عملونه دي، سلام مبتداء ده او عليكم يې خبر دى.

سوال: سلام خو نكره ده مبتداء څرنګه واقع سوه؟

خواب: دا نكره مخصصه ده په محذوف سره اى سلام من قبلي كذا في شرح الكافية للجامي رحمه الله.

فائده: دا سلام د تحية نه دى بلكې سلام د متاركة دى، والمعنى سلتم منا لانرد بالشتم والقول القبيح.

"لَا نَبْتَغِي الْجَاهِلِينَ" قيل معناه لانطلب دينكم وقيل لانحب دينكم، وقيل لانريد انيكون من الجاهلين يعني كه موږ تاسي ته هم پوچ او رد وواېو په مقابل كي ستاسي د ښكنځلو او په موږ داسي سو لكه تاسي لكن موږ دا نه غواړو.

ابيات

دو عاقل رانباشد كين وپيكار ...... نه دانائي استيز د با سبكار

اگر نادان بوحشت سخت گويد ...... خرمندش برحمت دل بجويد

اگر هر دو جانب جاهلانند ...... اگر زنجير باشد بگسلانند

يكى رازشت خوئي داد دشنام ...... تحمل كرد وگفت اى نيك فرجام

بتر زانم كه خواهى گفتن انى ...... كه دانى عيب من چون من ندانى

بغوي رحمه الله وايي چي دا آيت منسوخ دى، ولي چي دا دمخه تر امر بالقتال ؤ آه، مظهري رحمه الله سخت اعتراض پر كړى دى چي دا قول دده مخالف دى د ماقبل سره چي بغوي رحمه الله ذكر كړى دى په شان نزول كي ددې آيت ولي چي آيت بعض وايي چي دا آيت يا نازل دى په عبد الله بن سلام و اصحابه رضي الله عنهم او اسلام ددوى بعد الهجرة ؤ، او يا په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اصحابو کي د نجاشي چي دوی د جعفر بن طالب رض سره راغله په غزاء کي د خیبر په سنه شپږ (۶) کي د هجرت، یا په هغو ځلوبښتو کسانو کي د اهل نجران چي اته کسان د شام هم ورسره وه وکل ذالک بعد الهجرة بعد ما امر الله رسوله ﷺ بالقتال.

لکن روح البیان ډېره په زړه پوري خبره کړې ده چي حکم ددې آیت که څه هم منسوخ دی په آیة السیف سره لکن په دې آیت باعثه کول دي د مسلمانانو په مکارم الاخلاق سره، په صحیح حدیث کي راغلي دي: ثلاث من لم یکن فیه فلا یعتد بعلمه حلم یرد به جهل جاهل، وورع یحجره عن معاصي الله تعالی وحسن خلق یعیش به في الناس.

توجمه: درې خویونه چي په چا کي نه وي د هغه و علم ته اعتبار نسته (۱) حلم باید ولري چي د جهل د جاهل دفع په وکړي (۲) ببره د خدای ﷻ او تقوی چي منع کړي دی له منهیاتو څخه د خدای ج (۳) ښه اخلاق چي په هغو سره په خلکو کي به ګذاره وکړي.

شان نزول: مسلم او نورو محدثینو له ابی هریره رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چي ابو طالب عم رسول الله ﷺ چي ابو طالب مریض ؤ، رسول الله ﷺ ورته وویل چي قل لا اله الا الله اشهد لک یوم القیامة یعني په دې سره چي زما اکا له شرک څخه توبه کښلې ده. ابو طالب ورته وویل که نه وای دا خبره چي د قریشو ښځو به ماته پیغور راکوي چي دوی به وایي چي ابو طالب په بې صبری له مرګه څخه یې ایمان راوړلو مجبور کړی ما به ستا سترګي په کلمه د توحید ویلو سره ځنکي کړي وای، نو خدای پاک دا آیت نازل کړی.

إِنَّكَ لَا تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ يَهْدِي مَن يَشَاءُ

په تحقیق ته هدایت یعني دلالت موصله و توحید ته نسي کولای د هغه چا چي ستا یې هدایت خوښ وي، یا معنی دا چي د هغه سره محبت د قرابت لري، لکن خدای ج هدایت کوي و هغه چا ته یشآء هدایته.

وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿٥٦﴾

خدای ﷻ خبر دی، مقاتل او مجاهد رح وایي: بمن قدر له الهدی، او نسائي او ابن عساکر په تاریخ دمشق کي په سند جید سره د ابی سعید بن رافع څخه روایت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی دی چي ما د ابن عمر رحمه الله پوښتنه وکړه د دغه آیت په باره کي انک لاتهدي من احببت چي په شان کي د ابو جهل او د ابو طالب نازل سوی دی؟ ده راته وویل نعم، بخاري، مسلم نسائي، ابن جرير، ابن المنذر، ابن ابی حاتم، ابو الشیخ، ابن مردوية او بیهقي رحمهم الله حديث د سعيد بن المسيب رحمه الله داسي نقل کړی دی چي ابو طالب ته چي د وفات وخت نژدې سو، رسول الله ﷺ ورغلی ابو جهل او عبد الله بن ابی امیه هم هورې ناست وه، نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل ای عم قل لا اله الا الله کملة احاج بها لک عند الله يعني يوم القيامة فقال ابو جهل و عبد الله بن ابی امية آیا ته رغبت کوې يعني اوړې له دين څخه د عبد المطلب، نو علیه الصلوة والسلام به هغه کلمة التوحيد پر عرض کول، او هغو دوو ګمراهانو به هغه د مخه خبره ورته کول، نو د ابو طالب اخيري خبره داوه علی ملة عبد المطلب، نو وفات سو، او منع یې وکړه د لا اله الا الله څخه، نو علیه الصلوة والسلام دا خبره وکړه لا ستغفرن لک هر آئينه يعني والله زه به تاته طلب د بخښي کوم د خدای جل جلاله څخه تر څو چي زه د هغه دعاء او استغفار څخه منع سوی نه یم. يعني د خدای پاک له لوري، فانزل الله تعالی: ماکان للنبي والذين آمنوا ان يستغفروا للمشركين ولو كانوا ذی قربی الآية، وانزل الله تعالی في ابی طالب يعني خاصة انک لاتهدي من احببت الآية... بيت:

هدایت هر کرا داد از بدایت .... بدو همراه باشد تا نهایت

حافظ شیرازي رحمه الله میگوید:

بآب زمزم و کوثر سفید نتوان کرد .... گلیم بخت کسی را که بافتند سیاه

شیخ سعدي رحمه الله میگوید:

گرت صورت حال بد یا نکوست .... نگاریده دست تقدیر اوست

قضا کشتی آنجا کی خواهد برد .... وگر نا خدا جامه برتن درد

(ناخدا کښتي وان ته وايي)

وَقَالُوٓا۟ إِن نَّتَّبِعِ ٱلْهُدَىٰ مَعَكَ نُتَخَطَّفْ مِنْ أَرْضِنَآ ۚ

او وايي اهل مکه من المشرکين (دا جمله عطف ده پر قالوا لو لا اوتي مثل ما اوتي موسیٰ الخ) که موږ یې متابعت د هدایت وکړو ستا سره يعني ستا راوړی دين در سره قبول کړو، موږ به نور عرب وباسي په چټکي. سره د خپلي مځکي مکې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څخه، او بغوي رح وايي چي دا آيت په شان كي د حارث بن عثمان بن نوفل بن عبد مناف نازل سوی دی چي ده و عليه الصلوة والسلام ته وويل چي موږ په دې پوهېږو چي ته چي وايي يعني كلام التوحيد حق دی لكن كه موږ متابعت وكړو په دين كي، موږ بېرېږو چي نور عرب به موږ وباسي له مكې څخه وهو معنى قوله تعالى نتخطف من ارضنا كذا اخرجه النسائي وابن المنذر عن ابن عباس رض. ومعنى الاختطاف الانتزاع بسرعة چي په پښتو وايي حمله به مو كړي. نو خداى ﷻ د حارث بن عثمان المذكور خبره رد كړه په دې آيت سره.

اَوَلَمْ نُمَكِّنْ لَّهُمْ حَرَمًا اٰمِنًا

الاستفهام للانكار، ونفي النفي اثبات يعني دوی ته مو ځای وركړی په حرم كي د مكې چي په امن كي وه په جاهليت كي (نو لفظ د آمنًا صيغه د نسبت ده اى ذا امن لكه لابنٍ او تامرٍ يعني بائع اللبن والتمر، موږ ولي دا ترجمه وكړه! چي اصل آمن خو خداى ﷻ دی) تاريخ قديم وايي چي عربو په جاهليت كي احترام د اهل مكه ساتى يو پر بل يې حملې كولې او يو و بل يې وژل وكانوا اهل مكة آمنون من القتل والغارات لحرمة الحرم، او دا خبره ډېره مشهور ده او صحيح ده چي د حرم په حدودو كي به هوسى د لېويانو څخه بېغمه وې او كوترې د ټېوسانو څخه بې پرواه ګرځېدلې.

يُّجْبٰٓى اِلَيْهِ ثَمَرٰتُ كُلِّ شَيْءٍ

چي راجلبېدې يا راوړل كېدې به دې بلد ته د مكې د شاوخوا څخه مېوې د هر قسم څخه.

پوه سه: چي بعض قاريان يې په تاء فوقانيه سره وايي، ولي فاعل يعني مفعول مالم يسم فاعله يې مؤنث دی ثمرات دی چي جمع مؤنث ده او اكثره قراء يې په ياء تحتانيه سره وايي له دې سببه چي په منځ كي د فعل مسند او فاعل فاصل موجود دی يعني لفظ د اليه او يا دا چي ثمرات مؤنث غير حقيقي دي تذكير او تانيث د فعل دواړه روا دی.

رِّزْقًا مِّنْ لَّدُنَّا

دا رزق دی زموږ لخوا څخه، غرض دا دی چي په جاهليت كي تاسي په سبب د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حرم محترم خدای ﷻ په امن کې ساتلي واست له غارا تو څخه د عربو او سره ددې چې تاسي عبدة الاوثان واست، نو اوس چې تاسي تابعان د علیه الصلوة والسلام سئ، ځرنګه به مو خدای ﷻ په امن کې نه وساتي!

ع........ این خیال است و محال است و جنون

درویش وایي: چې قدیمًا و حدیثًا هره میوه او خوراکي مواد که دوبی وي او که ژمی وي په حرم محترم کې دستیاب کېږي.

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿٥٧﴾

په دې فضائلو د محترم حرم نه پوهېږي یعني یو محدود کسان چې په غور سره فکر وکړي چې دا رزق دی من عند الله تعالی.

فائده: په وروستني آیت کې خدای ﷻ اهل مکه ته دا ښکاره کوي چې واجب پر تاسي دا وه چې تاسي له خدایه بېرېدای چې پر موږ په سبب د کفر او عصیان عذاب نازل نه کړي لکه پر نورو کفارو، نو وایي.

وَكَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَرْيَةٍۭ بَطِرَتْ مَعِيْشَتَهَا ۚ

بوه سه: چې کم خبر دی مفید د کثرت دی، ډېر موږ هلاک کړي دي د قریو یعني له اهل څخه د قریو یعني چې د هغو حال په کفر او عصیان لکه ستاسي حال ؤ "بطرت" صفت د قریه دی، په صفت سره د اهل د قریو، ای طغت چې دوی به طغیان کاوه په نعمتو کې د خدای ﷻ یعني شکر یې نه وایه، یعني نعمتونه به یې د خدای ﷻ خوړل او د خدای ﷻ به یې عصیان کاوه او عبادت به یې د بتانو کاوه چې هیڅ نفع یا ضرر یې په طاقت کې نه ؤ "معیشتها" منصوب دی علی الظرفیة یعني مدة عیشتها، نو خدای ﷻ یې اهل هلاک کړه او دیارېږي ورخراب کړه، قال الله تعالی.

فَتِلْكَ مَسٰكِنُهُمْ لَمْ تُسْكَنْ مِّنْۢ بَعْدِهِمْ اِلَّا قَلِيْلًا ؕ

دغه کورونه او سرایونه ددوی چې خراب دي چې حجر او قری د قوم لوط دي (دا علت دی د ما سبق من اهلاک القرٰی) چې استوګنه نه ده پکښې سوې وروسته تر دوی یعني وروسته تر هلاک ددوی.

بوه سه: چې لم تسکن حال دی له مساکنهم څخه عامل په معنی د اشارة ده په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تلک کي نحو هذا بعلي شیخًا.

بوه سه: چي قليلاً يا منصوب دی چي مفعول مطلق دی د لم يسكن ای الا سكونًا قليلاً، يا منصوب دی چي ظرف دی ای الا زمانًا قليلاً، ابن عباس رضي الله عنه وايي لم يسكنها الا مسافر، او مار طريقًا يومًا او ساعةً يعني للاستراحة او اكل.

وَكُنَّا نَحۡنُ الۡوٰرِثِيۡنَ ۝

نو موږ ميراث خواره سوو يعني هيڅ څوک يې نه سوه پاته چي ددوی په ديار خرابه وو کي تصرف وکړي يا په محکو او باغو کي ددوی تصرف وکړي.

بوه سه: چي د وارث اطلاق پر خدای ﷻ مجاز دی، او بعض مفسرين وايي چي مراد له قليل څخه لږ او سېدونکي يعني يا کارګان يا عنکبوت وغيرها کما قال الشاعر الفارسي.

پرده داری ميکند درطاق کسرٰی عنکبوت
بوم نوبت ميزند در قلعه افراسياب

وَمَا كَانَ رَبُّكَ مُهۡلِكَ الۡقُرٰى حَتّٰى يَبۡعَثَ فِىۡۤ اُمِّهَا رَسُوۡلًا

نه دی خدای ستا يا محمد (ﷺ) يعني عادت يې نه دی چي هلاک دي کړي قريې د کافرانو يعني اهل د هغو قريو تر څو پوري چي لويه قريه کي د هغو قرى وو رسول وانه ستوي.

سوال: تخصيص يې د اعظم القرٰی د څه حکمت لپاره وکړی؟

څواب: رسول خو خدای ﷻ اشرافو او رئيسانو ته استوي، ولي اتباع خو په کفر او په اسلام کي د اشرافو تابعان دي، او قانون دادئ چي اشراف او رئيسان په غټه قريه کي استوګنه کوي.

فائده: په دې سبب رسول اللهﷺ وه هرقل ته چي بادشاه د روميانو ؤ داسي مکتوب نوشته کړی لپاره د دعوت و اسلام ته، من محمد رسول الله الى هرقل عظيم الروم سلام على من اتبع الهدٰى، اما بعد اسلم تسلم والا فعليک اثم الاريسين، پر تا ګناه د کشتګارانو، رواه البخاري بطوله، او دغه رنګه يې د کسرٰی ته د فارس ورته مکتوب نوشته کړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِنَاۚ وَمَا كُنَّا مُهۡلِكِي ٱلۡقُرَىٰٓ إِلَّا وَأَهۡلُهَا ظَٰلِمُونَ ۝٥٩

چي تلاوت وکړي پر دوی رسولانو آيات زموږ او دوی له عذاب څخه زموږ ويېروي که چېري ايمان را نه وړي، او نه يو موږ هلاک کونکي د قريو مګر هغه چي اهل د قريو ظالمان وي بتکذيب الرسل او سرکښي په کفر سره وکړي يعني هذه عادة الله الجارية والحکمة فيها، کريمه: لئلا يكون للناس على الله حجة بعد الرسل.

وَمَآ أُوتِيتُم مِّن شَيۡءٖ

هغه چي درکړه تاسي ته يو شي د دنيائي اسبابو يعني الذهب والفضة او مواشي لکه اوښان وغيره.

فائده: کلمه د ما مبتداء ده متضمن معنی لره د شرط ده، ولي چي په خبر کي کلمه د فاء راغلي ده بخلاف الثانية او په اوتيتم کي مخاطب کفار د مکي دي کما في الوسيط (چي د يو تفسير نوم دی) او د شي لفظ او تنوين لپاره د تقليل دی، يعني بالنسبة الى الجنة ونعيمها التي ضعيوها بالشرک والمعاصي.

فَمَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتُهَاۚ

اى ما يتمتعون به في الحيوة الدنيا "وزينتها" اى تتزينون بها في الحيوة المنقضية الفانية.

پوه سه: چي دا خبر د ما موصوله دی، منافع د دنيا متاع يې وبلل لانها تفني ولاتبقى کمتاع البيت.

وَمَا عِندَ ٱللَّهِ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ۝٦٠

کلمه د ما موصوله ده اى الذي حصل عند الله وهو الثواب والنعيم المقيم "خير" ولي چي هغه لذت خالصه دی هيڅ الم او طبعيت خرابي نسته پکښي لکه په نعيم کي د دنيا چي سته کما دل عليه التجربة، په دنيا کي چي هر څو سرمايه داره وي غمونه يې هغومره ډېر وي، د غلو څخه دی بېرېږي، له اغواء تبنتوني څخه دی بېرېږي "وابقى" لانه دائم قائم "افلا تعقلون" آيا تاسي عقل نه لرئ.

پوه سه: چي استفهام لپاره د انکار دی، او نفي د نفي اثبات دی يعني عقل او فکر نه لرئ، او فاء د تعقيب ده، او عطف پر مقدر ده کما مر مرارًا في هذا التفسير

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په مثل کي ددې چي وروسته تر استفهام حرف عطف راسي، معطوف به پر مقدر وي، والتقدير ههنا الا تتفكرون فلا تعقلون.

اَفَمَنْ وَّعَدْنٰهُ

آيا هغه څوک چي موږ وعده ورسره کړې وي.

پوهه: چي دا جمله عطف ده علی قوله تعالی: وماعند الله خير وابقی. او همزه لپاره د انکار دی يعني بعد التفاوت المذكور د متاع الحيوة الدنيا وما عند الله كما مر تاسي هغه څوک چي موږ وعده حسنه ورسره کړې ده آه داسي يې ګرځوئ كمن متعناه آه، يعني دا مساوات غلط او منکر دي.

وَعْدًا حَسَنًا فَهُوَ لَاقِيْهِ كَمَنْ مَّتَّعْنٰهُ مَتَاعَ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

ښه وعده يعني د جنت، ولي چي ښه والی د وعدې په ښه پوري د موعود مربوط دی، او دغه سړی به حتمًا ملاقي کېږي د هغه وعدې سره (ولي چي د وعدې خلاف پر رب جل وعلا ممتنع دی لامتناع الكذب عليه تعالی) لکه هغه څوک چي موږ ده ته متاع د ناقص ژوند من المال والمنال والجاه والجلال چي د هغه متاع سره غمونه او تکليفونه او بېره هم ورسره ملګرې ده، او بالآخرة به دی د مرګ په سفر ځي او متاع الحيوة الدنيا به پر ځای پاته وي.

ثُمَّ هُوَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مِنَ الْمُحْضَرِيْنَ ﴿۶۱﴾

او بيا وروسته تر هغه دی په ورځ د قيامت حاضر کړه کېږي لپاره د حساب او عذاب.

فائده: لفظ د ثم يا لپاره د تراخي زماني دی يا لپاره د تراخي في المرتبة دی. قتاده رح وايي چي حاصل د آيت دادی چي مؤمن او کافر نه دي سره برابر بلکې مؤمن احسن حالاً دی په ورځ د قيامت، مجاهد رح وايي چي دا آيت په رسول الله ﷺ او په ابوجهل کي نازل سوی دی، او بعض روات وايي چي په همزه رضی الله عنه او ابوجهل کي نازل سوی دی، او بغوي رح وايي چي مقاتل او محمد بن کعب رح وايي چي په علي بن ابی طالب رضی الله عنه او په ابوجهل کي نازل سوی دی، او بعض وايي چي په عمار بن ياسر رضی الله عنه چي له فقراؤ څخه د مسلمانانو ؤ او په وليد بن المغيرة چي له اغنياؤ څخه د مکې ؤ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي په هر صورت مورد د آيت که څه هم خاص دی لکن حکم يې عام دی، نو بناء علی هذا تفسیر د قتاده رح ډېر ښايسته او په زړه پوري دی ليوافق المورد والحکم فافهم..... بیت:

حيف باشد لعل وزر دادن زچنگ .... پس گرفتن دربرابر خاک وسنگ

بر فلک بر تر بود اسراراو...... شيئًا لله شيئًا لله کا راو

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَآءِيَ ٱلَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٦٢﴾

او ذکر کړه هغه ورځ چي ناره کړي منادي و مشرکانو ته چي ورځ د قيامت ده او خدای پاک ووايي په ذريعه د ملکي چېري دي زما شريکان چي تاسي به گمان کاوه چي دا د خدای شريکان دي يعني په دنيا کي به مو ويل.

پوه سه: چي لفظ د يوم منصوب دی په اذکر مقدر سره يعني په ياد کړه او ذکر کړه هغه ورځ آه.

سوال: تزعمون خو دوه مفعوله غواړي، هغه څه شی دی؟

ځواب: دواړه مفعوله محذوف دي لدلالة المقام ای تزعمونهم شرکائي.

درویش وايي: چي روح البيان له شرکاء څخه اصنام مراد کړي دي ظاهرًا، او مظهري وايي لعل المراد بالشرکاء رؤساء الکفرة الذين ترک اتباع عبادة الله باغوائهم آه. لکن درویش د صاحب روح المعاني تفسير ډېر ښايسته بولي حيث قال ان المراد بالشرکاء من عبد من دون الله من ملک او جن او انس او کوکب او صنم آه، وجه د ښه والي ددې تفسير داده چي ټولو طوائفو ته د مشرکانو شامل دي کما لايخفی.

قَالَ ٱلَّذِينَ حَقَّ عَلَيْهِمُ ٱلْقَوْلُ

وه به وايي هغه کسان چي ثابت سوی پر دوی قول د خدای جلاله يعني قوله تعالی لاملئن جهنم من الجنة والناس اجمعين، وغيره من آيات الوعيد، مظهري پر دمخه تفسير دده موافقت ويلی دی يعني رؤساء الکفار.

درویش وايي: چي د مظهري پر تفسير په وروسته آيتو کي چون او چرا نسته کما سيجئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رَبَّنَا هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ أَغْوَيْنَآ أَغْوَيْنَٰهُمْ كَمَا غَوَيْنَا

يا رب زموږ دغه دي، يعني هغه اتباع چي موږ گمراهان کړي وه.

پوه سه: چي هؤلاء الذين اغوينا تمهيد دی وجواب ته او اغويناهم کما غوينا جواب حقيقة دی، يعني لکه چي موږ گمراهان ؤ په خپل اختيار سره دوی هم په خپل اختيار سره گمراهان سوه، موږ دوی نه دي مجبوره کړي پر گمراهي باندي بلکي رئيسان د دعوت د اتباع وکفر ته دوی به وايي چي زموږ له خوا صرف دعوت ؤ په مقابل زموږ خدايه تا انبياء سره د معجزاتو را استولي وه دوی يعني اتباعو د هغو انبياوؤ دعوت وه توحيد ته نه کړی قبول صرف زموږ دعوت يي قبول کړي باختيارهم غيًا مثل غنينًا او که متبوعين شياطين الجن وي، نو هغه به خدای ته ووايي چي ربنا دغه تابعان چي گمراهان سوه صرف په وسوسه او تسويل سره گمراهان سوه بدون الجبر والقسر من جانبنا لکه موږ چي گمراهان ؤ بدون الجبر من غيره او که معبود بت وي هغه بت به په قدرت د خدای ﷻ خبري وکړي چي موږ بتانو دوی نه دي گمراهان کړي بلکي دوی هغه شياطين الجن چي زموږ سره راسره وه هغو به دوی ته وسوسې د معبوديت زموږ ور اچول او دوی په هغه وسوسو سره گمراهان سوه.

سوال: پر دې تقدير اغويناهم کما غوينا د بتانو له خوا څرنگه صحيح کېږي، ولي بتان خو جمادات وه غوايت خپل او اغواء د بل چا ددوی سره څرنگه سمون خوري؟

ځواب: پر دې تقدير اقرار کونکی د خپل غوايت او د اغواء د بل چا هم هغه شيطانان دي چي د بتانو سره به موجود وه او خلکو ته يې د وسوسې د معبوديت د دغو بتانو وراچولې کما ورد مع کل صنم شيطان بلکي دغو شيطانانو چي د بت په يو سوري به ورننوتل له داخل څخه د بت به يې خبري کولې د مشرکانو گمان به دا سو چي دا خبره زموږ مبعود بت کوي، نوره به يې پر بت عقيده د معبوديت حکمه سوه.

پوښتنه: بعض مشرکانو خو د ملکو عبادت کاوه او يهودانو عزير ابن الله باله، او نصاری وو عيسی ابن الله باله، نو پر هغو دا قول د خدای ﷻ څرنگه تطبيق يعني اغويناهم کما غوينا؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خواب: روح المعاني په تفسير كي د دې آيت الذي حق عليهم القول چي له قول څخه مراد لاملئن جنهم آه دی کمامر عنقريب، والتعبير بالذين حق عليهم القول يعني داسي يې نه وويل الذين زعموهم شركاء لاخراج مثل عيسىٰ وعزير والملائكة عليهم السلام. ولي چي د مخه تاسي تفسير عام د روح المعاني چي فقير هم رانقل کړی او زیبا تفسیر مي هم وبلی، هغه تفسیر خو عیسیٰ، عزیر او ملکو ته هم شامل نه ؤ، نو که خدای پاک داسي ویلي وای الذین زعموهم شرکاء، نو خو عیسیٰ عزیر او ملائکه تر لاندي کېدل، نو په اغويناهم کما غوينا غټ اشکال منځ ته راتلی کما لايخفی، او چي خدای ﷻ داسي وويل الذين حق عليهم القول نو دغه درې څنډي ووتل ولي چي د دوی په باره کي خو دا قول ثابت نه دی لاملئن جهنم من الجنة والناس اجمعين كما لايخفى.

درویش وایي: چي دا ؤ تحقيق د دې سخت مقام په توفيق د رب منان، اللهم منك واليك تباركت ربنا وتعاليت والخير كله بيديك.

تَبَرَّأۡنَآ إِلَيۡكَۖ مَا كَانُوٓاْ إِيَّانَا يَعۡبُدُونَ ﴿٦٣﴾

معبودين ووايي چي موږ بېزاره يو يعني له دوی څخه او د دوی د کفر او معاصيو څخه چي دوی په هوای خپل مختاره کړي وې "اليك" و تا ته (متعلق دی په تبرئنا پوري بتضمين معنى التوجيه ای متوجهين اليك) دوی زموږ عبادت نه کاوه بل کانوا يعبدون اهوائهم، يعني په خپلو خواهشاتو زائغه وو سره يې دا عبادت کاوه.

وَقِيلَ ٱدۡعُواْ شُرَكَآءَكُمۡ

وويل سي وكفارو ته (وقيل: عطف دی على قال الذين حق عليهم القول) تاسي راوبولئ هغه ستاسي شرکاء يعني چي تاسي زما سره په معبوديت کي شريكان ګرځولي وه يعني د دې لپاره چي تاسي له عذابه خلاص کړي، ولي تاسي په دنيا کي ويل هؤلاء شفعائنا الى الله.

بوه سه: چي مراد له شرکاء څخه بتان يا نور معبودات بالباطل دي.

درویش وایي: چي قائل د قيل خزنة جهنم دي لپاره د رسوايي د دوی په لويه اجتماع د محشر او توبيخ او تهديد د دوی پر کفر د دنيا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَدَعَوْهُمْ فَلَمْ يَسْتَجِيبُوا لَهُمْ وَرَأَوُا الْعَذَابَ لَوْ أَنَّهُمْ كَانُوا يَهْتَدُونَ ﴿٦٤﴾

دوی هم ور نعرې کړي (يا لات يا عزی مثلاً. له جهته څخه د فرط حيرت يا پر هغه زعم د دنيا ددوی هؤلاء شفعاينا الى الله) هغه قبلونه ددوی د دعاء ونه کړي (ولي اصنام او بتان خو جمادات وه ددوی له دعاء څخه غافله دي او شيطانان يا رئيسان ددوی وه، هغه له اجابت او نصرت څخه عاجزه دي)

پوه سه: چي بعض مفسرين وايي چي کلمه د لو شرطي ده، ځواب يې محذوف دی، تقديره لو انهم يهتدون في الدنيا لم يرو العذاب الآن. لکن ظاهره داده چي کلمه د لو لپاره د تمنی ده اتمنوا انهم کانوا يهتدون:

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ مَاذَا أَجَبْتُمُ الْمُرْسَلِينَ ﴿٦٥﴾

"يوم" منصوب دی په اذکر مقدر سره ای اذکر يوم نداء الله نداء توبيخ وتقريع، او بعض مفسران وايي چي دا جمله عطف ده پر يوم يناديهم آه باندي چي اول خدای ﷻ سوال د توبيخ پر اشراک ددوی څخه وکړی او ثانيًا يې د تکذيب د رسولانو ځندي وکړی، ترجمه: چي خدای ﷻ ور نعرې کړي دوی کفارو ته او ورته ووايي چي تاسي څه جواب ورکړی و رسولانو ته تصديق يا تکذيب.

فَعَمِيَتْ عَلَيْهِمُ الْأَنبَاءُ يَوْمَئِذٍ فَهُمْ لَا يَتَسَاءَلُونَ ﴿٦٦﴾

اصلي ترجمه خو يې داده: خبرونه پر دوی لکه ړانده سي يعني خبرونه ودوی ته لار نسي پيدا کولای، لکن مراد ادی چي دوی ړانده سي د خبرو څخه عکس يې مبالغةً دی، والمراد بالانباء الاعذار في تکذيب الرسل (يعني چي تاسي څه عذر درلودی په تکذيب کي د رسولانو هغه بيان کړئ)

پوښتنه: خبرونه خو په ژبه بيانېږي، نو د عميت څه معنا ده؟

ځواب: عمي دلته په معنی د مقابل الابصار نه ده، بلکې په معنی د خفيت ده. او مجاهد رحمه الله وايي چي مراد له انباء څخه حجج او دلائل دي، فالمعنی لايجيبون بشئ اذلم يکن عندهم حجت، نو پټه خوله سي. حسيني رحمه الله وايي: پس پوشيده باشد بر ايشان خبرها آنچه با پيغمبران گفته باشند ونه دانند که چه گويند آه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"یومئذ" تاکید دی لقوله تعالی یوم ینادیهم آه، بیضاوي رح وایي چي رسولان ع
په جواب کې ده ورته سوال حیران پاتېږي له ډېره خوفه اخیراً تفویض د علم و
خدای ﷻ ته وکړي فما ظنک بالکفار الاشرار.....بیت:

بجائی که دهشت خورد انبیاء......تو عذر گناه را چه داری بیا

"فَهُمْ لَا يَتَسَاءَلُونَ" نو دوی یو له بله سوال نه سره کوي له سببه د ډېر دهشت
پر تولو، یا له سببه ددې چي دوی پوهېږي چي ټول له په جهل کې سره برابر یو.

فَأَمَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَعَسَىٰٓ أَن يَكُونَ مِنَ ٱلْمُفْلِحِينَ ﴿٦٧﴾

او هغه څوک چي توبه وکاږي له شرک څخه، او ایمان راوړي پر ټولو مایجب
الایمان به او عمل صالح ورسره ملګری کړي، نو شاید هغه به له دوږخه د فلاح او
خلاصون مندو نکو خلګو څخه وي.

پوه سه: چي عسیٰ پر قانون د کرامو لپاره د تحقیق دی یا لپاره د ترجي او امید
د تائب له خوا څخه یعني فلیتوقع التائب لعدم علمه بالبقاء علی التوبة والعمل
الصالح لان الخاتمة مستورة.

وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخْتَارُ ۗ

پوه سه: چي خوانینو او رؤساؤ د مکې به دا عیب وایه چي خدای ﷻ دا
منصب عالي د نبوت چي محمد (ﷺ) یې دعوه کوي، ولي وده ته ورکړی دا
منصب عالي یا باید ولید بن مغیرة ته ورکړل سوی وای چي شتمن سړی ؤ او
مالدار د مکې دی یا عروة بن مسعود الثقفي ته چي عظیم د طائف دی ورکړی
وای، کما قالوا لو لا نزل هذا القرآن علی رجل من القریقیتن عظیم، نو خدای ﷻ
پر دوی رد وکړی چي خدای ج پیدا کوي هغه شی چي دده اراده ورته وسي، او
مختاره کوي د یو کار لپاره هغه څوک چي دده خوښ وي، چنانچه د نبوت لپاره یې
محمد ﷺ مختاره کړی من بین سائر العرب بل من بین سائر الناس من العرب
والعجم، نو لکه په خلق کې د خدای ﷻ چي څوک مداخله نسي کولای، نو په
اختیار کې د یو چا لپاره د یو منصب عالي لکه محمد ﷺ چي مختاره کړی څوک
مداخله او اعتراض باید ونه کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ۚ سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُونَ ﴿٦٨﴾

نسته دوی لره یعني اهل مکه لره اختیار.

(یوه سه: چي الخیرة اسم دی قائم مقام المصدر یعني الاختیار او خیرة په معنی د مفعول هم راغلی دی، یقال محمد خیرة الله من خلقه ای مختاره، نو دا جمله یعني ماکان آه تاکید دی د مخنی جملې وربک یخلق الخ، نو ځکه یې تر منځ ددې دوو جملو حرف عطف نه راوړی)

پاک دی خدای ﷻ او عالي دی (که کلمه د ما مصدریه سي، نو معنی داده عن اشراکهم الغیر في معبودیته تعالی، او که کلمه د ما موصوله وي، نو عائد په صله کي محذوف دی ای مایشرکونه، په صحیح حدیث کي راغلي دي ان الله خلق السموات فسکنها (دا لفظ د متشابهاتو د حدیث دی وعلمه عند الله ﷻ کما هو مذهب الصالحین) واختار من بني آدم العرب، واختار من العرب مضر (قبیلة عظیمة فوق قریش) واختار من مضر قریشًا، واختار من قریش بني هاشم، واختارني من بني هاشم، فأنا خیار من خیار الی خیار، الی اخیر الحدیث، او په بل حدیث کي راغلي دي ان الله اختار اصحابي علی جمیع العالمین سوی النبیین والمرسلین واختار من اصحابي اربعة ابابکر وعمر و عثمان وعلیًا ﷺ فجعلهم خیر اصحابي وفي کل اصحابي خیر واختار امتي علی سائر الامم، واختار من امتي ثلاثة قرون قرن اصحابي و بعد قرن اصحابي، الثاني ای التابعین والثالث ای تبع التابعین، او په صحیح حدیث کي راغلي دي: خیر القرون قرني، ثم الذین یلونهم (یعني قرن الصحابة) ثم الذین یلونهم (یعني قرن التابعین) ثم الذین یلونهم (یعني تبع التابعین) الی اخیر الحدیث، نو پر دې تقدیر قرون څلور دي.

همه تخت وملکی پذیرد زوال .... بجز ملک فرماندهی لایزال

وَرَبُّكَ يَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٦٩﴾

او ستا خدای یا محمد خبر دی په هغو شیانو چي دوی یې پټ په سینو یعني په زړو کي ساتي لکه عداوة الرسول ﷺ او د هغه بغض کول او هغه شی چي ښکاره کوي لکه طعن پر علیه الصلوة والسلام او پر دین د اسلام، مطلب دادی چي پر خدای ﷻ پټ او لڅ یو شی دي یعني پر دواړو علم لري، نو د دواړو مکافات به ورکوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَهُوَ اللّٰهُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۖ لَهُ الْحَمْدُ فِی الْاُوْلٰی وَالْاٰخِرَةِ ۫

وهو الله ای المستحق للعبادة هم دی دئ، مستحق د عبادت بل هیڅ شی نسته که نبي وي او که ملکه که جن وي که اصنام وي، دا جمله تقرير ده د هو الله فافهم، خاص ده لره دی حمد په دنیا او آخرت کي، ولي چي خدای ﷻ لره صفات د جمال او جلال سته او ورکونکی د ټولو نعمتو په دنیا او آخرت کي دی دئ، نو مؤمنان په آخرت کي هم حمد دده وايي لکه په دنيا کي چي يې وايي په آخرت کي يې هم وايي: الحمد لله الذي اذهب عنا الحزن، او داغه رنګه وايي: الحمدلله الذي صدقنا وعده (ای بالجنة ونعيمها).

بوه سه: چي حمد ددې لپاره د خوشحالی دی په نعیم د جنت او اظهار د لذت کوي د مکلفيت له سببه نه دی، ولي چي په آخرت کي هيڅ څوک په عبادت مکلف نه دی لان دار التکلیف هو الدنیا وقد مضت.

وَلَهُ الْحُكْمُ وَاِلَیْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۷۰﴾

"الحكم" ای القضاء النافذ في کل شیئ (ابن عباس رضی الله عنه وايي حکمه لاهل الطاعة بالمغفرة ولاهل العصيان بالشقاوة) او خاص و خدای ﷻ ته تاسي حاضر کړل کېږي يعني په ورځ د قیامت للحساب وجزاء الایمان والاعمال الحسنة وجزاء الکفر والمعاصي.

قُلْ اَرَءَیْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَیْكُمُ الَّیْلَ سَرْمَدًا اِلٰی یَوْمِ الْقِیٰمَةِ

ووايه يا محمد واهل مکه ته تاسي خبر راکړئ که چېري وګرځوي خدای ﷻ پر تاسي شپه همېشه، د قیامت تر ورځي پوري يعني هيڅ لمر نه راخېژوي.

مَنْ اِلٰهٌ غَیْرُ اللّٰهِ یَاْتِیْكُمْ بِضِیَآءٍ ؕ اَفَلَا تَسْمَعُوْنَ ﴿۷۱﴾

څوک دی غیر له خدایه چي تاسي ته دي درکړي رڼا چي تاسي دي طلب د رزق او معاش پکښي وکړئ (وکلمة من للاستفهام الانکاري، بيضاوي رحمه الله وايي چي حق د عبارت خو دا ؤ هل اله لکن ذکر لفظ من بناء علی زعمهم چي بېله خدایه نور آلهة هم سته وهي اصنامهم) آیا تاسي دا مواعظ قرآنیه نه اورئ په سماع د تدبر يعني فکر پکښي ووهئ او غور پکښي وکړئ، نو ایمان راورئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قُلْ اَرَءَيْتُمْ اِنْ جَعَلَ اللّٰهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ

ورته ووايه يامحمد (ﷺ) كفارو ته د مكې تاسي خبر راكړئ كه خداى پاك وګرځوي ورځ پر تاسي همېشه، چي لمر په منځ كي د اسمان ځاى پر ځاى ودروي د قيامت تر ورځي پوري.

مَنْ اِلٰهٌ غَيْرُ اللّٰهِ يَاْتِيْكُمْ بِلَيْلٍ تَسْكُنُوْنَ فِيْهِ ؕ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ

څوک دى اله پرته له الله (عزوجل) چي راوړي پر تاسي شپه چي تاسي دي له سترپيا څخه د ورځي استراحت پکښي وكړئ، آيا تاسي نه وينئ آيات په ليدلو سره د عبرت.

سوال: استراحت خو د ورځي هم كېږي؟

ځواب: په دومره لوى ورځ كي استراحت كول محال دى.

پوښتنه: د ليل فائده خداى پاک بيان كړه په تسكنون فيه سره او د ضياء فائده يې نه كړه بيان، حكمت يې څه دى؟

ځواب: اولاً ضوء بذاته مقصود ده او د هر چا خوښه ده، ولا كذالك الليل الا لاولياء الله، والاحكام القرآنية مبنية على الاكثر والغالب، وثانيًا چي منافع د ورځي بېخي ډېر دي د بيانولو دائره پر تنګه ده، نو هم دا سبب دى چي په اول كي افلا تسمعون ووايه او په دويم كي يې لاتبصرون ووايه.

وَمِنْ رَّحْمَتِهٖ

كلمه من تبعيضى است زيراكه رحمت خداوند كريم بربندګان بى شمار است. كريمه: وان تعدوا نعمت الله لاتحصوها.

فائده: جار او مجرور متعلق دي په وروسته جعل پوري قدم لافادة الحصر.

جَعَلَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ لِتَسْكُنُوْا فِيْهِ وَلِتَبْتَغُوْا مِنْ فَضْلِهٖ

جعل لكم اى خلق لكم يعني ستاسي د فائدې لپاره شپه او ورځ، او ارام وكړئ په شپه كي او د ورځي سترپيا به مو دفع سي، او چي تاسي طلب وكړئ د ورځي له منافع څخه د دنيا او آخرت، منافع د دنيا خو ظاهر دي من الكسب والتجارة وغيرهما، او منافع د آخرت لكه فرض لمونځونه د ورځي يا روژه وغيرها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: بعض کسان د دنیا کارونه د شپې کوي لکه په ډېرو ګرمو وطنو کې لکه دوبۍ، کراچي یا عربستان سعودي، او د ورځې آرام کوي؟

ځواب: دا تقسیم مبني دی پر اعم اغلب یعني اکثره محکي وال، نو پر دې تقدیر په آیت کې لف او نشر مرتب دی کما هو ظاهر، او زجاج وايي چې داسې هم روا ده چې معنی دې ددې دا وي لتسکنوا فیهما ولتبتغوا فیهما آه، نو پر دې تقدیر هغه د مخ سوال نه وارد ېږي، البته دا سوال وارد ېږي.

سوال: پر دې تقدیر خدای پاک لیل او نهار ذکر کړه او داسې یې نه وویل چې جعل الزمان وهو اخصر ایضًا، نو په ذکر کې د لیل او نهار څه حکمت الهي دی؟

ځواب: اشاره ودې ته ده چې مشاغل د دنیا او اقسام د سکون د ورځې او د شپې سره مخالف دي والله اعلم.

وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾

لپاره ددې چې تاسې شکر د نعمتو د خدای ﷻ وکړئ، چې اولین شرط د شکر د خدای ﷻ ایمان بالتوحید دی.

وَيَوْمَ يُنَادِيهِمْ فَيَقُولُ أَيْنَ شُرَكَائِيَ الَّذِينَ كُنْتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿٧٤﴾

او په یاد کړه و قوم ته هغه ورځ چې خدای ﷻ نداء وکړه و مشرکینو ته. نو وايي دوی ته (فیقول تفسیر د نداء دی) چېرې دي شریکان زما هغه شریکان چې تاسې به زعم فاسد او ګمان کاسد کاوه چې دا شریکان به مو له عذاب څخه د خدای په ورځ د قیامت خلاصوي.

پوه سه: چې دا ستفهام د مشرکانو سرزنش پر سرزنش دی لپاره د تنبیه پر دې، چې هیڅ شی داسې نسته چې جالب د غضب د خدای ﷻ دې وي بالاتر اشراک، نو اوس هغه شریکان چېرې دي، اوله تقریع او سرزنش په هغه آیت کې تېر سو: ویوم ینادیهم فیقول ماذا اجبتم المرسلین الآیة، او هغه اوله تقریع پر دې وه چې تاسې متابعت د خپلو رئیسانو کړی ؤ چې عبادت د خدای په توحید سره په متابعت د هغو رئیسانو پرې ایښی ؤ، او په دې تقریع کې بیان دی د فساد د فکرو ددوی او د قلت او ضعف د عقلو ددوی چې امید د شفاعت یې جماداتو او ډېرو ته کړی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: د دغو خبرو چي په آیتو کي د نسبت یې خدای پاک و خان ته کوي آیا په واسطه د ملائکوو دي او که بالذات خبري دي، پر شق ثاني خو دا سوال د خلکو په زړو کي ورګرځي چي خبري د خدای ﷻ د چا سره خو لوی نعمت دی او مشرکان د دې نعمت شایان او لائق نه دي؟

ځواب: خبري د خدای ﷻ د دوستانو او مؤمنانو سره نعمت دی کریمه: سَلَٰمٌ قَوۡلٗا مِّن رَّبّٖ رَّحِيمٖ، و جنتیانو ته، او د غضب خبري او تقریع خبري بالذات دېري المناکه او مایوس کن دي تر بالواسطة کما یدل علیه التجربة.

وَنَزَعۡنَا مِن كُلِّ أُمَّةٖ شَهِيدٗا فَقُلۡنَا هَاتُواْ بُرۡهَٰنَكُمۡ

"ونزعنا" ای اخرجنا (عطف دی پر یقول په دمخه آیت کي او په دې آیت کي التفات له غیبت څخه و تکلم ته کما هو من محسنات علم البلاغة) له هر امت څخه یو شاهد چي پر دوی یعني پر کافرانو شاهدي د کفر او انکار من التوحید اداء کړي وهو نبیهم. بیا موږ ورته ووایو راوړئ خپل دلیل پر صحت د خپل دین یعني الشرک.

فَعَلِمُوٓاْ أَنَّ ٱلۡحَقَّ لِلَّهِ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ۝٧٥

دوی په دغه وخت کي په دې پوه سي چي حق خدای ﷻ لره دی په معبودیت کي چي هیڅ څوک شرکت نه ورسره لري (لکن دا پوهنه د دوی وه دوی ته ګټه نه رسوي په دفع کي د عذاب الهی .... بیت

تو پیش از عقوبت در عفو کوب .... که سودی ندارد فغان زیر چوب

او ورکي سي د دوی څخه هغه خبري چي په دنیا کي به دوی کولې من وساوس الشیاطین ان الآلهة یشفعونهم یوم القیامة. وفي الحدیث الصحیح النبوي قال رسول الله ﷺ لتدخلن الجنة کلکم الا من ابی (چي له دخول څخه د جنت منع وکړي). قیل یا رسول الله ﷺ من الذي ابی قال من لم یقل لا اله الا الله.

فائده جلیله: ینبغي للمؤمنین ان یشتغلوا بکلمة التوحید قبل الموت وهي العروة الوثقی، وهو ثمن الجنة وهي التي شهدت بها جمیع الانبیاء..... ابیات:

هست هر زره بوحدت خویش...... پیش عارف ګواه وحدت او

پاک کن جامه را از غبار دویی...... لوح خاطر که حق یکیست نه دو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شیخ مغربي قدس سره وايي:

نخست دیده طلب کن پس آنگهی دیدار
از آنکه یار کند جلوه کند بر او الابصار

فائده: پوه سه! چي اشراک حصر نه دی په عبادت کي د اصنام ظاهره وو چي مشرکينو به يې عبادت کاوه، بلکې اصنام دوه قسمه دي، یو قسم ظاهر دي لکه د مشرکانو بتان لکن بل قسم اصنام باطنه دي، د بعضو کسانو صنم خپل نفس او هوا وي چي د هغه طاعت کوي د خدای ﷻ طاعت يې پرې ایښی وي، د بعضو کسانو صنم ماینه وي یحبها محبة الله او د بعضو خلکو صنم تجارت وي فیتکل علیها ویترک طاعة الله لاجلها فهذه کلها لاتنفع یوم القیامة کذا في روح البیان.

حکایت: مالک بن دینار رحمه الله یوه ورځ پر لمانځه ولاړ ؤ او ایاک نعبد و ایاک نستعین چي يې وو ایه بیهوشه سو، چا پوښتنه د سبب د بیهوشۍ. څندي وکړه، ده ورته وویل چي موږ وایو ایاک نعبد چي خاص یوازي ستا عبادت کوو او سره د هغه نعبد انفسنا ای نطیعها في امرها، او موږ وایو ایاک نستعین، چي خاص ستا څخه کومک او مرسته غواړو ونرجع الی ابواب غیره تعالی کالسلاطین واصحاب الغنی.

اللهم ارزقنا التوکل علیک في امور کلها آمین.

إِنَّ قَارُونَ كَانَ مِن قَوْمِ مُوسَىٰ فَبَغَىٰ عَلَيْهِمْ

بغوي رح وايي چي د موسیٰ ؑ د اکا زوی نسب يې دا ؤ قارون بن یصهر بن قاهث بن لاوي بن یعقوب ؑ، و موسیٰ ؑ بن عمران بن قاهث بن لاوي بن یعقوب ؑ، کذا اخرج ابن المنذر عن ابن جریج، او ابن اسحاق وايي چي قارون د موسیٰ اکا ؤ کان اخا عمران وهما ابنا یصهر بن قاهث، راوي وايي چي په بني اسرائیلو کي ښه قاري د تورات تر ده نه ،او دی به خلکو منور باله په سبب د حسن صوت دده، وروسته تغیر حال دده پیدا کړی په سبب د کثرة المنال والمال، نو نفاق يې شروع کړی کما نافق السامري، او جلال الدین المحلي رح وايي چي قارون د موسیٰ ؑ هم د اکا زوی ؤ او هم د خاله زوی، والله اعلم.

فائده: قارون علم عجمي دی نو غیر منصرف دی للعلمیة والعجمة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"فبغی علیهم" نو ده ظلم کاوه پر بني اسرائیلو، بعض مفسرین وایي چي قارون عامل ؤ د فرعون پر بني اسرائیلو، نو ده به ډېر ظلم پر کاوه، او ضحاک وایي بغی علیهم بالشرک کمایدل علیه قوله تعالی: ولقد ارسلنا موسیٰ بآیاتنا وسلطان مبین الی فرعون و هامان وقارون، فقالوا ساحر کذاب، سورة المؤمن. نو له دې څخه دا معلومېږي چي قارون ایمان نه دی راوړی لاظاهرًا ولا باطنً، وقیل بغی علیهم بالکبر والعلو وان تکونوا تحت امره، ولي کثرت د مال دده المشار الیه بقوله تعالی وآتیناه من الکنوز آه، سبب ددې بغی والامارة والاستکبار والعجب والتمرد عن قبول النصیحة وګرځېدی، شهر بن خوشب رح وایي اوله علامه د کبر یې دا وه چي قمیص یې اته لوېښتي اوږد کړی ؤ، وعن ابن عمر رض ان رسول الله ﷺ قال لاینظر الله الی من جر ثوبه خیلاً.

تفریع: درویش وایي زه حیران یم د عربو و قمیصانو ته په اوسنی زمانه کي چي قمیصان د اکثرو پر ځمکه ورسره کشېږي، سره ددې چي علماؤ ددوی به دا حدیث ورته بیان کړی هم وي شاید، روح المعاني وایي چي ابن عطیه اجماع پر دې رانقل کړې ده چي قارون له قوم څخه د موسیٰ ؑ ؤ کمایدل علیه قوله تعالی ان قارون کان من قوم موسیٰ، فمن قال بغیر ذالک فقد کفر.

وَاٰتَيْنٰهُ مِنَ الْكُنُوْزِ مَآ اِنَّ مَفَاتِحَهٗ

او موږ ورکړي وه ده ته کنوز (کنوز جمع د کنز ده مال ذخیره ته وایي فالکنوز الاموال المدخرة) یعني دومره ډېر مالونه چي کلیاني د صندقانو د هغو نقودو یعني الذهب والفضة جمع د مفتح ده بکسر المیم چي آله د فتح ته وایي ضمیر د مفاتح راجع دی و ما ته او مفاتحه په حذف د مضاف ای مفاتح خزائنه، او بعض مفسرین وایي چي له مفاتح څخه خودي خزانې مراد دي من الذهب والفضة.

درویش وایي: چي دا تفسیر نه منقول او نه مقبول دی، ولي ددې وروسته آیت سره سمون نه لري بلکې منافي یې دی.

لَتَنُوْٓاُ بِالْعُصْبَةِ اُولِي الْقُوَّةِ

درنې به وې پر یوه جماعت چي خاوندان د قوت به وه، ولي چي مراد خپله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خزانې سي کلیانې نه سي، نو دا خو پر ډېروالي د نقودو د قارون دلالت نه کوي، ولې د عصبة تفسیر علماؤ په څلوېښت کسه سره کړی دی، چونکه په پخوا زمانه کې لوټونه نه وه بلکې دنانیر او دراهم وه، نو څلوېښت کسه غالبه څلور سوه لکه (۴۰۰۰۰۰...) دراهم په شا نسي وړای، او جریر له منصبور رح څخه روایت کړی دی چې هغه له خیثمه رح څخه روایت کړی دی چې په انجیل شریف کې ما ولیدل چې مفاتح د خزائنو د قارون د شپېتو غاترو بارؤ او هر کلی تر یوه ګوته نه وه بالا، ولکل مفتاح کنز، او قارون په اول الامر کې هره خواته چې به تلی کلی د خزانو چې د اوسپنې به وې د ځان سره به یې وړلې، نو اخیر الامر کرار کرار خزانې ډېرېدلې کلی یې هم ډېرېدلې اخیر الامر کلی د څلوېښتو غاترو بار ته ورسېدلې، لکن د غاطرو روایات ټوله ضعیف دي، او له قرآن څخه مخالف دي، ولې چې عصبه رجالو ته وایي نه بغال ته، بغوي رح وایي اختلفوا في العصبة، مجاهد رح وایي مابین العشرة الی خمسة عشر، او ضحاک رح له ابن عباس رض څخه روایت کوي چې عصبة مابین الثلاثة الی العشرة، وقال قتادة مابین العشرة الی الاربعین وکذا في القاموس، وقیل سبعون، او په بل روایت کې د ابن عباس رض راغلي دي یحمل مفاتحه اربعون رجلاً اقوی مایکون من الرجال.

اِذْ قَالَ لَهٗ قَوْمُهٗ لَا تَفْرَحْ

چې ورته وویل وه قارون ته قوم دده چې موسٰی او بني اسرائیل وه، او بعض مفسرین وایي چې موسٰی یوازې د نصیحت په توګه ورته وویل.

سوال: یوه سړي ته خو قوم نه ویل کېږي؟

ځواب: قوم یې په دې موسٰی ؑ ته وویل چې بني اسرئیل هم راضي وه په دغه قول د موسٰی فهو من قبیل قولهم بنوا فلان قتلوا مع ان القاتل منهم واحد لرضاء الباقین بالقتل.

درویش وایي: چې روح البیان، علامه زمخشري او مظهري وایي چې اذ منصوب محلاً دی ظرف دی د تنوء، ورده العلامة البغدادي رح في روح المعاني ان اثقال المفاتح العصبة لیس مقیداً بوقت قول القوم والظرف لابد ان یکون قیداً

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

للعامل فيه كما ثبت في علم النحو. او ابن عطيه وايي چي ظرف دی د بغٰی، پر دې هم دمخه سوال وارد يږي كما لايخفٰی. او ابو البقاء وايي چي ظرف دی د آتينا پر دې هم دمخه سوال وارد يږي او ابو البقاء دا هم ويلي دي چي يجوز ان يكون ظرفا لمحذوف دل عليه الكلام ای بغٰی عليهم آه پر دې باندي هم مخکنی سوال وارد يږي، او عوفي وايي چي منصوب دی په اذكر مقدر پوري، په پای کي علامه بغدادي ويلي دي: والتقدير لاذكر انسب لقوله لاتفرح، والتقدير اذكر اذ قال له قومه "لاتفرح" ته خوشحالي مه كوه، الفرح في اللغة السرور بوجدان المطلوب.

سوال: په وجدان د مطلوب او مرغوب خو هر سړی خوشحاله كيږي؟

ځواب: فرح چي نهي ځنی راغلي دي بطر دی يعني طغيان او سركښي له حكم څخه د خدای ﷻ چي ځان په مال سره غني ويني، قال الله تعالى: ان الانسان ليطغٰی ان راٰه استغنٰی.

درويش وايي: چي بيضاوي او روح البيان او امام رازي وايي چي فرح په دنيا مذموم ده مطلقًا، ولي چي نتيجه د فرح بالدنيا حب دی د دنيا والغفلة عن ذهابها. ولي څوک عالم په ذهاب او په مقارنت ددې حتمًا ترح (ضد د فرح) واجب وي، قال الله تعالى: لكيلا تاسوا على مافاتكم ولا تفرحوا بما آتاكم، مفسرين وايي چي حب د دنيا مانع دی له محبت څخه د خدای ﷻ يعني كما ينبغي .... بيت:

دنيای دنی چيست سرای ستمی ...... افگنده هزار كشته در هر قدمی

إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِينَ ﴿٧٦﴾

په تحقيق د خدای ﷻ نه دی خوښ خوشحالي كونكي په زخارفو د دنيا المتكبرين بها غير شاكرين عليها.

مسئله: خوشحالي په دنيا سره بما يفيده في الآخرة محمود مطلقًا وماموربه. كريمه: وبذالک فليفرحوا، والفرح بالدنيا چي مقارن د شكر سره وي فمحمود ايضًا، قال رسول الله ﷺ الطاعم الشاكر كالصائم الصابر، او كه چيري فرح په دنيا مقرون وه په طغيان او كفران سره لكه د قارون فرح فمذموم حقًا، واما نفس الفرح بنيل المرغوب فامر طبعي لا اختيار للعبد فيه فلايتوجه اليه التكليف، كريمه:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لایکلف الله نفسًا الا وسعها، قال شمس الخلافة ای امیر المؤمنین علی کرم الله وجهه:

واذا نظرت فان بؤسًا زائلاً .... للمرء خیر من نعیم زائل

که ته ای ناظره فکر ووهې هغه فقر چي زائلیږي بهتر دی تر هغه نعمت چي زوال لري.

وَابْتَغِ فِيمَا آتَاكَ اللَّهُ الدَّارَ الْآخِرَةَ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ الدُّنْيَا

او ته طلب وکړه یا قارون په هغه شي کي چي تاته خدای ﷻ درکړی دی یعني من نعم الله والمال الکثیر کمامر بیانه، د نعمتو د دار الآخرة چي جنت دی چي دار السرور دی بلا تعب ولا مرض ولافناء ابد الابد یعني دد ې د دنیا د نعمتو شکر اداء کړه او په رضاء د خدای ﷻ کي یې صرف کړه چي په هغو سره د آخرت نعمتونه حاصل کړه، ولي چي حقیقت برخه د انسان د دنیا څخه هغه ده چي آخرت ته یې واستوي لان الدنیا مزرعة الاخرة، دا قول د مجاهد او ابن زید رح دی، او سدي رح وایي نصیبک من الدنیا الصدقة وصلة الرحم.

درویش وایي: چي وهذا یرجع الی الاول بل اخص منه، او علي کرم الله وجهه وایي لاتنس صحتک وقوتک وشبابک وغناک بان تطلب بها الآخرة وقد جاء في الحدیث الصحیح الذي الحاکم والبیهقي بسند صحیح عن عمر بن میمون الاودي قال قال رسول الله ﷺ اغتنم خمسًا قبل خمس (غنیمت وګڼه پنځه شیه د مخه تر پنځو شیانو (۱) حیاتک قبل موتک (۲) وصحتک قبل سقمک ای المرض (۳) وفراغک قبل شغلک (۴) وشبابک قبل هرمک، ای الضعف باعتبار السن (۵) وغناک قبل فقرک.

وَأَحْسِن كَمَا أَحْسَنَ اللَّهُ إِلَيْكَ

او ته احسان کوه د بندګانو سره د خدای ﷻ او دائم شاکر اوسه، او د خدای ﷻ طاعت کوه، لکه چي احسان کړی دی خدای ﷻ د تا سره (بانعام متواتر بحیث لاینقطع مدة حیوتک، کریمه: وان تعدوا نعمت الله لاتحصوها) او ته مه طلبوه فساد په ځمکه کي، بغوي رح وایي کل من عصیٰ في الارض فقد طلب الفساد في الارض.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِى الْأَرْضِ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ ﴿۷۷﴾

په تحقيق خداى محبت نه لري د مفسدينو سره يعني يبغضهم.

شيخ سعدي رح وايي:

اگر پهلوانی وگرتيغ زن .... نخواهی بدربرد الا کفن

يو بل محقق وايي:

اگر ملک تو شام تايمن خواهد بود .... وزسرحد روم تاختن خواهد بود

آن روز کزين جهان کنی عزم سفر .... همراه توچند گز کفن خواهد بود

قَالَ إِنَّمَا أُوتِيتُهُ عَلَىٰ عِلْمٍ عِندِي ۚ

پوه سه: چي على علم په ځاى كي د حال دى له ضمير مرفوع څخه د اوتيته، والتقدير اوتيته كائنا على علم. او يا كلمه د على تعليلي ده والجار والمجرور ظرف لغو دى متعلق دى په اوتيته پوري، كانه اوتيته لاجل علم وقوله عندي صفت دى د علم، والحاصل لكلام قارون اوتيته لعلم مختص بي دونكم، ترجمه وويل قارون چي ماته دا مال اركړه سوى دى له سببه د علم زما. غرض د قارون په دې رد دى ددې قول د ناصحانو احسن كما احسن الله اليك. او مراد دده دادى چي مال چي ماته راكړه سوى دى صرف تفضل او احسان د خداى جل جلاله نه دى چي پر ما يې شكر او احسان د بندګانو سره د خداى جل جلاله واجب سي، بلكې ماته دا جاه و جلال او مال او تفوق پر خلګو چي راكړه سوى على علم كائن عندي.

درويش وايي: چي په مراد كي ددې علم د قارون اختلاف عظيم د مفسرينو دى، بعض وايي چي مراد له علم څخه علم دى په تجارتي معاملاتو او زراعاتو او نورو نورو كسبو كي، سهل بن عبدالله التستري رح وايي چي كه چا نسبت و ځان ته وكړى د يو كار هغه فلاح نسي پيدا كولاى، روى چي زكريا ؑ شيطان په خوب وليدى او ورته وه يې ويل چي په اقوالو او افعالو كي د بندګانو كوم ډېر بدكار يا قول دى چي ته ډېر په خوشحاله كېږې، ابليس ورته وويل كه نبي نه واى نو دروا‌غ به مي درته ويلي واى، لكن اوس زه رشتيا درته وايم چي داسي مه وايه چي زه داسي به سې لكه زه، اشاره يې و هغه قول ته خپل وه ''انا خير منه'' يعني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ ملکي په سجده سره و آدمؑ ته امر کړه ملکو سجده وکړه ابلیس سجده ونه کړه، او خدای ﷻ پاک ورته وویل چي ولي دي سجده ونه کړه؟ ابلیس ورته وویل انا خیر منه، سهل رحمه الله وروسته زیاته کړې ده چي نېک بخته سړی هغه دی چي خپل اقوال او افعال حسنه یې وکړه او خدای ﷻ دا په زړه کي ورواچول چي دا افعال یا اقوال ټول له احسان د خدای ﷻ دی پر ما باندي، او که نسبت د احوالو، افعالو او اقوالو و ځان ته وکړي او فخر په کوي هغه سړی به ژر د هلاکت د کندي و غار ته ولوېږي، لکه قارون چي دعوه د فضل خپل وکړه، او بعض مفسرین وایي چي مراد د قارون علم د تورات دی و کان اعلم الناس بالتورات.

درویش وایي: چي دا نسبت د علم تورات و ځان ته مثل د مامر دی، قال الحافظ الشیرازي رحمه الله:

مباش غره بعلم و عمل فقیه مدام .... که هیچ کس ز قضای او جان نبرد
قلندران حقیقت به نیم جو نخرند .... قبای آطلس کس که هنر عاریست

سعدي رحمه الله:

مکن تکیه بر ملک و جاه و حشم .... که پیش از تو بودست و بعد از تو هم

مثنوي

افتخار از رنګ و بو از مکان .... هست شادي و فریب کودکان

شیخ عطار غزنوي وایي:

همچو طفلان منګر اندر سرخ و زرد .... چون زنان مغرور رنګ و بو مګرد

مولی جامي وایي:

وصلش مجو در اطلس شاهي که دوخت عشق
این جامه بر تني که نهان زیر ژنده هست

سعدي رحمه الله وایي:

کرا جامه پاکست و سیرت پلید ...... در دوزخش را نباید کلید

درویش وایي: چي دا وه خواږه خواږه اشعار د اهل الله په باره کي د مثل د قارون چي ده افتخار او تکبر لاره یې غوره کړې وي، او روح البیان، روح المعاني، مظهري او نور ګڼ شمېر مفسران رحمهم الله وایي چي مراد له علم څخه علم د کیمیا دی چي یو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قسم مخلوط اشیاء دي چي پر و سپنه یې واچوي سپین زر کېږي او چي پر میسو یې واچوي سره زر کېږي، سعید بن المسیب رح وايي چي د موسیٰ ؑ علم کېمیا زده ؤ، نو موسیٰ ؑ یوه حصه د هغه علم و یوشع بن نون ته وروښوول، او یوه حصه یې کالب بن یوقنا ته وروښوول، او یوه حصه یې و قارون ته وروښوول، نو قارون د هغه دوو کسانو څخه چي یوشع بن نون او کالب بن یوقنا ؤ په چم او چمبازۍ سره هغه دوې نوري حصې د علم کېمیا زده کړې، وصار ذالک سببًا لکثرة امواله.

درويش وايي: چي زجاج رح ویلي دي چي علم کېمیا هیڅ حقیقت نه لري. او په تفسیر کواشي کي وايي چي بیانونکي د علم کېمیا اکثره یې درواغ دي فلا یلتفت الیه. یعني کواشي یې د امکان منکر نه دی لکن ډېریې درواغ بولي والله اعلم.

درويش وايي: چي روح المعاني په اوراقو بحث په باب کي د علم کېمیا کړی دی، او روح البیان په خپل وار د قارون په باره کي اوږد بیان کړی دی چي له نقل څخه د هغو دوو کتابو د بیاناتو طویله ؤ فقیر ډډه وکړه، لعدم الفائدة في نقلها لمتعلمي هذا التفسیر.

درويش وايي: چي هغه خبره چي روح البیان کړې ده هغه داده: والکېمیا له حقیقة صحیحة وقد عمل بها بعض الانبیاء وکمل الاولیاء. او بیا د مثنوي یو بیت یې راوړی دی:

از کرامات بلند اولیاء است...... اولاً شعر است واخیر کېمیا

فقیر وايي: چي نبي که کېمیا ګري وکړي، نو هغه خو د هغه معجزه ده. او که یې ولي کامل وکړي هغه خو د هغه کرامت دی، خبره خو په دې ډول کېمیا ګرۍ کي نه وه بلکې خبره د کېمیاګرۍ د قارون غوندي سړي ده، قارون خو معلوم الحال شخصیت ؤ نه نبي ؤ او نه ولي، یعني په داسي کېمیاګرۍ کي خبره ده چي هر کس او ناکس یې کولای سي.

سوال: تا دمخه وویل چي د موسیٰ ؑ کېمیاګري زده وه، یوه حصه یې له دوو حصو څخه قارون ته وروښوول، نو د موسیٰ ؑ خو معجزه وه او قاورن ته سره د دوو نورو حصو څرنګه نقل سول؟

ځواب: قارون چي قارونیت ته ورسېدی، نو هغه ښوول سوي د موسیٰ ؑ خبري

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې نسيًا منسيًا وګرځېدلې لعدم کونه اهلاً له، نو ځرنګه به په آيت کې علم کيميا وي، او هغه خبره چې طيبي رح کړې ده لعله کان من قبيل المعجزة آه، د قارون په باره کې نه ده صحيح لانه ليس من اهل المعجزة بل ليس من اهل الکرامة.

درویش وايي: چې د زجاج رح انکار له داسې کيميا څخه نه دی چې معجزه وي يا کرامت وي بلکې د داسې کيميا ګری څخه دی چې په سبب د خلط د ډېرو فلذاتو دا کيميا پيدا سي.

اَوَلَمْ يَعْلَمْ اَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَهْلَكَ مِنْ قَبْلِهٖ مِنَ الْقُرُوْنِ

آيا نه دی خبر قارون چې خدای په تحقيق هلاک کړي تر قارون دمخه له اهل څخه د قرنو.

پوه سه: چې استفهام لپاره د تعجب دی يعني څوک چې د قارون دا خبري واوري يعني انما اوتيته علی علم آه تعجب به دده و حماقت به ته وکړي، وليس المراد التعجب من الله لانه محال في حقه تعالی، او ددې تعجب سره توبيخ ده هم ملګری دی، والواو للعطف علی مقدر کما مر مرارًا تقديره الم يتفکر قارون ولم نعلم آه.

مَنْ هُوَ اَشَدُّ مِنْهُ قُوَّةً وَّاَكْثَرُ جَمْعًا

هغه څوک چې هغه سخت وه تر ده په قوت کې او ډېر وه از روی جمع د مالو من الفضة والذهب، ولي خدای عزوجل قد اهلک عادًا لاولي وکان اشد منه قوة وجمعًا فان شداد بن عاد ملک الارض کلها، نو که قارون په دې پوهېدای لما اغتر بماله ولم تتکبر، ولي چې خدای جل جلاله که معطي دی نو مهلک هم دی، لا اله غيره او هيڅ څوک پر خدای جل جلاله حق نه لري.

درویش وايي: چې په عبارت قرآني کې خدای پاک رد کړه هغه دعوی د قارون انما اوتيته علی علم لي، او بعض مفسرين وايي چې دا آيت توبيخ دی د خدای رح له خوا پر اغترار د قارون په قوت او په کثرت مال دده، او سره ددې چې دی خبر ؤ په اهلاک د قرون ماضيه ؤ په تورات کې لانه کان اعلم الناس بالتورات کما مر، او يا په سماع د موسی ع څخه او يا په اورېدلو د حفاظو څخه د تواريخ قديمه ؤ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا يُسْـَٔلُ عَن ذُنُوبِهِمُ الْمُجْرِمُونَ ﴿٧٨﴾

پوه سه: چي لايسئل صيغه د مجهول ده مفعول مالم يسمه فاعله المجرمون دی، او ضمير د عنهم راجع دی و المجرمون ته که څه هم مجرمون متاخر دي ذكرًا لكن متقدم دي رتبةً فلايلزم الاضمار قبل الذكر.

ترجمه: او پوښتنه نه کړل کيږي له مجرمينو څخه د ګناهو ددوی، ولي چي خدای عالم الغيب والشهادة دی لايحتاج الى السؤال والاستعلام، نو په دنيا کي عذاب د اهلاک ورکوي، او په آخرت کي بادخال النار، قتادهؒ وايي يدخلون النار بغير سؤال ولاحساب، او مجاهد وايي لايسئل الملائكة عن احوالهم لانهم يعرفون سيمائهم.

درويش وايي: الحسن في تفسير هذه الآية ما قال الحسنؒ لايسئلون سوال استعلام بل سوال التقريع والتوبيخ، نو پر دې تفسير هغه سوال نه واردېږي چي په بل ځای کي د قرآن مبارک راغلي دي، فوربک لنسئلنهم اجمين، يعني چي په دې آيت کي نفي سوال يې کړې دی، او فوربک لنسئلنهم اجمعين اثبات د سوال تناقض دی، وجه الدفع ان المنفي في هذه الآية سوال الاستعلام دی، والمثبت في الآية الاخرٰى سوال التقريع والتوبيخ دی فافهم.

فَخَرَجَ عَلَىٰ قَوْمِهِۦ فِى زِينَتِهِۦ ۖ

نو راووتی قارون يوه ورځ (فخرج عطف على قال السابق) پر خپل قوم په زينت، جاه او جلال کي.

درويش وايي: چي ددې آيت په تفسير کي مبالغه انګېزه تفسيرونه کړل سوي دي، امام نخعيؒ وايي چي قارون او تابعان د قوم دده په زرغونو او سرو جامو کي وه، تعداد يې نه دی بيان کړی چي څومري کسان وه، او ابن زيد وايي چي اوويا زره کسان ورسره وه چي د ټولو سري جامې وې، قتادهؒ وايي ذكر لنا چي قارون او دده تابعان پر څلور زره دوابو سپاره وه چي سره کالي يې وه، منها الف بغلة بيضاء (د دغو څلورو زرو څخه زرکسه پر سپينو غاطرو سپاره وه) وعلى دوابهم قطائف الارجوان (او د دغو غاطرو پر ځينانو سري سري جامې اواري وې)، او په بعضي رواياتو کي راغلي دي چي نوي زره (۹۰۰۰۰) کسان پر دوابو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سپاره ورسره وه چي د کردو سره کالي وه، او مقاتل رح وايي چي قارون پر يوه صهباء غاطره باندي سپور ؤ چي ځين يې د سرو زرو ؤ او سره غالۍ پر اواره وه، او څلور زره د اسانو سپاره ورسره وه چي د اسانو پر ځينانو يې سرې نغاړکي اوارې ويې او درې سوه سپيني مينځيانې ورسره وې چې پر هغو باندي د سرو کالو علاوه زېورات په غاړو او په لاسو وه، او پر سورېخونو غاطرو سپرې وې، او بعض ناقلين وايي چي قارون پر بوره غاطره سپور ؤ لاندي تر ځين سره جامه اواره وه، او ځين د سرو زرو ؤ، او څلور زره خادمان ورسره وه، او دوی چي د سرو وربښمو کالي اغوستي وه پر اسانو هم د سرو وربښمو ټوکران وه او پر راسته اړخ يې درې سوه بچه مرد ځوانان پر آسانو سپاره وه، او پر چپه اړخ يې درې سوه باکرات نجوني چي تکي سپيني وې او کالي يې وربښمين وه او زېورات يې په تن وه پر اسانو سپرې وې، او ابن ابی حاتم د زيد بن اسلم څخه روايت کړی دی چي دده سره اوويا زره (۷۰۰۰۰) کسان ورسره وه او دا خروج دده په ورځ د شنبې ؤ.

درويش وايي: چي نور کيفيات د قارون د زينت د راوتلو هم راويانو بيان کړي دي، چونکه تاريخ ددې واقعې ډېر قديم دی، ځکه هر قسم روايات پکښي راغلي دي، د اکثرو رواياتو پای پر يهودانو درېږي، نو ځکه فقير وايي والله اعلم بحقيقة الحال پر مامنت مه کوئ دغه روايات چي يې راوړه بعض يې مظهري بيان کړي دي، بعض يې روح البيان راوړي، او بعض يې روح المعاني قلم زد کړي دي، او بعض امام همام رازي رح بيان کړی دی، درويش په اول کي ددې آيت د تفسير وويل چي ددې آيت په تفسير کي مبالغه انګېزه تفسيرونه راوړل سوي دي ... بيت:

تا طبع شريفت نه پذيرد ملالتی .... آن به رو په تفسير قرآن دراوريم

قَالَ الَّذِيْنَ يُرِيْدُوْنَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا يٰلَيْتَ لَنَا

وويل هغو کسانو چي طبعًا يې د دنيا زينت خوښ ؤ چي هغه کسان مؤمنان د بني اسرائيلو وه، کاشکي.

سوال: حرف نداء خو پر ليت داخله سوه او دا بدهي خبره ده چي ليت منادی نسي کېدای؟

ځواب: منادی محذوف ده، والتقدير يا قوم ليت آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مِثْلَ مَآ أُوْتِيَ قَارُوْنُ إِنَّهُ لَذُوْحَظٍّ عَظِيْمٍ ۝٧٩

پوه سه: چي دوی مثل لفظ زیات کړی داسي یې نه وویل یا لیت لنا ما اوتي قارون، له دې جهته چي قول ددوی پر حسد نسي حمل ''انه لذو حظ عظیم'' تعلیل د تمنی ددوی دی په تحقیق چي قارون مالک د لوی برخي دی یعني په دنیا کي.

وَقَالَ الَّذِيْنَ أُوْتُوا الْعِلْمَ وَيْلَكُمْ

وویل هغو کسانو چي هغو ته علم ورکړل سوی ؤ، ابن عباس رضی الله عنه چي مراد څنډي احبار او علما، حق د بني اسرائیلو دي، او بعض مفسرین وايي چي د علم څخه مراد علم د ما عدالله تعالی للمؤمنین في الآخرة دی، دا خبره دوی و هغه کسانو ته چي تمنی د مثل د حال د قارون یې کړې وي.

پوه سه: چي ویل هلاک ته وايي یعني مصدر دی، نو یا مفعول مطلق دی د فعل محذوف، ای هلکتم هلاکًا، او یا مفعول به دی الزمکم الله الویل، په هر صورت مقصود ددې لفظ ویلو څخه زجر دی، د ما لا یرضی من التمنی.

ثَوَابُ اللّٰهِ خَيْرٌ لِّمَنْ اٰمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا ۚ

ثواب د خدای جل جلاله په آخرت کي ډیر ښه دی تر ما اوتي قارون بلکي تر دنیا ومافیها ټولو ثواب د آخرت بهتر دی، د هغه چا لپاره چي ایمان یې راوړی وي او عمل صالح یې هم کړی وي، حرف جر متعلق په خیر پوري دی یا په ثواب پوري، یعني ثواب الله تعالی لمن آمن وعمل صالحًا خیر، په تفسیر کشف الاسرار کي وايي: فائده این آیت آنست که رب العالمین خبر میدهد مارا، که مؤمن نباید تمنی کند آنچه طغیان درآن است، یعني کثرة مال وذالک قوله تعالی: ان الانسان لیطغی ان راه استغنی، بلکي از خدا عزوجل کفاف خواهد ودردنیا وبلغه یعنی کم عیش چنانکه درآخیر آمده، اللهم اجعل رزق آل محمد کفافًا، وفي الحدیث اللهم من احبني فارزقه العفاف (ای الکف عن المحارم) والکفاف (یعني رزق که اورا کافي باشد وعیال او که محتاج فقر وگدا نگردد) ومن ابغضني فارزقه مالاً (ای کثیرًا) وولدًا، وفي الحدیث طوبی لمن هدی الی الاسلام وکان عیشه کفافًا وقنع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

به (یعني صبر یې پر کړی وي) .... بیت:

گنج زرگر نبود کنج قناعت باقیست .... آنکه آن داد بشاهان بگدایان این داد

وقال المولی الجامي رح:

هر سفله پی بکنج قناعت کجا برد ..... این نقد در خزینه ارباب همتست

سعدي رح میگوید:

نیرزد عسل جان من زخم نیش ...... قناعت نکوتر بدو شاب خویش

وَلَا يُلَقّٰىهَآ اِلَّا الصّٰبِرُوْنَ ﴿۸۰﴾

پوه سه: چي ضمیر مؤنث یا راجع دی و هغه کلمې ته چي احبارو د یهودو وکړه او یا و ثواب ته راجع دی په تاویل د مثوبة، او یا جنت ته راجع دی چي د ثواب الله ځخه وفهمېدی او یا ایمان او علم صالح ته راجع دی په تاویل د سیرة او الطریقة، والمعنی لایتاتی تلک الکلمة او المثوبة او الجنة او السیرة، مګر هغو کسانو ته چي پر طاعاتو د خدای ﷻ یې صبر کړی وي، چي په عربي یې صبر علی الشیئ بولي، او له معاصیو ځخه یې صبر کړی وي، چي په عربي یې صبر عن الشیئ بولي او په کفاف او رزق قلیل کي صبر کړی وي چي په عربي یې صبر في الشیئ بولي.

درویش وایي: چي لفظ د صبر جامع د ټولو مهماتو د دین اسلام دی.

فَخَسَفْنَا بِهٖ وَبِدَارِهِ الْاَرْضَ قف

پوه سه: چي په قاموس کي وایي خسف المکان یخسف ذهب في الارض وخسف القمر زال ضوئه، یعني په سایه کي د ځمکي راغله او د لمر نور ځندي ولاړی، لان النور القمر مستفاد من نور الشمس، وعین خاسفة چي هغه تبزي د نظر به یې ولاړه، نو کلمه د باء لپاره د تعدیه ده، په فارسي ژبه: پس فرو بدیم قارون وسرای اورا بزمین، په پښتو ژباړه: کښته مو یوړی قارون او دده سرای په ځمکه کي.

درویش وایي: چي قصه د خسف د قارون په ځمکه کي ټولو مفسرانو په طویل یا لنډ بیان سره راوړي ده، فقیر به د ټولو خلاصه درته بیان کړي ان شاء الله.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فاعلم: چي اهل علم بالاخبار القديمة داسي وايي چي قارون اعلم د بني اسرائيلو ؤ، وروسته تر موسیٰ او هارون علیهما السلام په تورات سره، واقرئهم للتورات، او ډېر حسن صورت خدای جل جلاله ورکړی ؤ او ډېر حسن الصوت ؤ او په اموالو سره ډېر غني ؤ کمامر قصة غنائه، نو موسیٰ ؑ ته يې بد وت او سرکښي شروع کړه دده له حکم څخه او طغيان او عصيان يې له دې ځای څخه شروع سوه چي خدای پاک موسیٰ ؑ ته وحي وکړې چي ته امر کړه قوم خپل چي په پټوانو پوري دي د څلور طرفه څخه شنه رنګونه لکه د اسمان پر هر طرف يو يو سنړسي وځړوي چي په دې ذريعه دوی وه اسمان ته ګوري، په دې پوه سئ او هر وخت ورپيادېږي چي کتاب زما يعني تورات له اسمان څخه نازل سوی، موسیٰ ؑ په مناجات کي خدای پاک ته وويل چي آيا داسي نه ورته ووايم چي تولو له پټوان شنه کي، ولي چي بني اسرائيل به تحقير ددې يوه يوه تار پر څلور طرفه د پټوانو وکړي، خدای پاک ورته وويل يا موسیٰ ان الصغير من امري ليس بصغير، نو چي دوی زما اطاعت په صغير کي ونه کړي لم يطيعوني في الامر الكبير، نو موسیٰ ؑ بني اسرائيل را طلب کړه په شمول د قارون او هغه امر الهي ورته ذکر کړی، بني اسرائيلو ټولو د خدای پاک و دې امر ته لبيک ووايه، او قارون منع وکړه او دا حکم الهي يې نه ومانه او دا يې وويل چي داسي نخښې او نښاني خو مالکان په مريانو پوري کوي تاچي خپل مريان د نورو خلکو څخه وپيژني، دا اول کفر ؤ د قارون په امر الهي سره او انکار له نبوت څخه د موسیٰ ؑ، راوي وايي چي هغه وخت چي موسیٰ ؑ تر بحر قلزوم تېر کړه او فرعون خدای جل جلاله غرق کړی، قارون هم د خدای جل جلاله په اراده تر رود نيل تېر سو، نو موسیٰ ؑ په امر د خدای جل جلاله د حبورة منصب و هارون ته وسپاره، د حبوره منصب معنی دا وه چي بني اسرائيل خپلي ژوندی هديې لکه اوښان، غوايي او پسونه هارون ؑ ته راوستل او هغه به ذبح کول او د آسمان له خوا څخه به داور راکښته سو هغه بې وسوځل، قارون ته ډېر درد ورغلی چي ماته يې هيڅ منصب رانه کړی، نو موسیٰ ؑ ته يې وويل يا موسیٰ لک الرسالة ولها رون الحبورة او ماته هيڅ منصب رانه کړل سو، او سره ددې چي زه اقرء د تورات يم لاصبر لي على هذا، موسیٰ ورته وويل چي ما انا جعلت الحبورة

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لهارون بامري بل الله تعالى جعلها له. قارون ورته وویل والله لا اصدقک في هذا چي ماته دلیل پېش نه کړې چي د خدای ﷻ څخه دی، موسیٰ ؑ ورته وویل چي تاسي یو یوه لکړه راوړئ او په هغه قبه کي چي موسیٰ ؑ به عبادت پکښي کاوه کښېږدئ او تر سهاره پهیره پر کوئ، دوی په شمول د قارون دغسي وکړه، سهار چي یې لکړي وکتلې د هارون وچه لکړه تکه شنه وه او شنه بلګونه په پوري وه، قارون ورته وویل والله ماهذا باعجب مما تصنع من السحر یعني په حضور کي د فرعون چي لکړه به یې مار وګرځېدله. یعني قارون هغه هم سحر وباله. نو قارون سره د خپلو اتباعو د موسیٰ ؑ ګوښه نشیني مختاره کړه او موسیٰ ؑ ډېر مدارات او حلم ورسره کاوه په سبب د قرابت بینهما او بل په سبب ددې چي ډېر اتباع لري شاید حق لاري ته بیرته راسي لکه د ابو جهل سره په مکه کي. آنحضرت ﷺ ډېر حلم او مدارات کاوه، ولي چي د قریشو مشر ؤ او قریشو به ابو الحکم باله او ټولي قومي دعویٰ به ابوجهل حل او فصل کولې، او دده په ایمان راوړو سره به قریش فوجًا فوجًا په اسلام کي داخل سوي وای. او قارون به هر وخت موسیٰ ؑ ته آزار ور رساوه لکه ابو جهل و علیه الصلوة والسلام ته، لکن سرکښي او طغیان او عداوة د قارون ورځ په ورځ بالا کېدی. حتی چي قارون یو سرای جوړ کړی یعني لپاره د مهمان خانې د بني اسرائیلو چي دروازه د سرای یې د سرو زرو وه او پر دېوالو یې د سرو زرو صفائح ولګلو او هر وخت به جماعات او پېډالان د بني اسرائیلو یعني چي دده تابعان وه د سهار ناری او د ماښام ډوډی به یې په دغه مهمان خانه کي خوړله. او د موسیٰ ؑ په باره کي به یې خبري کولې او سخره یې ګرځولې ؤ او سره خندل به یې، قال ابن عباس ؓ چي پر موسیٰ ؑ حکم د زکوات اخستلو له بني اسرائیلو څخه نازل سو، موسیٰ ؑ چي قارون راوغوښتی د زکوات په باره کي، نو قارون منع وکړه، ولي د بني اسرائیلو زکوات ربع المال ؤ، اخیر موسیٰ ورته وویل چي ته په زر دیناره کي یو دینار راکوه. او په زر درهمه کي یو درهم راکوه او په پسو کي په زر کي یو پسه راکوه، وهکذا في کل مال فیه الزکوة، قارون دا صلح ومنل لکن چي کور ته ولاړی په زړه کي یې حساب وکړی تر اندازه ډېر مال ځندي جوړېدی، ودې ورکړي ته د زکوات یې هم بخل دامن ګیر سو، نو قارون بني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اسرائيل راغونه کړه او ورته وه يې ويل چې اې بني اسرائيلو موسیٰ تاسي په هرشي امر کړي ياست او تاسي يې هم اطاعت کړی دی، اوس يې اراده کړې ده چې ستاسي مالونه هم درڅخه واخلي د زکوات په بهانه، يعني ربع المال د هر چا څخه واخلي چې په دې کړه وړه سره به موسیٰ د ټولو بني اسرائيلو لوی سرمايه دار سي، نو ستاسي څرنګه مصلحت دی؟ بني اسرائيلو ورته وويل چې ته زموږ مشر يې ته امر وکړه په ماشئت سره موږ به ستا امر پر ځای کړو، قارون ورته وويل چې فلانۍ رنډۍ زنا کاره راوغواړئ چې هغې ته به موږ نقود وغيره ورکړو چې د دا خلکو يعني بني اسرائيلو په لويه مجمع کې پر ده شاهدي اداء کړي چې ده زما سره زناء کړې ده، نو په دې دول به بني اسرائيل ټوله د موسیٰ څخه بېزاره سي دی به يواځي پاته سي، خير هغو هم داغسي وکړه چې هغه رنډۍ يې راوغوښتل، بعض راويان وايي چې قارون زر درهمه ورکړه او بعض وايي چې زر ديناره يې ورکړه او بعض وايي چې د سرو زرو لګنچه چې دا سر پکښې مينځي ورکړه، او بعض راويان وايي چې قارون وعده ورسره وکړه چې په خپلو ښځو کې به دې داخله کړم په دا شرط چې ته به صبا ورځ موسیٰ د خپل ځان په زنې متهمو ې په لويه مجمع کې د بني اسرائيلو، روح البيان وايي چې صبا د بني اسرائيلو د اختر ورځ وه او موسیٰ ؑ به وعظ او تبليغ ورته کاوه، او مظهري وايي چې صبا قارون ټوله بني اسرائيل راوغوښتل چې سره جمع سوه قارون ورغلی موسیٰ ؑ ته يې وويل چې بني اسرائيل راغونډ سوي دي ستا د وعظ او تبليغ په خاطر چې ته دوی ته اوامر او منهيات د خدای بيان کړې او ستا انتظار کوي، موسیٰ ﷺ په ډېر شوق راووتی او په يوه لويه فضاء کې يې مجمع وليدل، نو درېدی او په درياب کې د امر او نهي يې آب بازي کوله، د خبرو په دوران کې يې وويل يا بني اسرائيل که چا غلا وکړه موږ د شريعت د حکم سره سم لاس ور پرې کوو، او کا چا زنې وکړه او ماينه يې نه درلوده جلدتاه مائة جلدة، او که يې ماينه درلوده هغه رجم کوو يعني په سنګسار او ډبرو ويشتلو يې وژنو، قارون ورته وويل ولو کنت انت، ولو کنت انا يعني که څه هم زه يم، قارون ورته وويل چې بني اسرائيل وايي چې تا د فلانۍ رنډۍ سره زناء کړې ده، موسیٰ ﷺ ورته وويل چې تاسي يې راوغواړئ که دې وويل چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موسیٰ زما سره زنا کړې ده فهو کما قلت (نو داغسي ده لکه دا چي وايي) نو هغه زانيه چي يې راوغوښتل په ډېره جذباتي لهجه يې ورته وویل انا فعلت بک ما يقول هولاء، ما ستا سره زناء کړې ده، او ورته وه يې ويل چي ستا دي په هغه خدای قسم وي چي تر درياب يې بني اسرائيل سالم وه ايستل او فرعون يې سره د قومه غرق کړی وانزل التورات چي رشتيا به وايه، نو پر فلانة باندي هيبت موسوي تاثير وکړی او په زړه کي يې دا وسنجول چي زه که نن له زناء څخه توبه وکاږم ښه به وي، او که رسول د خدای ته کرم ازار په تهمت د زنی، نو فلانه رشتيا وويل چي تا خو هرگز زما سره زنی نه ده کړې، نو د قارون هغه مذکوره قصه يې تول موسیٰ ته وکړه، موسیٰ چي د قارون او د هغه د اتباعو قصه واورېدل، نو درياب د غضب موسوي پر څپو راغلی او معبود ته خپل پر سجده پرېوتی او ژړل يې، او ويل يې چي د قارون او اتباعو څخه زه خپل مکافات پر دې دنيا غواړم، او داسي يې وويل: اللهم ان کنتُ رسولک، نو په غضب سه زما لپاره وه قارون ته، خدای موسیٰ ته وحي وکړې چي مځکه ستا په اطاعت کي ده امر پر وکړه چي زړه دي غواړي، موسیٰ چي له سجدې څخه سر راپورته کړی، قوم ته يې وويل يا بني اسرائيل ان الله بعثني الی قارون کما بعثني الی فرعون، نو هر څوک چي د قارون تابعان وي هغه دي ځای پر ځای دلې ودرېږي او چي زما تابعان دي هغه دي جلا سي. ځانونه دي گوښه کړي، بني اسرائيل پوه سوه چي غضب د خدای ﷻ لپاره د خپل رسول پر جوش راغلی، تول گوښه سوه، د قارون سره دوه کسه پاته سوه، وروسته موسیٰ وويل يا ارض خذيهم، نو مځکي ددې درو کسانو پښې ټينگي کړې، او په يوه روايت کي راغلي دي چي د قارون تخت او فراش حاضر کړل سو يعني په امر د خدای ﷻ ملکو حاضر کړی، نو قارون پر خپل تخت ناست ؤ تخت يې په مځکه ننوتی، ثم قال موسیٰ خذيهم فاخذتهم الی الرکب، مځکي تر زنگنو پوري درې سره ښخ کړه، ثم قال يا ارض خذيهم، نو مځکي تر نامه پوري دننه يوړه، بيا موسیٰ وويل يا ارض خذيهم، درې سره تر غاړې په مځکه کي ښخ سوه، او تاريخ وايي چي قارون او ملگرو به هر وار زاری کولې او د خدای روی او د صله رحمی د قرابت روی به يې موسیٰ ته پېشاوه، حتی چي تر اوويا واره يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مکرره دا خبره و موسیٰ ؑ ته وکړه، او موسیٰ له ډېر غضبه هیڅ التفات نه ورته کاوه او دغه خبره به یې کول یا ارض خذیهم، اخیر په مځکه کي غیب سوه، نو خدای ﷻ موسیٰ ؑ ته وحي وکړې ما اغلظ قلبک څرنګه ستا زړه سخت ؤ چي پر قارون او دده پر ملګرو یې زړه نه نرم کېدی، چي او ویا واره یې استغاثه درته وکړه تا نه کړه معاف، اما وعزتي وجلالي لو استغاث بي مرة لاعنته (او زما دي په خپل عزت او جلال قسم وي که یې ماته یو وار استغاثه کړې وای، ما به کومک ورسره کړی وای یعني له خسف څخه به مي معاف کړي وای) او په بعض احادیثو کي راغلي دي چي خدای ﷻ وویل لا اجعل الارض بعدک طوعًا لاحد، قتاده رح وایي چي یو یو قامت دوی په مځکه کي کښته ځي تر ورځي پوري د قیامت او پای ته د مځکي نه رسېږي، قتاده رح وایي چي بني اسرائیلو دا اوازه ګډه کړه چي موسیٰ ؑ چي ښېرا د خسف و قارون ته وکړه ددې سببه چي د قارون بلډنګ یعني هغه سرای چي د سرو زرو دروازه یې وه کمامر او د قارون خزانې د موسیٰ لاس ته ورسي، دا اوازه چي موسیٰ ؑ واورېدل، نو خدای ﷻ ته یې خواست وکړی چي دده سرای او خزائن دي هم په مځکه کي په دده پسي رواني کړي، خدای ﷻ خواست قبول کړی، فلهذا قال الله ﷻ: فخسفنابه وبداره الارض.... حافظ شیرازي رح وایي:

ګنج قارون که فرو میرود از قهر هنوز
خوانده باشی که هم از غیرت درویشان است

ایضًا

احوال ګنج قارون کایام داد برباد .... با غنچه باز ګوید که تا زر نهان ندارد

ایضًا

تو انګرادل درویش بدست اور .... که مخزون زرو ګنج درم نخواهد ماند

فَمَا كَانَ لَهُ مِنْ فِئَةٍ يَنْصُرُونَهُ مِنْ دُونِ اللَّهِ

نو په ده ي خسف کي ده لره نه ؤ کومک کونکی.

بوه سه: چي فئة هغه جماعت ته وایي یفئ لیوم عند المصیبة، او کلبي د فاء ههنا للتعلیل چي هغې فئه دده سره کومک کړی او عذاب د خسف یې ځني دفع کړی وایي "من دون الله" ماسوا له خدای ﷻ څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وَمَا كَانَ مِنَ الْمُنْتَصِرِيْنَ ﴿٨١﴾

او نهٔ قارون د منع سوي خلکو څخه د عذاب د خدای ﷻ بوجه من الوجوه.

وَأَصْبَحَ الَّذِيْنَ تَمَنَّوْا مَكَانَهٗ بِالْأَمْسِ يَقُوْلُوْنَ وَيْكَأَنَّ اللّٰهَ

واصبح ای صار یعني وګرځېدی. چي تمنٰی يې کول د جاه او جلال د قارون په قریبه زمانه کي.

درویش وایي: چي په پښتو امس پرون ورځي ته وایي، یعني تر نن ورځي دمخه ورځ، لکن په قرآن کریم کي دلته هغه معنی نه ده مراد بلکې په معنی د زمان قریب ده، یعني که څه هم دوی درې ورځي دمخه وي.

پوه سه: چي دا لفظ یعني ''ویکان'' په نېز د بصریین مرکب دی، د وی چي معنی يې تعجب دی او له کان څخه چي معنا يې تشبیه ده، والمعنی ما اشبه الامران ای الاتیان.

پوه سه: چي د ''ویکان'' په باره کي خلیل امام النحو واللغة وایي چي وی اسم فعل دی لپاره د تعجب او تندم، او کان په معنی د اظن (متکلم واحد) ذالک والتقدیر. نو په آیت کي معنی داده چي دوی ویله نتعجب ونتندم ونظن ذالک (ای الله یبسط الخ) او قطرب چي لوی امام د لغت دی وایي چي ویکان په معنی د ویلک دی صرف لام يې حذف کړی دی، او ان منصوب په فعل محذوف سره دی، والتقدیر ویلک اعلم (هذا هو الفعل المحذوف) ان الله یبسط الرزق آه، او بعض اهل لغت وایي چي مجموع ویکان حرف تنبیه دی بمنزلة الا، او مجاهد رح وایي چي معنی د وي کان مجموع داده الم تعلم. الله یبسط الرزق آه، او حسن رح وایي چي ویکان کلمه ابتداء ده تقدیره وان الله یبسط الرزق آه، او قتاده وایي معناه د ویکان الم تر ان الله یبسط الرزق الخ، او فراء نحوي وایي چي ویکان حرف تقریر دی ای حمل المخاطب علی الاقرار بان الله یبسط الرزق آه، کقول الرجل الی آخر اما تری الی صنع الله واحسانه، فراء وایي چي ما له یوې صحرائي ښځي څخه واورېدل چي مېړه ته يې وویل این ابنک. هغه ورته وویل وی کانه وراء البیت یعني اما ترینه وراء البیت.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي دا وړې معاني د وی کان په مظهري، روح البیان او روح المعاني په بعضو کي تولداو په بعضو کي بعض د دغو معاني ذکر کړل سوي دي، فخذ ما صفا ودع ما كدر.

اللَّهُ يَبْسُطُ الرِّزْقَ لِمَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَيَقْدِرُ

خدای ﷻ فراخه کوي رزق و هغه چاته چي اراده د فراخۍ د رزق ورته وکړي د خپلو بندګانو څخه، او تنګوي رزق د بعض بندګانو یعني چي اراده د تنګۍ یې وکړي، والحاصل چي فراخي د رزق او تنګي د رزق دواړه برابر دي چي صرف او صرف په اراده پوري د خدای مربوط دي، داسي نه ده چي فراخي د رزق په سبب د کرامت د سړي ده پر خدای ﷻ باندي، ولي که داسي وای نو قارون به اکرم علی الله وای تر ټولو بني اسرائیلو او داغه رنګه تنګي په سبب د هوان علی الله نه ده باید سړی فکر وکړي په حال کي د سید نوع البشر ﷺ چي بخاري او نورو اهل الحدیث یې روایت کړی دی له ام المؤمنین عائشة رضي الله عنها څخه چي موږ به دړې سپوږمۍ ولیدلې په دوو میاشتو کي چي د علیه الصلوٰة والسلام په نهه کوره کي به اور نه سو بل، راوي د حدیث وایي چي ما د ام المؤمنین رضي الله عنها څخه پوښتنه وکړه یا اماه تاسي دا دوې میاشتي څه شی خوړی؟ دې راته وویل الاسودان په دوو تورو شیانو مو ګذاره وه الماء والتمر او كما قال، او دا هم په صحیح حدیث ثابته ده چي د علیه الصلوٰة والسلام زغره چي جنګي قمیص ؤ د یهودي سره ګرو وه، چي علیه الصلوٰة والسلام او ربشي څندي پور کړي وې چي تر وخته د علیه الصلوٰة والسلام قدرت نه کړی پیدا چي خپله زغره په اداء کولو د پور له یهودي څخه خلاصه کړي.

لَوْلَا أَنْ مَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا لَخَسَفَ بِنَا

که نه وای احسان کړی پر موږ خدای ﷻ (یعني موږ تمنی د حال د قارون وکړه او زموږ تمنی یې پوره نه کړه یعني دغه د خدای ﷻ احسان دی زموږ سره، په فارسي ژبه: اګر ان نبودی که خدای تعالی منت نهادی بر ما ونداد بما آنچه تمنای ما بود از دنیا مثل قارون) "لخسف بنا" جواب د لولاء دی، یعني که یې زموږ تمنا پر ځای کړې وای موږ به یې هم لکه قارون خسف کړي وای، ولي چي په موږ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي به هم استغناء او تکبر او نافرماني د موسیٰ ؑ پيدا سوې وای، او سبب د هلاک زموږ به گرځېدلي وای.

﴿وَيْكَأَنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَٰفِرُونَ﴾

"ويکانه" قد مر معناه، فلاح او خلاصون نه عذاب څخه د خدای ﷻ نسي پيدا کولای کافران د نعمتو د خدای، يا مکذبون د رسولانو د خدای.

پوه سه: چي په دې ويکان معنی د تشبيه نه ده صحيح، او نوري معناوي يې صحيح دي.

تبصره: په کشف الاسرار کي وايي چي حب د دنيا قارون باعثه کړی پر جمع کولو د دنيا کمامر، او جمع د دنيا دی باعثه کړی پر بغاوت د موسیٰ ؑ کمامر، نو په نتيجه کي کثرت د مال يې سبب د هلاک وګرځېدی، ولهذا جاء في الخبر النبوي حب الدنيا راس کل خطيئة، يعني دوستی دنيا سرچشمه همه گناها است ومايهٔ هر فتنه وبيخ هر فساد، په حديث شريف کي راغلي دي چي، ان مثلکم في الدنيا کمثل الضيف، وان في ايديکم (يعني من الدنيا) عارية فالضيف منطلق والعارية مردودة (مهمان به ځي پر خپله لار يعني مري به) او عاريت به بيرته مهمان خانه والا ته ورسپاري يعني و ميراث خورو ته.

فائده: تمنّٰی د دنيا گناه ده الا ما کان لغرض صحيح شرعي. لکه سفر د حج يا صدقه الی الفقراء، وصلة الرحم مع الاقرباء، او بناء مسجد ونحوها، د کبشة انصاري ؓ څخه روايت دی، دی وايي چي ما واورېدل د عليه الصلوة والسلام څخه چي وه يې ويل چي پر درې شيه زه قسم اخلم واحدثکم حديثًا فاحفظوه، هغه درې شيه چي زه قسم پر اخلم هغه دا دي (۱) مانقص مال عبد من صدقة (نه کمېږي مال د مسلمان په خيرات يعني خدای ﷻ يې په دې دنيا عوض ورکوي (۲) وما ظلم عبد مظلمة صبر عليها الا زاده الله بها عزًا (او نه کړل کېږي پر يوه بنده يو ظلم د بل چا له خوا څخه چي مظلوم صبر پر وکړي مگر خدای ﷻ و هغه ته په سبب د هغه ظلم ده ته عزت ورکوي (۳) وما فتح عبد باب مسئلة الا فتح الله عليه باب فقر (او نه خلاصوي يو بنده دروازه د سوال له خلکو څخه يعني د دنيا مگر خلاصوي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ پر هغه دروازه د فقر، والمراد الفقر القلبي که څه هم غني وي) او عليه الصلوة والسلام وويل چي هغه شی چي زه يې تاسي ته بيان کوم او تاسي په ياد لرئ هغه دادی چي دنيا د څلورو کسانو ده (۱) هغه سړی دی چي خدای ﷻ علم ورکړی وي، او مال هم، نو د علم په سبب دی له خدايه بېرېږي يعني اوامر د خدای ﷻ پر ځای کوي او له منهياتو څخه پرهېز کوي، او د مال په سبب صِلة الرحم او حقوق واجبه او مندوبه د مال پر ځای کوي، قال رسول الله ﷺ فهو بافضل المنازل (۲) يو بنده دی چي خدای ﷻ علم ورکړي لکن دنيا يې نه وي ورکړې، نو صادق النية وي چي که ما دنيا درلودای ما به هم عمل د فلاني سړي کولای. يعني العبد الاول، نو ده د نيت ثواب خدای ﷻ ورکوي، واجرهما سواء (۳) عبد رزقه الله مالاً ولم يرزقه علمًا فهو لا يتقی فيه ربه (يعني پر شرابو او پر زنی او پر نورو ناجائزو کارو دنيا صرفوي او صله رحمي نه پکښي کوي، ولايفعل الله فيه بحقه (يعن يحق شرعي د مال نه پر ځای کوي) (۴) عبد لم يرزقه علمًا ولا مالاً، نو دی وايي که ما مال درلودای ما به هم د فلاني سړي رنګه کارونه کولای، يعني قسم (۳) فهو بنية ووزرهما سواء، انتهی.

تِلْكَ الدَّارُ الْاٰخِرَةُ

هغه نعمتونه د دار الآخرة چي تاسي اورېدلي په قرآن کريم کي او په احاديثو شريفه وو کي.

نَجْعَلُهَا لِلَّذِيْنَ لَا يُرِيْدُوْنَ عُلُوًّا فِي الْاَرْضِ وَلَا فَسَادًا ؕ

مو ږ يې ګرځوو يعني په ورځ د قيامت (دا جمله خبر ده د تلک) هغو کسانو لره چي اراده نه لري د بلندۍ په مځکه کي، کلبي او مقاتل رح يې تفسير په استکبار له ايمان څخه کړی دی، او عطاء خراساني رح وايي غلبه پر خلکو او سپکاوی د خلکو. او حسن رح وايي چي طلب د شرک کوي په د بادشاهانو، درويش وايي چي د مذکوره تفسيرو مآل يو دی "ولافسادًا" کلبي رح وايي چي مراد له فساد څخه بلنه ده و عبادت ته د غير الله، او عکرمه رح وايي مراد له فساد څخه اخذ دی له اموالو څخه په ناحقه سره او ابن جريج رح او مقاتل رح وايي چي مراد ځنډي عمل بالمعاصي دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي تفسیر د بعض کلمات قرآنیه په آخر سره ډېر زیبا دی لان القرآن یفسر بعضها بعضًا، د علوًا تفسیر په مثل سره د فرعون زیبا دی لانه ورد في القرآن (ان فرعون لعلا في الارض آه) او د فساد تفسیر په مثل سره د قارون اولی دی، ولي چي پر ژبه د ناصح و قارون ته داسي ویلي دي ولاتبغ في الارض فسادًا.

پوه سه: چي دار صفت دی د تلک، او آخرت صفت بعد الصفت دی د تلک. او د تلک لفظ چي لپاره د اشاره د بعید وضع دی لپاره د تعظیم دی.

وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ﴿٨٣﴾

قتادهؒ وایي چي مراد ځنډي جنت دی. او روح البیان وایي العاقبة الحمیدة، او حسینيؒ وایي سر انجام نیکو، او مظهري وایي چي مراد له عاقبت ځنځه مایعقب الحسنات دی کما ان العقاب ما یعقب السیئات.

مَن جَآءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُۥ خَيْرٌ مِّنْهَا ۖ

که چا راتګ وکړی یعني فعل یې وکړی د خصلت حسنه یعني که فعلي وي او که قولي او که مالي وي یا مرکب د درو سره، کالحج والعمرة، نو هغه لره بنه جزاء او ثواب سته دده تر حسنه یعني لس مثل د هغه حسنه یا تر اووه سوه (۷۰۰) پوري، والی ماشاء الله تعالی اختلاف د ثواب یې په اخلاص او په وخت سره مربوط دی.

وَمَن جَآءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَى الَّذِينَ عَمِلُوا السَّيِّـَٔاتِ إِلَّا مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿٨٤﴾

او که چا فعل وکړی د خصلت بد یعني په شرع شریف کي بد ؤ چي اعلی درجه یې کفر دی او ادنی درجه یې مکروه دی. نو نه ورکړه کېږي جزاء و هغو کسانو ته عمل د سیئاتو مګر هغه قدر چي دوی یې عمل کړی وي، (مضاف محذوف دی) ای الا مثل ما کانوا یعملون.

نکته: لفظ د مثل یې حذف کړی او ماکانوا یعملون یې په ځای کي ودراوه لپاره د مبالغې په مماثلة، حاصل دادی چي تضعیف د حسناتو د کریم بادار فضل او احسان دی او عدم تضعیف د سیئاتو د لوی بادار عدل دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: تصریح په الذین عملوا السیئات او ضمیر یې ومن ته نه کړی راجع لکه په حسناتو کې (چې فله خیر منها) نو په سیئاتو داسې ویل سوي وای فلا یجزي الا ماکانوا یعملون؟

ځواب: په دې تصریح تقبیح ده د حال ددوی په تکرار سره د نسبت د سیئاتو ددوی.

إِنَّ الَّذِي فَرَضَ عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لَرَادُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍ

بعض مفسرین وایي چې فرض پر خپله معنی متعارف محمول دی یعنې اوجب علیک تلاوته وتبلیغه الی امتک والعمل به. وهذا قول عطاء، او بغوي وایي چې اکثره مفسرین وایي چې معنی یې داده چې انزل علیک القرآن "لرادک" تا به رد کړي یعنې تا به ورولي مکې ته او دا وعده خدای پر ځای کړه په ورځ د فتح د مکې مکرمې. امام قتیبي وایي چې معاد د سړي خپل ښار یا قریه ده. ولې چې سړی په یو سفر ځندي وو ځي بیرته عود ورته کوي.

پوه سه: چې معاد یې نکره راوړی. ولې په فتح کې د مکې مکرمې رسول الله صلی الله علیه وسلم لره لوی شان سته چې د غلبه وکړه او اعداء الله چې مشرکان د مکې وه مغلوبه کړه او دین اسلام په مکه کې ظاهر سو او شرک ذلیل سو. دا روایت عوفي له ابن عباس ځخه نقل کړی دی. محي السنة بغوي وایي چې د هجرت په وخت کې چې علیه الصلوة والسلام له غار ځخه د جبل ثور د هجرت په نیت ومدینې منورې ته راووتی، نو پر سمه لار نه سو راهي له بهرې ځخه د قریشو یعنې چې قریش خلک پسې راوانه ستوي، او د هجرت مانع مو ونه ګرځي. نو چې له طلب ځخه یې خوفه سو. نو اصلي لارې ته راغلی. نو په جحفه کې په منځ کې د مکې او مدینې یې واروله. او د مکې شریفې وه لارې ته یې وکتل. محبت د مکې مکرمې یې په زړه کې جوش وکړی تر سترګو یې اوښکې راتوی سوې. نو جبرئیل ورته راغلی او ورته وه یې ویل اتشتاق الی بدلک ومولدک؟ علیه الصلوة والسلام ورته وویل نعم. قال جبرئیل فان یقول ان فرض علیک القرآن لرادک الی معاد، فرده الله یوم الفتح کذا اخرج ابن ابی حاتم عن الضحاک. فالآیة علی هذه الروایة نزلت بجحفة بین مکة والمدینة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درویش وايي: چي مظهري په غايت اجمال او په قيل بل روايت راوړی دی چي هغه روايت روح البيان په ډېر تفصيل او تر ټولو احتمالاتو يې د مخه راوړی دی، قال په تفسير كي د معاد ای مرجع عظيم يغبطک به الاولون والآخرون وهو المقام المحمود الموعود وهو مقام الشفاعة الكبرىٰ چي ستا سره يې وعده كړل سوې ده په سبب د احسان ستا په عمل كي او برداشت د دومره مشقاتو دي كړی دی چي غرونه يې طاقت د تحمل نه لري.

درویش وايي: چي اكثره مفسرين له معاد څخه مكه مكرمه مراد بولي، احتمالات د مراد من المعاد قرار ذيل دي (۱) المكة المكرمة (۲) مقام محمود يوم القيامة (۳) الجنة (۴) الموت (۵) البيت المقدس، ددې ټولو احتمالاتو روايت كونكی او دلائل يې په روح المعاني كي مطالعه كړئ.

پوه سه: چي كفارو د مكې به عليه الصلوٰة والسلام ته ويل انک لفي ضلال مبين، نو دا آيت نازل سو.

قُلْ رَّبِّيْٓ اَعْلَمُ مَنْ جَآءَ بِالْهُدٰى

ته ووايه يامحمد (ﷺ) يعني كفارو ته د مكې چي زما رب ښه خبر دی په هغه چا چي راتګ يې كړی دی په هدايت او دلالت په صراط مستقيم سره، يعني محمداً ﷺ.

پوه سه: چي كلمه د من منصوب محلاً ده په فعل محذوف سره چي اعلم دلالت پر كوي، والتقدير ربي اعلم الكائنات يعلم من جاء الهدىٰ.

سوال: د تقدير د فعل څه ضرورت ؤ په اعلم سره ولي نسي منصوب كېدای؟

ځواب: نحات وايي چي د وزن افعل صيغه عمل د نصب نسي كولای كما هو المشهور ولهذا قدر الفعل الذي دل عليه اعلم وهو.

وَمَنْ هُوَ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ۝

او په هغه چا خبر دی چي په ګمراهي ظاهره كي وي چي مراد ځني مشركين د مكې دي.

فائده: په دې هم خدای ﷻ خبر دی چي من جاء بالهدی به مستحق د ځومره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثواب وي، او د نصر على الاعداء، او په دې هم خدای ﷻ خبر دی چې من في ضلال مبين د څو مره عذاب او اذلال لائق دي.

وَمَا كُنتَ تَرْجُوٓاْ أَن يُلْقَىٰٓ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبُ إِلَّا رَحْمَةً مِّن رَّبِّكَ

او نه وې ته اميد درلودونکی ددې چې تاته راسي يعني تاته دي وحي وکړل سي د کتاب چې مراد ځندي قرآن دی.

فراء نحوي وايي چې الا استثناء منقطع ده، نو معنا داده لكن القاه ربك رحمة منه تعالى عليك. او دا هم احتمال سته چې دا استثناء دي متصل مفرغ وي (يعني مستثنى دي محذوف وي يعني استثناء دي وي د اعم العلل يا اعم الاحوال څخه، فيكون المعنى ما القى اليك الكتاب لاجل شئ من الاشياء الا لاجل الترحم) نو پر دې تقدير استثناء ده د اعم العلل څخه. او في حال من الاحوال الا في حال الترحم، نو پر دې تقدير استثناء د اعم الاحوال څخه، نو مستثنى منه به يا لاجل شئ من الاشياء وي يا حال من الاحوال، چې پر دواړه تقديره محذوف دی. نو ځکه استثناء مفرغ سوه او چونکه لاجل الترحم يا حال الترحم په عموم کي داخل، نو ځکه استثناء متصل سوه فافهم.

فائده: په دې آيت کي يعني وماكنت آه تاكيد دی د حكم سابق يعني لرآدك الى معاد آه. لکه تا چې د کتاب د نزول اميد نه درلودی او خدای ترحمًا پر تا نازل کړی، دغه رنګه به خدای ﷻ رد کړي مکې ته.

فَلَا تَكُونَنَّ ظَهِيرًا لِّلْكَٰفِرِينَ ﴿٨٦﴾

نو ته مه ګرځه کومک کونکی د کافرانو يعني چې خدای پاک تاته د کتاب وحي وکړې او ستا اميد هم نه ؤ، نو ته ظهير مه ګرځه آه، يعني غوره مالي مه ورسره کوه او ددوی د تکاليفو برداشت کوه، او د دوی د طلب چې ته و دين ته د آباء را واوړه قبلونه مه کوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَا يَصُدُّنَّكَ عَنْ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بَعْدَ إِذْ أُنزِلَتْ إِلَيْكَ

او تا دي منع نه کړي کفار د مکې له قرائت څخه د آیاتو قرانیه ؤ او عمل په هغو سره، وروسته تر دې چي دا آیات تاته نازل کړل سوه، یعني په وحي سره له جانبه د خدای ﷻ.

وَٱدْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُشْرِكِينَ ﴿٨٧﴾

او دعوت ورکوه مشرکینو ته د معرفت او د توحید او د عبادت د خدای ﷻ، او ته د مشرکانو له ډلې څخه مه ګرځه په دعوت ددوی.

وَلَا تَدْعُ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ

پوه سه: چي دا نهي او د ماقبل نهي قطع د طمع د مشرکانو د علیه الصلوة والسلام ده رجوع ددوی ودین شرک ته او اظهار دی غایت قبح د ارتداد له دین اسلام څخه، لکه په سنه ۱۴۳۱ هـ ق کي چي مسلمانان دین د اسلام پر ډالرو د امریکایانو پرېږدي یعني اسلام فروشي جاري ده خدای ﷻ دي خپل فضل پر مسلمانانو وکړي، او مشتریان دین اسلام چي امریکایان دي د مسلمانانو له وطنو څخه په هزیمت او شکست سره وشړي، وما ذالک علی الله بعزیز.

لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۚ كُلُّ شَىْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُۥ ۚ

نسته معبود بالحق بېله ده (دا علت دی د نهي یعني ولاتدع آه) هر شی یعني موجود که ملکه، که جن، که اسمان، که مځکه، که حیوان و الی غیر ذالک هلاک کېږي، مګر نه ذات واجب الوجود د خدای ﷻ، او بعض مفسرین وایي چي معنی داده چي هر عمل لغوه او باطل دی الا ما ارید به وجهه تعالی.

لَهُ ٱلْحُكْمُ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٨﴾

او خاصةً خدای ﷻ لره دی حکم نافذ بلا مانع ورد؛ او خاص وده ته به تاسي راجع کړل کېږي په ورځ د قیامت لپاره د مجازات پر خیر په جنت سره او پر شر په دوږخ سره.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

درویش وایي: چي الحمدلله والصلوة على نبیه المجتبٰی، وآله الاتقیاء وصحبه الاصفیاء، تفسیر د سورة القصص پر لس (۱۰) بجې ورځ د جمعې پنځمه د صفر الخیر سنه (۱۴۳۱) هـ ق پای ته ورسېدی، بالخیر والصحة والعافیة، اللهم وفقني لتفسیر سائر السور والاجزاء للقرآن العزیز بکمال المحبة وعموم الصحة في الخلوة والجلوة بفضلک وکرمک یا ارحم الراحمین.

شکایت: بعض حاسدان وایي چي عبیدالله ناقل دی، او چي سرسخت حاسد وي هغه بیا وایي چي عبیدالله سارق دی، باید زه ووایم چي ماکله دعوه د مجتهد کړې ده، یا د قاضي یا د محدث؟ لکن دوی ته دا ویلای سم چي برادرانو د دین اسلام بناء پر نقل له سره ښخه تر پایه پوري ده، نو که څوک د مطلقًا نقل څخه منکر وي او یا نقل مطلقًا سرقه بولي هغه خو کافر بلا شک دی، او که د نورو مفسرینو او مصنفینو نقل سرقه نه بولي او یا د ناقل په لفظ لپاره د اهانت نه ورته وایي یا سارق نه ورته وایي، صرف یواځي زما نقل د ناقل په لفظ اهانةً راته وایي یا مي سارق بولي، نو زما پروواه نه په کېږي، ولي چي زما فائده ده، ولي چي د حاسد نېک عملونه به ان شاءالله تعالی زما عمل نامې ته رانقل کېږي، وقد قیل:

هم یحسدونني وشر ناس کلهم .... من عاش في الناس یومًا غیر محسود

کما في درالمختار.

حاسدان په دوه تاوانه مبتلاء دي .... زړه یې سوځي ښه اعمال یې هم زما دي

درویش وایي: چي پر هم دې ذکر سوي تاریخ د جمعې مبارکې په ورځ د ساعاتو په اختلاف تفسیر د سورة عنکبوت شروع کېږي، اللهم وفقني وتممه بالخیر والعافیة

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولمن سعٰی فیه

د ډېرو دعاؤ محتاج خاک پای علماء حق کاتب محمد حبیب الحق

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سُورَةُ الْعَنْكَبُوتِ مَكِّيَّةٌ وَهِيَ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ تِسْعٌ وَسِتُّونَ آيَةً وَسَبْعُ رُكُوعَاتٍ

روح البیان وایي چي دا سورت اووه شپیته (۶۷) آیته دی. ابن الفریس والنحاس او ابن مردویة او بیهقي په دلائل د ابن عباس رض څخه روایت کړی دی چي: انها نزلت بمكة. او د عبد الله بن الزبیر رض څخه داسي روایت راغلی دی چي مکي دی، او د حسن، جابر او عکرمه رض څخه هم روایت دی د مکي منقول دی، او بعض روات وایي چي سورت عنکبوت اخیر سورت دی چي په مکه کي نازل سوی دی. او شعبي رح وایي چي لس آیاته له پیل څخه مدني دي. والله اعلم.

الٓمٓ ①

درويش وايي: چي د حروف منقطعه تفصیل او بیان د اختلاف الائمة فیها په اول کي د سورت البقرة ذکر کړه سوی دی، نو هر ځای راګرځېدلو ته یې ضرورت نسته.، حسین کاشفي رح په خپل تفسیر کي یوه ډېره ښائسته خبره کړې ده، په ګوه به یې واورو: حروف مقطعه برائ تعجیز است مر خلق را تا دانند که کسی را بتمام حقائق این کتاب راه نیست، وعقل هیچ کامل از کنه (از حقیقت) و از معرفت این کلام آگاهی می خواهد عاجز وفهم دروی کم است انتهی.

أَحَسِبَ النَّاسُ أَنْ يُتْرَكُوا أَنْ يَقُولُوا آمَنَّا وَهُمْ لَا يُفْتَنُونَ ②

په قاموس کي وایي چي "حسبان" په کسره د حاء ظن ته وایي آه.

درويش وايي: چي په شان نزول کي د دې آیت اختلاف دی، روح البیان وایي چي دا آیت په شان کي د هغو مسلمانانو نازل سوی دی چي په مکه مکرمه کي د علیه الصلوة والسلام تر هجرت وروسته پاته وه او کفارو د قریش به ډېر ازارول او قسم قسم عذابونه به یې ورکول پر اسلام باندي، شاید چي په دې سبب دوی دین د اسلام پرېږدي، نو د مسلمانانو سینې به تنګي سوې او جزع (بې صبري به ځندي کېدل) نو خدای پاک په نزول د دې آیت دوی ته تسلي ورکړه، لکن دا آیت که څه هم په دې قوم مخصوص کي نازل سوی دی لکن معنی د دې آیت باقي ده په امت کي د علیه الصلوة والسلام.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بقية الدهر: همزه د استفهام لپاره د انکار ده پر دې کار د حسبان يعني دا حسبان غلط دی، په فارسي يې معنی داده: آيا پنداشتند مردمان يعنی اين ظن منکر و مستبعد است.

"ان يتركوا" چې دوی دې مهمل پاته سي يعني پر دوی دې کوم تکليف په لار کې د اسلام رانسي، دا ددوی غلطه نظريه ده.

فائده: ان يتركوا قائم د مفعولي ده حسب لاشتماله على مسند ومسند اليه.

"ان يقولوا آمنا" اى لاجل ان يقولوا آمنا "وهم لايفتنون" الواو للحال، يعني والحال چې له دوی څخه په امتحان نه واخستل سي دا چې دا دعوه د آمنا په ثابته سي چې د زړه له پخه څخه دا خبره د آمنا دوی کوي. امتحان يا په سختو تکاليفو سره دی لکه هجرت و مديني ته يا جهاد في سبيل الله، يا په ترک د شهواتو يا په وظائفو د طاعاتو وانواع المصائب في الانفس والاموال، چې په دې امتحان سره به مخلص او منافق سره جلا سي، او په دين محکم او مضطرب به وپيژندل سي.

حافظ شيرازي وايي:

عاشقانرا درد دل بسيار می بايد کشيد
جور يار و طعنهٔ اغيار ميبايد کشيد

وفي بستان في حق العشاق.

دما دم شراب الم درکشند .... اگر تلخ بينند دم درکشند
بلای خمار است درعيش مل .... سلحدار خارست باشاه گل
نه تلخ است صبری که برياد اوست ...... که تلخی شکر باشد از دست دوست

درويش وايي: چې بعض مفسرين وايي لکه الشعبي رحمه الله په روايت د ابن ابي حاتم څخه کړی دی چې بعض مسلمانان په مکه کې وه چې اقرار بالاسلام يې کاوه، نو هغوته اصحابو د رسول الله ﷺ له مديني څخه خط نوشته کړی يعني په اجازه د رسول الله ﷺ چې مضمون يې دا ؤ چې ستاسې څخه اقرار بالاسلام نه قبليږي ترڅو چې هجرت ونه کړئ مديني ته، نو هغه هم بالفور د مديني په نيت له مکې څخه ووتل، مشرکان د مکې هم سمدلاسه پسې ووتل، بيرته يې مکې ته راوګرځول، فنزلت فيه آلم احسب الناس الآية، وروسته اصحابو د رسول الله ﷺ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بیان بیا خط ورته نوشته کړی چي ستاسي په باره کي دا آیت نازل سو، نو مکې والو مسلمانانو دا وار عزم صحیح وکړی چي مدینې ته خو هجرت کوو، که څوک د مشرکانو پسي راووتل د هغو سره جنګ کوو یا به قتل کېږو یا به مدینې ته رسېږو، نو دا وار بیا چي مسلمانان له مکې څخه ووتل، نو مشرکین هم پسي ووتل، نو جنګ شروع سو، بعض مسلمانان شهیدان سول او بعضو نجات پیدا کړی. مدینة الرسول ته یې ځانونه ورسول، فانزل الله فیهم (ثم ان ربک للذین هاجروا من بعد ما فتنوا الخ) او بغوي رح د هغو مسلمانانو چي په مکه کي وه له ابن عباس رض څخه په روایت داسي بیان کړی دی (۱) سلمة بن هشام (۲) عیاش بن ربیعه (۳) الولید بن الولید (۴) عمار بن یاسر وغیرهم رض، وقال مقاتل رح نزلت في مهجع مولی عمر بن الخطاب رض (یعني د عمر رض ازاد کړی مریی ؤ) چي په حدیث شریف کي راغلي دي چي مهجع رض به اول سړی وي چي باب الجنة ته به وغوبنته کېږي له دې آمت څخه، اول مبارز جنګیالی سړی هم دغه مهجع ؤ چي چي د بدر په میدان کي جنګ ته د مشرکینو ور ووتی، فقتله عامر الخضرمي من قریش بسهم وهو اول قتیل وشهید من هذه الامة کذا في سبیل الرشاد، چونکه د شهید مهجع مور او پلار دواړه ژوندي وه او ماینه یې هم ژوندۍ وه، هغه ټول په قتل د مهجع رض ډېر فریشان سول، نو دا آیت آلم احسب آه خدای ﷻ نازل کړی.

سوال: تر آلم وروسته همزه د استفهام راغلی او سره دا دې چي حرف استفهام خو صدر د کلام غواړي؟

ځواب: په دې سورت کي آلم کلام تام دی په حذف د مبتدا ای هذا آلم ای سورة آلم فافهم، او بغوي رح داسي شان نزول هم راوړی دی چي په ابتداء کي د اسلام په مجرد ایمان سره اکتفاء کیده وروسته یو تر بل پر له پسي شرائع الاسلام یعني صلوات خمس او زکوة او صوم وغیرها من شرائع الاسلام شروع سوه، پر بعض مسلمانانو تکلیف سوه، فانزل الله تعالی هذه الآیة، فالمعنی احسبوا ان یترکوا علی مجرد الایمان وهم لایفتنون بالاوامر والنواهي فان مجرد الایمان وان کان مانعًا عن الخلود في النار لکن نیل الدرجات یترتب علی وظائف الطاعات وترک الشهوات ای النواهي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ

(لام مؤطئه د قسم محذوف دی) او په تحقیق مونږ امتحان اخستی دی له هغو کسانو څخه چي د مؤمنانو د مکې د مخه وه یعني من الانبياء، والمؤمنين، حتى چي په اره اراه سوي دي، او بعض قتل سوي دي او ابتلاء د بني اسرائيلو په فرعون خدای ﷻ کړې وه يذبحون ابنائهم ويستحيون نسائهم: ويسمونهم سوء العذاب.

پوه سه: چي دا آیت متصل دی په هغه آیت پوري احسب آه او بقوله تعالی لايفتنون، له دې آيت څخه مطلب دادی چي دا ابتلاء بالبلايا سنة قديمة لله تعالى جارية في الامم الماضية كلها، نو څوک د دې سنت د خلاف توقع او امید نه کوي. ولهذا قال الله تعالى بالاستفهام للانكار احسب آه، او په عین حال کي دا جمله تسلي و مؤمنانو ته د مکې ده لانهم يقولون البلية اذا عمت هانت چي په پښتو وايي چي بلا چي عامه سي اسانه سي، او هم پښتانه وايي: د عالم سره غم نه غم دی.

فَلَيَعْلَمَنَّ اللهُ الَّذِيْنَ صَدَقُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكٰذِبِيْنَ ۝

ای في قولهم آمنا معطوف على ولقد فتنا آه، د بدائع څخه د بلاغت په دې آيت کي الفات دی له تکلم څخه د فتنا الذين وغيبت ته في فليعلمن الله. "وليعلمن آه" ای قولهم آمنا.

پوښتنه: خدای ﷻ ته خو ازلاً صادقين او كاذبين ورته معلوم وه. نو علم خپل يې ولي مرتب پر امتحان وګرځاوه؟

ځواب: هو! لکن معنی د دې آيت بعض مفسرينو داسي کړې ده ليظهرن الله الصادقين من الكاذبين حتى چي نور خلک به يې هم وپېژني، او مقاتل رح وايي ليرين الله الصادقين والكاذبين يعني په خلكو به يې ووينې، او بعض مفسرين وايي ليمزن الله الخبيث من الطيب.

درویش وايي: چي د دې درو سرو جوابو حاصل يو دی، او مظهري رح وايي چي په امتحان سره به علم حالي د خدای ﷻ پیدا سي چي په هغه سره تمييز د الذين صدقوا في الايمان د هغه کسانو څخه وکړل سي چي د كذبوا څخه يې وکړه لان هذا العلم الحالي مناط د ثواب او د عقاب دی لا العلم الازلي والا لما بعث الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الرسل، کریمه: لئلا یکون للناس حجة علی الله بعد الرسل، وایضًا لما انزل الله الکتب، فتدبر...... دو بیت:

درمحبت هرکه او دعوی کند ....صد هزاران امتحان بروی زنند

گربود صادق کشد بار جفا..........وربود کاذب گریزد از بلا

پوه سه: چي علماء وايي چي بلاء از جانب خدا ﷻ لکه مالګه د خوړو، نو مالګه که څه هم تروه ده چي یوازي خوړل یې ناګوار دي، لکن بیا هم اصلاح د طعام کوي. دغه رنګه امتحان الهي که څه هم سخت و سړي ته ایسي لکن اصلاح د وجود انساني کوي باذن الله تعالی، تفسیر حسیني وایي چي امیر نصیر احمد ساماني په حال کي د کوچنیوالي چي پلار یې باداشاه ؤ دی یې و یو معلم ته سپارلی ؤ چي علم دین په زده کړي، معلم د سبق نه زده کولو په سبب د انار په لښتو وواهه، امیر نصیر د ځان سره دا وعده کړې وه چي که زه لوی سوم او سلطنت د پلار مي په لاس راغلی دغه معلم به زه هم د انار په لښتو وهم چي دا ورته معلومه سي چي د انار د درختي وهل آسانه دي او که ګران، رفته رفته د پلار باداشاهي په لاس ورغله، یوه ورځ یو وار د هغه استاذ وهل وریاد سوه، څټک یې سپاهي ور و استاوه چي ورسه فلانی عالم ماته حاضر کړه، او بل خادم ته یې وویل چي ورسه د انار د درختي یو څو لښتي ماته راوړه، خادم اول چي په احضار سره د معلم مکلف ؤ معلم وه سپاهي ته وویل چي شاه په څه حال کي ؤ چي ته یې را استولې، سپاهي ورته وویل چي نور نه پوهېږم، بل سپاهي ته یې وویل چي د انار د درختي څو لښتي راوړه، معلم پوه سو چي د کوچنیوالي د وهلو زما کسات را څخه اخلي، نو پر لاري یې له یو دکان څخه ښه سور انار رانیوی او په لستوڼي کي یې پټ وساتی، باداشاه ته حاضر سو، د کوچنیوالي په وهلو باداشاه معلم ته ډېر په غصه ؤ او د انارو لښتي هم ورته پرتې وې، د استاذ څه ناڅه احترام خو یې وکړی، لکن وروسته یې ورته وویل چي ستا په یاد دي چي زما د کوچني نازک بدن به تا په دغو لښتو واهه؟ معلم د لستوڼي څخه انار راوکښی او شاه ته یې وویل چي دا زیبا انار د دغو لښتو میوه ده غرض یې دا ؤ او دومره اخلاق حمیده او استعداد د سلطنت چي په تا کي پیدا سو دا د هغو لښتو د انار چي ماته وهلې میوه ده، باداشاه ته دې خبري ډېر ښه خوند ورکړی، نو استاذ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ته يې ډېر فوق العادة احترام ورکړی او ډېر انعام يې هم ورکړی. او د احضار عذر يې ورته ووايه.. مثل: براحتی نرسید آنکه زحمتی نکشید.

أَمْ حَسِبَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ السَّيِّاٰتِ أَنْ يَّسْبِقُونَا ۚ سَآءَ مَا يَحْكُمُونَ ④

آیا گمان لري هغه کسان چې عمل کوي د کفر او معاصیو، چې زموږ څخه دې فوت سي او انتقام به نه ځندي واخلم؟ بد دی دا حکم ددوی.

پوه سه: چې ام منقطعه په معنی د بل آه دی کلمه د بل لپاره د انتقال ده او همزه لپاره د انکار دی یعني دا گمان غلط دی.

پوه سه: چې عمل فعل ته د زړه هم وايي لکه کفر او انکار او فعل ته د جوارحو هم وايي لکه معاصي، زنی بهتان وغیرهما. کلمه د ان سره د صلې قائم مقام د مفعولي د حسب دی.

درویش وايي: چې روح البیان وايي چې بل او همزه لیس للابطال الحسان السابق لان انكار الحسبان السابق ليس بباطل بلکې لپاره د انتقال دی من التوبيخ السابق وهو انكار حسبانهم متروكين غير مفتونين. كما هو حاصل الحسبان الاول الى التوبيخ بانكار ماهو ابطل منه اى من الحسبان الاول وهو حسبانهم ان يسبقونا ويفوتون من عذابنا. انتهى.

سوال: مشرکانو خو دا گمان نه کاوه چې موږ له خدای ﷻ څخه فوت سو یعني له عذابه د خدای ﷻ او په زړو کې يې هم نه ورګرځېدل؟

ځواب: نعم! لکن اصرار ددوی پر کفر او معاصیو او په عاقبت کې فکر نه وهل نزلوا منزلة من يحسب ذالک. قاله روح البیان.

پوه سه: چې کلمه د ما په ''مایحکمون'' کې موصوله ده مرفوع محلاً ده چې فاعل د ساء دی، یا موصوفه ده منصوب محلاً چې تمیز دي د ضمیر مبهم المرفوع والمخصوص بالذم محذوف والمعنی علی الاول چې موصوله سي. بئس الذي يحكمونه حكمهم هذا. او بئس حكمًا يحكمون يعني على تقديره كونه موصوفة والمخصوص بالذم على التقديرين محذوف فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مَنْ كَانَ يَرْجُوا لِقَآءَ اللهِ

کلمه د من مرفوع المحل ده مبتداء ده خبر یې په وروسته آیت کې دی، ابن عباس رضی الله عنه وايي چې مراد له رجاء څخه خوف دی، والمعنى چې بيريږي له بعث بعد الموت څخه او له حساب او عذاب څخه د خدای ﷻ. او سعيد بن جبير رضی الله عنه وايي ومن كان يطمع في ثواب اليه.

پوښتنه: خوف او طمع خو سره ضدان دي، نو څرنګه تفسير په دواړو سره وسو او بله پوښتنه داده چې اهل لغت تفسیر د رجاء داس کړی دی چې رجاء ظن دی د مافيه مسرت چې خوشالي پکښې وي، په خوف کې څه خوشالي سته؟

ځواب: خوف او رجاء په دين کې د اسلام سره لازم او ملزوم دي، فيجوز التفسير بكل واحد منهما او مظهري تبعًا للعلامة البغدادي داسي ويلي دي چې مراد له لقاء الله څخه رؤيت الله تعالى دی بلا حجاب بعيني راسه.

تفريع: نو له دې آيت څخه پر دې تقدير دا معلومه سوه چې رؤية د خدای ﷻ په دنیا کې واقع نه دی الا لرسول الله ﷺ ليلة المعراج كما هو مذهب البعض، لکن هغه رؤیت د دنیا څخه خارج ؤ، وفيه رد على المتعزلة چې دوی رؤيت د خدای ﷻ نه په دنيا او نه په اخرت ممکن بولي، ځکه طوسي چې يو امام دی د معتزله وو په تجريد کې وايي ورؤية الله تعالى يعني په آخرت کې كمايزعمه اهل السنة والجماعة باطل، وروسته یې يو څه دلائل كبيت العنكبوت پر ويلي دي، ولا نطول الكلام بذكرها وذكر الجوابات عنها لان موضع بيانها علم الكلام للمتاخرين كالعلامة الثاني سعد الملة والدين التفتازاني رحمه الله في شرح المقاصد.

فَإِنَّ أَجَلَ اللهِ لَاٰتٍ ؕ

بحذف المضاف يعني وقت لقائه تعالى خامخا راتلونکې ده، مقاتل رحمه الله وايي يعني يوم القيامة لكائن، نو عاقل لره په کار ده هغه طمع لپاره يا د هغه خوف د دفع لپاره دی اسباب عاديه په دنيا کې حاصل کړي يعني د شهوات زائغه وو شيطانيه وو څخه پرهيز وكړي او پر مشاق د اوامر الهيه وو صبر وكړي، کريمه: فمن كان يرجوا لقاء ربه فليعمل عملاً صالحًا ولا يشرك بعبادة ربه احدًا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ⑤

په تحقيق خداى او رېدونكى دى د اقوالو د بندګانو او عالم دى په عقائدو د دوى او په افعالو د دوى.

وَمَنْ جَاهَدَ فَإِنَّمَا يُجَاهِدُ لِنَفْسِهِ

که څوک جهاد وکړي د أعداء الله سره يعني الكفار، جهاد ظاهريًا او يا جهاد وکړي د خپل نفس سره في منعه من الشهوات المنهية في الشرع والصبر على الطاعات الشاقة المامور بها. او يا جهاد د شيطان سره وکړي په دفع د وساوسو دده، چي په يو حديث صحيح کي راغلي دي چي عليه الصلوة والسلام چي سره د اصحابو رضه له يوې سختې غزا څخه راستون سو، نو يې وويل: لقد رجعنا من الجهاد الاصغر الى الجهاد الاكبر، چي صحابه كرام رضه وارخطا سوه، او پوښتنه يې وکړه چي جهاد اكبر كله دى؟ عليه الصلوة والسلام ورته وويل هو جهادک مع النفس الى اخير الحديث.

"فانما يجاهد لنفسه" نو دى جهاد نه کوي مګر د ځان لپاره، ولې چي منفعت د جهاد راجع وده ته دى.

إِنَّ اللَّهَ لَغَنِيٌّ عَنِ الْعَالَمِينَ ⑥

په تحقيق خداى ﷻ غني دى د عالميانو او د دوى له طاعاتو څخه، او خداى ج چي دوى مکلف کړي دي په طاعاتو سره رحمةً عليهم ومراعاتًا لمصالحهم، دا جمله علت ده لقوله تعالى فانما يجاهد لنفسه.

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُكَفِّرَنَّ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ

او هغه کسان چي ايمان يې راوړى وي او اعمال صالحه يې هم کړي وي، موږ به بخشش وکړو د سيئاتو د دوى يعني په حسناتو د دوى.

پوه سه: چي اصل د کفر محوه کېدل او پټوالى دى، حسيني وايي: هر آئينه محو کنيم سيئات آنان يعني الكفر بالايمان والمعاصي بما يتبعها من الطاعات، روح البيان وايي چي تکفير د ګناه سترته وايي حتى يصير بمنزلة مالم يعمل. له ابو

Maktaba Tul Ishaat.com	Scanned by CamScanner

هریره ﷺ څخه روایت دی قال قال رسول الله ﷺ، الصلوات الخمس و الجمعة الی الجمعة و رمضان الی رمضان (پنځه لمونځونه، او یوه جمعه تر بلي جمعې پوري، او یوه روژه تر بلي روژې پوري) مکفرات لما بینهن (محوه کونکی دی د ګنهو) اذا اجتنب من الکبائر چي سړی پرهېز کړی وي له کبیره ګنهو څخه، رواه مسلم.

درویش وایي: چي د دې قید اذا اجتنب آه، بعض علماء ترجمه داسي کوي چي اجتناب د کبائرو ګنهو شرط دی د بخښلو د صغائرو ګنهو، لکن صحیح داده چي شرط یې نه دی بلکې معنی د حدیث والله اعلم داده چي کبائر ګنهو نه په مذکوره لمونځو وغیرها سره نه بخښل کېږي، بلکې د هغو لپاره توبه شرط ده، کریمه: ان تجتنبوا کبائر ما تنهون عنه نکفر عنکم سیئاتکم، او د دې تفسیر د مخه تېر سوی دی.

وَلَنَجۡزِيَنَّهُمۡ أَحۡسَنَ ٱلَّذِي كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ٧

او مونږ به جزاء او ثواب ورکړو دوی ته د هغه ښه د دوی د عملو چي عبادات دي، یعني عبادات یې نه ضائع کوو، او بعض مفسرین وایي چي د دوی تر عملو به ډېر ثواب ورکړو، یعني الحسنة بعشر امثالها الی (۷۰۰) الی ما شاء الله تعالی.

فائده: احسن دلته په معنی د حسن دی یعني تفضیل نه دی څنګه چي مراد کما لایخفی، احسن منصوب دی په حذف د حرف د جر ای باحسن.

وَوَصَّيۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ بِوَٰلِدَيۡهِ حُسۡنٗاۖ

او مونږ وصیت کړی دی و انسان ته په باره کي د مور او پلار په ښه سره او په تعهد او مراعات سره د دوی (اللام للجنس او وصیت دلته په معنی د امر دی ای امرناه. کذا فسره العلامة البغدادي رح یعني هغه وصیت مراد نه دی لکه یو سړی چي قریب الموت وګرځي و اقرباؤ ته وصیت کوي لان ذالک غیر متصور في ذاته تعالی.

یوه سه: چي نصب د حسنا په سبب د دې دی چي صفت د مصدر محذوف دی ای ایصاءً حسنا ای ذا حسن هذا ما اختاره ابو حیان رح، والحاصل ان یبرهما ویعطف علیهما، مفسرین رح وایي چي مسلم، ترمذي، بغوي او ابن ابی حاتم رح د سعد بن ابی وقاص چي سعد بن مالک ابو اسحاق الزهري ﷺ چي یو د عشره مبشره بالجنة سره ؤ وکان من السابقین الاولین، او دی د خپل مور چي نوم یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حمنة بنت ابی سفیان بن امیة ؤ دېر خادم ؤ او مور دېره خندي راضي وه، نو چي سعد بن مالک ﷺ ایمان راوړی، او په تکمله کي وايي چي سعد المذکور د هجرت الی المدینة ته قصد وکړی آه، مور یې ورته وویل ما هذا الذي احدثت، دا دي څه نوی کار مختاره کړی یعني الایمان بالتوحید والنبوة، او یا قصد د هجرت، مور یې قسم واخستی چي زه به نه خورک وکړم او نه به داوبه وڅیښم او نه به له لمر څخه و سایې ته کښېنم تر څو چي مرم او یا به ته دین د اسلام پرېږدې یا به قصد د هجرت له خیاله باسې، چي زه مړه سم، نو تا ته به خلک پېغور درکوي یا قاتل امه، نو حمنة د سعد مور په یوه روایت یوه شبانه روز او په بل روایت درې شبانه روزه نه خورک وکړی او نه یې اوبه وڅیښلې او نه له لمر څخه و سایې ته نقل سوه، نو سعد ورته راغلی او ورته وه یې ویل چي اې مور جانې، لو کانت لکِ مائة نفس فخرجت نفسًا نفسًا ما ترکت دیني (ای موري که ستا سل نفسه وي او یو یو در څخه وځي زه به خپل دین پرې نږدم، نو ستا خوښه ده که خورک او څیښاک کوې وه یې کړه او که یې نه کوې مه یې کوه حتی چي مړه سې، که څه هم پېغور ماته راکړل کېږي) مور حمنة چي نا امیده سوه بیا ره یې خوراک شروع کړی او اوبه یې وڅیښلې.

وَإِن جَاهَدَاكَ لِتُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا

او که مور او پلار کوشش پر تا وکړي چي ته ما ته شریک وواېه هغه شی چي ستا علم یې پر الوهیت نه وي، نو په قول یې عمل مه کوه.

یوه سه: چي دا جمله په اضمار د قول معطوف ده پر وصینا، والتقدیر وقلنا له وان جاهداک الآیة، قال رسول الله ﷺ لا طاعة لمخلوق في معصیة الخالق، رواه احمد والحاکم عن عمران ﷺ، او بخاري، مسلم، ابو داؤد او نسائي د علي ﷺ څخه روایت کړی دی: لا طاعة لاحد في معصیة الله تعالی، انما الطاعة في المعروف.

درویش وایي: چي له دې آیت څخه دا معلومه سوه چي مور او پلار که څه هم کافران وي، زوی به ښه ورسره کوي او راضي کوي به یې او نفقه به ورکوي. او په امر د شرک او معصیت او په ما انکره الشرع من الشرک والمعصیة دې په خوله نه کوي، او په فتاوی هدیة المهدیین کي راغلي دي یجب علی المرء نفقة الابوین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الکافرین وخدمتهما وزیارتهما، او که زوی بېرېدی چي زه که د کافرو والدینو د پر د پر ملاقات کوم ما به کفر ته جلب کړي، نو زیارت دې نه کوي او که یې چېري مور او پلار راندہ وه او زوی ته یې وویل چي ما تربت خانې پوري مثلاً بوزه، نه دې بیایې ولي چي د دوی معصیت ته ځي یعني عبادت د بتانو مثلاً، او که بت خانې ته والدین تللي وه، زوی ته یې وویل چي مور تر کوره پوري بوزه پر واجبه ده چي خدمت به یې کوي کورته به یې راولي، قال الامام الهمام الغزالي رحمه الله چي اکثره علماء پر دې دي چي اطاعت د مور او پلار په مشتبه عملو کي واجب دی او په حرام قطعي کي واجب نه دی لان ترک الشبهة ورع ورضی الوالدین حتم واجب.

إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ۝٨

خاص ما ته ستاسي رجوع ده (نو مرجع مصدر میمي دی) یعني په ورځ د قیامت، نو زه به تاسي خبر کړم په هغو عملو چي تاسي یې عمل کاوه په دنیا کي یعني بالجزاء علیه.

بوه سه: چي دا ایت که څه هم په قصه کي د ام سعد نازل سوی دی، مفهوم یې عام دی، لا خصوص المورد لا یقتضی خصوص الحکم بل الحکم عام فافهم.

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَنُدْخِلَنَّهُمْ فِي الصَّالِحِينَ ۝٩

او هغه کسان چي ایمان یې راوړی وي او اعمال صالحه یې هم کړي وي، هر آئینه به موږ دوی داخل کړو په ډله کي د صالحانو بندګانو، من الانبیاء والشهداء والاولیاء، یا معنی داده چي په جمله کي د دوی به یې حشر کړم او یا به یې په جنت کي ورسره داخل کړم.

بوه سه: چي کمال په صلاح کي پای د درجاتو د مؤمنانو دی و متمنی د انبیاء الله والمرسلین، کما قال سلیمان علیه السلام وادخلني برحمتک في عبادک الصالحین. وقال یوسف علیه السلام توفني مسلمًا والحقني بالصالحین.

درویش وایي: چي له ابن عباس رضی الله عنهما څخه په صحیح سند ثابته سوې ده چي بعض خلګو د اهل مکه به ایمان راوړی ؤ لکن خپل اسلام به یې پټ ساتی، نو مشرکان د مکې چي بدر ته راتله، د دغه ډول څخه مسلمانان به یې هم د ځان سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ملګري کړي وه، ولې چې د مشرکانو ګمان دا ؤ چې دوی زموږ پر دین دي لاخفائهم الایمان غایة الاخفاء، بعض د هغو مسلمانانو څخه د بدر په غزاء کې ووژل سول چې مسلمانانو د مدینې دوی وپېژندل چې دا خو په پټه مسلمانان وه، نو طلب د بخښې به یې ورته کاوه، فنزلت الذین توفاهم الملائکة ظالمي انفسهم في سورة النساء، نو اصحابو د مدینې مکتوب نوشته کړی وه باقیمانده مسلمانانو ته د مکې، او دا یې ورته نوشته کړه چې تاسي خو هیڅ عذر نه لرئ چې په مکه کې اوسېږئ، بلکې باید هجرت وکړئ او مدینې ته راسئ، هغو ته چې خط ورسېدی سمدلاسه له مکې څخه په قصد د هجرت وه مدینې ته را روان سوه، کفار مکه چې په خبر سوه د دوی تعقب یې وکړی او بیرته یې مکې ته بوتله، نو دا آیت نازل سو.

وَمِنَ النَّاسِ مَن يَقُولُ آمَنَّا بِاللَّهِ فَإِذَا أُوذِيَ فِي اللَّهِ

او له خلکو څخه داسي کسان دي چې دوی ته عذاب ورکړل سي د کفارو له خوا پر اسلام باندي.

فائده: کلمه د في لپاره د سببیت ده، ای لاجل الله ﷻ کما ورد في الحدیث الصحیح الی امرئة دخلت النار في هرة، الحدیث.

فائده: من الناس په تاویل د بعض الناس مبتداء ده او من یقول یې خبر دی، او العکس یعني چې من یقول دي مبتداء وي او من الناس دي خبر مقدم وي، خلاف الاولی لان محط الفائدة الخبر ولا فائدة معتد به في ان یقول ان من یقولوا من جملة الناس وان ذهب الله البعض بتاویل بعید.

جَعَلَ فِتْنَةَ النَّاسِ كَعَذَابِ اللَّهِ ۖ

یعني عذاب د خلکو دوی ته پر اسلام "کعذاب الله" یعني په آخرت کې، یعني صبر یې مختاره نه کړی پر عذاب د کفارو، نو اطاعت د کفارو یې مختاره کړي او اسلام یې پرېښو لکه مسلمانان چې کفر او معاصي نه کوي په سبب د خوف له عذاب څخه د خدای ﷻ په اخرت کې، او پر ازار د کفارو صبر کوئ، او ددې آیت په باره کې آلوسي رح په روح المعاني کې وایي چې دا آیت په باره کې د بعضې ضعیفو مسلمانانو نازل سوی دی چې دوی ته به ازار د کفارو له خوا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورسېدی، نو دوی به د کفارو سره موافقت پر کفر وکړی، او د مسلمانانو څخه به یې دا راز پټ ساتی، وبذالک یکونون من المنافقين آه.

درویش وایي: چي مظهري ددې په تفسیر کي روایت د ابن عباس رضي الله عنه روا وړی دی هغه ددې آیت سره هیڅ سمون نه لري فطالع التفسیر المظهري، ولي چي دا آیت خو لکه آلوسي رحمه الله چي وویل په منافقینو کي کمایدل علیه ما سیئاتي ایضًا، وحدیث ابن عباس رضي الله عنه یدل علی ان هؤلاء کانوا من خلص المسلمین، حتی چي له مکې څخه ووتل لپاره د هجرت و مدینې ته مشرکین د مکې چي د هغو د بیرته راګرځولو لپاره پسي ورووتل هغو مسلمانانو د هغو سره جنګ مختار کړی او بعض یې شهیدان سول او بعضو ځانونه مدینې ته ورسول، والعجب من المظهري چي ده په خپله دا عبارت ویلی دی، عطف علی ماقبله ذکر المؤمنین اولاً ثم ذکر المنافقین انتهی.

درویش وایي: چي د روح البیان شان نزول ددې آیت موافق دی د بیان سره د روح المعاني، حیث قال البرسوي رحمه الله في روح البیان وهم اناس من ضعفة المسلمین الی اخیر ما قال اللآلوسي رحمه الله لکه چي ما دده د عبارت ترجمه رانقل کړه قریبًا والله اعلم.

وَلَئِنْ جَآءَ نَصْرٌ مِّنْ رَّبِّكَ لَيَقُوْلُنَّ اِنَّا كُنَّا مَعَكُمْ

او که چېري راسي یو کومک د خدای جل جلاله له خوا څخه ای فتح وغنیمة وه مسلمانانو ته، هر آئینه دوی یعني منافقین وایي چي موږ خوستاسي سره یو، یعني متحد په دین کي یعني موږ ته حصه په غنیمت کي راکړئ.

پوه سه: چي لیقولن جواب د قسم محذوف دی لفظًا، وفي المعنی جزاء الشرط، او دا جمله یعني ولئن جاء آه عطف ده پر جمله د فاذا اوذی آه.

درویش وایي: چي اخیرًا مظهري په قیل سره داسي ویلي دي، وقیل هذه الآیة نزلت في المنافقین.

اَوَلَيْسَ اللّٰهُ بِاَعْلَمَ بِمَا فِيْ صُدُوْرِ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۰﴾

پوه سه: چي همزه لپاره د انکار دی او نفي د نفي اثبات دی، یعني خدای جل جلاله خبر دی، والواو للحال والانکار راجع الی الحال، والمعنی الیس الحال انهم یقولون ذالک ولیس الله بعالم بما في صدورهم بل الحال ان الله عالم في صدور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العالمين، يعني من الاخلاص والنفاق فيجازي المنافقين على نفاقهم، په فارسي ترجمه د آيت داسي ده: آيا نيست خداى تعالى داناتر از همه دانايان بآنچه در سينه عالميانست، از صفاى اخلاص وكدورت نفاق انتهٰى. او روح المعاني وايي چي كلمه د واو عطف ده پر مقدر باندي، والتقدير ايخفى حالهم وليس الله الخ.

درويش وايي: چي دا اعراب موافق دى د امثالو سره د دغه آيت يعني تر همزه د استفهام وروسته حرف عطف راسي كه واو وي او كه فاء وي او كه ثم وي. كمامر مرارًا في هذا التفسير.

وَلَيَعْلَمَنَّ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَيَعْلَمَنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ ﴿۱۱﴾

جواب د قسم محذوف دى، والتقدير والله خداى ﷻ خبر دى په هغو كسانو چي ايمان يې راوړى وي يعني په كامل اخلاص سره "وليعلمن المنافقين" معناه ظاهر من تفسير الآية السابقة، والحاصل فيجازي كلا من الفريقين پر اندازه د مافي قلبه.

پوه سه: چي دا جمله معترضه ده، لپاره د وعد د ثواب للمؤمنين. او د وعيد د منافقينو.

درويش وايي: چي شعبي رح وايي چي دا لس آيته له اول څخه د سورت تر دې ځايه پوري مدني دي، او وروسته تر اخيره پوري د سورت مكي دي.

تنبيه: د شعبي رح مراد لس آيته دي په حساب د غير د قراؤ د كوفې.

وَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّبِعُوْا سَبِيْلَنَا وَلْنَحْمِلْ خَطٰيٰكُمْ ؕ

او وويل هغو كسانو چي كافران وه، يعني مشركانو د مكې هغو كسانو ته چي ايمان يې راوړى ؤ، فكلمة اللام للتبليغ يعني تبليغ يې ورته كاوه، تاسي متابعت وكړئ زموږ د لاري، ستاسي ګناه به په ورځ د آخرت موږ در څخه واخلو. كلبي او مقاتل رح وايي چي قائل د دې قول ابو سفيان ؤ، يعني و دين ته د نيكه ګانو چي شرك دى بيرته داخل سئ. مظهري وايي چي دا جمله عطف ده پر ما سبق من حال المنافقين.

سوال: قريشو خو خپل دين حق باله، نو د خطاء اطلاق يې څرنګه پر وكړى، او بل سوال دا دى چي دوى خو بعث بعد الموت نه مانه، نو د خطا حمل خو په ورځ د قيامت وي؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: دا خبره دوی فرضًا وکړه یعني که فرضًا شرک ګناه وه او بعث بعد الموت هم پېښ سو، نو ستاسي ګناه به موږ حمل کړو.

یوه سه: چي ولنحمل امر باللام دی یعني موږ به خپل ځانونه امر کړو په حمل سره ستاسي د خطایاؤ، نو په دې کي غایت مبالغه ده په اتباعو کي د دوی چي که فرضًا دوی متابعت د دوی وکړي یعني مسلمانان دلاوره کول دي پر متابعت د دوی په شرک کي، او فراء نحوي وایي چي لفظ د ولنحمل خو ظاهرًا امر دی لکن معنی یې اخبار دی مجازًا یعني ان اتبعتم سبیلنا حملنا خطایاکم کما في قوله تعالی في قصة موسٰی چي مور ته د موسٰی ؑ خدای ﷻ الهام وکړی چي کوچنی په تابوت کي کښېږده او رود نیل ته یې وغورځوه، چي داسي امر په معنی د خبر خدای ﷻ ووایه فلیلقه الیم بالساحل، چي ظاهر امر دی او معنی یې فیلقیه ده چي اخبار دی. فقیر وایي چي د دې تفصیل د مخه تېر سوی دی.

درویش وایي: چي چونکه په دې قول سره د مشرکانو باعثه کول وه د مسلمانانو پر متابعت د دوی، نو خدای ﷻ رد پر وکړی او د دوی رد یې وکړی په دې قول سره.

وَمَا هُمْ بِحَامِلِينَ مِنْ خَطَايَاهُمْ مِنْ شَيْءٍ إِنَّهُمْ لَكَاذِبُونَ

او نسي کېدای دوی وړونکي د خطایا څخه د دوی هیڅ شی یعني که څه هم قلیل وي، نو کلمه د من لپاره د استغراق د نفي ده، او په تحقیق دوی په دې خبره کي دروغجنان دي.

وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَعَ أَثْقَالِهِمْ

دغه ناصحان وه مسلمانانو ته چي زموږ متابعت وکړئ، وړي به خپل درانه بارونه د خپلو ګناهو چي دوی په خپله کړي دي من الشرک والمعاصي (روح المعاني وایي چي لام واقع په جواب کي د قسم محذوف دی، ای وبالله لیحملن اثقال انفسهم کاملة. انتهٰی) او نور بارونه سره د خپلو بارو چي دوی خلک باعثه کول پر کفر او شرک باندي کما مر في شان نزول الآیة چي دې ته په عربي اضلال وایي، او د سړي خپل کفر ته ضلال وایي، نو دا مضلین اثقال د خپل ضلال بې هم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وي او اثقال د نورو د اضلال بې هم وي من غير ان ينقص من اثقال من اضلوه شيئ ما اصلا ، نو اثقال د ګمراه کونکو د خلکو ډېر دي تر اثقال د خودي ضالينو ، کما ورد في الحديث الصحيح من سن في الاسلام سنة حسنة فله اجرها واجر من عمل بها الى يوم القيامة من ان ينقص من اجورهم شيئ ومن سن في الاسلام سنة سيئة فله وزرها ووزر من عمل بها الى يوم القيامة من غير ان ينقص من اوزارهم شيئ ، او کما قال رسول الله ﷺ.

وَلَيُسْـَٔلُنَّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ عَمَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۳﴾

ای والله چي خامخا به سوال وکړل سي له دوی څخه په ورځ د قيامت د هغه چي دوی وه او د رواغ یې ویله یعني چي خدای ﷻ لره شریک سته وغیره من المعاصي من الضلال والاضلال.

پوهه: چي دا سوال د تقريع او سرزنش دی او لپاره د تشهير د دوی دی په لويه اجتماع کي د ورځي د قيامت.... شيخ سعدي رح وايي:

مرو زیر بار گناه ای پسر .... که حمال عاجز بود در سفر

يو بل محقق وايي:

جمعست خيرها همه در خانه ونیست ..... آن خانه را کلید بغیر از فروتنی

شرها بدین قیاس بیک خانه راست جمع .... وآنرا کلید نیست بجز کبر و منی

"فروتني" يعني عاجزي او احتياج او زاري ، د ما معنی موږ او د منی معنی زه ، دواړه لفظه کنایه د تکبر او خودبیني څخه دی.

فائده: اثقال جمع د ثقل ده بالکسر وسکون القاف لکه حمل واحمال ، او ثقل او خفت سره متقابل دي ، هر شی چي په وزن یا کیل کي بالا سو هغه ثقيل بولي ، او چي کم سو هغه خفيف بولي ، په لغت کي خو ثقل او خفت صفت ده اجسامو دي ولکن وروسته فراخي پکښي وسوه چي په معانيو کي یې هم استعمال جاري سو ، کما في هذه الآية چي په ضلال او معاصي او اضلال کي استعمال سوه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَقَدْ اَرْسَلْنَا نُوْحًا اِلٰى قَوْمِهٖ فَلَبِثَ فِيْهِمْ اَلْفَ سَنَةٍ اِلَّا خَمْسِيْنَ عَامًا ۗ فَاَخَذَهُمُ الطُّوْفَانُ وَهُمْ ظٰلِمُوْنَ ﴿۱۴﴾

او په تحقیق موږ را استولی ؤ نوح ؑ و خپل قوم ته، نو ده درنګ و کړی یعني ژوند يې تېر کړی زر (۱۰۰۰) کاله مګر نه پنځوس کاله چي نهه نیم سوه (۹۵۰) کاله سي.

پوه سه: چي دا شروع په بیان کي د افتتان یعني په امتحان د انبیاء علیهم السلام په ازار د قومو د دوی وروسته تر بیان د افتتان د مؤمنانو په اذیت د کافرانو لپاره د تاکید د انکار پر هغو کسانو چي دوی ګمان کاوه چي موږ به پرې ښوول سو پر مجرد ایمان بلا افتتان او باعث کول دي د مؤمنانو پر صبر، ولي چي انبیاء ؑ مبتلاء سوه په تکالیفو او ازار د قومو له خوا څخه فصبروا علیها، نو دا مؤمنان چي د اذیت سره د کفارو مخامخ دی اولی بالصبر دي، روح المعاني وایي چي ظاهره داده چي وا و لپاره د عطف دی وهو من باب عطف القصة علی القصة دی، او مظهري وایي چي عطف دی علی قوله تعالی ولیعلمن المنافقین، ددې قصې په راوړو کي تسلي د علیه الصلوة والسلام هم ده چي کافرانو د مکې به دی ډېر ازارا وه.

پوه سه: چي امام سهیلي رح وایي چي د نوح اصل نوم عبد الغفار ؤ، او ابو اللیث السمرقندي وایي چي نوم يې الشاکر ؤ. او نوح يې له دې سببه نوم سو چي ده ډېر ژړل له خوفه څخه د خدای ﷻ، تاریخ قدیم وایي چي د تولد د نوح ؑ وروسته تر تېرېدو د (۱۶۴۲) من هبو آدم ؑ الی الارض، او د قوم څخه يې مراد ټوله اهل الدنیا ده.

سوال: د عموم د رسالت د نوح ؑ و ټوله مځکي والو ته او د نبینا ﷺ و ټوله اهل الارض ته په څه فرق سره کېږي؟

ځواب: ان نبینا ﷺ مبعوث الی کل من في الارض، چي په زمانه کي د ده وه الی یوم القیامة، بخلاف نوح ؑ لانه مبعوث الی جمیع من في الارض چي په زمانه کي د ده وه لا بعده کما في انسان العیون بنقل روح البیان.

پوه سه: چي نوح ؑ اول نبي دی چي لپاره د عبدة الاصنام مبعوث دی لان عبادة الاصنام اول ما حدث في قومه وارسله الله الیهم، او آدم ؑ اول رسول الله الی اولاده بالایمان بالله وتعلیم شرائع الله تعالی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: آدم علیه السلام ته زموږ د ټوله بشر اب اکبر دی، او نوح علیه السلام زموږ مخکي والو لپاره آب اصغر دی، ځکه یې تاریخ وال آدم ثاني بولي، ولي چي وروسته تر غرق د اهل الارض او د نجات د سفینه نوح علیه السلام ددغه زامن حام، صام او یافث ټوله اهل الارض الی یوم القیامة ددغه د زامنو اولاد دي الی یوم القیامة، تاریخ قدیم وایي چي د نوح علیه السلام قبر په کرک کي دی بفتح الکاف من ارض الشام کما في فتح الرحمان بنقل روح البیان. په بعض احادیثو کي راغلي دي چي نوح علیه السلام اطول الانبیاء دی عمراً، ابن ابی الدنیا له انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چي ملک الموت چي نوح علیه السلام ته راغلی د روح د قبض کولو لپاره داسي یې ورته وویل یا اطول النبیین عمراً کیف وجدت الدنیا ولذتها؟ نوح علیه السلام ورته وویل چي داسي را باندي تېره سوه لکه یو سړی چي په یوه خونه ننوځي چي دوې دروازې لري، د دوو دروازو تر منځ یو ګړی ودرېږي، او بیا پر دغه بله دروازه ووځي.

درویش وایي: چي په ټوله عمر کي د نوح علیه السلام اختلاف دی چي بیان یې په تفصیل سره د علامه بغدادي په تفسیر روح المعاني کي دی. زه خپل د تفسیر متعلمان په دې کش مکش کي نه اچوم، که اهل علم یې تفصیل غواړي روح المعاني دي مطالعه کړي. لکن دغه یو روایت ابن عباس رضی الله عنه او ابن ابی شیبة، عبد بن حمید، ابن المنذر، ابن ابی حاتم، ابو الشیخ او حاکم رحمهم الله یې هم روایت کړی دی، او حدیث یې صحیح هم بللی دی چي مظهري او روح البیان او روح المعاني په خپل تفاسیرو کي، او ابو اللیث السمرقندي وغیرهم راوړی دی، د بیان وړ دی، ابن عباس رضی الله عنهما وایي چي نوح علیه السلام پر څلوېښت کاله نبي سو، او په قوم کي ده دعوت او تبلیغ زر کاله په پنځوس کم تېر کړه، او وروسته تر طوفان شپېته (۶۰) کاله نور ژوندی و حتی چي په مځکه کي انسانان ډېر سول، نو مجموع عمر د نوح علیه السلام (۱۰۵۰) کال دی.

فَأَنجَيۡنَٰهُ وَأَصۡحَٰبَ ٱلسَّفِينَةِ وَجَعَلۡنَٰهَآ ءَايَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ۝١٥

نو نجات ورکړی موږ و نوح علیه السلام ته او هغو کسانو ته چي دده سره په کښتۍ کي سپاره وه (چي دده درې زامن حام، سام، یافث او د دوی زوجاتي وې او نور دده اتباع وه. بعض راویان وایي چي اتیا کسه وه او بعض وایي چي اته اوویا (۷۸) کسه وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بعض وايي چي اته (۸) کسه وه نيم نر وه نيمي ښځي وې) موږ وګرځول دا سفينه يا حادثه عبرت د عالميانو لپاره چي دوی دليل په دوايي پر عظيم قدرت د خدای ﷻ يعني چي د تاريخ په پاڼو کي وويني بلکې خپل کښتی پر جودي باندي تر نژدې د خروج نبي عليه موجوده وه، کما في تفسير ابو الليث السمرقندي رحمه الله ... د منځ کېږي د طوفان او د هجرت الشريفة درې زره او نهه سوه څلور اوويا (۳۹۷۴) کاله تېر سوي وه، على ما في فتح الرحمٰن .... پوهان وايي:

گر عمر تو عمر نوح ولقمان باشد .... آخير بروی چنانچه فرمان باشد
در بودن دنيا وبرون رفتن ازو ...... يکروز و هزار سال يکسان باشد

وقيل في العربية:

الا انما الدنيا كظل سحابة .... اظلتك يومًا ثم عنك اضمحلت
فلا تك فرحانًا بها حين اقبلت .... ولا تك جزعانًا بها حين ولت

درويش وايي: چي الحسن رحمه الله وايي چي افضل د خلګو ثوابًا مؤمن معمر دی يعني په ماسوی کي د انبياء عليهم السلام والا يلزم تفضيل نوح ؑ على سيد البشر ﷺ فافهم.

پوښتنه: پر هغه روايت چي په کښتی کي د نوح ؑ اته کسه نر او ښځي وې. خو دا خبره صحيح ده چي نوح ؑ د مځکي آب اصغر دی، ولي چي دده درې زامن او د هغو درې زجات خو، نو شپږ سوه، او نوح ؑ او زوجه دده چي ورسره حساب کړل سي اته کسه ته رسيږي، او پر هغه روايت چي دده سره اتيا کسه نر او ښځي وې، نو دوی يعني نوح ؑ او زامن خو اته کسه سوه دا نور خو دده څخه بېګانه خلک وه يعني که يې څه هم اتباع وه لکن د نوح ؑ له نسل څخه نه وه، نو بيا نوح ؑ آدم اصغر وبلل سو؟

ځواب: هو! بېګانه خلک خو ورسره وه لکن هغه چي د کښتی څخه ووتل هغه کسان يو څو عمر ژوندي وه او نسل يې قطع ؤ چي دوی مړه سوه فقط پر مځکه نسل نوح او دده زامن پاته سوه، رفته رفته په شپېته کاله کي د هغو نسل ډېر سو، نو په هم دې لحاظ نوح ؑ آدم اصغر سو.

وَإِبْرَٰهِيمَ إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱتَّقُوهُ

"وابراهيم" عطف دی پر نوح، والمعنی وارسلنا ابراهيم يا منصوب دی په اضمار د اذکر يعني واذکر يا محمد (ﷺ) لقومک قصة ابراهيم، چي وه يې ويل و

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قوم ته خپل چې چي عبادت کوئ د خدای ﷻ (له عبادت څخه مراد توحيد دی ولي قوم د ابراهيم ؑ مشرکان وه) او د خدای ﷻ له عذابه وېرېږئ، يعنې که پر شرک مړه سئ يعنې عذاب الله في يوم القيامة.

ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُونَ ﴿١٦﴾

دغه توحيد او وېره د خدای ﷻ ښه ده تر شرک چې تاسې پر ياست که چېرې ياست تاسې اهل علم، نو پر دې تقدير تعلمون منزل منزلة اللازم دی، يعنې مفعول نه غواړي او يا يې مفعول محذوف دی، والتقدير تعلمون الخير والشر او جزاء د شرط محذوف ده يعنې فاختاروا التوحيد والتقوى.

پوه سه: چې خير دلته صفت مشبه دی اسم تفضيل نه دی، ولي چې په شرک کې خو هيڅ خير نسته کما لا يخفى، او يا مبني پر زعم د دوی دی فافهم.

إِنَّمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَوْثَانًا وَتَخْلُقُونَ إِفْكًا

تاسې عبادت نه کوئ بېله خدايه مګر د بتانو چې د بري دي چې نې عبادت نفع لري او نه يې ترک د عبادت ضرر لري.

پوه سه: چې تخلقون يا په معنی د تکذبون دی، نو افکا يې مفعول مطلق دی او يا تخلقون په معنی د تقولون دی، والمعنى تقولون قولاً ذا افک چې وايئ ياست دا بتان آلهه او خدايان دي او دعوی د شفاعت عند الله يې کوي په دې آيت کې بيان دی شفاعة د حال د دوی او پر شرارت د قول د دوی چې دا بتان خدايان دي لانه کذب بحث وباطل خالص.

إِنَّ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ لَا يَمْلِكُونَ لَكُمْ رِزْقًا

په تحقيق دغه شيان چې تاسې يې عبادت کوئ ماسوئ له خدای ﷻ څخه چې بتان دي، مالکان نه دي چې تاسې ته رزق درکړي لکونها جمادات، دا دليل آخر دی پر شرارت د عبادت د دغو بتانو، ولي نفع يې نه دررسېږي.

پوه سه: چې رزق په معنی د مرزوق دی او تنکير يې لپاره د عموم دی، يعنې هيڅ څوک رزق نسي درکولای، او يا د تحقير دی يعنې رزق قليل نسي درکولای فضلاً عن الکثير والمعبود لابد انيکون رازقاً لعابديه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَابْتَغُوا عِنْدَ اللّٰهِ الرِّزْقَ وَاعْبُدُوْهُ وَاشْكُرُوْا لَهٗ ؕ اِلَيْهِ تُرْجَعُوْنَ ﴿۱۷﴾

نو تاسي غوا ړئ له خدای ﷻ څخه رزق، ولي چي رازق او مالک د ټولو شیانو خدای ﷻ دی (عند په معنی د عن دی) او تاسي عبادت د خدای ﷻ کوئ یعني په خپلو مطالبو کي توسل په خدای ﷻ سره کوئ او هر څه نعمتونه چي تاسي ته درکړل سوي دي هغه د خدای ﷻ له خوا دي د بتانو د خوا نه دي. نو شکر د خدای ﷻ وایاست پر هغو نعمتو باندي، خاص و خدای ﷻ ته تاسي راجع کړل کېږئ یعني په ورځ د قیامت.

پوه سه: چي دا جمله "الیه ترجعون" حال ده له فاعل څخه د اشکروا چي داسي قسم حال ته حال مقدره وایي ای مقدرین الرجوع الیه تعالی.

وَاِنْ تُكَذِّبُوْا فَقَدْ كَذَّبَ اُمَمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ؕ

او که تاسي تکذیب وکړی زما (فالمفعول محذوف) نو په تحقیق تکذیب کړی ؤ ډېرو امتو د رسولانو (فالمفعول محذوف ای رسلاً)

پوه سه: چي فقد کذب آه دلیل د جواب د ان تکذبوا دی په ځای کي د جواب د رول سوی دی یعني فلا تضرونني بتکذیبکم، ولي چي من قبلکم من الامم هم تکذیب د خپلو رسولانو وکړی لکه شیث او ادریس او نوح علیهم السلام لکن تکذیب د هغو اممو و هغو رسولانو ته تاوان ونه کړی بلکي خپلو ځانو ته یې تاوان او ضرر ورساوه چي د خدای ﷻ عذاب پر نازل سو، نو ستاسي د تکذیب اخیر کار به هم عذاب وي.

وَمَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۱۸﴾

او نسته پر رسول (الف و لام لپاره د جنس دی) مگر تبلیغ د امر او نهي د خدای ښکاره کونکی د حق هغه رسول خپله وظیفه پر ځای کړه د رسول پر ذمه دا نسته چي حتمًا بې خلک تصدیق کوي تکذیب به یې نه کوي.

پوه سه: چي په دې آیت کي تسلي ده و علیه الصلوة والسلام ته او توصیه د صبر ده، او زجر دی د کفارو د قریشو، فیما فعلوا من تکذیبه ﷺ.

تنبیه: علماء رح په یوه خوله وایي چي تقوی (یعني بېره د خدای ﷻ له عذاب څخه د یوم التلاق لکن بېره د خولې یوائي نه بلکي اصلاً تقوی صفت د زړه ده لا نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رئيس البدن والاعضاء كلها فاذا خاف من الله خاف جميع الاعضاء، او لـه دي سببه سيد البشرﷺ وويـل: التقوىٰ ههنا واشار بيده الى القلب ثلاثا كما ورد في الحديث الصحيح) او علماءرح وايي چي تقوىٰ و قبول وصية الملک الاقوىٰ جلت عظمته سبب النجاة يوم التلاق من عذاب الملک الجبار، وجالبة الارزاق، او لوى له اسبابو څخه د تقوىٰ کلمة التوحيد ده چي اساس د ايمان ده ومفتاح ابواب الجنان ده او مغلاق ابواب النيران ده (يعني کلي د دروازو د جنتو او قلف دى د دروازو د دوزخ هم دا سر دى چي د هر نبي اول دعوت توحيد دى يعني لا اله الا الله)

درويش وايي: چي په صحيح حديث کي راغلي دي چي په زمانه کي د خلافت د ابوبکر الصديقؓ يو ورځ عمرؓ يو ځاى چي عثمانؓ ناست وُ تيرېدى، نو عمرؓ عثمانؓ ته سلام وواييه، عثمانؓ د سلام ځواب ورنه کړى. نو عمرؓ خليفة المسلمين ابوبکرؓ ته شکايت وکړى، ابوبکرؓ ورته وويل چي شايد عثمانؓ به يو عذر درلودى، نو ابوبکرؓ عثمانؓ ته سړى ورواستاوه او د عمرؓ د شکايت بيان يې ورته وکړى، عثمانؓ ورته وويل چي ما د عمرؓ سلام نه دى اورېدلى، ولي چي په يو شي کي متفکروم چي هغه شى دا وُ چي مو ږ د ېره زمانه په صحبت کي د آنحضرتﷺ تېره کړه او دا پوښتنه مو څندي ونه کړه چي: ما تفتح ابواب الجنان، وتغلق ابواب النيران (چي هغه کوم شى دى چي دروازې د جنتو خلاصوي او تړي دروازې د اور)، ابوبکرؓ ورته وويل چي دا پوښتنه ما د عليه الصلوة والسلام څخه کړې ده، رسول اللهﷺ راته وويل چي هغه شى هغه کلمه ده چي ما پر خپل اکا ابو طالب عرض کړه او هغه يې له قبول څخه منع وکړه يعني لا اله الا الله محمد رسول الله، نتيجه: ذکر د کلمة التوحيد اکثر الاشياء تاثيراً فاذکروا الله کثيراً.

اَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللّٰهُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ

درويش وايي: چي روح البيان ويلي دي چي دا آيت جمله معترضه ده په منځ کي د دوو طرفو د قصي د ابراهيمؑ لپاره د اهل مکه. او انکار دى د دوى د تکذيب يعني د اهل مکه په انکار د بعث بعد الموت مع وضوح دليله. والهمزة لانکار عدم رؤيتهم، نو په قرار د دې چي نفي د نفي اثبات دى، نو تقرير دى د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رؤیت ددوی او کلمه د واو عطف ده پر مقدر باندي ای تقدیره الم ینظروا ولم یروا ومعنی الآیة ایا کفار مکه نه ویني چي څرنګه خدای ﷻ ابتداء خلق د مخلوق کړی ده، امام غزالي رحمه الله وایي چي ایجاد د شي چي دمخه یې مثل نه وي ابداء یې بولي او که مسبوق په مثل سره ؤ اعاده یې بولي، خدای پاک بدء خلق الانسان ثم یعیدهم من العدم الی الوجود ویحشرهم والاشیاء کلها منه تعالی بدت والیه تعود انتهی قول الغزالي رحمه الله، ومعنی الآیة الم ینظروا ای اهل مکة وکفار مکة ای القریش ولم یعلموا علمًا جاریًا مجری الرؤیة في الجلاء والظهور کیفیة خلق الله (په تفسیر کي فقیر داسي وویل علمًا جاریًا آه د دفع د سوال چي کیفیت د ایجاد د خدای ﷻ په سترګو نه لیدل کېږي، وحاصل الجواب ظاهر)

"ثم یعیده" وروسته بیرته را ګرځوي خلق و وجود ته یعني بالبعث بعد الموت.

پوه سه: چي دا جمله عطف ده پر اولم یروا باندي پر یبدء نه ده عطف، ولي چي اعاده خو ددوی رؤیت نه دی واقع سوی او نه دوی په علم مثل الرؤیة علم پر لري، بلکي مشرکین خو د بعث بعد الموت څخه منکر دي، بلکي دا جمله اخبار دی د خدای ﷻ له خوا څخه انه یعید الخلق قیاسًا علی الابداء، شیخ سعدي رحمه الله وایي:

بامرش وجود از عدم نقش بست ...... که داند جز او کردن از نیست هست

وګر ره بکتم عدم در برد ...... وز آنجا بصحرائی محشر برد

درویش وایي: چي علامه بغدادي رحمه الله دغه د روح البیان احتمال بیان کړی دی یعني چي اولم یروا جمله معترضه ده په منځ کي د قصې د ابراهیم عليه السلام او قوم تر منځ.

پوه سه: چي روح البیان صرف دغه یو احتمال راوړی دی وبس، او مظهري دا جمله له کلام څخه د ابراهیم عليه السلام بولي فقط، او روح المعاني دواړه احتمالات راوړي دي. والله تعالی اعلم بمراده في کتابه.

إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ﴿١٩﴾

په تحقیق دغه اعاده بعد الموت و خدای ﷻ ته آسانه ده، ولي افعال د خدای ﷻ وآلاتو او اسبابو ته نه دي محتاج.

پوه سه: چي ذالک اشاره ده و اعادې ته بعد الموت په تاویل د ما ذکر، دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جواب دی د سوال چي ذالک اشاره د مذکر ده او اعاده مؤنث. او ددې سوال ځواب دا هم دی چي اعاده په تاویل د حدث اشاره ده مذکر ورته روا ده. او دا هم ځواب کېدای سي چي اراده خو مؤنث غیر حقیقي ده، او قانون نحوي دی چي پر مؤنث غیر حقیقي احکام د مذکر او مؤنث دواړو جاري کېږي.

قُلْ سِيْرُوْا فِى الْاَرْضِ فَانْظُرُوْا كَيْفَ بَدَاَ الْخَلْقَ

مظهري رح وايي چي دا آيت خطاب دی د خدای ﷻ له خوا څخه و ابراهيم عليه السلام ته، لكن چونكه د ماقبل سره يې ربط مشكل ؤ، نو ده ويلي دي په تقدير د قول يعني قلنا لابراهيم قل سيروا.

درويش وايي: چي دا خو د مظهري هغه رائيه ده چي موږ وويل چي دا آيتونه مظهري د قصې د ابراهيم عليه السلام بيان بولي، لكن د هغه بل احتمال چي د روح البيان نظريه وه چي دا آيتونه جمل معترضه په منځ د طرفی د قصې د ابراهيم ع هم راوړی دی حيث قال او خطاب لرسول الله ﷺ آه، او روح البيان پر خپله پخوانۍ نظريه يې ترجمه داسي كړې ده: قل يا محمد لمنكري البعث (يعني قريشو ته د مكې چي بعث بعد الموت نه مني) چي تاسي سفر وكړئ په اطرافو كي د مځكي، نو وګورئ چي څرنګه خدای ﷻ ابتداءً پيدا كړي دي مخلوق خپل پر اجناسو مختلفه وو، من السماء والارض وو الجبال و الحيوانات بانواعها، والنباتات واجناسها او دا غه رنګه مختلف الافعال والاحوال.

ثُمَّ اللّٰهُ يُنْشِئُ النَّشْاَةَ الْاٰخِرَةَ ؕ

وروسته الله تعالی ﷻ پيدا كوي نشاة الآخرة يعني المخلوقات بعد العدم.

يوه سه: چي لفظ د كيف بدء الخلق تر دې ځايه پوري دليل دی پر اثبات د جواز الاعادة چي مشركين د مكې ځندي منكروه، وحاصل الدليل ان الاعادة مثل الابداء فمن كان قادرًا علی الابداء (لكه چي كفار د مكې په دې سره اقرار كاوه چي ابداء د خدای ﷻ له خوا څخه ده لكه دوی ته چي به وويل سول چي تاسي چا پيدا كړي ياست دوی به ورته ويل چي الله پيدا كړي يو) يكون قادرًا علی الاعادة ولا يعجزه الاعادة.

يوه سه: چي نشاة مصدر دی د نشاء نشاءة معنی يې "حي" ژوندی يې كړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"وربي" او تربیه یې ورکړه "وشب" او کمال ته صورت د نوع یې ورساوه.
پوه سه: چي نشائة مصدر ده له باب څخه د مجرد دی. او یشني مضارع له بابه څخه د افعال ده نو مصدر د مجرد یې په ځای کي د اصل مصدر چي انشاء ؤ راوړی. وهذا جائز في العربية، نحو انبتها الله نباتًا، ونحو سَبَّحَ بتشديد البا، يعني الماضي من باب التفعيل يسبحانًا يعني المصدر من باب المجرد چي دې ته په اصطلاح د نحاتو اسم مصدر وايي يعني اسم قائم مقام المصدر وامثلته كثيرة في لسان العرب.

إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٢٠﴾

په تحقیق خدای ﷻ پر هر شي کامل القدرة دی (نو قدیر ههنا صیغه د مبالغې ده) دا آیت له قسمه څخه د دلیل د جواز الاعادة دی، ولي اعاده هم یو شی ده لکه ابداء چي شی ده. فالقاد علیه قادر علیها.

يُعَذِّبُ مَن يَشَاءُ وَيَرْحَمُ مَن يَشَاءُ ۖ وَإِلَيْهِ تُقْلَبُونَ ﴿٢١﴾

په عذابوي خدای ﷻ هغه څوک چي اراده د تعذیب یې وکړي په آخرت کي په اور سره او په دنیا کي په رسوايي سره. ککفار مکة في البدر. او رحم کوي پر هغه چا چي اراده د رحم ورته وکړي په ادخال د جنت په آخرت کي او په دنیا کي په نصرت پر اعداء کالمؤمنين یوم بدر او یا په قناعت سره په وخت کي د فقر او مسکنت یا په حسن خلق سره یا په توفیق پر عبادات شاقه وو باندي ونحو ذالک. او خاص و خدای ﷻ ته ستاسي رجوع کړل کیږي په ورځ د قیامت.
نکته: تعذیب یې د مخه کړی، ولي ترهیب او بېرول انسب دی د مقام سره وعظ ولان التخلية مقدمة على التحلية فافهم.

وَمَا أَنتُم بِمُعْجِزِينَ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ

او نه یاست تاسي چي عاجزه دي کړي خدای ﷻ په مځکه کي یا په اسمانو کي یعني فرضًا که تاسي په اعماقو کي د مځکي ځانونه پټ کړئ او یا و اسمان ته وخیژئ، او یا مراد له اسمان څخه لوړي لوړي قلاوي دي، حسين کاشفي رح په تفسیر حسيني کي وايي: درکشف الاسرار اورده که عذابش ازروی عدل است.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورحمتش از راه فضل پس هر که را باوی عدل کند از پیش براند وآنرا که خواهد باوی فضل نماید بلطف خویش بخواند، انتهی.

وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِن وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ ﴿٢٢﴾

او نسته تاسي لره ماسوی له خدای ﷻ څخه یو دوست او نه هم کومکي چي تاسي دي د هغو بلاوو څخه چي له مځکي څخه راوځي لکه زلزلّه او خسف وغیرهما، یا د هغو بلاوو څخه چي له اسمانه نازلېږي لکه د بري د قوم لوط یا د وریځي څخه تکه یا برق وغیرها.

فائده: د ولي او نصیر تر منځ عموم او خصوص من وجه دی، مادة الاجتماع ځوان زوی د پلار چي هم ولي دی او هم ناصر مادة الافتراق الولي عن النصیر الولد الصغیر للاب، ومادة افتراق النصیر عن الولي الاجنبي النصیر فافهم.

وَالَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ اللَّهِ وَلِقَائِهِ أُولَٰئِكَ يَئِسُوا مِن رَّحْمَتِي

او هغه کسان چي کفر کوي په آیاتو د خدای ﷻ یعني بدلائل وحدانیته تعالی او په هغو آیاتو سره چي نازل سوي دي له جانبه د خدای ﷻ، هغه خلګ به نا امیده سي یعني په ورځ د قیامت زما له رحمت عامه څخه، او یا مراد له رحمت څخه جنت دی، او د نا امیدی څخه مراد نا امیدي د دنیا ده، او مضارع لپاره د حال ده یعني دوی اوس نا امیده دي له جنت څخه، ولي چي دوی د بعث بعد الموت څخه منکر دي.

وَأُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٣﴾

او دوی لره دی په آخرت کي عذاب درد ورکونکی یعني اور د دوږخ.

درویش وایي: چي مظهري تر هغه خپل د مخه وینا چي دا تېولي خبري د ابراهیم ؑ دي داسي دلته ویلي دي هذه إن کان من کلام ابراهیم ؑ فالتقدیر قال الله تعالی والذین کفروا بآیات الله اولئک الذین یئسوا من رحمتي.

درویش وایي: چي تقدیراتو ته څه ضرورت ؤ الحق ان الآیات المذکورة جمل معترضه دي له جانبه څخه د خدای ﷻ و علیه الصلوة والسلام ته، یعني د هغه ځای څخه قل سیروا في الارض او مخاطب په قل سره آنحضرت ﷺ دی او د سیروا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ضمیر راجع دی و کفارو ته د قریشو، او دا وس بیرته رجوع ده و قصې ته د ابراهیم[ع] لکه روح البیان چي ویلي وه کما مر منا من قبل.

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوا۟ ٱقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ

نو نه ؤ ځواب د قوم دده، نو دا آیت عطف دی علی ارسلنا ابراهیم الی قوله. الا ان قالوا آه، مګر دا خبره وه چي ابراهیم به یا قتل کړي یا به یې په اور وسوځي. یعني بعض د قوم و نورو ته دا خبره کوله چي قتل یې کړي یا یې په اور وسوځي، او یا یوه سړي د قوم ابراهیم دا خبره وکړه، اسناد چي یې ټولو ته وکړی هغه نور هم په راضي وه کما في قولهم بنوا فلان قتلوا مع ان القاتل منهم واحد.

پوه سه: چي لفظ د جواب منصوب دی چي خبر د کان دی او اسم د کان قوله تعالی دی الا ان قالوا آه، ان مصدریه دی ای الا قولهم.

سوال: احراق بالنار خو هم قتل دی، نو تردید په منځ کي اقتلوه او حرقوه څرنګه صحیح دی؟

ځواب: مراد د قتل څخه قتل بالسیف دی، نو مقابله صحیح ده، او هغه ځواب ته ضرورت نسته لکه چي بعضي مفسرینو ویلي دي چي او په معنی د بل دی.

نکته: دد ې تردید فائده داده چي یا یې قتل کړئ، نو ژر به ځندي خلاص سو، او یا اور ور ته بل کړئ چي دد ې اور له لیدلو څخه به شاید ابراهیم[ع] ستاسي و دین ته رجوع وکړي، او که پر خپل دین او خبره ټینګ سو، نو د اور په سوځلو به زموږ بنه زړه په سوړ سي.

فَأَنجَىٰهُ ٱللَّهُ مِنَ ٱلنَّارِ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَـٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ﴿٢٤﴾

نو خدای جل جلاله په قدرت عظیمه سره خپل ابراهیم[ع] ته نجات ورکړی د اور د سوځېدلو څخه بان جعله علیه بردًا وسلامًا کما في موضع آخر من القرآن، په تحقیق په دې انجاء کي د ابراهیم[ع] ډېر دلائل دي.

پوه سه: چي دا جلمه "فانجینه من النار" عطف ده پر محذوف باندي، والتقدیر فاتفقوا علی تحریقه بالنار فقذفوه في النار فانجاه الله تعالی، پر قدرت د معبود بالحق (۱) حفظه من حرق النار (۲) اوبردًا و سلام وګرځېدی خلاف طبعه (۳) د اور

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لمبې کراري سوې په لږ زمانه کې، او سره ددې چې عظيم الشان اور ؤ، کما مر سابقًا. د اور په منځ کې د ګلانو روضه پيدا سوه ''لقوم يؤمنون'' د هغو خلکو لپاره چې د خداى ﷻ پر لوى قدرت ايمان لري، وانما قال ذالک لانهم المنتفعون بها.

وَقَالَ إِنَّمَا اتَّخَذْتُم مِّن دُونِ اللَّهِ أَوْثَانًا

او وويل ابراهيم ؑ په خطاب کې و خپل قوم ته، تاسي ګرځولي دي بتان خدايان نه د يو دليل د لارې؟ بلکې ددې لپاره چې ستاسي تر منځ محبت پيدا سي په سبب د اجتماع ستاسي پر عبادت ددې بتانو. لکه بعض خلک چې پر يو مذهب سره متفق وي که څه هم هغه مذهب غلط او باطل وي لکن ددوى لپاره سبب د محبت او اتفاق ګرځي. کالشيعة والمعتزلة والخوارج وغيرهم من فرق الضلال چې دوى له سببه د اتحاد المذهب يو د بل سره ايتلاف او محبت کوي.

مَّوَدَّةَ بَيْنِكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا

يعني تر هغو پورې چې تاسي په دنيا کې باقي ياست، تفسير حسيني وايي: ميخواهيد تا شمارا در عبادت آن بتان اجتماعى باشد ودوستى بايک ديگرى وتاکيد يک ديگرى را اتباع ميکنيد وبر آن اتباع دوست يکديگر ميشويد، همچنانکه مؤمنان در عبادت الله بايکديگرى مهر ومحبت دارند، وتا در دنيا باشيد آن دوستى باقيست انتهى.

ثُمَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُ بَعْضُكُم بِبَعْضٍ وَيَلْعَنُ بَعْضُكُم بَعْضًا

يعني وروسته تر وتلو د دنيا څخه د آخرت و ؤرځ ته ''يکفر بعضکم'' چې عابدان دي منکر به ګرځي ''ببعض'' چې بتان دي، لعنت به وايي او ښکنځل به کوي هر د دله يعني تاسي عابدان او ستاسي پر هغه بله ډله، يعني هغه محبت د دنيا به مو په بغض سره بدل سي يو تر بله.

پوښتنه: عابدان خو انسانان دي لعنت او ښکنځل کولاى سي، بتان خو ډبرې او جمادات دي، هغه څرنګه لعنت ويلاى سي؟

ځواب: دوى که څه هم جمادات دي لکن خداى ﷻ يې پر خبرو راولي لپاره د تحسر او پښېمانۍ د عابدانو، ولې په دنيا کې به دوى يعني عابدانو داويل هؤلاء

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شفعائنا عند الله، یعني که فرضًا بعث بعد الموت ؤ، نو بتان به زموږ شفاعت
کوي، لکه په بل ځای کي د قرآن مبارک چي راغلي دي چي په ورځ د قیامت
کافران پر خپلو معاصیو منکر سي اعضاء د دوی پر دوی شاهدي ورکوي، او
کافران چي خپل اعضاء ملامت وکړي چي تاسي ولي پر موږ شاهدي اداء کړه خو
تاسي په اور د دوږخ کي سوځئ او موږ چي انکار کاوه ستاسي غم راسره ؤ؟
اعضاء ورته وایي انطقنا الله الذي انطق کل شیئ.

وَّمَأْوٰىكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِّنْ نّٰصِرِيْنَ

او ځای ستاسي عابدانو او معبودانو اور دی، او نسته تاسي لره یو کومک
کونکی چي تاسي له عذابه خلاص کړي.

پوه سه: چي ناصرین جمع راوړی په سبب د وقوع په مقابل کي د جمع یعني
لکم، والمعنی مالاحد منکم من ناصر اصلاً.

سوال: د معبودینو چي د دېرو بتان دي په اور یې څه باک کېږي، ولي خو
جمادات دي؟

ځواب: نعم د بتانو په اور کي د اچولو دا مطلب نه دی چي بتانو ته خدای پاک
عذاب ورکوي لعدم کونها مکلفین بلکي لپاره د غایت تحسر او غم او پښېماني
د عابدانو سره یې یو ځای کړه، والله اعلم.

فَاٰمَنَ لَهٗ لُوْطٌ

نو ایمان راوړی پر ابراهیم لوط علیه السلام.

پوه سه: چي آمن له و آمن به متقاربان دي، والمعنی بعض مفسرین وایي چي
لوط د ابراهیم د خور زوی ؤ چي په پښتو یې خوریی بولي، او په فارسي یې
خواهر زاده بولي، لکن اکثره مفسرین وایي چي د ابراهیم د ورور هاران زوی ؤ
چي په پښتو یې وراره بولي او په فارسي یې برادر زاده بولي، والمعنی صدقه في
جمیع مقالاته، یعني په ټولو خبرو کي د ابراهیم تصدیق وکړی، دا معنا نه ده چي
په صرف نبوت کي او په دعوه کي د توحید یې دده متابعت وکړی، ولي بېي دې
څخه دا ګمان کېږي چي لوط دمخه مشرک ؤ العیاذ بالله، لان الانبیاء علیهم السلام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معصومون من الكفر والمعاصي الكبيرة قبل النبوة وبعدها.

فائده: درويش په عصمت كي د انبياء كرامو عليهم السلام يوه محققه رساله تصنيف كړې ده چي نوم يې دى "كشف الغطاء عن عصمت الانبياء" چي د احاديثو په رڼا كي او د اصول الفقه او د كتابو د فقه او علم الكلام د كتابو څخه په نقل زيبا ده، او د عصر د علماؤ د قندهار او د هرات د علماؤ تقاريظ او امضاء پر موجود دي، د هغې رسالې مطالعه ضروري ده.

وَقَالَ اِنِّيْ مُهَاجِرٌ اِلٰى رَبِّيْ ط

وويل ابراهيم ؑ ته او ساره ته چي دده د اكار لوروه او د ابراهيم ؑ په نكاح كي وه او هغې د مخه پر ابراهيم ؑ ايمان راوړى ؤ، په تحقيق زه هجرت كوم و خداى ﷻ ته يعني چي خداى ﷻ ماته امر كړى دى، او يا معنى د آيت داده چي هجرت كوم هغه ځاى ته چي هورې زه عبادت د خداى ﷻ وكړم په آسانى سره يعني بلا مانع.

پوهسه: چي ابراهيم ؑ له كوثى څخه (چي په اطرافو كي د كوفې د يوې قريې نوم دى) او لوط ؑ او ساره ؓ هم ورسره وه، علماء او تاريخ پوهان وايي چي دا اول هجرت ؤ له وطن مالوف څخه في سبيل الله (د اسماء بن ابابكر ؓ څخه روايت دى چي عثمان ؓ له مكې څخه حبشې ته هجرت وكړى، نو رسول الله ﷺ دده په شان كي داسي وويل: هو اول من هاجر بعد ابراهيم ولوط ؑ) نو ابراهيم ؑ په فلسطين كي واړول او لوط ؑ په سدوم كي اقامت پذير سو، او تاريخ قديم وايي چي د ابراهيم ؑ عمر حين الهجرة پنځه اوويا (۷۵) كاله ؤ.

اِنَّهٗ هُوَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ۝

په تحقيق خداى ﷻ غالب دى چي زه يې د نمرود غوندي متكبر مدعي الالوهية او دده د ظالمانو تابعانو څخه په صحت او عافيت خلاص كړم (دا قول د ابراهيم ؑ دى چي خداى ﷻ يې حكايت كړى دى) او خداى ﷻ په هر كار كي حكمت لري چي زه يې امر كړى يم په هجرت له كوفې څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَوَهَبْنَا لَهٗٓ اِسْحٰقَ وَ يَعْقُوْبَ

مونږ هبه کړی ده ته اسحٰق يعني هغه وخت چي ابراهيم؏ له عيال څخه نا اميده سوی ؤ په سبب د کبر سن، او د اسحٰق مور ساره ؓ عاقره وه يعني وچه.

فائده: د اسحٰق ولادت وروسته ؤ تر ولادت د اسماعيل؏ له هاجره څخه "ويعقوب" عطف دی پر اسحٰق. يعني يعقوب بن اسحٰق بن ابراهيم؏ چي په عربي يې نافله بولي. او په پښتو يې لمسی بولي او په فارسي يې نواسه بولي.

وَجَعَلْنَا فِىْ ذُرِّيَّتِهِ النُّبُوَّةَ وَ الْكِتٰبَ

او مونږ پيدا کړي وه په اولاد کي د ابراهيم، نبوت او کتاب لکه تورات او انجيل والزبور والقرآن الكريم او انبياء عليهم السلام، د ابراهيم؏ په نسل کي انبياء نهايته خدای ﷻ ډېر پيدا کړي دي، او اخيرين نبي دده په نسل کي افضل الانبياء والمرسلين المبعوث الى الجن والناس في اخير الزمان محمد المصطفى ﷺ ؤ چي پر ده دوره د نسل د ابراهيم ؑ پای ته ورسېدل، بلکي د مطلق نبوت د اولاد د آدم ؑ دروازه بنده سوه الى قوم القيامة او د فرقان په نزول سره د کتب آلهيه وو درسګاه هم بنده سوه.

فائده: ټول انبياء؏ له نسل څخه د ابراهيم د اسحٰق بن يعقوب بن ابراهيم؏ له لاري څخه وه. يو سيد البشر ﷺ چي نسل د اسماعيل بن ابراهيم؏ د شاه راه څخه ؤ.

وَاٰتَيْنٰهُ اَجْرَهٗ فِى الدُّنْيَا

او ورکړی مونږ ثواب د هجرت دده و مور ته په دنيا کي لکه بې وخته زوی اسحٰق؏ او ذرية طيبة اصلها ثابت وفرعها في السماء، او بل تر ابراهيم؏ وروسته ټول انبياء دده له نسل څخه دي. او ټول اهل الملل حتی مشرکی اهل مکة ده ته ځان منسوبوي او دده په ملت فخر کوي، کريمه: واجعل لي لسان صدق في الآخرين.

وَاِنَّهٗ فِى الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ۝

او په تحقيق ابراهيم په آخرت او قيامت کي د صالح بندګانو څخه دی. الكاملين في الصلاح.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تتمة حال ابراهیم ﷺ صاحب کشاف وايي چي ابراهيم ﷺ په وخت کي د هجرت پنځه اوويا (۷۵) کلن ؤ او په هم دغه کال خدای ﷻ اسماعیل ؑ زوی ورکړی له بطن څخه د هاجره، چي مينځه وه د ساره چي ساره وابراهيم ؑ ته وبخښل او ابراهيم ؑ ازاده کړه او په نکاح يې کړه، او څه وخت چي عمر مبارک د ابراهيم ﷺ يوسل شلو (۱۲۰) کالو ته ورسېدی بيا خدای ﷻ له ساره څخه وده ته اسحٰق زوی ورکړی، او بيا خدای پاک دده عمر دراز کړی چي يعقوب بن اسحٰق يې هم وليدی او دی د شجرة الانبياء په لقب سرشال سو، او نهايت مهمان نواز هم ؤ، نو يو شاعر وايي:

سفر اش مبسوط بر اهل جهان .... نعمتش مبذول شد بي امتنان

وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الْفَاحِشَةَ

"ولوطا" عطف دی پر ابراهيم، ای ارسلنا لوطا (اذ منصوب دی په اذکر مقدر سره ای اذکر یا محمد لاهل مكة چي لوط وويل و خپل قوم ته "لتاتون" کلمه د لام جواب د قسم محذوف ده "الفاحشة" ای الفعلة البالغة غاية القبح وهي اللواطة.

مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ الْعَٰلَمِينَ ﴿٢٨﴾

چي وړاندي والی نه دی کړی و دغه فاحشه ته هيڅ چا د عالميانو څخه تر تاسي دمخه لتنفر الطبع منها، لان الدبر موضع النجاسة الغليظة، علماء وايي چي لواطت د نر د نر سره هيڅ چا تر قوم د لوط دمخه نه دی کړی.

پوه سه: چي دا جمله صله ده د الفاحشة.

سوال: الفاحشة خو معرفة دی، او نحات وايي چي جمله په حکم کي د نکره ده، نو يې څرنګه صفت کېدای سي؟

ځواب: په الفاحشة کي لام لپاره د عهد ذهني دی، نو هغه په حکم کي د نکرې دی، مثال دا مصرع ده: .... وَلَقَدْ أَمُرُّ عَلَى اللَّئِيمِ يَسُبُّنِيْ چي يَسُبُّنِيْ صفت اللَّئِيمِ دی، يا دا جمله مستانفه ده کانه قيل ما الفاحشة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ وَتَقْطَعُونَ السَّبِيلَ ۙ

دا بیان دی د فاحشة، آیا تاسي ورځي یعني جماع کوئ د نرو سره، صراحةً نوم يې نه واخستی بلکې په لفظ د ایتان چي عام لفظ دی تعبیر یې وکړی. لغایة قبح تلك الفعلة، او تاسي قطع کوئ لار پر مسافرانو، ولي چي دوی د مسافرو سره لواطت کاوه، نو باره مسافر ددوی پر لار نه راتله، او بعض مفسران وایي چي تاسي لار د جماع د ښځو بنده کړه په قضاء شهوت د نرانو.

درویش وايي: چي يو جاهل مطلق په نامه د ملا يو چاته ویلي وه چي رجل هغه چاته وايي چي سرحد ته د بلوغ رسېدلی وي، نو د بالغ هلك سره لواطت روا دی استعيذ بالله، د بالغ سړي سره چي دبره يې متحمل ددې کار کېدای سي خدای ﷻ فاحشه وبلل، نو نابالغ هلك چي ددې کار طاقت هم نه لري څرنګه به لواطت ورسره روا وي.

فائده: د ماينې سره هم لواطت حرام دی، لکن د نر سره لواطت اغلظ حرمتًا دی کما لایخفی، ولي چي په ماینه کي ملك د نکاح موجود دی. لکن چونکه دبره ځای د فرث او نجاست ده او د حرث کښت ځای نه ده، نو ځکه قضاء شهوت په دبره کي د ماينې هم ناروا دی، کریمه: نسائکم حرث لکم الآیة.

وَتَأْتُونَ فِي نَادِيكُمُ الْمُنكَرَ ۖ

او تاسي راتئ کوئ په خپلو مجالسو کي د منکر کارو یعني چي شرعًا و عقلاً بد کار دی، اخرج احمد والترمذي وحسنه والحاكم وصححه والطهراني والبيهقي رحمهم الله عن ام هاني بنت ابی طالب، دې وویل چي ما سوال وکړی د رسول الله ﷺ څخه ددې آیت په باره کي چي منکر ددوی څه شي وُ، نو علیه الصلوة والسلام راته وویل، چي دوی به په لارو کي ناست وه څوك چي به تېرېدی په دبرو به یې ویشتی او پسخند به یې په واهه، او مجاهد، قتاده، منصور، قاسم بن محمد او ابن زيد رحمهم الله وايي چي منکر د مجلس یې دا وُ چي دوی به په مجلس کي لواطت سره کاوه او یو د بله به یې ليدل، او بغوي رحمه الله وايي چي منکر ددوی دا ؤ چي دوی به په لاره کي ناست وه هر سړي ته به کاسه پرته وه د بري به پکښې وې چي پر لاره به سړی تېرېدی دوی به سره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ويل خذ وه، نو د هر سړي د بره چې به اول پر مبتتل دا عابر سبيل مسافر د هغه ؤ هغه به لواطت ورسره کاوه، او که به د عابر سبيل سره ماينه ورسره وه، نو د هغه مسافر ښځه به يې راوګرځول په خپله به يې په نکاح کړه او د ښځي خاوند ته به يې درې درهمه ورکړه، او دوی قاضي درلودی چې هغه به دا حکم ورکاوه، او قاسم بن محمد رحمه الله وايي چې په مجلس کي به يې ګوزونه سره اچول، او عبد الله بن سلام رضی الله عنه وايي چې يو پر بل به يې سره توکل، او مکحول رحمه الله وايي چې د اخلاق ښځه د قوم لوط دا هم وه چې ژاولي به يې ژوولې، او د مجاهد رحمه الله ښځه دا هم روايت دی چې دوی کوتر بازي کول، او د ګوتو سرونه به يې په نکريزو سره کول.

فائده: نادی مجلس جامع ته د خلګو وايي چې خلګ ولاړ سي بيا يې نادی نه بولي.

مسئله: د ژاولو ژوول د نر لپاره مکروه دی لقيام السواک مقام ذالک او د ښځي لپاره مکروه نه دی بلکي قائم د مسواک دی، ولې چې د ښځي وري او غاښونه ضعيف دي د مسواک وهلو طاقت نه لري.

درويش وايي: چې که ته روح المعاني، روح البيان او مظهري مطالعه کړې، نور عيبونه د قوم لوط به پکښي پيدا کړې، وفيما ذکرنا کفاية.

پوښتنه: د دې ګردو روايتونو جمع کول به مشکل نه وي؟

ځواب: روح المعاني وايي چې قوم لوط په ټولو کارو کي ډېر بې حياء قوم ؤ انتهی.

درويش وايي: چې د ټولو د غو کارو په داسي بې حياء قوم کي ممکنه ده، د دوی د بې حياء کارو ښځه چې په مجلس کي ګوزا چول دي په اهل هند کي رواج دی که مسلمانان وي او که هندوان وي، دوی وايي چې ګوزا چول دوا ده او بندول يې مرض دی، کذا في روح البيان.

فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ

عطف دی پر قال باندي، نو لوط علیه السلام چې دوی ويېرول په نزول د عذاب سره، که دوی دا فعل قبيح د لواطت او نورو بدو کارو لکه چې تاسي وارېدل، نو جواب د قوم لوط نه ؤ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱئۡتِنَا بِعَذَابِ ٱللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٩﴾

مګر دا خبره چي موږ ته راتګ په عذاب د خدای وکړه، دا خبره هم دوی د پسخنده ورته وکړه، که ته یې له رشتیا ویونکو خلکو څخه په نزول کي د عذاب پر موږ، یعني موږ خو خپل اعمال نه پرېږدو، نو که ته صادق یې په دعوی کي د نبوت.

قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٣٠﴾

لوط ؑ وویل یا زما رب ته کومک وکړه له ما سره یعني په نزول سره د عذاب پر دې قوم فساد پیشه باندي، چي هغه کارو ته د دوی اشاره وه چي ذکر یې عنقریب تېر سو.

پوه سه: چي لوط ؑ داسي نه وویل: علی قومي، اشاره یې و دې ته وکړه چي دوی د عذاب مستحق دي په افساد د دوی في ارض الله تعالی.

پوښتنه: خدای ﷻ په قصه کي د لوط ؑ دعوة دده و قوم ته په عبادت د خدای په توحید نه راوړه لکه په قصه کي د ابراهیم او د شعیب ؑ چي وروسته به راسي تر تېولو دمخه دعوت و عبادت ته د خدای ﷻ په توحید سره او تر ټولو اولینه وظیفه هم دغه دعوت و عبادت ته د خدای او توحید ته دی؟

ځواب: لوط ؑ خو له قومه د ابراهیم ؑ ؤ او دده په زمانه کي هم ؤ، نو هغه د ابراهیم ؑ وه عبادة الله ته دعوت یې کافي ؤ، او ددې تبلیغ د ابراهیم ؑ و عبادة الله او توحید ته مشهور هم وه، نو لوط ؑ د هغه تبلیغ څخه عبادة الله او په توحید سره د ابراهیم ؑ د تبلیغ سبکدوش ؤ، نو ځکه لوط ؑ ددوی د اعمال خبیثه په تبلیغ سره یعني لواطت او بد کارو نه چي به یې کول په تبلیغ، په منع د هغو کارو څخه شروع وکړه.

وَلَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَآ إِبۡرَٰهِيمَ بِٱلۡبُشۡرَىٰ

هغه وخت چي راغلی رسل زموږ چي ملائکة العذاب وه، ابراهیم ته په زېری د ولد او ولد الولد. یعني اسحاق و یعقوب، ګویا ابراهیم ؑ ورته وویل چي تاسي صرف زما د زېري لپاره راغلي یاست، او بل مطلب هم لرئ، نو دوی ورته وویل:

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالُوٓا۟ إِنَّا مُهْلِكُوٓا۟ أَهْلِ هَـٰذِهِ ٱلْقَرْيَةِ ۖ إِنَّ أَهْلَهَا كَانُوا۟ ظَـٰلِمِينَ ﴿٣١﴾

دوی وویل چي موږ هلاکونکي يو د اهل ددې قريې چي سدوم ده، چي لويه قريه وه د قوم لوط، په تحقيق ددې قريې اهل ظالمان وه، تعليل لاهلاکهم يعني بالکفر والتکذيب، وانواع المنکرات کما مر تفصيله.

پوه سه: چي قريه په اصطلاح د قرآن عامه ده يعني ښار ته هم وايي او کلي ته هم وايي، نو سدوم اصلاً ښار و.

پوه سه: چي اشاره په هذه سره چي اشاره د قريب ده، وه يې کړه، ولې چي سدوم و محل ته د ابراهيم [ؑ] نژدې و. او اول فحشاء د لواطت له دغې قريې څخه شروع سوی دی.

درويش وايي: چي مظهري او روح البيان وايي چي اضافت د مهلکوا واهل هذه القرية لفظي دی. لان معناه الاستقبال. او روح المعاني اولاً هم داسي ويلي دي ان الاضافة لفظي لان معناه على الاستقبال، لکن وروسته يې دا احتمال هم راوړی دی چي اضافت دي معنوي وي. لتنزيل ذالک ای هلاک قوم لوط منزلة الماضي لقصد التحقيق، والمبالغة فافهم. وارجع في ذالک الى کتب النحو في اضافة اسم الفاعل الى معموله.

قَالَ إِنَّ فِيهَا لُوطًا ۚ قَالُوا۟ نَحْنُ أَعْلَمُ بِمَن فِيهَا ۖ لَنُنَجِّيَنَّهُۥ وَأَهْلَهُۥٓ

ابراهيم [ؑ] ملکو ته وويل اعتراضاً عليهم چي په دې قريې کي د قوم لوط خو لوط [ؑ] هم موجود دی، هغه خو هيڅ ظلم نه دی کړی، او يا معنی داده چي نبي چي په منځ کي د قوم وي هغه قوم خدای [ﷻ] حسب عادة المستمرة نه هلاکوي. ملکو ابراهيم [ؑ] ته وويل موږ تر تا ښه خبر يو چي په دې قريه کي سته من لوط واهله. موږ به ده ته او وه اهل ته دده نجات ورکړو يعني دوی به له قريو څخه وباسو. يا به نور قوم چي دده متابعت يې نه کاوه او خپل کفر او فحشاء ته يې دوام ورکړی وي هغه به هلاک کړو.

پوه سه: چي دا قول د ملائکه وو جواب دی د قوم د ابراهيم بان فيها لوطا او سره د بيان د مزيد العلم چي دوی وويل نحن اعلم آه په دې سره چي اهل قريه خاص دي په ماسوا سره د لوط او دده اهل البيت.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِلَّا امْرَأَتَهُ كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِينَ

مګر ښځه يې وه ما ينه دده (چي زړ ښځه يې نوم ؤ) چي هغه وه يعني في علم الله تعالى (نو صيغه د ماضي پر خپل حال ده) يعني له جملې څخه د باقينو في العذاب او في القرية.

پوه سه: چي كانت تعليل دی د استثناء.

خير دا خو سوال او ځواب ؤ د ابراهيم او د ملائكه تر منځ، وروسته ملكو د ابراهيم څخه رخصت واخستی، او د قوم لوط پر خوا راهي سوې، او په رنګ د ښو ښائستو ځوانانو په ډول وې، قال الله تعالى.

وَلَمَّا أَنْ جَاءَتْ رُسُلُنَا لُوطًا سِيءَ بِهِمْ وَضَاقَ بِهِمْ ذَرْعًا

پس هغه وخت چي راغلې ملكي رسولان زموږ د لوط كره، غمجن سو لوط په دغو مېلمنو سره (له دې سببه نه چي ډوډۍ پر تكليف سوه، بلكې د دې سببه چي كه قوم زما خبر سي دوی ته به اراده د بد كار وكړي لكه ددوی چي عادت ؤ من اللواطة، ولي اول الوهلة لوط دوی نه پېژندل چي دا ملائكه دي) او تنګ سو لوط په سبب د دې رسل.

پوه سه: چي ذرعًا تميز دی له نسبت څخه د ضاق ولوط ته، او ذرع طاقت ته وايي، والمعنى تنګ سو طاقت د لوط په شان سره د دې مېلمنو چي رُسُل وه، يعني چي زه به دوی څرنګه له قومه څخه ساتم اذا قصدوا بهم سوء.

محاوره: عرب وايي فلان طويل الذراع يعني لاس يې اوږد دی، لكن مراد يې دادی چي شديد القوة دی، وذالك لان طويل الذراع ينال ما لا يناله قصير الذراع.

وَقَالُوا لَا تَخَفْ وَلَا تَحْزَنْ إِنَّا مُنَجُّوكَ وَأَهْلَكَ

او رُسل وويل لوط ته چي دده غم او بې طاقتي يې محسوسه كړه، ته مه بېرېږه پر موږ باندي له قوم څخه حسب عادتهم، او ته غم مه كوه پر اهلاک زموږ ددوی يعني ستا قوم دی د شفقت د لاري "انا منجوك واهلك" علت دی د نهي د لاتخف، موږ نجات دركوو تا ته او ستا اهل ته.

پوه سه: چي اهلك عطف دی پر كاف د منجوك، نو ځكه اهلك منصوب دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِلَّا امْرَأَتَكَ كَانَتْ مِنَ الْغَابِرِينَ ۝

مګر نه ستا ماينه چي ده په علم کي د خدای ﷻ د پاتو کسانو په جمله کي چي عذاب ورکول کيږي او يا په قريه کي به باقي وي، کما مر.

إِنَّا مُنْزِلُونَ عَلَىٰ أَهْلِ هَٰذِهِ الْقَرْيَةِ رِجْزًا

موږ نازلوو يعني په امر او مشيت د خدای ﷻ يو عذاب.

بوه سه: چي رجز په اصطلاح کي اضطراب ته وايي، عرب وايي: ارتجز فلان اذا اضطرب، ولي چي په عذاب سره خو هم معذب کسان په اضطراب او بې قرارۍ کي واقع کيږي.

مِنَ السَّمَاءِ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ۝

د اسمان له خوا څخه يعني په ډبرو ويشتل او په مځکه کي خسف کېدل كما قال مقاتل ؒ.

سوال: ډبري خو د اسمان له خوا دي، او خسف په مځکه کي څرنګه د اسمان له خوا وي؟

ځواب: مراد د اسمان له خوا دادی چي دواړه به په قدرت د خدای ﷻ وي.

بوه سه: چي کلمه د باء سببي ده، او کلمه د ما مصدري ده. والمعنى بسبب عادتهم بالفسق والفجور.

درويش وايي: چي تواريخ قديمه وايي چي په قريه سدوم کي اووه لکه (۷۰۰۰۰) رجال وه كما في كشف الاسرار، کاشفي ؒ وايي: پس به حکم خدای ؒ لوط با اهل خود خلاص يافت و کفار مؤتکفه هلاک شدند، وشهر خراب شده ايشان عبرت عالميان گشت. راوي وايي چي جبرئيل ؑ په خپلو وزرو سره ښارد سدوم سره د مافيها پورته کړی، نو عالي يې سافل وګرځاوه، او د اسمان له خوا څخه د ډبرو باران هم شروع ؤ.

وَلَقَدْ تَرَكْنَا مِنْهَا آيَةً بَيِّنَةً لِقَوْمٍ يَعْقِلُونَ ۝

او موږ پرېښي دي له قريو څخه د لوط ؑ يو نښانه ښکاره "لقوم يعقلون"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يعني چي په آياتو كي د قدرت الهي فكر وهي او په نظر د عبرت ورته گوري، ابن عباس رضي الله عنهما وايي چي آيات بينه د دوى كورونه، يعني بعض كورونه چي كنډوالې دي (فقير لفظ بعض ورايه له دې سببه چي مخته تېره سوه چي جبرئيل ؏ د دوى كورونه په وزرو واخستل او اعلى يې اسفل وګرځول نو دوى خسف سوه) او قتاده رحمه الله وايي چي هغه آيات بعض ډبري دي چي د اسمان له خوا پر دوى اورېدلې، چي اول د امت محمد (ﷺ) يې هم ليدلي دي، او مجاهد رحمه الله وايي چي د سدوم د ښار پر ځای چي ښار سرنګون سو توري بد بويه اوبه پيدا سوې په قدرت د خدای ﷻ چي تر ډېري زمانې پوري هغه اوبه باقي وې، او بعض مفسرين وايي چي له آيت څخه د دوې د قصې چي په كتابو كي منقوله ده او تواريخو ضبط كړې ده.

درويش وايي: چي كه مراد له آيت څخه توري اوبه سي يا حكايت عجيبه د دوى سي، نو كلمه د من بيانيه ده د تبعيض لپاره نه ده لان المتروك الباقي ليس بعض القرية بل كلها، او پر هغه نورو روايتونو كلمه د من تبعيضي ده، فتدبر.

وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا

او قوم مدين ته مو واستاوه د دوى ورور شعيب، مراد له اخوت څخه اخوت نسبي دى لا الديني، چي نوم يې شعيب ؏ ؤ او له قوم څخه د اهل مدين ؤ.

پوه سه: چي حرف جر متعلق دى په محذوف سره اى وارسلنا الى مدين، او دا جمله عطف ده پر لقد ارسلنا نوحًا كما مر.

پوه سه: چي مدين د وطن نوم دى، فلابد من تقدير مضاف اى الى اهل مدين.

فَقَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱرْجُوا۟ ٱلْيَوْمَ ٱلْءَاخِرَ وَلَا تَعْثَوْا۟ فِى ٱلْأَرْضِ مُفْسِدِينَ ﴿٣٦﴾

نو شعيب ورته وويل اى قومه زما (نو كسره د ميم عوض ده له ياء څخه د متكلم يعني اصل يې قومي ؤ) تاسي عبادت كوئ د خداى ﷻ (والمراد بالعبادة التوحيد، لكه چي اوله وظيفه ده د هر نبي)

پوه سه: چي معنى له رجاء څخه په دې آيت كي معنى د خوف ده يعني خافوا من عذاب الله تعالى في اليوم الآخر، يا معنى داده چي داسي كارونه په دنيا كي وكړئ چي تاسي ته اميد درپيدا كړي د ثواب د يوم القيامة، نو ذكر يې مسبب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کړی چي رجئ د ثواب ده په قیامت کي، مراد ځني سبب دی چي فعل د خیر دی.

بوه سه: چي عثی سخت فساد ته وایي، نو مفسدین یې حال مؤکد دی د عامل، او دا هم روا ده چي دا دي حال منتقله وي، نو معنی یې دا ده لاتفسدوا في الارض علی قصد الافساد، نو په قید سره هغه افساد خارج سو چي په قصد د اصلاح وي لکه قتل د کافرانو، او تخریب د سرایو ددوی، او رېبل د درختو ددوی لپاره د اصلاح د مځکي په اجراء سره د احکامو د دین د اسلام په مځکه کي. ولي چي احکام د اسلام چي په مځکه کي جاري سي نه به غلا وي او نه به زنی وي نه به قتل و غارت وي او نور ورته مفسدات به نه وي په مځکه کي.

فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جَاثِمِينَ ﴿٣٧﴾

نو قوم یې تکذیب وکړی په دعوه کي د نبوت. نو دوی ونیول یعني هلاک کړل سختي زلزلې، او بعض مفسرین وایي چي جبرئیل ؑ ناره پر وکړه چي د دوی زړونه یې په لرزه را وستل او ټول له مړه سوه. نو دوی وګرځېدل په سرای کي ددوی.

بوه سه: چي مراد له سرای څخه وطن ددوی دی نه معنی متعارفه، چي سرای د جاثمین حال دی، او معنی یې دا ده چي پر زنګنو ناست وه او مړه وه.

وَعَادًا وَثَمُودَا

منصوب دي دواړه په اذکر مقدر سره یعني اذکر، یا منصوب دي په فعل محذوف سره چي ماقبل دلالت پر کوي ای اهلکنا.

فائده: نومان د قومو او د قبیلو تابع دي د استعمال د عربو یعني په انصراف او عدم انصراف کي، لکه په دې ځای کي عاد او ثمود چي د دوو قومو نومان دي، په دې آیت کي حمزه، حفص او یعقوب علیهم السلام چي د قراء سبعه وو له جملې څخه دي عاد او ثمود بې تنوینه وایي، یعني غیر منصرف یې بولي په سبب د علمیت او د تانیث په تاویل د قبیلة، او نور قاریان یې عادًا وثمودًا په تنوین سره وایي یعني منصرف یې بولي په تاویل د جد اعلی. وهذا قانون کلي فاحفظه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَدْ تَّبَيَّنَ لَكُمْ مِّنْ مَّسٰكِنِهِمْ

او تاسي ته یا اهل مکه معلومېږي اهلاک ددوی په ډلېیزه تو که له کورو څخه ددوی چي خراب او نړېدلي پراته دي چي تاسي شام ته سفر کوئ.

پوه سه: چي وقد تبین سره د معطوفه چي وزین آه دی جمله معترضه ده.

وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطٰنُ اَعْمَالَهُمْ فَصَدَّهُمْ عَنِ السَّبِيْلِ وَكَانُوْا مُسْتَبْصِرِيْنَ

او ښائسته کړي وه شیطان ودوی ته عملونه ددوی من الکفر و المعاصي، نو شیطان دوی منع کړي وه له لاري څخه د حق چي رسولانو به دوی ته بیان کړي وه.

پوه سه: چي مقاتل، قتاده او کلبي رحمهم الله د مستبصرین معنی دا کړې ده معجبین في دینهم وضلالتهم ویحسبون انهم علی الهدی کما کان اهل مکة معجبین بدینهم الشرک، او یا معنی داده چي دوی په خپلو زړو کي ځانونه ډېر هوشیار بلل، او الفراء رح وایي چي دوی عقلا وه ذوی البصائر وه قدرت یې نظرًا وتحقیق درلودی چي د رسول خبره یې قبوله کړې وای لکن دوی هغسي ونه کړه، وقیل غیر ذالک.

وَقَارُوْنَ وَفِرْعَوْنَ وَهَامٰنَ

پوه سه: چي دا معطوف دی پر عادًا باندي او ناصب یې دلته هم هغه ناصب د عادًا دی یعني اذکر قارون آه، او اهلکنا قارون وفرعون وهامان.

پوه سه: چي قارون یې دمخه کړی چي دی شریف النسب له قوم څخه د موسٰی ؑ او کفر له شریف النسب څخه اقبح دی.

ع:.. چو کفر از کعبه برخیزد کجا ماند مسلمانی

نو په درو نومانو ترقي ده د اعلی کفرًا چي قارون دی ثم اعلی چي فرعون دی.

وَلَقَدْ جَآءَهُمْ مُّوْسٰى بِالْبَيِّنٰتِ فَاسْتَكْبَرُوْا فِي الْاَرْضِ وَمَا كَانُوْا سٰبِقِيْنَ ﴿۳۹﴾

اللام موطئه للقسم، په تحقیق راتګ کړی ودوی ته یعني قارون، فرعون او هامان ته موسٰی په معجزاتو ښکاره وو سره، نو دوی تکبر مختاره کړی په، ځمکه کي یعني په مصر کي او د موسٰی قول یې قبول نه کړی، نو دوی نه سوه فوت زما له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عذابه څخه بلکې عذاب د خدای ﷻ دوی ونیول او هلاک یې کړه.

محاوره: سبق فلان طالبه اذا فاته.

فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنْبِهِ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا

نو هر یو له دوی څخه موږ ونیوی یعني عذاب مو ورکړی په ګناه سره خپل چې تفصیل یې دادی، نو بعض ددوی څخه سنګ باران سوه چې قوم لوط وه کمامر.

وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْأَرْضَ

او بعض یې هغه وه چې جبرئیل نعره پر وکړه، یا زلزله پر وسوه چې ثمودیان او اهل مدین وه کمامر تفصیله. او بعض یې خسف سوه په مځکه کې لکه قارون.

فائده: فقیر دمخه وویل چې د شریف النسب کفر بالا دی تر نورو کافرانو، نو هم دا وجه وه چې قارون په مځکه کې چې سخت ځای دی الی یوم القیامة په مځکه کې ژوندی روان دی کمامر نو دده عذاب تر فرعون او هامان سخت دی.

وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا ۚ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ

او بعض ددوی لکه فرعون او هامان او ددوی همراهان او تابعان موږ غرق کړه په دریاب کې. یا قوم نوح په طوفان سره. او نه دی خدای پاک چې ددوی سره یې ظلم کړی دی یعني چې بې کفره او بې جرمه یې عذاب ورکړی دی (ولې چې دا عادت د خدای ﷻ نه دی که څه هم ممکنه ده)

وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿٤٠﴾

لکن وه دوی یعني دغه ناموړي کافران پر خپلو ځانونو یې ظلم کاوه چې د خدای د رسولانو متابعت یې نه کاوه او ځانونه یې په خپل اختیار عذاب الهي ته وسپارل.

مَثَلُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ

مثال او حالت عجیبه ددې کافرانو بلکې د ټولو کافرانو او مشرکانو چې دوی اخیستي دي یعني مختاره کړي یې دي ماسوی له خدای ﷻ څخه اولیاء یعني دوستان یعني معبودان چې هغه عبارت دی له بتانو څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

كَمَثَلِ الْعَنْكَبُوتِ ۚ اتَّخَذَتْ بَيْتًا ۖ

لکه حاله د جولاګي چي د ځان لپاره يوه خونه جوړه کړي.

بوه سه: چي د عنکبوت اطلاق پر واحد، تثنيه او جمع او مذکر او مؤنث ټولو روا دی.

وَإِنَّ أَوْهَنَ الْبُيُوتِ لَبَيْتُ الْعَنْكَبُوتِ ۖ لَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ﴿٤١﴾

او په تحقيق هغه ډېره سسته ده خونه د عنکبوت، که چېري مشرکان پوهېدلای.

بوه سه: چي ان شرطيه دی ځواب يې له ماقبل څخه فهمېږي يعني ما اتخذوها آلهة وما عبدوها.

إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يَدْعُونَ مِنْ دُونِهِ مِنْ شَيْءٍ ۚ

دا آيت په اضمار د قول دی ای قل للکفرة ووايه وه کافرانو ته چي په تحقيق خدای ﷻ علم لري.

بوه سه: چي ابو عمرو، عاصم او يعقوب رحمهم الله يدعون په ياء سره وايي يعني په صيغه د غائب چي حمل کوي پر ماقبل من ذکر الامم کمامر، اذ کلها بصيغة الغائب، او نور قراء يې په تاء د خطاب وايي، يعني خطاب دی و کفارو ته د مکې او کلمه د ما استفهاميه ده، منصوبة المحل ده په يدعون سره، نو يعلم له عمل څخه د ما استفهاميه بند دی او من شيئ کلمه د من بيان دی د ما.

وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ ﴿٤٢﴾

او خدای ﷻ غالب دی پر هر شي او پر مکافات چي د کافرانو څخه يې واخلي او په هر کار کي حکمت لري، دا تنبيه ده پر نهايت غباوت د مشرکانو چي د داسي ذات والاصفات سره يې بتان جمادات شريک په عبادت کي وګڼل.

درويش وايي: چي جهالو د قريشو به ويل ان رب محمد لا يستحی (نه شرمېږي) ان يضرب مثلاً بالبعوضة والذباب والعنكبوت. قال الله تعالى.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ ۚ وَمَا يَعْقِلُهَا إِلَّا الْعَالِمُونَ ﴿٤٣﴾

دغه مثالونه مونږ يې ذکر کوو او بيانوو يې وه اهل مکه وغيرهم ته، حکمت په ضرب المثل کي دادی چي هغه بعيد شی له اذهانو څخه و افهامو ته نژدې سي.

پوهه سه: چي مثل کلام سائر (ای مشهور) يتضمن تشبيه حال الثاني ای المشبه بالاول ای المشبه به، کريمه: ان الله لايستحي ان يضرب مثلاً ما بعوضة الى اخير الآية.

"وما يعقلها الا العالمون" او نه پوهېږي په حسن د دغو امثالو او په فائدو يې مګر هغه کسان چي عالمان وي، محي السنة البغوي رح وايي چي عطاء او ابی الزبير له جابر رض څخه روايت کړی دی چي ده دغه آيت تلاوت کړی: وتلک الامثال الآية، نو جابر رض داسي وويل: عالم من عقل عن الله (عاقل هغه څوک دی چي عقل ورکړه سوی وي د خدای ﷻ له خوا څخه) فعمل بطاعته واجتنب معصيته، او روح المعاني تفسير د عالمون داسي کړی دی الراسخون في العلم المتدبرون في الاشياء على ماينبغي.

خَلَقَ اللَّهُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ بِالْحَقِّ ۚ

خدای ﷻ پيدا کړي دي اسمانونه او مځکه.

پوهه سه: چي بالحق يا حال دی له فاعل څخه د خلق چي لفظ الله دی، نو يې معنی داده ای محقًا مراعيًا للحکم والمصالح، او يا حال دی له مفعول څخه د خلق چي السموات والارض دی، نو يې معنی داده ای متلبسةً بالحق يعني د خلق سره د اسمانو او مځکي منافع دينيه او دنيويه مربوط دي، ولي چي په دې خلق کي د اسمانو او مځکي علاوه تر منافعو د مخلوق شواهد داله پر قدرت عظيمه د باري ﷻ او د نورو صفاتو د خدای ﷻ، واشار اليه بقوله.

إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِلْمُؤْمِنِينَ ﴿٤٤﴾

په تحقيق په دې خلق کي د اسمانو او مځکي آيت داله پر کمال قدرت او علم او حکمت د باري ﷻ د مؤمنانو لپاره تخصيص د مؤمنانو چي يې وکړی او سره ددې چي هدايات د قرآن مبارک عام دي، له دې سببه چي نفع مؤمنان څخه دي اخلي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تمت بالخير الجزء العشرون،

درويش وايي: لله الحمد والتوفيق والصلوة والسلام على خير البرية وعلى آله وصحبه البررة، چې په ورځ د شنبې پر درې بجې د ماپښين پنځلس شهر صفر الخير سنه (۱۴۳۱) هجري قمري له تفسير څخه د شلم جزء د قرآن عزيز په خير او عافيت سره فارغه سوم، اللهم منک واليک.

د فقير عمر په ذوالقعدة الحرام كې په شپوږنيويشم (۹۶) كال كې داخل سوى دی، لكن ګيله زه د هم عصرو علماؤ څخه لرم چې د حسد ورغندی يې په غاړه كې دی، بعض وايي چې عبيدالله ناقل دی، او سرسخته حاسدان وايي چې سارق دی لكن ما كله دعوى كړې ده چې زه مجتهد يم، دوى يعني حاسدان دې يو كتاب د دين راوښيي چې له نقل څخه دې خالي وي، بلكې مبنٰى د دين اسلام پر نقل ده، عن النبي ﷺ ثم وثم الى يومنا، مقوله:

قدر زر زرګر شناسد .... وقدر جوهر جوهری

قال الله ﷻ في سورة الفلق ومن شر حاسد اذا حسد، ولنعم ماقيل وما انا من كيد محسود بآمن هم يحسد وننى وشر الناس، من عاش يومًا غير محسود

تنبيه: درويش وايي: چې مظهري رح موافق د مصاحفو مطبوعه وو سره شلم جزء پر دغه ځای چې فقير ختم كړی دی او د اتل ما اوحي اليه څخه يې يووشتم جزء شروع كړی دی، او روح البيان او روح المعاني يووشتم جزء د ابتداء دې قول څخه د خدای ﷻ كړې ده، ولا تجادلوا اهل الكتاب آه. والله اعلم وبهذا الاختلاف وعلته.

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا

سكين او pdf سو.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د تفسیر ایوبي دیارلسم ټوک د مضامینو فهرست

شمېر	سرلیک	مخ
۱	سريزه	۳
۲	وقال الذين لا يرجون لقاءنا	۵
۳	ويوم تشقق السماء بالغمام	۹
۴	وعادا وثمودا واصحب الرس	۲۵
۵	وتوكل على الحي الذي لا يموت	۴۷
۶	درویش وایي	۵۱
۷	مسائل متفرقه	۵۳
۸	واذا خاطبهم الجاهلون قالوا سلاما	۵۶
۹	والذين لا يشهدون الزور	۶۶
۱۰	د سورة الشعراء پیل	۷۸
۱۱	فائدة في لفظ فرعون	۸۸
۱۲	الا من اتى الله بقلب سليم	۱۱۶
۱۳	اتبنون بكل ريع اية تعبثون	۱۲۸
۱۴	وانذر عشيرتك الاقربين	۱۵۷
۱۵	د سورة النمل پیل	۱۷۳
۱۶	درویش وایي	۲۰۷
۱۷	اني وجدت امرءة تملكهم	۲۱۲
۱۸	درویش وایي	۲۳۷
۱۹	د شلمې سپارې پیل	۲۴۸
۲۰	د سورة القصص پیل	۲۸۰
۲۱	درویش وایي	۲۸۸
۲۲	وابونا شيخ كبير	۳۰۸
۲۳	فائدة في خشية شعيب عليه السلام من الله عزوجل	۳۱۷
۲۴	قال انما اوتيته على علم عندي	۳۷۲
۲۵	فخسفنا به وبداره الارض	۳۷۹
۲۶	تبصره	۳۸۷
۲۷	د سورة العنكبوت پیل	۳۹۵
۲۸	تتمة جزء العشرون	۴۳۹

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

تفسیر ایوبي حنفي۱۳ ټوک

د نصیراحمد احـمـدي لخوا

سکین او pdf سـو.

تاریخ. ۲۴-۱۰-۱۳۹۸

واتساپ، ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

د دعـا محـتـاج احـمـدي!

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner